# فتح القدوس

## في تزكية القلوب والنفوس



ليكوالان:

مختلف مشائخ كرام او قدرمند دوكتوران

ژباړن:

لقمان حكيم حكمت

WWW.LARKHUD.COM

Scanned by CamScanner

د اسلامي لارښود سائټ www.larkhud.com لـه ليکلي موافقې پرته هېڅ چا ته اجازت نه ورکوي چې نشريات يې په کتابي بڼه نشر او اشاعت کړي، دا عمل اخلاقي او قانوني جنايت بولي، د خلاف ورزی په صورت کې د هر ډول محکمې بشپړ حقوق لری. په درنښت.

# فَتْحُ القُدُّوس

# فِيْ تَزْكِيَةِ القُلُوْبِ وَالنُّفُوْسِ

WWW.LARKHUD.COM

تأليف: نخبة من المشائخ والدكاترة

المترجم: لقمان حكيم حكمت

# استقامت، ګټې او فايدې

WWW.LARKHUD.COM

ليکوال: فضيلة الشيخ ابراهيم بن عبدالله المزروعي.

ژباړه : لقمان حکيم حکمت

## د ژباړن پیلیژه

استقامت په دین کې لویه مرتبه لري، پر دغه لورینه الله پاک هغه څوک سینګار وي چې دین ته یې په ټولو معنا ژمن وي، له دین سره یې د زړه له تله محبت وي او په محبت کې رښتنی وي.

دا چې استقامت د هر مومن بنده اړتیا ده نو ضرور ده چې مومن له مثوبت او اجر نه، له دواعي او اسبابو نه، له نواقضو او استقامت څخه عوائقو نه په پوره علم کې وی ترڅو د الله د نعمتونو جوګه جوړ شي.

په دغه پار مو له عربۍ څخه پښتو دا محاضره وژباړله ترڅو الله پاک یې عام المنفعت وګرځوي او په دې سره دې الله پاک د رښتني مومن بنده ایمان لاپسې تقویه کړي او زمونږ لپاره دې الله پاک دا عمل صدقه جاریه وګرځوي.

امین ثم امین

لقمان حکیم حکمت

۲۵/۰۷/۲۰۱۸

hekmat۰۳٤٤@gmail.com

WWW.LARHKUD.COM

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمدلله رب العلمين، والصلاة والسلام على سيدنا محمد صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وعلى آله وصحبه أجمعين،أشهد أن لا اله الا الله وحده لا شريک له وأشهد أن محمدا عبده ورسوله، أما بعد:

د خوارلسوه نهه دیرشتم هجري کال د محرم په اتلسم تاریخ د چهارشنبې په شپه درسره دا معلومات شریکوم، له ابوعمر سفیان بن عبدالله رضي الله عنه نه روایت دی چې له رسول الله صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه يې پوښتنه وکړه [قُلْ لِي فِي الْإِسْلَامِ قَوْلًا لَا أَسْأَلُ عَنْهُ أَحَدًا بَعْدَكَ غَيْرَكَ - قَالَ: " قُلْ: آمَنْتُ بِاللّٰهِ، فَاسْتَقِمْ ] (١)

ژباړه: ما ته په اسلام کې داسې خبره رازده کړه چې له تا پرته يې بيا له چا نه پوښتنه ونه کړم، هغه راته وويل: داسې وواېه چې په الله مې ایمان دی او بیا پرې کلک او مضبوط شه.

نو نبي کریم صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ یاد صحابي او خپل ټول امت ته په استقامت امر کړی دی، که غواړې چې په دنیا او اخرت کې سرفراز شې نو په الله باندې کلک ایمان ولره او په ایمان مضبوط ودرېږه، دلته غواړو چې د الله په دین باندې د استقامت اړوند خبرې اترې وکړو.

استقامت دا دی چې مسلمان په خپلې عقیدې، په خپلې اتباع او عبادت او په ټولو معاملاتو او اخلاقي جوانبو او د اسلامي شریعت اړوند ټولو

(١) صحیح مسلم: (٣٨)

چارو کې مستقيمه لاره کلکه ونيسي، دې ته په دين کې استقامت ويل کيږي.

که مسلمان خپله عقيده کې استقامت راولي نو معنا دا ده چې د اهل السنت والجماعت عقيده به خپلوي، که غواړي چې په خپلې اتباع کې استقامت راولي نو خپل ځان به الله پاک ته د نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ له شريعت پرته په بل عمل نه نږدې کوي.

او همدارنګه په خپلو اخلاقو او معاملاتو او خپلو ټولو چارو کې مستقيم ووسي نو دې ته په دين کې استقامت ويل کيږي، او استقامت هغه صراط مستقيم دی چې کله هم ورباندې مسلمان روان شي نو نجات او خلاصون به ومومي.

استقامت د نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ منهج او له هغه وروسته د هغه د ملګرو او تر اخرت پورې د ټولو متبعينو لاره ده، له ده پرته بله د نجات لاره نشته، استقامت هغه منهجي لاره ده چې نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او د هغه ملګري پرې تللي دي.

د استقامت لاره هغه لاره ده چې الله پاک د دې امت لپاره غوره کړې ده چې بايد له عمل لاندې راوستل شي او له اور څخه پرې انسان ته نجات ورکړل شي، الله پاک فرمايي: [وَمَنْ يُشَاقِقِ الرَّسُولَ مِنْ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُ الْهُدَى وَيَتَّبِعْ غَيْرَ سَبِيلِ الْمُؤْمِنِينَ نُوَلِّهِ مَا تَوَلَّى وَنُصْلِهِ جَهَنَّمَ وَسَاءَتْ مَصِيرًا] (۱)

(۱) سورت نساء: (۱۱۵)

ژباړه: څوک چې د هدايت له وضوح وروسته بيا هم د رسول الله نافرماني کوي او د مسلمانانو له لارې پرته نورې لارې په اتباع کې نيسي نو هغه څه کې به يې پرېږدي چې ده ورته مخه کړې ده او بيا به يې جهنم ته ننباسو او جهنم د اوسېدو په اعتبار باندې ډېر بد ځاى دى.

نو که نبي صلى الله عليه وسلم په يوه لاره روان وي او څوک په بله لاره روان وي او حق او هدايت هم په خپله لاره کې نهويني او اتباع يې نه کوي بلکې د مسلمانانو پرته په نورو لارو ګودرو رهى وي نو د مسلمانانو او د پيغمبر او د هغه د صحابه کرامو په مخالفت کې واقع دى.

د (نُوَلِّهِ مَا تَوَلَّى) مطلب هم دا دى چې مونږ به يې په هغه ضلالت کې واقع پرېږدو چې ده ورته مخه کړې ده.

د نبي کريم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لاره د مسلمانانو لاره ده او د استقامت لاره ده، که څوک په دې لاره روان نه شي نو له استقامت څخه په ډډه روان دى، ځکه د نبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه يې لاره بدله کړه، هغه په يوه او دا په بله لاره باندې روان دى.

همدا د (وَمَنْ يُشَاقِقِ الرَّسُولَ مِنْ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُ الْهُدَى) مطلب او موخه ده، له دې کبله خو حذيفه رضي الله عنه فرمايي: (اتَّقُوا اللَّهَ مَعْشَرَ الْقُرَّاءِ، وَخُذُوا طَرِيقَ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ، فَوَاللَّهِ لَئِنِ اسْتَقَمْتُمْ لَقَدْ سَبَقْتُمْ سَبْقًا بَعِيدًا، وَلَئِنْ تَرَكْتُمُوهُ شِمَالًا وَيَمِينًا ضَلَلْتُمْ ضَلَالًا بَعِيدًا، أَوْ قَالَ: مُبِينًا)(١)

(١) السنة د امام مروزي ليکنه: (٣٠)

ژباړه: ای قاري صاحبانو! له الله څخه وډار شئ او په هغه لاره روان شئ چې ستاسو سلف پرې روان ول، لوړه په رب لایزال که تاسو مستقیم شولئ نو ډېر مخکې به لاړ شئ، او که ښي او کڼ اړخ ته ترې کاږه واږه شولئ نو ډېر لرې ګمراهۍ کې به اخته شئ او یا یې وویل چې په ښکاره کې ګمراهۍ کې به اخته شئ.

نو په دین کې د استقامت هغه لاره چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ راته د دې ایت ( فَاسْتَقِمْ كَمَا أُمِرْتَ) (١) کې توضیح کړې ده نو نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او د هغه د ملګرو لاره او منهج دی.

په دې لاره باندې تلل په دنیا او اخرت کې له اور څخه د خلاصون یواځنۍ لاره ده، همدا د فرقه ناجیې او د منصورې طائفې منهج او د اصحاب الحدیث اهل السنة والجماعه مسلک دی.

قتاده رحمه الله چې ستر تابعي دی هغه چې به کله د الله پاک دا قول تلاوت کړ ( إِنَّ الَّذِينَ قَالُوا رَبُّنَا اللَّهُ ثُمَّ اسْتَقَامُوا ) (٢)

ژباړه: په یقین سره چې کوم خلک وایي چې الله زمونږ رب دی او بیا په دې خبره کلک ودریږي.

نو وبه یې ویل: تاسو اقرار وکړ چې زمونږ رب الله پاک دی اوس نو په دین کلک ودریږئ، د الله په اطاعت، او د خپل پیغمبر په سنتو باندې مضبوط شئ، او چرته چې درته امر کیږي هلته ولاړ شئ، استقامت دې ته ویل

(١) سورت هود: (١١٢).

(٢) سورت فصلت: (٣٠)

کیږي چې په اسلام او نېکۍ لارې باندې ولاړ ووسې او بېرته ترې ونه وځي او نه يې کوم ډول مخالفت وکړې، د اهل السنت والجماعت څخه شذوذ مه کوه او مه يې ډله پرېږده. (١)

نو که څوک استقامت في الدين غواړي هغه بايد د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په منهج باندې کلک ودرېږي، او څوک چې په دې لاره باندې تلل غواړي نو دا لارې له انسان څخه علم، بصيرت، فقه او عمل او دعوت، صبر او ثبات غواړي.

نو که څوک استقامت غواړي بايد ده چې تېر اسباب ولري او خلک ورته د علم په رڼا کې رادعوت کړي، او په دعوت کې له صبر او حوصلې څخه کار واخلي او پر دغه استقامت له سربښندنې کار واخلي.

ابن القيم رحمه الله فرمايي: که څوک غواړي چې الله او د اخرت ورځې ته سالم ورسيږي نو خپل مقصود ته په دوو قوتونو رسيدګي کولی شي: علمي قوت او عملي قوت.

بيا وايي: څکه چې په علمي قوت هغه ته لاره روښانه کيږي او خپل مقصد ته پرې سالم روان وي، د هلاکت او سترو ستونزو له ځايونو ځان ژغوري، او له هغه ځايه په ډډه روان وي چې له خپلې موخې څخه يې کږوي.

(١) الابانة الكبرى: (١/ ٣١٧)

علمي قوت يې په لاره کې ستر مشعل وي چې په تکه توره شپه کې پرې ځان ته لار روښانوي، په دې سره هغه د لارې نښې نښانېويني نو له ضلالت او هلاکت څخه بچ او سالم پاتې وي.

او په عملي قوت سره د خپل علم په رڼا کې په حقيقي سفر روان وي، څکه مسافر خپله امسا په اوږده کيږدي او خپل مقصود ته د رسيدګي په خاطر مزل ته بدې ووهي او په ترتيب سره يو يو ځای قطع کوي. (١)

ابن القيم رحمه الله راته په دې کې دکاميابۍ شرط ښايي چې د سفر په دوران کې ورسره د الله له مرستې وروسته پياوړی کومک کوي، چې يو علم او بل عمل دی.

لومړی بايد علم او فقه او بصيرت له انسان سره وي، ضرور ده چې بيا په دې باندې عمل وکړي او خلکو ته يې وښايي او هغوی ورته را دعوت کړي ترڅو هدايت ومومي، او د دعوت په لاره کې بيا په هغو سترو ستونزو باندې له صبر او حوصلې نه کار اخستل چې داعي ته متوجه وي، نو که څوک غواړي چې د رسول الله صَلّی اللّٰہُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د استقامت په رسم کړي منهج روان ووسي او په دغه لاره کې يې د علم په رڼا کې ثبات خوښ وي نو ضرور ده چې شرعي علم ولري ، هم پرې خپله عمل وکړي او خلک هم ورته دعوت کړي.

خو دا چې د استقامت له لارې څخه منحرفين بې علمه پاتې دي او اړوند يې د جهالت تاريکې په علم نه دي پورته کړي نو په تناقض او اټکلونو

(١) طريق الهجرتين:( ٢٨٤)

کې واقع دي، پرېکړې يې ټولې هواپرستۍ ته تکیه لري، حق ته باطل او باطل ته حق وايي، د بدعت طوفاني څپو يې خپې په هوا کړې دي او د تفرق او اختلاف اړخونو ته يې ټيل ايستلي دي.

ابن القيم رحمه الله وايي: که څوک علم ونه لري چې اختلاف يې د حق د پېژندلو سبب دی، ځکه چې د حق او باطل ترمنځ توپیر نه شي کولی، علم هرومرو دی او علم رڼا ده.

امام شاطبي رحمه الله وايي: د ډلو ټپلو ستر لامل جهل او جهالت دی، په نبوي سنتونو باندې جهل دی، دوی د نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او د هغه د ملګرو په طريقه او منهج باندې جاهلين ول، نو امت يې ډلې ټپلې کړ او اختلاف يې پکې وزيږو.

له دې کبله د استقامت لارې د پېژندلو لپاره ضرور ده چې د سلفو صالحينو منهج د فهم په اعتبار سم صحيح درک کړي او عمل پرې وکړي، نو که څوک د استقامت طريقه پېژندل غواړي او ثبات يې پرې خوښ وي نو هغوی دې نبوي منهج د تعليم لاندې ونيسي.

د منهج معنا د اسلامي دين د فهم طريقه ده، لکه د الله کتاب او نبوي حديث، زموږ سلف صالحين او صحابه کرام او تابعين په همدې منهج روان دوان و، خو که څوک په دې منهج تلل غواړي بايد ده چې ځان پرې پوهه کړي او عمل ورباندې شروع کړي تر څو نجات او استقامت ته لاره مونده کړي.

دا د مسلمان واجب دي چې له الهي امر سره سم له استقامت څخه داسې کار واخلي لکه څنګه نبي کريم صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ امر کړی دی (قُلْ آمَنْتُ بِاللهِ ثُمّ اسْتَقِمْ ) هغه خپل امت ته په استقامت امر کړی دی.

په کومو شيانو چې رب جليل او نبي کريم صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ مونږ امر کړي يو بايد استقامت ورباندې وکړو، مسلمان به انحراف، کږليچ او د استقامت له لارې څخه ځان نه په څنګ کوي، ورنه په هغه ورځ به له پښيمانتيا سره مخامخ شي چې پښيمانتيا به هيڅ ګټه چا ته نه رسوي [ يَالِيْتَنِيْ اتّخَذْتُ مَعَ الرّسُوْلِ سَبِيْلاً ] (۱)

ژباړه: های کاشکې د رسول الله صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ لاره مې په اتباع نيولې وه.

دلته بايد د هغو لاملونو يادګېرنه وکړو چې د استقامت له لارې خلک رابندوي، نو که په مونږ کې وي چې ځانونه ترې وساتو:

د الله په دين باندې له استقامت څخه د خلکو د انحراف لاملونه:

۱ - : هوا پرستي:

هواپرستي: نفسي ميلان او يو څه ته د نفس مائله کېدو ته ويل کيږي، انسان پکې د خپل خواهش پيروکاري کوي او د الله پاک او د هغه د رسول امر پکې نه مني، د ځان د نه تسليمولو له کبله ورته هواپرستي ويل کيږي.

(۱) سورت فرقان: ( ۲۷ )

کله چې څوک د أمارة بالسوء نفس حامل وي او د الله د او د هغه د رسول په مخالفتونو کې ښکېل وي نو دې ته هواپرستي ويل کيږي او انسان ته هواپرست ويلی شي ځکه چې د الله د شريعت تابع امر نه دی.

امام شاطبي رحمه الله وايي: مبتدعينو ته هواپرست ځکه ويل کيږي چې د خپلو خواهشاتو متبعين دي، که هر څومره شرعي دليل ته اړتيا ولري خو زړه ورته نه ښه کوي، بلکې خپل خواهشات مقدم بولي او په خپلو ارائو يې پوره باور وي. (۱)

او امام شافعي رحمه الله وايي: که انسان له الله سره په داسې حالت کې وګوري چې له شرک پرته هر ډول ګناه کړي وي نو له دې څخه به ډېره غوره وي چې په بدعتونو ککړ وي.

د امام شافعي دا خبره ډېره ارزښتناکه ده، امام بيهقي رحمه الله ترې په خپل سنن کې په صحيح سند نقل کړېده(۲).

نو د هواپرستۍ تر هر څه لوړی سبب همدا دی.

همدا راز د استقامت څخه د خلکو د انحراف بل لامل

۲ - : د وحي په نصوصو کې عقل حاکم ګڼل:

خپلخ به له نصوصو سره به په تعارض کې وي او عقل پرې حاکم ګڼي، د الله له کلام او د نبي کريم صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ له حديث سره په خپل

---

(۱) الاعتصام : (۲/ ٦٨٣) د امام شاطبي ليکنه.

(۲) السنن الکبری : (۲۰۸۹۵) د امام بيهقي ليکنه.

عقل او رأيې سره په جنګ اخته وي، او د استقامت له لارې څخه دا د انحراف ستونزمن سبب دی.

هر عاقل په دې ښه پوهیږي چې په قران او حدیث کې څومره نصوص راغلي دي ټول له سلیم عقل سره موافقت خوري، خو که د عقل او شریعت ترمنځ په څه شي تضاد راشي نو شریعت په عقل باندې حاکم دی ورنه د وحي له نصوصو سره به تعارض راشي.

سلیم عقل هېڅکله د الله پاک له کلام او د نبي صلی الله علیه وسلم له شریعت سره تعارض نه لري، دا بیخي امکان نه لري چې صحیح نقل او سلیم عقل دې د یو بل متضاد وي.

څوک چې دیني نصوص له عقل سره متعارض بولي نو د هغوی عقلونه فاسد او په رنځ اخته دي، ورنه سلیم عقل له صحیح او صریح نص سره هېڅکله متعارض نه وي.

نو که څوک په خپل عقل باندې له نصوصو سره معارضه کوي نو د استقامت له لارې څخه منحرف دی، مسلمان باید بیدار اوسي چې د وحي له نصوصو سره په تعارض ځان ښکېل نه کړي.

ابن القیم رحمه الله فرمایي: که عقل او نقل سره په تعارض کې راشي نو صریح نقل ته به عملي بڼه ورکولی شي، ایت او حدیث به اخستلی شي او عقلونه به د قدمونو لاندې هلته کېښودلی شي چرته چې الله ایښي دي(۱).

(۱) الصواعق المرسلة: (۲ / ۷۹۱)

نو د تعارض په مهال به نقل ته رجوع کېدلی شي چې تر څو ايت او حديث وي هېڅکله به عقلياتو ته رجوع نه شي کېدلی.

٣ - : د هغو آراؤ پيروی کول چې قران او حديث له ځان نه ښکته بولي:

له استقامت څخه د انحراف بل سبب هغو آراؤ ته تن کېښودل دي چې قران او حديث خپل ماتحت بولي، بايد ده چې مونږ دا سببونه وپېژنو او ځانونه ترې وژغورو، که راپکې وي بايد له ځان څخه يې وباسو ځکه دا د استقامت څخه د انحراف لامل دی.

ابن القيم رحمه الله فرمايي: کوم امت چې خپله رأيه په وحي مقدمه بللې ده مګر دا چې الله هلاک کړي دي، او کوم امت چې خپل عقل په وحي مقدم بللی دی مګر الله په ډلو ټپلو تقسيم کړي دي.

٤ - : له استقامت څخه د انحراف بل لامل د بدعتونو ترويج دی.

په دين کې بدعتونه پيدا کول حرام دي، کوم شيان چې انسان ورباندې الله ته ځان نزدې کوي او دليل ته استناد ونه لري نو د صاحب عمل له مخ نه به ويشتل کيږي، نبي کريم صَلّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ فرمايي: (مَنْ أَحْدَثَ فِي أَمْرِنَا هَذَا مَا لَيْسَ مِنْهُ فَهُوَ رَدٌّ) (١)

ژباړه: زمونږ په دين کې که چا نوی ديني کار پيدا کړ چې له مخکې نه په دين کې نه وي نو په صاحب عمل باندې مردود دی.

(١) صحيح مسلم: ( ١٧١٨)

همدارنګه په بل حديث کې هم نبي کريم صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ خبر ورکړی دی چې شرعي بدعتونه مردود دي، هغه فرمايي: (وَإِيَّاكُمْ وَمُحْدَثَاتِ الْأُمُورِ، فَإِنَّ كُلَّ مُحْدَثَةٍ بِدْعَةٌ، وَكُلّ بِدْعَةٍ ضَلَالَة)(۱)

ژباړه: په دين کې له بدعتونو څخه ځانونه وساتئ، ځکه په دين کې هر نوی شی بدعت وي او هر بدعت ضلالت وي.

نو ديني بدعتونه له استقامت او د نبي کريم صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ له منهج څخه د انحراف غټ سبب دی، ځکه بدعت په دين کې د دې معنا ورکوي چې دوی داسې کار ايجاد کړ چې له نبي صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ څخه پاتې شوی دی، سره له دې چې ديني امانت نبي صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ په کامله توګه رسولی دی، او دين يې په کافي او شافي انداز توضيح کړی دی، اسلامي دين په عباداتو کې نه زيادت او نه د کوم عبادت کمولو محتاج دی، او نه ا سلامي دين په دين کې نورو شيانو ته اړتيا لري.

امام ابن تيميه رحمه الله فرمايي: شرعي بدعتونه سراسر ضلالت دی، لکه داسې څه ښه ګڼل چې ښه نه وي ګڼل شوي، يا داسې څه واجب ګڼل چې الله نه وي واجب کړي، يا داسې څه حراموال چې الله نه وي حرام کړي، نو دا چې له اسلام ضد کارونو باندې دغه ډول عقيده ولرل شي نو انسان يې بيا الله ته د تقرب په خاطر شروع کړي، خو هيڅ شرعي دليل ورسره په ثبوت باندې نه وي(۲).

---

(۱) سنن الترمذي: (۲٦۷۷)، سنن أبي داود: ( ٤٦۰۷)

(۲) منهاج السنة النبوية : ( ۸ / ۳۰۸)

بدعت په دوه قسمه دی:

عقیدوي بدعت چې انسان د حق دي پر ضد چې الله پاک پرې نبي کریم صَلّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلّمَ راستولی دی د یو څه شي عقیده ولري چې د نبوي منهج مخالف او د اهل السنت والجماعت د عقیدې ضد وي، نو د اسلامي شریعت سره د ضدیت له کبله ورته بدعت ویل کیږي.

دوهم ډول یې په عبادتونو کې بدعت دی چې یو څوک د الله عبادت په داسې کیفیت او هیئت وکړي چې الله پرې امر نه وي کړی او نه یې د کیفیت دغه ډول کوم شرعي دلیل ته استناد لري، نو دې ته هم ابتداع في الدین ویل کیږي او له استقامت څخه د انحراف دا څلورم ډول دی.

بدعت د تفرقې او اختلاف هغه لامل دی چې دا امت پرې هم ښکېل دی، څکه خو عبدالله بن عباس رضي الله عنهما فرمايي: له الله څخه وډار شه او په دین مستقیم پاتې شه، متبع شه خو مبتدع مه شه(١) .

د نبي کریم صَلّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلّمَ اوامر ومنه او بدعتونه په دین کې مه جوړوه.

امام آجري رحمه الله وايي: په هغه چا دې الله رحمتونه ووروي چې له ډلو ټپلو یې ځان ساتلی او په بدعتونو کې ښکېل نه دی، متبع دی خو مبتدع نه دی، د حدیث اطاعت کوي او په سمه لاره روان دی او له خپل مولا رب کریم نه د مرستې سوال زاري کوي.

(١) سنن الدارمي: (١٤١)



WWW.LARHKUD.COM

نصیحت: په هغه بنده دې الله رحم وکړي چې له دغو ډلو ټپلو نه یې ځان بچ ساتلی وي او د متبدعینو له ټولو ډلو څخه یې ځان ژغورلی وي، له هر ډول بدعت څخه ډډه کوي او په خپلو ټولو چارو کې د رسول الله صَلّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ د سنتو کلک پابند وي، په دین کې بدعتونه نه جوړوي او پر ځای یې په سنتو باندې کلکې منګولې ښخې کړي وي او د مستقیمې لارې لټونوال وي د کریم رب او بادار په توفیق یې د مستقیمې لارې درک کړی وي او تر مرګ پورې په دغه لار روان وي.

زمونږ لپاره هم باید ده چې د ژوند په ټولو چارو کې له الله څخه مرسته وغواړو، که غواړو چې په استقامت باندې ولاړ پاتې شو نو ضرور ده چې د الله په دین کلک پاتې شو او که هر ډول ولري خو چې له بدعتونو او متبدعینو څخه ځانونه وژغورو، مونږ باید د سنتو تابعدار شو او له الله څخه مرسته وغواړو چې په مستقیمې لارې راته تر مرګه پورې د پاتې کېدو توفیق راکړي. (١)

٥ - : له استقامت څخه د انحراف بل لامل له دلیل پرته تقلیدونه دي:

په قرانکریم کې الله پاک د هغو قومونو بده ویلې ده چې د خپلو پلارانو، سردارانو او مشرانو په تقلید کلک ولاړ ول، نه ورسره دلیل و او نه کوم برهان.

دوی به د حق په مخالفت کې د خپلو پلارانو او مشرانو خبرې منلې او همدې ته تقلید او تعصب ویل کیږي.

---

(١) الشریعة : (١ / ٣١٤ ) د امام آجري لیکنه.



WWW.LARKHUD.COM

امام ابن القیم رحمه الله وايي: د اسلامي امت ترمنځ اختلاف په اصل کې د تقلید او مقلدينو له کبله زور اخستی دی، مقلدينو په اصل کې اسلامي امت ټوټه ټوټه کړ او خلک يې ډلې ټپلې کړل، هره ډله د خپل مشرتابه په مرسته بوخته وي او د مخالف په مذمتونو ګویا وي، بس همدا وايي چې زمونږ کتابونه ليکي او د دوی کتابونه ليکي، زمونږ امامان دا وايي او د دوی امامان دا، زمونږ مذهب دا دی او د دوی مذهب دا، سره له دې چې پیغمبر مو يو دی، قران يو دی، دين يو او رب مو هم يو دی.

دا د هر چا واجب جوړيږي چې له رسول الله پرته د هيڅ چا په اتباع بوخت ونه وسي او نه دې دهغوی اقوال د پيغمبر د حديثونو په څېر ګرځوي، که همدې خلکو د جنګ جدل په مهال نبوي سنتو او د صحابه کرامو اثارو ته پريکړه وړی وای نو که اختلاف بيا هم وی نو ډېر کم به وی(١).

معلومه شوه چې تقليد او د اقوالو لپاره وړوند تعصب ديني استقامت ته ستر ګواښ دی.

٦ - : له دلیل پرته تاويل، مذموم جدال له ديني استقامت څخه د انحراف بل لامل دی.

د ګوند او قوم قبيلې لپاره ډله بازي او تحزب چې له اسلامي شريعت سره ټکر لري، غلو او سختي کول ټول هغه څه دي چې ديني استقامت

(١) اعلام الموقعين: ( ٢ / ١٧٣ )

ګوابني، له مسلمان سره ښايي چې له دې لاملونو څخه ډډه وکړي، مسلمان دا سببونه، پديدې او علاج يې بايد وپېژني او که په رنځ ککړ وي بايد دارو درمل يې شروع کړي، ځکه دغه صفتونه انسان په دين باندې استقامت ته نه پرېږدي.

نـــصـــيـــحـــت: څوک چې په دين باندې د استقامت اراده لري بايد لږو متبعينو له کبله د رسول الله صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ منهج پرې نه ږدي، او مه د مخالف طرف په کثرت غولېږه، ځکه الله مونږ ته په ډاګه کړې ده چې اکثره خلک فاسقان، له نبوي لارې څخه په انحراف او له استقامت څخه کاږه واږه دي، الله پاک فرمايي: (وَإِنْ تُطِعْ أَكْثَرَ مَنْ فِي الْأَرْضِ يُضِلُّوكَ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ) (١)

ژباړه: که ته په ځمکه کې د ډېرو خلکو منلو پسې شوې نو د الله له لارې به دې بې لارې کړي.

نو که څوک په دين باندې د استقامت اراده لري نو په صراط مستقيم دې د لږو خلکو متابعت اړوند بايد مستوحش نه شي ځکه دا طبيعي شی دی، خو بايد د منافقانو او کافرانو کثرت هم تا ونه غولوي ځکه دا هم طبيعي امر دی، ځکه خو الله پاک مونږ ته وفرمايل: (وَإِنْ تُطِعْ أَكْثَرَ مَنْ فِي الْأَرْضِ يُضِلُّوكَ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ)

(١) سورت أنعام: (١١٦)

بیضاوي په خپل تفسیر کې د یاد ایت لاندې وايي: زیاتره خلک د کافرانو مینوال دي، او زیاتره خلک هواپرست دي، له همدې کبله الله پاک فرمايي: ( وَمَا أَكْثَرُ النَّاسِ وَلَوْ حَرَصْتَ بِمُؤْمِنِيْنَ ) (١)

ژباړه: ای محمده! صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، که ته ډېر حرص هم وکړې خو زیاتره خلک مومنان نه دي.

نو په دین د لږو خلکو استقامت ته مه بې چروته کېږه او نه دې د فاسقانو خلکو کثرت تا دوکه کړي، دا ایکې یواځې هغو خلکو ته نصیحت دی چې په دین باندې د استقامت اراده ولري، ځکه مونږ ته الله پاک بیان کړي دي چې مومنان کم وي ډېر نه وي، الله پاک فرمايي: (وَقَلِيْلٌ مِنْ عِبَادِيَ الشَّكُوْرُ) (٢)

ژباړه: زما شکر ګوزار بندګان ډېر لږ دي.

او الله پاک فرمايي: (إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَقَلِيلٌ مَا هُمْ) (٣)

ژباړه: مګر هغه خلک چې ایمان يې راوړی دی او نیک عملونه کوي خو دوی ډېر لږ دي.

نو په دیني استقامت باندې د خلکو لږوالي باندې مه بې چروته کېږه، ځکه نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مونږ ته بیان کړي دي چې په دې امت

---

(١) سورت یوسف: ( ١٠٣ )

(٢) سورت سبأ: ( ١٣ )

(٣) سورت ص : ( ٢٤ )



WWW.LARHKUD.COM

کې به په دین باندې مستقیم خلک لږ وي، نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: (بَدَأَ الْإِسْلَامُ غَرِيبًا، وَسَيَعُودُ كَمَا بَدَأَ غَرِيبًا، فَطُوبَى لِلْغُرَبَاءِ)

ژباړه: اسلام نا اشنا شروع شوی دی او بېرته به نا اشنا راستون شي، نو لږو متبعينو ته دې مبارکباد وی.

معنا دا چې په ډېرو بدکارو خلکو کې به نېکو کار خلک کم او لږ وي، لکه څنګه چې درته په استقامت امر شوی دی همدغسې په دین باندې ټینګ شه ځکه الله ستا نه ستا متعلق پوښتنه کوي.

چې کله هم د الله په وړاندې ودرېږدې نو الله به درنه ستا د هر عمل متعلق پوښتنه کوي.

د مسلمان د قلّت متعلق نبی کریم صلی الله علیه وسلم مزید فرمايي: (وَتَفْتَرِقُ أُمَّتِي عَلَى ثَلَاثٍ وَسَبْعِينَ مِلَّةً، كُلُّهُمْ فِي النَّارِ إِلَّا مِلَّةً وَاحِدَةً) (۱)

ژباړه:زما امت به درې اویا ډلو ته تقسیم شي او له یوې پرته به نورې ټولې په اور کې وي.

نو د درې اویا ډلو په تناسب باندې یوه ډله ډېره لږه ده، او حدیث هم صحیح دی اصحاب السنن روایت کړی دی او محدثینو علماؤ ورته صحیح ویلي دي، نو که څوک استقامت في الدین غواړي ضرور ده چې خپل ځان مطمئن کړي.

مستقیم بالدین انسان باید خپل ځان د جاهلانو، بدعتیانو، فاسقانو د ملنډو استهزاء کونکو په اذیت ځان روږدي کړي، ځکه ستا نه مخکې

---

(۱) سنن الترمذي: (۲٦٤۱)

له دې تڪليف سره انبياء او صالحين او د اسلامي دين امامان هم مخامخ ول خو له استقامت بالدين څخه نه دي تېر شوي، تر هغه پورې د مبتدعينو په اذيت له صبر څخه کار واخله چې له الله سره دې ملاقات وشي.

اخرنۍ خبره چې ډېره ضرور خبره ده بايد ستاسو پام ورته واړوم چې هغه د استقامت معنا، د استقامت طريقې، د رسول الله صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ او د صحابه کرامو تګلاره، او هغه لاملونه چې په استقامت له انسان سره مرسته کوي.

<u>په استقامت باندې مرستندويه اسباب:</u>

د الله د امر تابعدار او د استقامت د لارې لټونوال که اراده لري او قناعت اخلي نو د استقامت اړوند د رسول الله صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ سپارښتنې ته دې عملي بڼه ورکړي، دا چې ته به څنګه په استقامت دوامدار پاتې شې تر څو له الله سره ملاقات وکړې نو لاندينې اسباب په نظر کې ونيسه:

<u>لومړی : له فتنې څخه تعوذ، ځان ورنه ساتل او ورڅخه تېښته:</u>

ای الله له تاپورې د ښکاره او پټو فتنو نه پناه غواړم، او له فتنو څخه پناه غوښتل مونږ ته نبوي تعليمات دي، له فتنو څخه الله ته پناه وړل ترڅو درته الله پاک پناه درکړي.



WWW.LARHKUD.COM

چې کله هم فتنې راښکاره شي نو له الله پورې په دې کلماتو پناه وغواړه(تَعَوَّذُوا بِاللهِ مِنَ الْفِتَنِ، مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَن) (١)

ژباړه: له ښکاره او پټو فتنو نه له الله پورې پناه وغواړئ

له فتنو نه تعوذ په استقامت على الدين باندې ډېره ښه سبب دی چې په هر ځای او هر چرته فتنې شته شي نو د حديثونو په رڼا کې ته ورځخه د توان په اندازه لرې وځه.

د فتنو په مهال له صبر او استقامت څخه کار واخله، د الله په اطاعت، له معصيت څخه په صبر او په کړاونو او تکليفونو باندې له صبر څخه کار واخله، زيار اوباسه او د فتنو په مهال الله ته ځان سم نزدې کړه په دې سره به الله پاک تا له فتنو څخه وساتي او استقامت بالدين به دربرخه کړي.

دوهم: په تکليفونو او نعمت باندې د ازمېښت په مهال ټينګ پاتې شه،

که په فرائضو درته امر وکړی شي نو ټينګ شه او فرض ادا کړه، په تا چې څومره واجبات دي نو ادا يې کړه او دغه مهال چې په تا څومره واجبات دي بايد سم صحيح يې وپېژنې او د الله له امر سره سم يې ادا کړه.

استقامت بالدين درته همدا ګڼه در رسوي که په نعمتونو وازمول شې لکه مالداري، مال او دولت، مرتبه او مقام نو د الله شکر پرې ادا کړه او استقامت ته مه شا کوه، له استقامت څخه په نورو شيانو بوخت مه اوسه،

(١) صحيح مسلم: (٢٨٦٧)

هېڅکله دې نعمتونه او لورينې تا له استقامت څخه په نورو شيانو بوخت نه کړي.

ابن القيم رحمه الله فرمايي: د پېغمبرانو له راتګ وروسته مکلف انسان د دوو شيانو ترمنځ دی: يا به وايي چې ايمان مې دی او يا به له ايمان څخه انکار کوي.

د مکلفينو حالت هله پوره توضيح شي چې کله ورته د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ له پلوه امر راشي نو يا به وايي چې زما يې په خبرو باندې ايمان دی او يا به وايي چې زه پرې ايمان نه لرم او په خپلو سيئاتو همدغسې ولاړ پاتې شي.

ځوک چې د ايمان دعوه لري نو الله يې ايمان امتحان کړي ترڅو ايمان يې الله ته دليل وي او ټينګ پرې پاتې شي، په دې سره يې الله پاک امتحانوي چې ايا دا په خپل ايمان کې صادق او که کاذب دی، دا چې امتحان ته اړتيا ده نو ځکه يې الله امتحانوي.

ابن القيم رحمه الله وايي: د داسې انسان ايمان نه يواځې دا چې د عافيت په مهال وي بلکې د عافيت او عدم عافيت دواړو حالتونو کې ثابت او په زړه کې مستقر وي.

نو داسې انسان په امتحان کې کاميابيږي چې شرعي تکليفونه وګالي او په اوامرو باندې د ثبات قدمۍ په برکت له محرماتو څخه لري وي، له نواهيو څخه ځان ژغوري همدا په خپل ايمان او استقامت دواړو کې صادق دی.

نو كله چې مسلمان په نعمت يا مصيبت ازمېښت شي بايد له صبر او حوصلې څخه كار واخلي او په دين مستقيم پاتې شي، صبر كول له انسان سره په ديني استقامت باندې ډېره ښه مرسته كوي.

نو ازمېښتونه د هغه چا د ايمان حقيقت رابرسيره كوي چې په دين باندې د استقامت اراده لري، نو كه ديني استقامت د چا خوښ وي ضرور ده چې د ازمېښت په مهال له برداشت نه كټه واخلي او د الله پاک او د هغه د رسول صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د اوامرو پابند وي.

د الله پاک او دهغه د رسول له نواهيو څخه ځان كلک وساته، الله پاک فرمايي: ( وَلَوْ أَنَّهُمْ فَعَلُوْ مَا يُوْعَظُوْنَ بِهِ لَكَانَ خَيْراً لَّهُمْ وَأَشَدَّ تَثْبِيْتاً ) (۱)

ژباړه: كه چرته دوی هغه څه كول چې نصيحت ورته پرې وركول كيږي نو د دوی لپاره به ډېره بهتره او د استقامت خبره وه.

مطلب : كه د الله امرونه يې ومنل او له منهياتو څخه يې ورله ځان پوره وساتو نو دا به ورسره په استقامت ډېره مرسته وكړي.

او په دې كې شک نشته چې د الله اوامر هم ازمېښت دی انسان پكې په امتحان كې اچوي چې ايا خبره مې مني او كه نه؟ ډېر خلک داسې دي چې د الله امرونه نه مني نو له دې كبله په امتحان كې ناكام شوي دي نو كه په استقامت باندې د چا خپل ځان ولاړ خوښ وي نو د نعمتونو په مهال دې د الله شكر اوباسي او د الله د نعمت اظهار دې وكړي او حقوق دې پرې ادا كړي.

---

(۱) سورت نساء: ( ٦٦ )

او که څوک غواړي چې د مصیبتونو په مهال په استقامت باندې روغ جوړ او سالم پاتې شي نو د الله په قضا دې خپله رضا وښایي، له صبر او حوصلې دې کته پورته کړي او د نیکې بدلې امید دې له الله څخه ولري، په دې سره به پرې مصیبتونه اسان شي او په صبر به ورته مزید تلقین هم ورکړي، الله پاک فرمایي: (وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ أَجْرَهُم بِأَحْسَنِ مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ) (۱)

ژباړه: او خامخا به مونږ دوی ته د دوی د نیکو عملونو اجرونه او ثوابونه ورکړو.

نو چې د مصیبت په مهال ځان ته دا ایتونه رایاد کړي، نیکې بدلې او جنتونه رایاد کړي، د ګناهونو بخښش پرې ځان ته رایاد کړي نو هم به پرې صبر وکړی شي او هم په دین مستقیم پاتې شي.

دریم سبب : د امر بالمعروف او نهي عن المنکر ته د خلکو د دعوت په مهال په دین باندې مستقیم انسان له مشقت سره مخامخ کیږي، بلا ډېر تکلیفونه او ستونزې ویني، پروپیګنډې او استهزاء وربانديې خلک وهي، نو که څوک په دین باندې استقامت غواړي او دغه شرعي واجب ته عملي بڼه ورکولو باندې د قیام توان لري نو ضرور ده چې د امر بالمعروف او نهي عن المنکر لپاره شرعي علم او فقاهت في الدین حاصل کړي، ضرور ده چې باید توکل علی الله ولري او له الله څخه د صبر او استقامت مرسته او کومک وغواړي.

---

(۱) سورت نحل: (۹۷)

داعي انسان باید په دعوت کې حکمت ولري، ښه اخلاق، په علم باندې عمل، په دیني زده کړو او په دعوت کې د الله لپاره اخلاص، د اسلامي شریعت په حدودو کې له خلکو سره نرمي کول، له هغوی سره له بردبارۍ نه کار اخستل او تواضع کول، د مفاسدو د مخنیوي په خاطر یې مصالح په نظر کې نیول په داعي باندې واجبي امور دي.

کله چې داعي دغه کارونه وکړي نو الله پاک به ورته په دین کې ثبات او استقامت ورکړي، په دین باندې د ثبات له لاملونو څخه د استقامت نه ځان بې غوره کولو نه د ځان په ساتلو کې دی، د استقامت په لاره چې چا سفر شروع کړی دی نو په یاده لاره کې دې له سترپا ګاللو او عوائق له منځه وړلو کې ځان ته ستومانه نه وایي.

شیطان دا نسان لوی دښمن دی، هواپرستي انسان ته ښایسته کوي او د ژوند چارې پرې ګډې وډې کوي او په شبهاتو یې اخته کوي، او زیاتره خلک همداسې وي، د استقامت په لاره له تردد نه ځان وساته او له الله څخه وغواړه چې په دین دې کلک کړي، شپه او ورځ الله ته په ابتهال او زارۍ اوسه چې ثبات قدمي در په برخه کړي چې ای د شپې او ورځو اړونکیه ستا په دین مې زړه مضبوط کړه، ای د سترګو او زړونو اړونکیه ستا اطاعت ته مې زړه واړوه.

له تردد څخه پوره وډار شه او د استقامت په لاره کې هغه دعاګانې غواړه چې نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به غوښتې، مونږ مخکې ذکر وکړ چې له استقامت څخه د انحراف ستر لامل له مبتدعینو او هواپرستو سره اباد

مجلسونه دي، له فاسقانو او په معاصيو باندې روږدي انسانانو سره بنداړونه دي.

څلورم: د ژنکدن په مهال په دين استقامت ، زيار اوباسه چې په ديني استقامت باندې تر مرګ پورې پاتې شې د مرګ په مهال هم له الله څخه ثبات وغواړه، له الله سره د ملاقات مينه ولره، او توبه اوباسه، مرګ ځان ته ډېر رايادوه او په الله پاک ښه ګمان ولره او نېکو عملونو کې د استمرار په صفت پاتې شه.

دا ځيني اسباب ول چې په دين باندې د استقامت لپاره پرې عمل کول بيخي اړين و، له الله پروردګار څخه سوال کو چې څنګه راته هغه امر کړی دی هم هغسې راته په دين باندې استقامت راکړي، له الله څخه غواړو چې تر مرګ پورې مو په دين کې استقامت روزي کړي، الله پاک دې مونږ او تاسو، او زمونږ او د ټولو مسلمانانو هيوادونه له هر ډول نادودو او ناخوالو څخه محفوظ وساتي.

WWW.LARHKUD.COM

**حصائد الألسن**

# د ژبې لوونه او ګناهونه

ليکوال: فضيلة الشيخ ابراهيم بن عبدالله المزروعي
ژباړن: لقمان حکيم حکمت

WWW.LARKHUD.COM

ان الحمدلله نحمده ونستعينه ونستغفره،ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سيئات أعمالنا، من يهده الله فلا مضل له ومن يضلل فلا هادي له، وأشهد لا اله الا الله وحده لا شريک له وأشهد أن محمدا عبده ورسوله، أما بعد:

مقدمه:

عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: كُنْتُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سَفَرٍ، فَأَصْبَحْتُ يَوْمًا قَرِيبًا مِنْهُ وَنَحْنُ نَسِيرُ، فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ أَخْبِرْنِي بِعَمَلٍ يُدْخِلُنِي الْجَنَّةَ، وَيُبَاعِدُنِي مِنَ النَّارِ، قَالَ: «لَقَدْ سَأَلْتَ عَظِيمًا، وَإِنَّهُ لَيَسِيرٌ عَلَى مَنْ يَسَّرَهُ اللهُ عَلَيْهِ، تَعْبُدُ اللهَ لَا تُشْرِكُ بِهِ شَيْئًا، وَتُقِيمُ الصَّلَاةَ، وَتُؤْتِي الزَّكَاةَ، وَتَصُومُ رَمَضَانَ، وَتَحُجّ الْبَيْتَ» ثُمَّ قَالَ: أَلَا أَدُلُّكَ عَلَى أَبْوَابِ الْخَيْرِ؟ الصَّوْمُ جُنَّةٌ، وَالصَّدَقَةُ تُطْفِئُ الْخَطِيئَةَ كَمَا يُطْفِئُ النَّارَ الْمَاءُ، وَصَلَاةُ الرَّجُلِ مِنْ جَوْفِ اللَّيْلِ، ثُمَّ قَرَأَ {تتَجَافَى جُنُوبُهُمْ عَنِ الْمَضَاجِعِ} [السجدة: ١٦] حَتَّى بَلَغَ {جَزَاءً بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ} [السجدة: ١٧] ثُمَّ قَالَ: أَلَا أُخْبِرُكَ بِرَأْسِ الْأَمْرِ، وَعَمُودِهِ، وَذُرْوَةِ سَنَامِهِ؟ الْجِهَادُ ثُمَّ قَالَ: أَلَا أُخْبِرُكَ بِمِلَاكِ ذَلِكَ كُلِّهِ؟ قُلْتُ: بَلَى، فَأَخَذَ بِلِسَانِهِ، فَقَالَ: تَكُفُّ عَلَيْكَ هَذَا قُلْتُ: يَا نَبِيَّ اللهِ وَإِنَّا لَمُؤَاخَذُونَ بِمَا نَتَكَلَّمُ بِهِ؟ قَالَ: ثَكِلَتْكَ أُمُّكَ يَا مُعَاذُ وَهَلْ يُكِبُّ النَّاسَ عَلَى وُجُوهِهِمْ فِي النَّارِ، إِلَّا حَصَائِدُ أَلْسِنَتِهِمْ؟.

ژباړه: له معاذ بن جبل رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې زه له رسول الله صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره د یو سفر په ترڅ کې وم یوه ورځ مو ورسره نزدې سبا کړ او په سفر روان وو، ما ورڅخه وپوښتل چې ای د

الله رسوله! له داسې عمل نه مې وخبروه چې جنت ته مې ننباسي او له اور څخه مې لري کړي، هغه راته وويل: د ډيرې غټې خبرې پوښتنه دې رانه وکړه خو هغه چا ته ډيره اسانه ده چې الله ورته اسانه کړې وي، د الله عبادت کوه او شرک ورسره مه کوه، لمونځ کوه او زکات ورکوه، د رمضان روژې نيسه او له بيت الله څخه حج کوه، بيا يې وويل: ايا د خير کارونه درته نه درښايم؟ روژه ډال دی او خيرات ورکول ګناهونه داسې له منځه وړي لکه اوبه چې اور له منځه وړي، د شپې تهجد کول – او بيا يې دا ايت ولوست: (تَتَجَافَى جُنُوبُهُمْ عَنِ الْمَضَاجِعِ ) تر (جَزَاءً بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ) بيا يې وويل: ايا د دين په مرکزي عمل او د هغې په ستنې او لوړې څوکې دې نه خبروم؟ ما وويل: ولې نه د الله رسوله! هغه وويل: د دين مرکزي عمل اسلام دی، لمونځ يې ستن او جهاد في سبيل الله يې لوړه څوکه ده، بيا يې وويل:ايا په هغه څه دې نه خبروم چې انسان پرې دغه ټول په اسانه لاندې کولی شي؟ما وويل: ولې نه د الله رسوله! هغه خپله ژبه ونيوله او ويويل: دا قابو کړه، ما وويل: دالله پيغمبره! ايا په خبرو هم راسره حساب کيدلی شي؟ هغه وويل: معاذه! مور دې درباندې بوره شه! په اور کې خلکو لره د ژبې لو پړ مخ روان کړي دي.

ژبه د ډيرو ګناهونو لامل ده:

د غير الله د عبادت بنسټ ژبه ده، په ژبې سره د الله له حکم پرته په نورو څه پريکړه کيږي، په ژبې سره بدعتونو رامنځ ته شول، او پر ژبې

سره ډېرې خپلولۍ نه پالل کيږي، ژبه ده چې له کبله يې پاکې او پرهيزګارې ښځې طلاقې شي او د خلکو مالونه پرې لوټ مار شول، ډېره ضرور ده چې د ژبې اړوند ستونزو باندې خبرې اترې وکړو ترڅو له شره يې ځانونه وژغورو او له اور څخه نجات ومومو، دلته به د ژبې اړوند د هغو لوونو څخه خبرې وکړو چې له هر قبيح کار او خبرې چې له ژبې څخه راووځي ځان وساتو او له شر څخه په ځان ساتلو کې بايد د ژبې سره کلکه مبارزه وکړو.

د ژبې اړوند غږېدلي ايتونه:

الله پاک فرمايي: (مَا يَلْفِظُ مِنْ قَوْلٍ إِلَّا لَدَيْهِ رَقِيبٌ عَتِيدٌ) [ سورت ق:١٨] ژباړه: انسان په هيڅ خبره تلفظ نه کوي مګر ملګرى (ملک) يې ليکلو ته تيار وي.

او الله پاک فرمايي: (يَوْمَ تَشْهَدُ عَلَيْهِمْ أَلْسِنَتُهُمْ وَأَيْدِيهِمْ وَأَرْجُلُهُمْ بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ) [سورت نور:٢٤] ژباړه: په هغه ورځ چې پر دوى باندې به د دوى ژبې، لاسونه او خپې د هغو عملونو په سبب ګواهي ورکړي چې دوى به کول.

د ژبې اړوند غږېدلي حديثونه:

١ - : له ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دى چې رسول الله صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ فرمايي: (مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللهِ وَاليَوْمِ الآخِرِ فَلْيَقُلْ خَيْرًا أَوْ لِيَصْمُتْ) [ بخاري:٦٠١٨، مسلم: ٤٧] ژباړه: په الله پاک او د اخرت په

ورځ چې څوک ایمان لري نو یا دې د خیر خبرې وکړي او یا دې خاموش شي.

۲ - : له بلال بن حارث رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایي: (إِنَّ أَحَدَكُمْ لَيَتَكَلَّمُ بِالْكَلِمَةِ مِنْ رِضْوَانِ اللّٰهِ، مَا يَظُنُّ أَنْ تَبْلُغَ مَا بَلَغَتْ، فَيَكْتُبُ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ لَهُ بِهَا رِضْوَانَهُ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ، وَإِنَّ أَحَدَكُمْ لَيَتَكَلَّمُ بِالْكَلِمَةِ مِنْ سُخْطِ اللّٰهِ، مَا يَظُنُّ أَنْ تَبْلُغَ مَا بَلَغَتْ، فَيَكْتُبُ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ عَلَيْهِ بِهَا سُخْطَهُ إِلَى يَوْمِ يَلْقَاهُ ) [سنن ابن ماجه:۳۹۶۹، جامع الترمذي:۲۳۱۹] ژباړه: تاسو کې کله یو څوک د الله د رضا داسې خبره وکړي چې د لوړې درجې یې پرې هیڅ ګمان نه وي خو تر قیامت ورځې پورې به ورته الله پرې خپله رضا ولیکي، او کله په تاسو کې څوک د الله د غضب داسې خبره وکړي چې د عذاب یې پرې بیخي ګمان نه وي خو تر قیامته پورې به پرې الله خپل غضب وکړي.

۳ - : عقبه بن عامررَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وایي چې رسول الله صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایي: (امْلِكْ عَلَيْكَ لِسَانَكَ، وَلْيَسَعْكَ بَيْتُكَ، وَابْكِ عَلَى خَطِيئَتِكَ) [جامع الترمذي:۲٤۰٦] ژباړه: خپله ژبه دې په قابو کې راوله، کور دې دربانديې پراخه شه او پخپلې ګناه باندې وژاړه.

٤ - : له ابن مسعود رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایی: ( أَكْثَرُ خَطَايَا ابْنِ آدَمَ فِيْ لِسَانِهِ ) [ السلسلة الصحيحة: ٥٣٤] ژباړه: د انسان زیاته ګناه د ژبې له کبله وي.

٥ - : له ابوهريره‌رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ فرمايي: ( أَكْثَرُ النّاسِ ذُنُوْباً أَكْثَرُهُمْ كَلاَماً فِيْمَا لاَيَعْنِيْهِ ) [صحيح الترغيب والترهيب]: ژباړه: په خلکو کې ډېر ګناهګار هغه څوک دی چې ډېرې داسې خبرې کوي چې نه ورسره ښائيږي.

٦ - : له سهل بن سعدرَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ فرمايي: (مَنْ يَضْمَنْ لِي مَا بَيْنَ لَحْيَيْهِ وَمَا بَيْنَ رِجْلَيْهِ أَضْمَنْ لَهُ الجَنّةَ) [بخاري:٦٤٧٤] ژباړه: ما ته چې څوک د خپلو ژامو او خپو ترمنځ کې د اندامونو ضمانت راکړي نو زه به ورته د جنت ضمانت ورکړم.

٧ - : يوه ورځ نبي کريم صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ خپلو ملګرو ته وويل: (أَتَدْرُونَ مَنِ الْمُفْلِسُ؟ قَالُوا: المُفْلِسُ فِينَا يَا رَسُولَ اللّٰهِ مَنْ لَا دِرْهَمَ لَهُ وَلَا مَتَاعَ، قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ: المُفْلِسُ مِنْ أُمّتِي مَنْ يَأْتِي يَوْمَ القِيَامَةِ بِصَلَاتِهِ وَصِيَامِهِ وَزَكَاتِهِ، وَيَأْتِي قَدْ شَتَمَ هَذَا وَقَذَفَ هَذَا، وَأَكَلَ مَالَ هَذَا، وَسَفَكَ دَمَ هَذَا، وَضَرَبَ هَذَا فَيَقْعُدُ فَيَقْتَصُّ هَذَا مِنْ حَسَنَاتِهِ، وَهَذَا مِنْ حَسَنَاتِهِ، فَإِنْ فَنِيَتْ حَسَنَاتُهُ قَبْلَ أَنْ يُقْتَصّ مَا عَلَيْهِ مِنَ الخَطَايَا أُخِذَ مِنْ خَطَايَاهُمْ فَطُرِحَ عَلَيْهِ ثُمّ طُرِحَ فِي النّارِ ) [ صحيح مسلم:٢٥٨١] ژباړه: ايا تاسو پوهېږئ چې ناداره څوک دی؟ صحابه کرامو وويل: مونږ کې ناداره هغه څوک دی چې درهم او ساز او سامان و نه لري، رسول الله صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ وفرمايل: زما په امت کې ناداره هغه څوک دی چې د قيامت په ورځ به خپل لمونځونه، روژې او زکاتونه راوړي، رابه شي او ده ته به يې کنځلې

کړي وي، پر ده به يې تور پورې کړی وي، او د ده به يې مال دولت خوړلی وي، د ده به يې وينه توی کړي وي او دا به يې وهلی وي، هغه به کيني، د ده بدل به هم ترې واخستل شي او د ده به هم ، که يې حسنات مخکې له دې ختم شي چې قصاص ترې نه وي اخستل شوی نو د مظلومانو ګناهونه به راواخستل شي او په ده به بار کړی شي او بيا به اور ته ګوزار کړی شي.

٨ - : له جابر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: (إِنَّ مِنْ أَحَبِّكُمْ إِلَيَّ وَأَقْرَبِكُمْ مِنِّي مَجْلِسًا يَوْمَ القِيَامَةِ أَحَاسِنَكُمْ أَخْلَاقًا، وَإِنَّ أَبْغَضَكُمْ إِلَيَّ وَأَبْعَدَكُمْ مِنِّي مَجْلِسًا يَوْمَ القِيَامَةِ الثَّرْثَارُونَ وَالمُتَشَدِّقُونَ وَالمُتَفَيْهِقُونَ، قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، قَدْ عَلِمْنَا الثَّرْثَارُونَ وَالمُتَشَدِّقُونَ فَمَا المُتَفَيْهِقُونَ؟ قَالَ المُتَكَبِّرُونَ) [جامع الترمذي: ٢٠١٨، صحيح الجامع:٢١٩٧]

ژباړه: د قيامت په ورځ ما ته محبوب او زما مجلس ته به په تاسو کې نزدې هغه څوک وي چې اخلاق يې ښايسته وي، او د قيامت په ورځ ما ته مبغوض ترين او د مجلس په اعتبار به له ما څخه لرې قسمخور او متفيهقون وي، صحابه و عرض وکړ چې ثرثارون خو پيژنو چې متفيقهون چا ته ويل کيږي؟ هغه وويل: تکبر کونکي. د ژبې د مهارولو او له ستونزو څخه يې د ځان ژغورنې اړوند په اسلام کې ډېر نصوص شتون لري. خو دا چې سلفو صالحينو به خپله ژبه څنګه مهاروله؟ تاسو ته يې ځينې نمونې بيلګې ړدو:

١ - : عمررَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ یوه ورځ د ابوبکررَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ خوا ته ولاړ ځه ګوري چې ابوبکررَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ خپله ژبه په لاس تاووله، عمررَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ورته وویل: الله دې وبښه مه کوه! دا ولې؟ هغه ورته وویل: په بربادیو کې دې اچولی یم. [موطأ امام مالک:٣٦٢١]

٢ - : عبدالله بن ابي زکریا وایی: شل کاله مې د خاموشۍ دارو درمل وکړل خو ونه توانېدم.

٣ - : عبدالله بن وهب وايي: پر ځان مې نذر ومنود که مې د چا غیبت وکړ نو یوه ورځ روژه به نیسم، خو ونه شوه او غیبت ډېر تنګ کړم، نو نیت مې وکړ که مې له دې وروسته د چا غیبت وکړ نو یو درهم به صدقه کوم نو له درهمو سره د محبت له کبله له غیبت کولو څخه راستون شوم. ذهبي په دې کلام باندې داسې تعلیق کوي: ربښتنې علماء داسې ول او دا د ګڼور علم ثمره وي.[ سير أعلام النبلاء]

٤ - : ابراهیم تیمي وايي: د ربیع بن خیثم یو ملګري راته وویل چې شل کاله مې ورسره ملګرتوب کړی دی خو هیڅ بده خبره مې ترې نه ده اورېدلې.

٥ - : ابن مسعودرَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وايي: اې ژبې! د خیر ښېګړې خبرې کوه ګټوره به شې، یا خاموش شه نو له پښېمانتیا وړاندې به سالمه پاتې شې. [السلسلة الصحیحة: ٥٣٤] له دې پرته پکې له سلفو صالحینو څخه ډېر اثار نور هم راغلي دي.

د ژبې بې مهاره پرېښودو بدې پايلې:

۱ - : د الله پاک او د هغه د رسول د هغو اوامرو بې حرمتي کول چې له شر څخه د ژبې په قابو کولو باندې امر کوي، همدارنګه د ژبې له مخې د الله پاک محرماتو ته په سپکه کتل.

۲ - : په الله پاک او د اخرت په ورځ باندې د ايمان نقصان، ځکه حديث کې راځي: [وَمَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللهِ وَاليَوْمِ الآخِرِ فَلْيَقُلْ خَيْرًا أَوْ لِيَصْمُتْ] (صحيح البخاري:٦١٣٦، صحيح مسلم:٤٧) ژباړه: څوک پر الله پاک او د قيامت په ورځ باندې ايمان لري نو يا دې د خير خبرې وکړي او يا دې خاموش شي. د خلکو په عزت او ابرو کې له خبرو کولو سره ايمان کمېږي.

۳ - : د عملونو په ليکلو د ګمارل شوي ملک بې احترامي کول، سره له دې چې کوم خلک چې په ده ګمارل شوي وي د هغوی په مخکې ډېر په ادب ګړيږي او د عزت او شرف الفاظ ورته استعمالوي.

٤ - : د ژبې په بې مهاره پرېښودو سره په جنت، دوزخ، عذاب قبر او په تقدير باندې د انسان ايمان کمېږي.

٥ - : د ژبې په بې مهاره پرېښودو سره ځينې قلبي مرضونه انسان ته پيدا کيږي لکه حسد، کبر، بغض او کينه او داسې نور...

نو که ژبه همداسې بې مهاره پرېښودل شي نو پايلې به يې څه وي؟

نبي كريم صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ فرمايي: (وَهَلْ يَكُبُّ النّاسَ فِي النّارِ عَلَى وُجُوهِهِمْ أَوْ عَلَى مَنَاخِرِهِمْ إِلّا حَصَائِدُ أَلْسِنَتِهِمْ ) [ جامع الترمذي: ٢٦١٦، ارواء الغليل: ٤١٢]

ژباړه: ایا په اور کې خلکو لره پړمخ نه دي روان کړي مګر د خپلو ژبو لوونو روان کړي دي.

د ژبې ځيني لوونه په دې ډول دي:

١ - : له الله سره لوی، کوچنی او خفي شرک کول: د شرک له ډولونه څخه دا هم دي چې په ژبې سره پر الله او د هغه په رسول صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ باندې څوک دروغ وتړي، يا پر هغه څه فيصله کول يا ورته فيصله وړل چې الله پاک نه وي نازل کړي، له غير الله څخه يو څه غوښتل، له نجوميانو او پالګرو څخه د خپل تقدير پوښتنې کول، په غير الله باندې قسمونه خوړل او ورڅخه استغاثه غوښتل يا ورپورې پناه نيول، د الله پاک له نومونو يا صفتونو څخه د کوم نوم يا صفت نه انکار کول، الله پاک، يا قران او يا دهغه رسول، يا حديثونو او يا ملائکو ته کنځلې کول او داسې نور...

٢ - : په دين کې بدعتونه جوړول: په حديث کې راځي: (إِنّ اللهَ حَجَبَ التّوْبَةَ، عَنْ صَاحِبِ كُلِّ بِدْعَةٍ ) [السنة لابن ابي عاصم: ٣٧، المعجم الأوسط: ٤٢٠٢]

ژباړه: له بدعتي څخه الله توبه تر هغه نه قبلوي تر څو يې چې خپل بدعت نه وي پرېښی. او بدعت په عقيده کې هم کېدلی شي، په لمونځونو، په اذکارو او دعاګانو کې هم کېدلی شي.

٣ - : قصداً د دروغو قسم خوړل: او دې ته يمين غموس هم وايي.

٤ - : د دروغو ګواهي کول.

٥ - : پر چا باندې تور او بهتان لګول: لکه د سلفو صالحينو پيروکار (اهل حديث ) تورنول چې له امامانو سره بغض لري او يا خلکو ته کافر وايي.

٦ - : دروغ ويل: لکه:

أ - : ماشوم ته په دورغو ويل چې راشه څه درکړم او هېڅ ورسره نه وي، له عبدالله بن عامر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی فرمايي: (دَعَتْنِي أُمِّي يَوْمًا وَرَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَاعِدٌ فِي بَيْتِنَا، فَقَالَتْ: هَا تَعَالَ أُعْطِيكَ، فَقَالَ لَهَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَا أَرَدْتِ أَنْ تُعْطِيهِ؟ قَالَتْ: أُعْطِيهِ تَمْرًا، فَقَالَ لَهَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَا إِنَّكِ لَوْ لَمْ تُعْطِهِ شَيْئًا كُتِبَتْ عَلَيْكِ كِذْبَةٌ) [سنن ابي داود: ٤٩٩١]

ژباړه: ما ته مور يوه ورځ اواز وکړ او رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زمونږ په کور کې و، چې راشه څه درکړم، رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وويل: ايا څه دې ورکول؟ هغې وويل: کجوره، رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وويل: که کجوره دې نه ورکولی نو دروغ به درباندې ليکل شوي و.

ب – : دا هم دروغ دي چې يو څوک هر اورېدلی خبر نورو ته غږوي، څکه حديث کې راځي: (كَفَى بِالْمَرْءِ كَذِبًا أَنْ يُحَدِّثَ بِكُلِّ مَا سَمِعَ) [ صحيح مسلم:٤]

ژباړه: د انسان لپاره همدومره دوروغ بس دي چې څه اوري هغه نورو ته وايي. څکه څوک چې څه اوري بايد حرفاً حرفاً يې نقل نه کړي، شايد دروغ او رښتيا دواړه ولري.

ج – : دا هم دروغ دي چې د خلکو د خندولو لپاره څوک دروغ وايي، حديث کې راځي: (وَيْلٌ لِلَّذِي يُحَدِّثُ فَيَكْذِبُ لِيُضْحِكَ بِهِ الْقَوْمَ، وَيْلٌ لَهُ وَيْلٌ لَهُ) [سنن ابي داود: ٤٩٩٠، جامع الترمذي: ٢٣١٥]

ژباړه: هغه څوک دې تباه شي چې خلکو ته په دې دروغ وايي چې ويې خندوي، دغه سړی دې تباه شي، دغه دې تباه شي.

۷ – : نميمت کول: په حديث کې راځي:( لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ نَمَّامٌ) [صحيح مسلم: ١٠٥]

ژباړه: جنت به چغلخور لاړ نه شي.

۸ – : غيبت کول: په حديث کې راځي چې غيبت دې ته ويل کيږي چې ورور دې په هغو بدو اخلاقو ياد کړې چې په هغه کې وي او خفه کيږي ورباندې (ذِكْرُكَ أَخَاكَ بِمَا يَكْرَهُ) [صحيح مسلم: ٢٥٨٩] غيبت ډېر ډولونه لري لکه:

أ – : څوک داسې وايي: د فلانکي په څېر له بې حيايۍ نه مو دې د الله پورې پناه وي، يا د فلانکي په څېر ګمراهۍ نه دې د الله پورې زمونږ پناه وي، نو هم يې د ځان صفت وکړ او هم يې د بل ورور مذمت وکړ.

ب - : يا څوک ووايي: دا ورکوټی دی غيبت يې جواز لري، يا لنډی دی يا اوږد دی يا چاغ دی، او د ملنډو او تمسخر له کبله يې ووايي.

ج - : د ګناهګار، فاسق، او د مخالف مطلق په غيبت کې تساهل کول، مګر دا چې ګناهګار مجاهر وي بيا يې غيبت روا دی.

د - : د تحقير او انتقاص په خاطر يو چا ته اشاره کول چې يا هندي دی، عجمي دی، نجار دی، باندچي دي او داسې نور...

۹ - : راز افشا کول: هېره دې نه وي چې دا په امانت کې خيانت هم دی.

۱۰ - : په چا پسې ملنډې کول يا يې په ناوړه نومونو يادول.

۱۱ - : ناروا ګانې بجانې اورېدل: چې د انسان شهوت راپورته کوي او يا له چا پسې ملنډې پکې وهل کيږي.

۱۲ - : هغه ډول شعرونه ويل چې شرک پکې وي، يا پکې د نبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په شان کې غلو وي، پا وريکې د اولياؤ کرامو او صالحينو غلو وي، له بعث او نشر نه پکې انکار وي، يا پکې د ښځو ياداشت وي او فحش فجور ته انسان تيل باسي، يا پکې د چا داسې مدح وي چې هغه يې لائق نه وي او يا وريکې د چا سپکې سپورې وي، له ابوهريره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله a فرمايي: (لَأَنْ يَمْتَلِئَ جَوْفُ رَجُلٍ قَيْحًا يَرِيهِ خَيْرٌ مِنْ أَنْ يَمْتَلِئَ شِعْرًا) [صحيح البخاري:۶۱۱۵، صحيح مسلم:۲۲۵۷]

ژباړه: که د چا خيټه له وينو زو ډکه شي او ترې ناجوړه شي له دې نه به ورله ډېره ښه وي چې خيټه يې له شعر نه ډکه وي. خو که څوک شعرونه وايي او له قران او نبوي سنت، له دعوت الی الله نه يې نه وي مشغول کړی،

یا یې شعرونه په ذکر اذکارو کې، په رقائقو او پندونو نصیحت کې وي نو ښه کار دی، ځکه حدیث کې راځي: (إِنَّ مِنَ الشِّعْرِ حِكْمَةً) [ صحيح البخاري:٦١٤٥] .

ژباړه: ځينو شعرونه پند او نصيحت وي.او شعر داسې کلام دی چې ښه يې ښه او بد يې بد دي.

١٣ - : ناروا ټوکې ټکالې کول هم د ژبې ګناه ده چې خلک ترې په تمسخر او تنګستيا، په عداوت او دښمنۍ کې لويږي، دا ډول نور ډېر تاوانونه هم لري.

١٤ - : مسلمان ته کنځل کول یا پرې لعنت ويل هم د ژبې ګناه ده، حديث کې راځي: (سِبَابُ المُسْلِمِ فُسُوقٌ، وَقِتَالُهُ كُفْرٌ) [صحيح البخاري:٤٨، صحيح مسلم:٦٤]

ژباړه: مسلمان ته کنځلې کول فسق او جنګ کول ورسره کفر دی. ابودرداءرَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وايي چې نبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: (إِنَّ الْعَبْدَ إِذَا لَعَنَ شَيْئًا صَعِدَتِ اللَّعْنَةُ إِلَى السَّمَاءِ فَتُغْلَقُ أَبْوَابُ السَّمَاءِ دُونَهَا، ثُمَّ تَهْبِطُ إِلَى الْأَرْضِ فَتُغْلَقُ أَبْوَابُهَا دُونَهَا، ثُمَّ تَأْخُذُ يَمِينًا وَشِمَالًا، فَإِذَا لَمْ تَجِدْ مَسَاغًا رَجَعَتْ إِلَى الَّذِي لُعِنَ، فَإِنْ كَانَ لِذَلِكَ أَهْلًا وَإِلَّا رَجَعَتْ إِلَى قَائِلِهَا) [سنن ابي داود:٤٩٠٥، صحيح الجامع:٨٨٥]

ژباړه: انسان چې کله په کوم شی لعنت ووايي نو لعنت اسمان ته پورته شي، نو اسمان پرې دروازې راپورې کړي او بيرته ځمکې ته راښکته شي نو ځمکه پرې هم دروازې راپورې کړي، ښۍ او ګڅ اړخ ته واوړي راواوړي نو د ننوتو کوم ځای مونده نه کړي نو هغه چا ته ورشي چې لعنت پرې ويل

شوی وي، که ځای پکې وي پرې واقع شي او که ځای پکې نه وي نو په ویونکي باندې واقع شي.

۱۶ - : خپل ځان، یا بچو یا خادمانو او یا خپلې شمتنی ته ښېرې کول هم د ژبې ګناه ده، جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي چې نبي کریم صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ فرمایي: (لَا تَدْعُوا عَلَى أَنْفُسِكُمْ، وَلَا تَدْعُوا عَلَى أَوْلَادِكُمْ، وَلَا تَدْعُوا عَلَى أَمْوَالِكُمْ، لَا تُوَافِقُوا مِنَ اللهِ سَاعَةً يُسْأَلُ فِيهَا عَطَاءٌ، فَيَسْتَجِيبُ لَكُمْ) [صحیح مسلم:۳۰۰۹، صحیح الجامع الصغیر: ۷۱۴٤]

ژباړه: خپلو ځانونو، خپلو بچو، خپلو شتمنیو ته ښېراوې مه کوئ، هسې نه هغه وخت کې ښېراه وکړئ چې الله پاک پکې ورکړه کوي او ښېراه مو قبولې شي. د مسلمانانو ترمنځ مشهورې بدې دعاګانې ډېرې شوي دي لکه: الله دې لعنتي کړه، الله دې غوخ غوخ کړه، زما د زړه او د الله دواړه بدي شې، د مصیبت لائق یې، په بد نظر دې الله ونیسه، او داسې نور...

۱۷ - : یو چا ته جنتي ویل، یا ورته دوزخي ویل، یا: الله یې نه بښي ، دا ټول د ژبې ګناهونه دي.

۱۸ - : د چا په نسب باندې تور لګول یا په نسبونو فخر او افتخار کول.

۱۹ - : ګنده او پلیتې خبرې کول هم د ژبې ګناه ده، حدیث کې راځي: (لَيْسَ المُؤْمِنُ بِالطَّعَّانِ وَلَا اللَّعَّانِ وَلَا الفَاحِشِ وَلَا البَذِيءِ) [ جامع الترمذي:۱۹۷۷، صحیح الجامع:۵۳۸۱]

ژباړه: مومن انسان به تهمت لګونکی، لعنت ویونکی، بدفعله او بد زبانه نه وي.

WWW.LARKHUD.COM

۲۰ – : دا هم د ژبې ګناه ده چې د مشرکینو او کافرانو لپاره ځوک دعاګانې او استغفار غواړي: ځکه الله پاک فرمايي: (مَا كَانَ لِلنَّبِيِّ وَالَّذِينَ آمَنُوا أَنْ يَسْتَغْفِرُوا لِلْمُشْرِكِينَ وَلَوْ كَانُوا أُولِي قُرْبَى مِنْ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمْ أَنَّهُمْ أَصْحَابُ الْجَحِيمِ) [ سورت توبه:۱۱۳]

ژباړه: د پیغمبر او مومنانو لپاره دا نه دي مناسب چې د خپلوان مشرک لپاره دې استغفار وغواړي، وروسته له دې نه چې دا ورته ښه ښکاره شي چې دغه مشرک دوزخي دی.

۲۱ – : مخامخ د چا صفتونه کول هم د ژبې ګناه ده، نبي کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: (إِذَا رَأَيْتُمُ الْمَدَّاحِينَ، فَاحْثُوا فِي وُجُوهِهِمِ التُّرَابَ) [صحيح مسلم:۳۰۰۲]

ژباړه: کله چې مداحين ووينئ نو په مخونو کې ورته خاورې وبادوئ. او فرمايي: (إِيَّاكُمْ وَالتَّمَادُحَ فَإِنَّهُ الذَّبْحُ) [ سنن ابن ماجه: ۳۷۴۳، صحيح الجامع الصغير:۲۶۷۴]

ژباړه: د يوبل له صفتونو ځخه ځانونه وساتئ ځکه دا حلالول دي.

۲۲ – : شیطان، چرګ او حیوان ته کنځلې کول، رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: (لاَ تَسُبُّوْا الشَّيْطَانَ وَتَعَوَّذُوْا بِاللهِ مِنْ شِرِّهِ) [ صحيح الجامع الصغير: ۷۳۱۸]

ژباړه: شیطان ته کنځلې مه کوئ او له شر څخه يې د الله پورې پناه ونيسئ. او نبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: (لَا تُسُبُّوا الرِّيحَ فَإِنَّهَا مِنْ رَوْحِ اللَّهِ تَأْتِي بِالرَّحْمَةِ وَالْعَذَابِ، وَلَكِنْ سَلُوا اللهَ مِنْ خَيْرِهَا وَتَعَوَّذُوا بِاللهِ مِنْ شَرِّهَا) [سنن ابن ماجه:۳۷۲۷، صحيح الجامع:۷۳۱۶]

ژباړه: باد ته کنځلې مه کوئ ځکه دا د الله رحمت دی، او نبي صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: (لَا تَسُبُّوا الدِّيكَ فَإِنَّهُ يُوقِظُ لِلصَّلَاةِ) [ سنن ابي داود:۵۱۰۱، صحيح الجامع الصغير:۷۳۱٤]

ژباړه: چرګ ته کنځل مه کوئ ځکه چې د لمونځ لپاره راوېښول کوي. يوې ښځې پر خپلې اوښې لعنت ووايو نو نبي صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: (خُذُوا مَا عَلَيْهَا وَدَعُوهَا، فَإِنَّهَا مَلْعُونَةٌ) [ صحيح مسلم:۲۵۹۵]

ژباړه: کوم بار چې پر اوښه پروت دی ورڅخه يې کوز کړئ ځکه چې لعنت پرې ويل شوی دی.

پوښتنه دا ده چې له شر څخه ژبه بايد څنګه قابو کړی شي؟

۱ – : د الله پاک عظمت پېژندلو سره، د هغه د نومونو او صفتونو عظمت پېژندلو چې انسان ته د الله د کبرياء ترجماني کوي وربانديې ژبه ډېره ښه قابو کيږي.

۲ – : د جنت نعمتونه او د دوزخ او قبر عذابونه پېژندلو سره ژبه قابو کيږي.

۳ – : مرګ ډېر يادولږ او اوږده اميدونه نه کولو ژبه مهاريږي.

٤ – : هغه ډول کتابونه ډېر لوستل او وعظونه اورېدل چې د ژبې په افتونو غږيدلي وي.

۵ – : ډېر طاعتونه او الله ته د نزدېکت کارونه کول ترڅو حسنات ډېر شي او پر سيئاتو درانه وخيژي.

٦ – : د ژبې بل علاج خاموشي ده، حديث کې راځي: (رَحِمَ اللهُ عَبْداً قَالَ خَيْراً فَغِنَمَ أَوْ سَكَتَ عَنْ سُوْءٍ فَسَلِمَ) [صحيح الجامع الصغير:۳٤۹۰]

ژباړه: پر هغه بنده دې الله رحم وکړی چې یا د خیر خبرې وکړي نو ثواب وګټي او یا خاموش شي نو له ګناه نه بچ شي. او بل حدیث کې راځي: (وَمَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللهِ وَاليَوْمِ الآخِرِ فَلْيَقُلْ خَيْرًا أَوْ لِيَصْمُتْ) [ صحيح البخاري:٦٠١٨، صحيح مسلم:٤٧ ]

ژباړه: او څوک چې په الله او د اخرت په ورځ ایمان لري نو یا دې ګټورې خبرې وکړي او یا دې خاموش شي.

۷ – : د ژبې ښه دارو درمل له نیکانو خلکو سره ناسته ولاړه ده.

۸ – : په استعاذه او د قران کریم په لوستلو او په ځانګړي توګه بیا معوذتین او سورت بقرې په لوستلو سره شیطان له ځانه ترول.

۹ – : د الله په اطاعت ځان مصروفول لکه علم او تعلیم، لمونځ او روژه، ذکر او د قران کریم لوستل.

۱۰ – : د زړه د پاکولو په خاطر تل لپاره له ځان سره محاسبه کول او له ناجوړتیا څخه د زړه دارو درمل کول.

د ژبې قابول کول (مهارول) ډېر ګټې لري لکه:

۱ – : د الله رضا او جنت ګټل.

۲ – : غوره مسلمان هغه څوک دی چې ژبه یې مهار کړي وي، هم به نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته محبوب وي او هم به ورته د قیامت په ورځ د مجلس په اعتبار ډېر نزدې وي.



WWW.LARKHUD.COM

٣ - : څوک چې ژبه مهار کړي نو د الله له عذاب څخه به بچ پاتې شي، حديث کې راځي: (مَنْ صَمَتَ نَجَا) [ جامع الترمذي:٢٥٠١، صحيح الجامع الصغير:٦٣٦٧]

ژباړه: که څوک خاموش شي نو نجات يې هم وموند.

٤ - : د ژبې په مهارلو سره له خلکو سره نېک تعلقات جوړيږي.

٥ - : د ژبې په مهارولو سره انسان ته له دردونو، غمونو او له ستړو ستونزو څخه راحت ميلاويږي.

واخر دعوانا أن الحمدلله رب العلمين

WWW.LARHKUD.COM

# د قربانۍ

او ذي الحجې لســو ورځــو

## متعلق له (۲۱۰) څخه زیاتې پوښتنې او ځوابونه

WWW.LARKHUD.COM

لیکوال: دکتور راشد سعد العلیمي
ژباړن: لقمان حکیم حکمت

﴿ رَبِّ أَوْزِعْنِي أَنْ أَشْكُرَ نِعْمَتَكَ الَّتِي أَنْعَمْتَ عَلَيَّ وَعَلَى وَالِدَيَّ وَأَنْ أَعْمَلَ صَالِحًا تَرْضَاهُ وَأَدْخِلْنِي بِرَحْمَتِكَ فِي عِبَادِكَ الصَّالِحِينَ ﴾ [ سورت نمل: ١٩ ]

ژباړه: ای زما ربه! ما ته هغه طریقه الهام کړه چې ستا د لورینې شکریه پرې ادا کړی شم چې تا کومې لورینې پر ما او زما په مور او پلار کړې دي، او چې داسې عمل وکړم چې ته پرې راضي کیږي، او د خپل رحمت له مخې دې ما په خپلو نیکانو بندګانو کې وګرځوه.



WWW.LARKHUD.COM

## د ژباړن پېلیزه

الحمدلله، والصلاة والسلام على رسول الله، وعلى آله وأصحابه ومن والاه، وبعد:

د قربانۍ متعلق که څه هم دا مختصره رساله ده خو په خپل ذات کې نهایت زیات ډېر ارزښت لرونکي رساله ده، لیکوال ورېکې اسلامي احکام د پوښتنې او ځواب په طرز په نهایت زیات اختصار راغونډ کړي دي، د لوستوال لپاره د تفصیلي احکامو لپاره ډېره ښه راهنمایي کوي.

له بل پلوه بیا د قربانۍ احکام تر ډېره حده پېچلي او د وخت په تقاضا ورېکې نوې نوې پوښتنې منځ ته راځي، نو دا ګڼوره رساله له انسان سره د پیچلي مسائلو په حل او فصل کې په نهایت زیات اسان اسلوب غړېږي او غوټې یې هواروي.

الله دې د ټولو مسلمانانو او د اسلامي احکامو وړو تړو لپاره ګټوره وګرځوي، الله دې دې رسالې ته د خلکو ترمنځ قبول ورکړي، او خالص د هغه د رضا لپاره دې زمونږ دا عمل وګرځوي.

هېره دې نه وي چې د ژباړې پر مهال مې د حدیثونو په کتابونو هغه حواله جات هم ذکر کړي دي چې لیکوال یې یواځې په مصدر بسنه کړې وه او د قراني ایت یا د حدیثونو ترتیبي شمېر یې نه و ذکر کړی.

وصلى الله على نبینا محمد وعلى آله وصحابته والتابعین لهم باحسان الى یوم الدین.

لقمان حکیم حکمت
Hekmat٠٣٤٤@gmail.com

WWW.LARHKUD.COM

## پیلیزه

الحمدلله رب العلمین، والصلاة والسلام علی نبینا الأمین، وعلی آله الطیبین الطاهرین وأصحابه أجمعین، والتابعین لهم باحسان الی یوم الدین، أما بعد:

دا پر انسان د الله لورینه ده چې د خپلې مرضۍ په لاره کې تر هغه د انسان قدمونه ثابتوي تر څو په هر قول او فعل کې دیني پوهه اوبصیرت ورکړي.

د دیني بصیرت دلاس ته راوړلو لویه لاره د دینیاتو لوستل، قرائت او مطالعه ده، ترڅو من حیث یو مسلمان هر فرد **شرعي احکام او مسائل** په واضحه توګه وپېژني څکه د اسلامي احکامو پېژندلو باندې هم د واک او اختیار قوت منځ ته راځي او هم پرې د ابدي سعادت میدان ګټل کیږي.

یو له دغې شرعي احکامو له جملې څه چې اړوند یې پوښتنې او سوالونه زیات تکراریږي **د ذي الحجې د لومړۍ لسو ورځو او د قربانۍ متعلق شرعي احکام** دي چې زه یې ګرانو لوستوالو ته وړاندې کول غواړم.

د یادو مسئلو اړوند تفصیلات د **سوال ځواب** په طرز ترتیب شوي دي څکه چې دا ډول اسلوب د احکامو زده کړه کې مثبت اثر لري، د الله په توفیق سره مې هوډ وکړ چې د یادې مسئلې اړوند ځینې مسائل راغونډ کړم چې د علماؤ له خوا ورته ځوابونه ویل شوي دي، او د توان په اندازه مې د دې دیني شعیرې اړوند هغه زیار وګاله چې ما ته **اسان بریښېده**.

د هر کار خير توفيق الله پاک ورکوي.

WWW.LARHKUD.COM

## ددې وړې رسالې منځ پانګه

دا رساله به له پیلیزي وروسته په دې ترتیب وي:

لومړی څپرکی: هغه احکام چې د ذي الحجې له میاشتې سره تعلق لري.

دوهم څپرکی: هغه احکام چې دغتې اختر لمونځ سره تعلق لري.

دریم څپرکی: د قربانۍ متعلق عام معلومات.

څلورم څپرکی: د قربانۍ متعلق فقهي احکام.

پنځم څپرکی : د قرباني کونکي متعلق شرعي احکام.

شپږم څپرکی : په قربانۍ کې نیت کول.

اووم څپرکی: د قربانۍ وخت.

اتم څپرکی: د قربانۍ ځای.

نهم څپرکی: په قربانۍ کې وکالت .

لسم څپرکی: د حلالکۍ په وخت شرعي احکام.

یولسم څپرکی: قرباني او حج.

دولسم څپرکی: د غوښې تقسیمول.

پایځوړ

## شکر او ثنا..

لومړی د خپلې **قدردانې مور** ډېر زیات شکریه ادا کوم چې په پرله پسې توګه یې زما نیک پرورش کړی دی.
دا راز د هر هغه چا **شکریه** ادا کوم چې د دې رسالې اړوند یې راسره نېکې مشورې شریکې کړې دي او د بیا کتلو زیار یې ګاللی دی، په ځانګړې توګه بیا د محترم دکتور **احمد الجسار** شکریه ادا کوم چې د رسالې په لومړي چاپ کې یې ډېره ستړې وګالـله، الله رب کریم دې ورته جزاء خیر ورکړي .
له الله څخه سوال کوم چې د خلکو ترمنځ دې رسالې ته قبول ورکړي او د مسلمانانو لپاره یې په عامه توګه ګټوره وګرځوي.
که د کتاب اړوند کوم ځای کې **تېروتنې** وي نو له خیرخواه لوستوال څخه مې امید دی چې یې رانه ونه سپموي، دا هم ورباندې زمونږ له ښه ګمان وروسته چې په مسائلو کې راته راجح تر سترګو شوي دي.
هیله لرو چې لوستوال به راته **د خیر دعاګانې** کوي او د مزید ګټور علم سوال به مو په حق کې کوي، د رسالې منځ پانګه د حق او صواب په شکل کې د الله ځانګړی توفیق دی.

واخر دعوانا أن الحمد لله رب العلمين.

وصل اللّٰهُمَّ وبارک علی حبيبنا محمد صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تسليما كثيرا.

لومړی څپرکی

## هغه احکام چې دذي الحجې
## له میاشت سره تعلق لري

١ - : دې میاشت ته ولې ذي الحجه ویل کیږي؟
ځکه چې د حج ټول اعمال په دې میاشت کې ترسره کیږي.
٢ - : د ذي الحجې د میاشت څه غوره والی دی؟
دا میاشت له حرامو میاشتو څخه شمېرل کیږي چې ظلم او زیاتی وریکې ډېر زیات حرام دی.
٣ - : د دې میاشت په حرمت دلیل څه دی؟
له ابوبکر رضي الله عنه نه روایت دي چې د حجة الوداع په خطبه کې نبي کریم صَلّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلّمَ وفرمایل ( إِنّ الزّمَانَ قَدِ اسْتَدَارَ كَهَيْئَتِهِ يَوْمَ خَلَقَ اللهُ السّمَوَاتِ وَالأَرْضَ، السّنَةُ اثْنَا عَشَرَ شَهْرًا، مِنْهَا أَرْبَعَةٌ حُرُمٌ، ثَلَاثٌ مُتَوَالِيَاتٌ: ذُو القَعْدَةِ، وَذُو الحِجّةِ، وَالمُحَرّمُ، وَرَجَبُ، مُضَرَ الّذِي بَيْنَ جُمَادَى، وَشَعْبَانَ ) [ صحیح البخاري: ٤٦٦٢، صحیح مسلم: ١٦٧٩ ]
ژباړه: وخت او زمانه – مصادفةً – خپل هغې اصلي کیفیت ته وګرځېده چې الله پرې ځنګه اسمانونه او ځمکې پیدا کړې وې، کال دولس میاشتې دی او څلور میاشتې ترې حرامې دي، درې پرله پسې دي: ذوالقعده، ذوالحجة، محرم، او بل د مضریانو رجب چې د جمادی ثانیه او شعبان په منځ کې ده.

٤ - : د دې مياشتې د تحريم سبب څه شی دی؟

ځينې علماء وايي سبب يې دا دی چې په دې مياشت کې خلک حج ته ځي او د حج لپاره خلک مکې ته د تللو او راتللو او هلته پاتې کېدو ته اړتيا لري، د ذي الحجې نه مخکې مياشت کې خلک د حج لپاره سفر پيل کوي، په ذي الحجه کې د حج مناسک ادا کوي او په محرم کې بېرته خپل کلي او ټبر ته ستنېږي، په دې مياشتو کې جنګ جګړې ناروا دي، خلک بايد په امن کې وي حتی که څوک په دې مياشتو کې د خپل پلار قاتل هم وګوري بايد له وژلو يې ډډه وکړي.

٥ - : ايا د ذي الحجې د مياشت لومړنۍ لسو ورځو په غوره والي باندې قران غږېدلی دی؟

هو، الله پاک فرمايي: (وَالْفَجْرِ * وَلَيَالٍ عَشْرٍ ) [ سورت فجر: ١ – ٢ ]

ژباړه: په سهار مې دې قسم وي او په لسو شپو مې دې قسم وي.

او د مفسرينو په يو قول کې له ( لَيَالٍ عَشَر ) نه د ذي الحجې لومړنۍ لس ورځې شپې مراد دي.

٦ - : ايا دا ورځې شپې د کال نورو ورځو شپو څخه بهتري لري؟

هو، نبي صلى الله عليه وسلم فرمايي: (إِنّ أَفْضَلَ أَيّامِ الدُنْيَا أَيّامُ الْعَشْرِ "، قَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ ، وَلَا مِثْلُهُنّ فِي سَبِيلِ اللهِ؟ ، قَالَ: " وَلَا مِثْلُهُنّ فِي سَبِيلِ اللهِ ، إِلّا مَنْ عَفّرَ وَجَهَهُ فِي التُرَابِ ) [ الجامع الصحيح للسنن والمسانيد: ٧/ ٢٧٢، صحيح الجامع: ١١٣٣، صحيح الترغيب والترهيب: ١١٥٠]

ژباړه: د دنيا غوره ترينې ورځې لس دي – يعنې دذي الحجې لس ورځې – چا وويل: دالله په لاره کې ورځې يې هم مثال نه دی؟ هغه وويل: هو،

هغه هم په ثواب کې ددې په څېر نه دي مګر هغه سړی چې خپل مخ په خاورو ککړ کړي – يعني شهيد شي – .

۷ – : ايا د دې ورځو نېک عملونه د نور وخت په تناسب اجر کې څه فرق لري؟

هو، نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايي (مَا العَمَلُ فِي أَيّامٍ أَفْضَلَ مِنْهَا فِي هَذِهِ؟ قَالُوا: وَلاَ الجِهَادُ؟ قَالَ: وَلاَ الجِهَادُ، إِلّا رَجُلٌ خَرَجَ يُخَاطِرُ بِنَفْسِهِ وَمَالِهِ، فَلَمْ يَرْجِعْ بِشَيْءٍ ) [ صحيح البخاري: ۹۶۹ ]

ژباړه: په دې ورځو کې د نیک عمل په شان ثواب نورو ورځو کې نشته، صحابه کرامو وويل: جهاد هم ورته ثواب کې نه شي رسېدلی؟ هغه وويل: هو، جهاد هم ورته نه شي رسيدلی مګر هغه څوک چې له دښمن سره په خپل ځان او مال مقابله وکړي او ځان او مال يې بېرته راستانه نه شي.

۸ – : ايا په دې مياشت کې اجر او ثواب په چندونو چندونو وي؟ له تفصيل سره يې بيان کړه.

الله پاک فرمايي (إِنّ عِدّةَ الشُّهُورِ عِنْدَ اللهِ اثْنَا عَشَرَ شَهْرًا فِي كِتَابِ اللهِ يَوْمَ خَلَقَ السّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ مِنْهَا أَرْبَعَةٌ حُرُمٌ ذَلِكَ الدِّينُ الْقَيِّمُ فَلَا تَظْلِمُوا فِيهِنّ أَنْفُسَكُمْ) [ سورت توبه: ۳۶ ]

ژباړه: د الله په نېز د مياشتو شمېر د الله په کتاب کې دولس مياشتې دی، په هغه ورځ چې اسمانونه او ځمکې يې پيدا کړيدي، څلور مياشتې ورڅخه حرامې دي، دا مکمل او سم صحيح دين دی نو په دې مياشتو کې په ځانونو ظلم زياتی مه کوئ.

د تفسیر علماء وایي: په (فَلَا تَظْلِمُوا فِيهِنَّ أَنْفُسَكُمْ ) کې ضمیر اشهر الحرم ته راجع دی، نو چې په دې میاشتو کې له ظلم څخه په ځانګړي توګه منعه وشوه دا په دې دلالت کوي چې په دې میاشتو کې نېکو عملونو باندې اجرونه هم دوه چنده ورکړل کیږي.

او د علماء کرامو په دې اړوند مشهور قول دی چې ( **په هر وخت یا ځای کې چې حسنات دوه چنده کیږي په فضیلت یې دلالت کوي** )

نو امید دی چې په اشهر الحرم کې د اطاعت اجرونه دوه چنده وي لکه څنګه چې په دې میاشتو کې ګناه سخته او لویه ده.

۹ - : په دې وختونو کې به کوم کوم عبادتونه ډېر کولی شي؟

هر هغه قولي او فعلي عبادت چې د الله خوښ وي او په دې ورځو کې يې کول الله ته ډېر محبوب وي.

۱۰ - : د دې ورځو له فضیلت نه ځینې مسلمانان ناخبره وي، سره له دې چې همدوی په رمضان کې عبادت ته ډېر زیات متوجه وي، دوی ته باید کوم ډول نصیحت وکړی شي؟

د ذي الحجې لس ورځې ډېر زیات فضیلت لري، تر دې چې ځینو علماء يې له رمضان څخه هم بهتر بولي، او د نبي کریم صلی الله علیه وسلم په دې قول استدلال کوي (إِنَّ أَفْضَلَ أَيَّامِ الدُّنْيَا أَيَّامُ الْعَشْرِ )

ژباړه: د دنیا غوره ترینه ورځې د ذي الحجې لس ورځې دي.

۱۱ - : ایا د ذي الحجې لومړنۍ لس ورځې او که د رمضان اخرنۍ لس شپې غوره دي؟

د ذي الحجې لومړنۍ لس ورځې په ټولو هغو ورځو غوره والی لري چې لمر پرې راپورته کیږي خو ولې د رمضان اخرنۍ لس شپې بیا د کال په نورو شپو ورځو باندې فضیلت لري.

١٢ - : ایا د ذي الحجې د لسو ورځو روژه نیول جواز لري؟

هو، د اختر له ورځو پرته د نورو ورځو روژه نیول یې جواز لري.

١٣ - : د ذي الحجې د ځینو لومړنۍ لسو ورځو روژې نیول څه حکم لري؟

هیڅ پروا نه کوي، سمه ده.

١٤ - : ایا د ذي الحجې په لسو ورځو کې د نذر یا قضایي روژې راوړلو نیت شریک کېدلی شي؟

هو، د نورو روژو نیت پکې هم انسان شریکولی شي، د یوې روژې لپاره پکې دوه نیتونه صحیح دي، خو هغه یواځې په لومړنیو اتوو ورځو کې او بس.

١٥ - : د ذي الحجې په نهم ( دعرفې په ورځ ) روژې سره د قضایي یا د کفارې روژې نیت شریکول څه حکم لري؟

جائز نه دي، ځکه د نهم ذي الحجې روژې سره د بلې روژې نیت شریکول امکان نه لري.

١٦ - : د عرفې د ورځې روژه نیول څومره غوره ده؟

نبي کریم صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایي (صِيَامُ يَوْمِ عَرَفَةَ، أَحْتَسِبُ عَلَى اللّٰهِ أَنْ يُكَفِّرَ السَّنَةَ الَّتِي قَبْلَهُ، وَالسَّنَةَ الَّتِي بَعْدَه ) [ صحیح مسلم : ١١٦٢ ]



WWW.LARKHUD.COM

ژباړه: له الله څخه مې امېد چې د عرفې د ورځې په روژې سره به د مخکني او راروان کال ګناهونه ورژوي.

۱۷ - : د حاجي صیب نه بغېر د بل چا په حق کې د عرفې ورځې روژه نیول څه حکم لري؟

د عرفې د ورځې روژه نیول مؤکد سنت دي.

۱۸ - : که د عرفې ورځې روژه د جمعې په ورځ راشي نو د روژې نیولو حکم يې څه دی؟

که د جمعې په ورځ عرفه راشي نو روژه نیول يې جایز دي، ځکه روژه داسې عبادت دی چې له سبب سره تعلق لري او له ورځو سره تعلق نه لري.

۱۹ - : ایا حاجي صیب کولی شي چې د حج د سفر نه مخکې د ذي الحجې روژې ونیسي؟

هو، که يې ونیسي هېڅ باک نه کوي.

۲۰- : که حاجي صیب په مکه کې وي ایا روژې نیولی شي؟

له نبي کریم صَلّی اللّهُ عَلَیْهِ وَسَلّمَ څخه هېڅ ثبوت نشته چې د خپل حج په دوران کې يې روژې نیولې وي.

۲۱ - : که حاجي صیب د عرفې په روځ روژه ونیسي نو څه حکم لري؟

دا جائز نه دي، نبي کریم صَلّی اللّهُ عَلَیْهِ وَسَلّمَ د عرفې په ورځ د ماسپښین په مهال ښکاره خوراک وکړ، نو د نبي کریم صَلّی اللّهُ عَلَیْهِ وَسَلّمَ اتباع واجبه ده باید حاجي صیب په دې ورځ روژه ونه نیسي.

۲۲ – : که څوک چرته په چکر تللی وي نو ایا دعرفې ورځې روژه نیولی شي؟

هو، جواز لري چې روژه ونیسي.

WWW.LARHKUD.COM

دوهم څپرکی

## هغه احکام چې د غتې اختر لمونځ سره تعلق لري

۲۳ – : د اختر لمونځ څه حکم لري؟

په نارینه او زنانه باندې یو ځېر د اختر لمونځ واجب دی، ځکه چې نبي کریم صَلّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلّمَ ښځو ته امر وکړ چې د اختر لمونځ ته ولاړې شي. ( متفق علیه)

۲٤ – : د مسافر په حق کې د اختر لمونځ څه حکم لري؟

په مسافر باندې د اختر لمونځ واجب نه دی، خو غوره دا ده چې ورته حاضر شي، ترڅو له خیر او سعادت څخه برخمن شي.

۲۵ – : د اختر لمونځ ته له تللو نه مخکې څه کول مستحب دي؟

اختر لمونځ ته له تللو نه مخکې غسل کول مستحب دي، باید انسان پاکې ښایسته لباس واچوي او عیدګاه ته په لاره کې باید تکبیر ډېر ډېر ووایي ترڅو امام راشي.

۲٦ – : د تکبیر صیغه کومه یوه ده؟

د تکبیر صیغه دا ده (اللّٰهُ أَکْبَرُ اللّٰهُ أَکْبَرُ لَا إِلَهَ إِلّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ أَکْبَرُ اللّٰهُ أَکْبَرُ وَلِلّٰهِ الْحَمْدُ)

۲۷ – : د تکبیراتو ویل څه حکم لري؟

د تکبیراتو ویل مستحب دي.

۲۸ – : تکبیرونه کله شروع کیږي او کله ختمیږي؟

په لوی اختر کې تکبیرونه ځینې مطلق او نور ځینې یې بیا مقید دي، مقید تکبیرونه له هر فرض لمونځ نه وروسته ویل کیږي ان تر ایام التشریق د اخرې ورځې مازدیګر لمونځ پورې.

او مطلق تکبیرونه هغې ته ویل کیږي چې هر وخت ویل کیږي ، له کوم ځای پورې اړه نه لري بلکې چې چرته موقعه وي هلته ویل کیږي، دا ډول تکبیرونه د ذي الحجې له ابتداء نه شروع کیږي تر دایام التشریق اخرې ورځ پورې، الله پاک فرمايي ( لِيَشْهَدُوا مَنَافِعَ لَهُمْ وَيَذْكُرُوا اسْمَ اللَّهِ فِي أَيَّامٍ مَعْلُومَاتٍ عَلَى مَا رَزَقَهُمْ مِنْ بَهِيمَةِ الْأَنْعَامِ ) [ سورت حج: ٢٨ ]

ژباړه: ترڅو دوی هغه ګټې وګوري چې د دوی لپاره شته دي، او معلومو ټاکلیو ورځو کې پر هغو څارویو د الله نوم واخلي چې هغه ورته رزق روزي کړي دي.

٢٩ – : ایا لوی اختر لمونځ ته له وتلو وړاندې خوراک کول جائز دي؟

د لوی اختر لمونځ ته له تللو وړاندې هیڅ شی خوړل جائز نه دي، بلکې د کوچني اختر لمونځ نه مخکې خوراک کول جواز لري.

٣٠ – : د اختر لمونځ باید چرته ادا کړی شي؟

د اختر لمونځ په عیدګاه کې ادا کول جائز دي.

ابو سعید خدري رضي الله عنه نه روایت دی هغه فرمايي (كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَخْرُجُ يَوْمَ الفِطْرِ وَالأَضْحَى إِلَى المُصَلَّى) [ صحیح البخاري: ٩٥٦ ]

ژباړه: رسول الله صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به د ورکوتي او غټ اختر په ورځ عیدګا ته وتو.

٣١ - : ایا د اختر لمونځ نه مخکې اذان یا اقامت کول په ضروري دي؟

نه، له جابر بن سمره رضي الله عنه نه روایت دی چې ما له رسول الله صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره یو یا دوه ځل نه بلکې د اختر ډیر لمونځونه کړي دي چې اذان او اقامت به پکې نه و. [ صحیح مسلم: ٨٨٧ ]

٣٢ - : د اختر لمونځ نه مخکې یا ورسته نفل کول څه حکم لري؟

جائز نه دي، له ابن عباس رضي الله عنهما نه روایت دي (أَنَّ النَّبِيّ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلّى يَوْمَ العِيدِ رَكْعَتَيْنِ، لَمْ يُصَلِّ قَبْلَهَا وَلاَ بَعْدَهَا ) [ صحیح البخاري: ٥٨٨٣، صحیح مسلم: ٨٨٤ ]

ژباړه: نبي کریم صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د اختر په ورځ دوه رکعته لمونځ وکړ، مخکې او وروسته یې ترې هیڅ لمونځ ونه کړ.

٣٣ - : د اختر لمونځ نه مخکې دوه رکعته تحیة المسجد کول څه حکم لري؟

که د اختر لمونځ په عیدګا کې وي نو بیا تحیة المسجد نه دي کول په کار، خو که اختر لمونځ په مسجد کې وي نو د تحیة المسجد دوه رکعته کول واجب دي.

٣٤ - : ایا د لوی اختر لمونځ د کوچني اختر له لمونځ سره کوم توپیر لري ؟

نا، د لمونځ به ادا کې یې هیڅ فرق نشته.

٣٥ - : د اختر د لمونځ کیفیت څه ډول دی؟



WWW.LARHKUD.COM

عبدالله بن عباس رضي الله عنهما په لومړي رکعت کې د تکبيرة الاحرام سره اووه تکبيرونه وکړل، او په دوهم رکعت کې يې د انتقال له تکبير پرته پنځه تکبيرونه وکړل. [ مصنف ابن ابي شيبه: ٥٧٠٤ ]

٣٦ – : د لوی اختر په خطبه کې څه کول په کار دی؟

په کار دی چې دلوی اختر خطبه لنډه وشي

٣٧ – : د لوی اختر خطبه ولې لنډه کول په کار دي؟

په دې خاطر چې خلک قربانۍ کولو ته تونديي وکړي.

٣٨ – : ايا د اختر په ورځ روژه نيول جائز دي؟

نا، د اختر په ورځ روژه نيول جائز نه دي، بلکې نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د اختر د ورځې له روژې نه منع فرمايلې ده.

٣٩ – : ايا دا حديث صحيح دی (مَنْ وَجَدَ سَعَةً فَلَمْ يُضَحِّ، فَلَا يَقْرَبَنَّ مُصَلَّانَا ) ؟

ژباړه: د چا چې د قربانۍ توان وي او قرباني ونه کړي نو زمونږ عيدګا ته دې نه رانزدې کيږي.

دا حديث صحيح نه دی، محدثينو علماؤ يې په ضعف فيصله کړې ده، لکه بيهقي، ذهبي او داسې نورو... خو ښه او سمه خبره دا ده چې دا حديث په ابوهريره رضي الله عنه باندې موقوف صحيح دی، دا خبره امام ترمذي او ابن عبدالبر هم کړې ده، والله اعلم.

دریم څپرکی

د قربانۍ متعلق عام معلومات

٤٠ - : په اسلامي شریعت کې له قربانۍ نه څه شی مراد دي؟

قرباني د هغه حیوان نوم دی چې په خاص وقت کې په خاصو شرائطو سره الله پاک ته د تقرب له وجې ذبحه کیږي.

٤١ - : ایا د دغه حیوان لپاره په شریعت کې له (أضحي) پرته نور اطلاقات شته دی؟

هو، أُضحية، ضَحية، اِضحية او أَضحاه هم ورته ویل کیږي.

٤٢ - : ایا د قربانۍ دغه حیوان ته ( نُسُک ) ویل سم دي؟

هو، الله فرمايي (قُلْ إِنَّ صَلَاتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ ) [ سورت أنعام: ١٦٢ ]

ژباړه: ورته ووایه چې زما لمونځ، زما قرباني، زما ژوند او مرګ خاص د الله لپاره دي.

٤٤ - : په مسلمانانو باندې قرباني کله فرض شوې ده؟

قرباني کول په مسلمانانو باندې د هجرت په دوهم کال فرض شوې ده.

٤٥ - : د دې عبادت په فرضیت کې څه حکمت او ګټه ده؟

دا قرباني کول د الله په نعمت چې ژوند دی یو ډول شکرانه ده، په دې عبادت سره د ابراهیم علیه السلام سنت راژوندي دي چې الله ورته امر وکړ چې خپل ځوی اسمعیل علیه السلام د اختر په ورځ قربانۍ ته ورکړي، بله ګټه يې دا ده چې د قربانۍ په غوښو سره به انسان په خپلو

بچو او اهل باندې خوراک کې پراښې راولي او په نادارہ خلکو به خیراتونه هم وکړي.

٤٦ – : ايا په اضحيه کې کوم خصوصي فضيلت راغلى دى؟

هو، له عايشې رضي الله عنها نه روايت دى چې رسول الله صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ فرمايي (مَا عَمِلَ ابْنُ آدَمَ يَوْمَ النَّحْرِ عَمَلًا أَحَبَّ إِلَى اللّهِ عَزَّ وَجَلَّ، مِنْ هِرَاقَةِ دَمٍ، وَإِنَّهُ لَيَأْتِي يَوْمَ الْقِيَامَةِ، بِقُرُونِهَا، وَأَظْلَافِهَا، وَأَشْعَارِهَا، وَإِنَّ الدَّمَ، لَيَقَعُ مِنَ اللّهِ عَزَّ وَجَلَّ، بِمَكَانٍ قَبْلَ أَنْ يَقَعَ عَلَى الْأَرْضِ، فَطِيبُوا بِهَا نَفْسًا ) [ سنن ابن ماجه: ٣١٢٦ ]

ژباړه: د اختر په ورځ الله ته د بني ادمو په اعمالو کې له ويني تويولو نه بل غوره عمل نشته، د قيامت په ورځ به د قربانۍ ښکرې وېښتان او بوټان هم – د ثواب لپاره – راوړل شي، د قرباني وينه په ځمکه نه وي پرېوتې چې الله قبوله کړې وي، نو په قربانۍ کې مو نيتونه پاک کړئ.

٤٧ – : ايا داسې حديثونه د قربانۍ متعلق شته چې صحيح نه وي؟

هو، دا حديث هم ضعيف دى چې نبى صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ فاطمې رضي الله عنها ته وفرمايل (قُومِي إِلَى أُضْحِيَّتِكِ فَاشْهَدِيهَا ؛ فَإِنَّهُ بِأَوَّلِ قَطْرَةٍ مِنْ دَمِهَا يُغْفَرُ لَكِ مَا سَلَفَ مِنْ ذُنُوبِكِ )

خپلې قربانۍ ته دې پورته شه او ګواه يې کړه، ځکه د دې د وينې په هر څاڅکي به تا ته ستا مخکني ټول ګناهونه وبښل شي.

الباني ورته په سلسلة الأحاديث الضعيفة والموضوعة (٥٢٨) شمېر او په ضعيف الترغيب والترهيب (٦٧٤) کې منکر ويلي دي.

يو بل حديث هم شته چې زيد بن ارقم رضي الله عنه فرمايي (قُلْتُ: أَوْ قَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ مَا هَذِهِ الْأَضَاحِيُّ؟ قَالَ: " سُنَّةُ أَبِيكُمْ إِبْرَاهِيمَ ". قَالُوا: مَا لَنَا مِنْهَا؟ قَالَ: " بِكُلِّ شَعْرَةٍ حَسَنَةٌ ". قَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ فَالصُّوفُ؟ قَالَ: " بِكُلِّ شَعْرَةٍ مِنَ الصُّوفِ حَسَنَةٌ ) [ سنن ابن ماجه: ٣١٢٧ ]

ژباړه: ما يا صحابه كرامو وويل: د الله رسوله! دا قربانيانې څه شی دي؟ هغه وويل: دا ستاسو د پلار ابراهيم عليه السلام سنت دي، بيا يې وورته وويل: په دې قربانيو کې زمونږ څه ګټه ده؟ هغه وويل: په هر وېښته به درته يوه نيکي درکړل شي، هغوی بيا وويل: او په وړی باندې؟ هغه وويل: او په هره وړی به درته يونه يوه نيکي درکړل شي.

الباني دې حديث ته په سلسلة الأحاديث الضعيفة و الموضوعة کې په (٥٢٧) شمېر باندې موضوع ويلي دي.

٤٨ - :د اضحيې ( قربانی کولو ) څه حکم دی؟

ډېر صحابه کرام او جمهور فقهاء چې شوافع او حنابله هم وريکې دي او د مالکيانو په نيز راجح هم دی چې قرباني کول سنت مؤکد دي او چې څوک يې توان لري نو په هغه باندې فرض عين ده.

٤١ - : د قربانی په استحباب څه دليل دی؟

په استحباب يې دليل دا دی چې نبي کريم صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي (إِذَا دَخَلَتِ الْعَشْرُ، وَأَرَادَ أَحَدُكُمْ أَنْ يُضَحِّيَ، فَلَا يَمَسّ مِنْ شَعَرِهِ وَبَشَرِهِ شَيْئًا ) [ صحيح مسلم: ١٩٧٧ ]

WWW.LARKHUD.COM

ژباړه: کله چې د ذي الحجې لس ورځې داخلې شي او په تاسو کې څوک د قربانۍ اراده لري نو له خپلو ویښتانو او څرمن ( بدن ) نه دې هیڅ نه اخلي.

٥٠ - : قرباني کول کله واجب ګرځي؟

قرباني هله واجب ګرځي چې څوک یې نذر وکړي.

٥١ - : ایا په ځینو وختونو کې د قربانۍ پرېښودل جواز لري؟

هو، علماء دین او اهل الفضل کولی شي چې کله ناکله قربانۍ کول پرېږدي ترڅو عام مسلمانان وپوهیږي چې قرباني په دې باندې واجب نه ده، ابومسعود انصاري رضي الله عنه وايي: زه ښه مالداره یم خو قرباني کله ناکله په خاطر پرېږدم ترڅو هغوی وپوهوم چې قرباني راباندې فرض نه ده. ( اثر سعید بن منصور روایت کړی دی او الباني ورته صحیح ویلي دي )

٥٢ - : ایا د مسافر او حاجي صیب په حق کې قرباني کول جائز دي؟

هو، قرباني کول د ټولو لپاره جائز دي، د مقیم لپاره، د مسافر لپاره، د حاجي او د هر چا لپاره ، مطلب دا چې قرباني کول داسې عمل دی چې مشروعیت یې عموم لري.

٥٣ – : ایا داسې ویل جائز دي چې حاجي صیب باندې قرباني نشته بلکې د حج تمتع یا قران په حالت کې پرې هدي ( کعبې ته ډالۍ ) وړاندې کول فرض دي؟

هو، دا خبره صحیح ده، دا هم د ځینو علماؤ مسلک دی چې له جملې څه یې یو امام ابن القیم رحمه الله دی.

٥٤ – : که څوک قرباني واخلي او له حلالکې نه مخکې مړه شي یا ضایع شي نو څه کول ورله په کار دي؟

په دې سرې باندې هیڅ هم نشته، تمیم مصري وایي: ما په منی کې ګډه واخسته نو رانه ورکه شوه، له ابن عباس رضي الله عنه نه مې پوښتنه وکړه هغه وویل: د ګډې ورکېدل درته هیڅ تاوان نه شي در رسولی. ( بیهقي دا اثر روایت کړی دی )

٥٥ – : که څوک چا ته حیوان تحفه کړي نو ایا قرباني کول پرې روا دي؟

هو، بالکل پرې قرباني کولی شي، ځکه قربانۍ کې دا شرط نه دي چې هرومرو دې په پیسو واخستل شي.

٥٦ – : په یو حیوان کې د قربانۍ او عقیقې نیتونه جمع کول څه حکم لري؟

جائز نه دي، ځکه نیت د یو مقصد لپاره وي او بس.

٥٧ – : د قربانۍ کولو لپاره قرض کول څه حکم لري؟

مناسب نه دي، ځکه قرباني کول د توان پورې تعلق لري، قرباني هله کېدلی شي چې څوک یې مالي توان ولري.

٥٨ – : په حرام مال لکه رشوت یا سود باندې د قربانۍ آخستلو حکم څه دی؟

جائز نه دي، ځکه الله تعالی پاک دی او پاک مالونه قبلوي.

٥٩ – : هغه کوم حیوانات دي چې قرباني کول پرې روا دي؟

قرباني کول په اوښانو، غواګانو او ګډو بزو باندې روا دي.

٦٠ – : د دې حیواناتو په تخصیص باندې دلیل څه دی؟

دليل پرې دالله پاک دا قول دی (وَلِكُلِّ أُمَّةٍ جَعَلْنَا مَنْسَكًا لِيَذْكُرُوا اسْمَ اللَّهِ عَلَى مَا رَزَقَهُمْ مِنْ بَهِيمَةِ الْأَنْعَامِ ) [ سورت حج: ٣٤ ]
ژباړه: د هر امت لپاره مونږ د قربانۍ یوه کړنلاره ګرځولې ده ترڅو دوی په هغو څارویو د الله نوم واخلي چې دوی ته یې رزق او رزوي کړي دي.
او په ایت کې بهيمة الأنعام اوښانو، غواګانو او ګډو بزو ته ویل کیږي.

٦١ - : د قربانۍ لپاره حیوان باید څوک کلن وي؟

ګډین مال باید شپږ میاشتنی وي، بزین مال باید یو کلن او غوښین مال باید دوه کلن وي او اوښین مال ضرور ده چې پنځه کاله یې پوره شوي وي.

٦٢ - : په اضحیه ( قربانۍ ) کې باید انسان څه شي ته ډېر متوجه وي؟

سمه ده چې قضیه له غوښې څخه هم ډېره مهمه ده، الله پاک فرمایي (لَنْ يَنَالَ اللَّهَ لُحُومُهَا وَلَا دِمَاؤُهَا وَلَكِنْ يَنَالُهُ التَّقْوَى مِنْكُمْ ) [ سورت حج: ٣٧ ]
ژباړه: الله پاک ته هیڅکله د دې حیواناتو غوښې او وینې نه رسیږي، بلکې هغه ته یې ستاسو تقوا رسیږي.

٦٣ - : د ذبحې په دې عبادت کې د تقوا پته څنګه لګیږي؟

د تقوا معلومات وړیکې د ښه حیوان په پېرلو او اخستلو کې لګیږي، د وخت هم وړیکې ډېر خیال ساتي او د حیوان عمر ته په کې ځانګړې پاملرنه هم کېدلی شي، او اضحیه هم باید خالص د الله د رضا په خاطر وي.

٦٤ - : په ډنګرو کې د قربانۍ لپاره غوره حیوان کوم یو دی؟

ډېر غوره ورپکې ګڼېن مال دی، ځکه نبي کريم صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په ګڼېن مال باندې قرباني کړې ده.

٦٤٥ - : ايا له اختر څخه کافي وخت مخکې د قربانۍ اخستل روا دي؟

هو، ترڅو قرباني ښه چاغه شي او غوښه يې ډېره شي، له ابو امامه بن سهل نه روايت دی چې (كُنَّا نُسَمِّنُ الأُضْحِيَّةَ بِالْمَدِينَةِ، وَكَانَ المُسْلِمُونَ يُسَمِّنُونَ ) [ صحيح البخاري تعليقا روايت کړی دی ]

ژباړه: مونږ به په مدينه کې قربانيانې چاغولې، او عامو مسلمانانو به هم خپلې قربانۍ چاغولې.

٦٦ - : په قربانۍ کې څومره شمېر حيوانات کافي کېدلی شي؟

له يو کور څخه يو حيوان کافي کيږي.

٦٧ - : ايا په بزې ( ښځه حيوان ) باندې قرباني سمه ده؟

هو، دا جائز دي.

٦٨ - : ايا يو اوښ له يو شخص نه زياتو لپاره کافي کېدلی شي؟

هو، اوښ له اوو کسانو څخه کافي کيږي، که دغه اووه کسان له يوې کورنۍ څخه وي او که له بېلابېلو کورنيو څخه، که خپلوان وي او که نه .

٦٩ - : ايا مخکنی حکم غواګانو ته شمول لري؟

هو، د اوښ په څېر په يوه غوا او غويا کې اووه نفره شراکت کولی شي.

٧٠ - : څوک چې په غوا غويا يا اوښ کې شريک شي نو ايا اتفاق د نيت په کې شرط دی؟

نا، د نیت اتفاق بیخي شرط نه دی، که نیتونه سره په کې مختلف وي هېڅ باک نه کوي چې الله ته د نزدېکت لپاره وي، تر دې چې د شوافعو او حنابله و په نېز که څوک د غوښو په نیت قرباني وکړي هم جواز لري.

٧١ - : که دوه کسان په یو ګډه کې شریک شي نو څه حکم لري؟

که دوه کسان په یو ګډه کې شریک شي نو له دواړو څخه بسنه نه کوي، بلکې ګډه د یو نفر لپاره دی.

٧٢ - : ایا د قربانۍ په ثواب کې ګڼ شمېر خلک شریکېدلی شي؟

هو، خبره بیخي پراخه ده، څوک چې قرباني کوي کولی شي چې د خپلې مرضۍ له مخې مسلمانان په ثواب کې شریک کړي، ژوندي وي او که مړه.

٧٣ - : که پلار او ځوی مستقل کورونه ولري نو ایا یو ګډه له دواړو څخه کافي کیږي؟

نا، دا ورڅخه نه کافي کیږي، ضرور ده چې هر مستقل کور مستقله قرباني ولري.

٧٤ - : که څوک له خپلې ښځې په ملتیا له خپل پلار سره په یو کور کې شریک اوسیږي نو ایا یوه قرباني ورڅخه کفایت کوي؟

هو، یوه قرباني ورڅخه کفایت کوي.

٧٥ - : په شریعت کې یو کور څه ته ویل کیږي؟

یو کور په شریعت کې دې ته ویل کیږي چې د ټولو خرچه او اخراجات یو وي، که د کورني غړو شمېر ډېر وي او که کم هېڅ باک نه کوي، خو

که د هر چا اخراجات او خرچه مستقله وه او د مستقل ژوند مالکان ول، بیا نو ورځخه یوه قرباني کول سمه نه ده.

٧٦ - : په مارغانو، چرګانو، بطو او شتر مرغ باندې قرباني کول څه حکم لري.

په مارغانو باندې قرباني کول صحیح نه دي.

٧٧ - : د اوښ په څېر غرڅه په مرۍ کې وهل څه حکم لري؟

دا اضحیه نه شي شمېرل کېدلی .

٧٨ - : په مارغانو باندې ولې قرباني کول صحیح نه دي؟

ځکه چې د قربانۍ لپاره الله پاک ډنګر متعین کړي دي، الله پاک فرمايي (وَلِكُلِّ أُمَّةٍ جَعَلْنَا مَنْسَكًا لِيَذْكُرُوا اسْمَ اللهِ عَلَى مَا رَزَقَهُمْ مِنْ بَهِيمَةِ الْأَنْعَامِ ) [ سورت حج: ٣٤ ]

ژباړه: د هر امت لپاره مونږ د قربانۍ یوه کړنلاره ګرځولې ده ترڅو دوی په هغو څارویو د الله نوم واخلي چې دوی ته یې رزق او رزوي کړي دي.

او په ایت کې بهیمة الأنعام اوښانو، غواګانو او ګډو بزو ته ویل کیږي.

٧٩ - : په استرېلوي ګډ باندې قرباني کول څه حکم لري؟

هیڅ باک نه کوي، ځکه چې په دې کې د قربانۍ شروط ټول پوره دي.

٨٠- : ایا د استرېلوي ګډ لکۍ غوڅول د قربانۍ له موانعو عیوبو څخه شمېرل سم دي.

نا، هیڅ باک نه کوي که لکۍ یې غوڅه وي، ځکه دا معلومه خبره او عادت دی.

۸۱ – : ځینې خلک له دې کبله قرباني نه کوي چې نرخونه ډېر پورته دي، د دې ډول خلکو څه حکم دی؟

دا ښه خبره او ښه کار نه دی، چې په سفرونو او سیاحت کې لا تعداد مالونه نفقه کوي، یا د ژوند اړوند تکمیلي اړتیاوې پلوري لکه د اختر لپاره جامې او کالي کول نو دلته ولې د نرخونو خبره نه کوي؟ سره له دې چې په دې خرچو باندې د قربانۍ لپاره حیوان پېرلی شي.

۸۲ – : د هغو خلکو څه حکم دی چې قرباني په دې خبره ښه نه ګڼي چې زه نه غواړم چې بچیان مې په کور کې وینې ووینې! داسې چا ته باید څنګه نصیحت وکړی شي؟

شاید دا ډول سلوک ځینو خلکو له هغو تې وي چینلونو څخه په تاثر اخستی وي چې زمونږ له دین اسلام سره دښمني لریو دهغوی یوه پروپېګنډه دا هم ده چې په اخترونو کې ولې حیوانات ذبحه کولی شي؟ دوی ته باید وویل شي چې که زمونږ ماشومان په خپلو کورونو کې وینې ونه ویني نو د نبي کریم صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د قربانۍ طریقه کار به دوی څنګه زده کړی شي؟ او څنګه به دغه سنت ژوندي وساتلی شي؟

۸۳ – : که څوک قرباني واخلي او له حلالکۍ وړاندې لنګه شي، نو له بچي سره به ورله څه کوي؟

انسان کولی شي چې بچي ورله له مور سره حلال کړي، او په غوښو یې صدقه او خیرات وکړي، او دا هم کولی شي چې ژوندی یې چا ته په خیرات کې ورکړي.

۸٤ – : هغه کوم شرطونه دي چې هرومرو باید په قربانۍ کې وي؟

أ - : حیوان باید له بهیمة الأنعام څخه وي.

ب - : له هغو خوګانو څخه باید پاک وي چې د قربانۍ مخه نیسي، نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي (أَرْبَعَةٌ لَا يُجْزِينَ فِي الْأَضَاحِيِّ: الْعَوْرَاءُ الْبَيِّنُ عَوَرُهَا، وَالْمَرِيضَةُ الْبَيِّنُ مَرَضُهَا، وَالْعَرْجَاءُ الْبَيِّنُ ظَلْعُهَا، وَالْكَسِيرَةُ الَّتِي لَا تُنْقِي ) [ سنن النسائي: ٤٣٧٠]

ژباړه: په څلور ډوله حیواناتو قرباني نه کیږي، هغه شیړا حیوان چې شیړاتوب یې ښکاره وي، هغه بیمار حیوان چې بیماري یې ښکاره وي، هغه ګوډ حیوان چې پوښتۍ یې بیخي ښکاره کیږي، او هغه خوار حیوان چې په هډوکي کې مازغه نه لري.

ج - : حیوان باید هغه مهال ذبحه شي چې اسلامي شریعت یې وخت ټاکلی وي.

د - : د حیوان د عمر خیال ساتل چې اسلامي شریعت یې تحدید کړی دی.

٨٥ - : ایا له دې پرته نور داسې عیوب شته چې په قربانۍ کې ورڅخه خلک خبردار کړو؟

هو، نور داسې خوګانې هم شته چې د قربانۍ په حیوان کې شته شي قرباني پرې نه کیږي، الله پاک په خپل دې قول کې ذکر کړي دي (حُرِّمَتْ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةُ وَالدَّمُ وَلَحْمُ الْخِنْزِيرِ وَمَا أُهِلَّ لِغَيْرِ اللَّهِ بِهِ وَالْمُنْخَنِقَةُ وَالْمَوْقُوذَةُ وَالْمُتَرَدِّيَةُ وَالنَّطِيحَةُ وَمَا أَكَلَ السَّبُعُ إِلَّا مَا ذَكَّيْتُمْ وَمَا ذُبِحَ عَلَى النُّصُبِ وَأَنْ تَسْتَقْسِمُوا بِالْأَزْلَامِ ذَلِكُمْ فِسْقٌ ) [ سورت مائده : ٣ ]

ژباړه: په تاسو باندې مرداره، وينه، او د خنزير غوښه حرامه کړی شوې ده، او هغه هم درباندې حرام دي چې د الله نه بغېر د بل چا نوم پرې ياد شوی وي، او هغه حيوان چې په ستونې خپه کېدو، په زخمي کېدو يا له لوړې ځخه په راغورځېدو مړ شوی وي، يا هغه چې ځناورو څېرلی وي پرته له هغه حيوان چې ژوندی مو موندلی وي او حلال يې کړئ، او هغه ځاروی چې د کوم چا په دربار کې حلال کړی شوي وي، همدارنګه دا هم ستاسو لپاره ناروا ده چې په غشو سره مو خپل اقبال وګورئ.

۸٦ – : په تېر ايت کې له ( وَمَا أُهِلَّ لِغَيْرِ اللّٰهِ بِهِ ) نه څه مراد دي؟

له دې ځخه ټول هغه څه مراد دي چې د الله نه بغېر پرې د بل چا نوم ياد شوی وي، لکه کافرانو چې به د لات، منات او عزی يا د نورو باطلو معبودانو په نوم منښتې کولې، يا نصرانيان او يهودان چې يې د خپلو ديني مناسبتونو متعلق کوي، خو عموما ورځخه ټول هغه څه مراد دي چې د الله نه بغېر پرې د بل چا نوم ياد شوی وي، يا هغه خوردې چې د مړو په نوم قبرونو ته نزدې خوړل کيږي.

۸۷ – : له ( وَالمَوْقُوْذَةُ وَالمُتَرَدِّيَةُ وَالنَّطِيْحَةُ ) نه کوم کوم حيوانات مراد دي؟

موقوذة : هغه حيوان ته ويل کيږي چې په يو څه شي ووهل شي او له ذبحې نه بغېر مړ شي.

متردية : هغه حيوان ته ويل کيږي چې له بره ځخه په ښکته راپريوځي او مړ شي.

نطيحه : هغه حيوان ته ويل كيږي چې بل حيوان يې په ښكر ووهي او له ذبحې بغير ومري.

WWW.LARHKUD.COM

پنځم څپرکی

## د قرباني کونکي متعلق شرعي احکام

۸۸ – : ایا د قرباني کونکو لپاره په اسلام کې شروط شته؟

هو، څوک چې قرباني کوي باید مسلمان او عاقل وي.

۸۹ – : ایا تمیز هم ورله شرط دی؟

هو، باید ممیز هم وي، ځکه قرباني کول عبادت دی له نیت څخه بغیر نه کیږي، او کوم صغیر چې ممیز نه وي نیت هم نه لري.

۹۰ – : څوک چې قرباني کوي باید له څه شي ډډه وکړي؟

ضرور ده چې څوک قرباني کوي باید له وېښتانو، نوکانو او له بدن څخه هیڅ کم نه کړي.

۹۱ – : په مخکنیو خبرو باندې دلیل څه دی؟

دلیل پرې د نبي کریم صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه چا ته امر دی چې قرباني کوي (إِذَا رَأَيْتُمْ هِلَالَ ذِي الْحِجَّةِ، وَأَرَادَ أَحَدُكُمْ أَنْ يُضَحِّيَ، فَلْيُمْسِكْ عَنْ شَعْرِهِ وَأَظْفَارِهِ ) [ صحیح مسلم: ۱۹۷۷ ]

ژباړه: تاسو چې کله هم د ذي الحجې میاشت ووینئ او تاسو کې څوک د قربانۍ اراده لري نو د خپلو وېښتانو او نوکانو غوڅولو نه دې رامنعه شي.

په بل حدیث کې راځي (مَنْ كَانَ لَهُ ذِبْحٌ يَذْبَحُهُ فَإِذَا أُهِلَّ هِلَالُ ذِي الْحِجَّةِ، فَلَا يَأْخُذَنَّ مِنْ شَعْرِهِ، وَلَا مِنْ أَظْفَارِهِ شَيْئًا حَتَّى يُضَحِّيَ ) [ صحیح مسلم: ۱۹۷۷، سنن النسائي: ٤٣٦١ ]

ژباړه: که د حلالکۍ لپاره له چا سره قرباني وي چې حلالوي به يې نو چې د ذي الحجې مياشت راپورته شي نو له خپلو وېښتانو او نوکانو نه دې تر هغه څه نه غوڅوي تر څو يې قربانوي نه وي کړي.

او نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي (إِذَا دَخَلَتِ الْعَشْرُ، وَأَرَادَ أَحَدُكُمْ أَنْ يُضَحِّيَ، فَلَا يَمَسّ مِنْ شَعَرِهِ وَبَشَرِهِ شَيْئًا ) [ صحيح مسلم: ۱۹۷۷ ]

ژباړه: کله چې د ذي الحجې لس ورځې داخلې شي او تاسو کې څوک غواړي چې قرباني وکړي نو له خپلو وېښتانو او پوستکې څخه دې هېڅ نه کموي.

۹۲ - : په تېر حديث کې د ( وَلَا يَأْخُذُ مِنْ بَشَرِهِ ) الفاظ راغلي دي، له دې څخه څه مراد دي؟

له دې څخه هغه پوستکی مراد دی چې بې حسه شوی وي، مثلا هغه پوستکی ( ګيرۍ ) چې په خپو کې کله ناکله منځ ته راشي.

۹۳ - : ايا دا تحريمي منع ده؟

که ووايو چې دا تحريمي منعه ده نو ښه خبره به وي، ځکه په اولني روايت کې پرې امر شوی دی او امر تر هغه د وجوب لپاره وي ترڅو داسې قرينه شته نه شي چې امر يې اباحت ته واړوي، او په دوهم روايت کې نهي راغلې ده او نهي تر هغه د تحريم لپاره وي ترڅو داسې قرينه شته نه شي چې نهي يې کراهت ته واړوي.

۹٤ - : ايا صحابه کرامو دا امرونه عملي کړي دي؟

هو، له کثیر بن ابي کثیر روایت دی چې یحیی بن یعمر به په خراسان کې د دې فتوا ورکوله چې که څوک څاروی واخلي او د قربانۍ نوم پرې کیږدي او د ذی الحجې لس ورځې پرې راشي نو خپل وېښتان او نوکان دې تر هغه نه کموي ترڅو يې قرباني نه وي کړي، قتاده وايي ما دا خبره سعید بن المسیب ته وکړه هغه وویل: هو، همداسې ده، ما ورته وویل: دا له چا څخه روایت دي؟ هغه وویل: د نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ له ملګرو څخه روایت دي او طحاوي په مشکل الاثار کې ذکر کړي دي.

۹۵ - : ایا د دې اوامرو اړوند له فقهاؤ څخه منقول اقوال شته ؟

هو، ابو حنیفه او مالک بن انس رحمهما الله وايي چې کله د ذي الحجې لس ورځې راشي او څوک د قربانۍ اراده لري خو بیا هم خپل نوکان یا وېښتان کم کړي نو دا حرام او مکروه نه بلکې مباح عمل دی.

امام شافعي او له مالک څخه په یو روایت کې دا نقل دي چې که څه هم حرام نه دي خو مکروه دي.

امام احمد او اسحاق بن راهویه وايي چې که څوک د قربانۍ نیت لري او نوکان یا وېښتان کم کړي نو داسې حرام کار يې وکړ چې ګناه لري.

خو ښه خبره چې هیڅ شک او شبهه نه لري دا ده چې باید احتیاط وکړی شي او نوکان او وېښتان کم نه کړی شي، ترڅو په حدیث عمل هم راشي او د امامانو له اختلاف څخه بیخي خبره ووځي.

۹۶ - : که څوک دغه منهیات وکړي ( وېښتان او نوکان غوڅ کړي ) باید څه وکړي؟

ابن قدامه رحمه الله وايي: که څوک دغه منهيات عملي کړي بايد له الله څخه ببښنه وغواړي خو د اجماع له مخې پرې هېڅ فديه نشته، که دغه منهيات يې عمداً او که د سهوې په صورت کې کړي وي فديه نه لري.

٩٨ - : په دې منهياتو کې حکمت او راز څه شی دی؟

حکمت او ګټه يې دا ده چې مقيم او د حج لپاره مسافر وريکې په ځينو امورو کې ديني شعائر په يو ډېر ادا کوي، لکه حاجي صيب چې د حج په دوران کې د ډول ډال ځينې شيان پرېږدي نو هغه مقيم چې د قربانۍ اراده لري ورسره د احرام په ځينو محظوراتو کې مشابهت کوي.

**٩٨ - : د دې مطلب دی ( چې څوک قرباني کول غواړي نو موانعو ته دې متوجه وي ) ؟**

د دې مطلب دا دی چې څوک قرباني کول غواړي نو د الله د عبادت په نيت به ځينې کارونه پرېږدي.

٩٩ - : د قربانۍ دغه موانع کله شروع کيږي او کله تر پايه رسيږي؟

دغه موانع د ذي الحجې له شروع کېدو څخه پېل اخلي او د قربانۍ په کولو ( ذبحه کولو ) سر ته رسيږي.

١٠٠ - : ايا دغه ترک د ذي الحجې د لومړۍ ورځې له سهار نه شروع کيږي او که يوه شپه مخکې؟

ښه خبره دا ده چې د ذي الحجې د لومړۍ ورځې له سهار راختو نه وروسته شروع کيږي، والله اعلم.

۱۰۱ - : که څوک له اختر نه یوه ورځ وړاندې قرباني واخلي، نو د قربانۍ لپاره به په متروکاتو کله عمل کوي؟

چې کله قرباني واخلي.

۱۰۲ - : ځینو خلکو که څه هم د قربانۍ لپاره کلکه اراده کړې وي خو ولې قرباني بیا په ذي الحجې کې واخلي، نو ایا دغه ډول خلک به هم له تېرو ممنوعاتو څخه ځان رابندوي؟

هو، د ذي الحجې له پیل راهیسي به ځانونه قابو کوي، اعتبار هم کلک نیت لره دی.

۱۰۳ - : چې اضحیه خپله مستحب ده نو ځینې متعلق کارونه یې څنګه بیا واجب ګرځي؟

د دې خبرو ترمنځ توفیق له دې معلوماتو څخه کېدلی شي چې قرباني کونکي لپاره قرباني هله مستحب ده کله چې ورته اسانه وي، خو چې کله یې په عبادت کې شروع وکړه نو مناسب هم دا ده چې تر پایه یې انجام کړي او د هر څه پکې خاص خیال وساتي.

۱۰٤ - : ایا مخکنی حکم ټولې کورنۍ ته عام او تام دی؟

نا، ټولو ته نه دی عام، بلکې د دې شیانو خیال به د کور سرپرست کوي.

۱۰۵ - : ایا د وېښتانو نه لرې کولو حکم له نامه نه لاندې وېښتانو او نورو ته هم شمول لري؟

هو، شمول ورته لري؟

۱۰٦ - : که د ښځې پر مخ، زنه او شونډه باندې وېښته راشي او د قربانۍ نیت یې کړی وي نو ایا دغه وېښته لرې کولی شي؟

هو، كه يې لري كړي هېڅ باک نه کوي، ځكه دا ډول وېښتان لرې کول د ډول ډال له جملې څخه نه بلكې د عيب ختمولو له كبله ترسره كيږي.

۱۰۷ - : ايا وېښته لرې كول له ډول ډال څخه نه شمېرل کيږي؟ بيا نو ولې پرې صبر نه شي کولی؟

كه زنانه له خپل مخ څخه هغه وېښته لرې كړي چې د ده لپاره عيب پېژندل كيږي نو ابتداءً ورڅخه ډول ډال بيخي مقصد نه دی، بلكې دا د يو ډول عيب له منځه وړل دي، او حتی چې په ځينو ښځو دا ډول وېښته پاتې كېدل بيخي تصور نه شي كېدلی.

۱۰۸ - : كه څوک د قربانۍ اراده لري او نوکان يا وېښته كم كړي نو ايا قرباني يې باطليږي؟

قرباني كول يې سم صحيح دي، خو ولې اجر به يې د نبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د كمال متابعت نه د نقصان په اندازه كميږي.

۱۰۹ - : كه د چا نوک ولويږي او ده د قربانۍ اراده كړې وي نو ايا خپل نوک غوځولی شي؟

هو، بالكل يې غوځولی شي، ځكه دا د عيب د له منځه وړلو له باب څخه شمېرل كيږي.

۱۱۰ - : كه څوک د قربانۍ اراده ولري نو ايا لمبلی شي؟

هو، كه وېښته له لامبلو سره وخيژي هم هېڅ باک نه كوي.

۱۱۱ - : كه څوک اختر كول غواړي او وېښته ګمنځ كړي نو څه حكم لري؟

هېڅ باک نه کوي، او کوم وېښتان چې له ګمنځولو سره ولوېږي څه خبره څکه نه ده چې دغه ډول وېښتان د ولويدلو وېښتانو حکم لري.

١١٢ - : که څوک د قربانۍ اراده وکړي نو ایا دې ته هم د مُحْرِمِ په څېر د جماع، عطرلګولو او ډول ډال حکم شامل دی؟

نا، دا حکمونه ورته نه دي شامل، منع يواځې په محدودو امورو کې ده.

١١٣ - : ایا ښځه کولی شي چې خپله اضحیه پخپله ذبحه کړي؟

هو، ښځه کولی شي چې خپله قرباني پخپله ذبحه کړي.

١١٤ - : که دا مهال چرته ښځه د حيض بیماره وي ایا په قربانۍ يې کوم اثر پرېوځي؟

نا، میاشتنۍ بیماري يې په قربانۍ هېڅ اثر نه اچوي، خو که يې خوښه وي نو خپله اضحيه ذبحه کول ورله جواز لري.

١١٥ - : ایا له قربانۍ څخه قصاب ته څه ورکولی شي؟

نا ، قصاب ته يې ورکړه ناروا ده، ځکه دا صدقه ده او مزدوري نه ده .

WWW.LARKHUD.COM

شپږم څپرکی

## په قربانۍ کې نیت کول

۱۱۶ – : ایا د قربانۍ له ذبحه کولو مخکې نیت ضرور دی؟
بس له قربانۍ نه وړاندې د زړه قصد او اراده کفایت کوي.
۱۱۷ – : ایا د قربانۍ په مهال په نیت باندې تلفظ کول روا دي؟
نا، دا ناروا دي.
۱۱۸ – : د دې حدیث څه معنا ده چې نبي صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایي(هَذِهِ عَنِّيْ وَعَنْ أَهْلِ بَيْتِيْ ) ؟
دا د هغه څه اظهار دی چې د چا په زړه کې وي چې قرباني به کوي، ورنه له نبي صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه د دې هیڅ ثبوت نشته چې هغه ویلي ( ای الله زه غواړم چې قرباني وکړم) لکه دا نیت هغه څوک کوی چې په نیت باندې تلفظ کوي، بلکې د زړه اظهار به صرف کوي ورنه نیت خو له هغه وخت نه شوی دی چې کله یې قرباني اخستې ده او بیا یې ذبحه کړي.
۱۱۹ – : ایا د قربانۍ اجر ټولې کورنۍ ته رسیږي؟
هو، قرباني ټولو ته ګټه ورکوي او اجر یې هم ټولو ته رسیږي.
۱۲۰ – : ایا له مړو څخه قرباني کول روا دي؟
داسې کوم صحیح او صریح دلیل نشته چې د مړو په حق کې د مستقلې قربانۍ روا والی افاده کوي.

۱۲۱ - : ایا نبي کریم صَلّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلّمَ له خپلې کورنۍ څخه د کوم مړي لپاره قرباني کړې ده؟

نا، له نبي صَلّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلّمَ نه يې هېڅ ثبوت نشته.

۱۲۲ - : ایا د تبرع او خیرات لپاره د اختر په څېر یوې ورځې ته ځانګړتیا ورکول جائز دي؟

نا، که په قربانۍ کې ژوندی له مړي څخه خیرات ورکړي نو بیخي مشروع عمل نه دی که څه هم دواعي اسباب ولري، بلکې د صدقې لپاره د اختر په څېر وخت مختص کول له دیني بدعتونو څخه شمېرل کیږي.

۱۲۳ - : له مړو څخه قرباني کول ولې نه کیږي؟

ځکه چې قرباني کول د ژوندو عبادت او عمل دی، په دې سره دوی په ژوند باندې د الله شکر اوباسي، او له صحابه کرامو هم بیخي نه دي نقل چې له کوم مړي څخه یې قرباني کړې وي، دا چې دواعي او اسباب و او بیا یې هم نه دی کړی دا په دې دلیل دی چې له مړو څخه د اختر قرباني بیخي هغوی کړې نه ده او نه مشروع او جائز ده.

۱۲٤ - : له مړي څخه قرباني کله روا کیږي؟

له مړي څخه قرباني هله صحیح کیږي چې یا پرې هغه وصیت کړی وي، هېڅ باک نه کوي که مړی خپل مال دولت لري او که مال دولت یې د بچو وي.

۱۲٥ - : که څوک له مړ پلار څخه قرباني وکړي، باید څه ورسره وشي؟

مونږ به ورته صحيح او سمه لارښوونه کو، هغه دا چې انسان بايد له ژوندو څخه قرباني کول پرې نه ږدي نه له مړو څخه.

۱۲۶ - : مړی به دقربانۍ په ثواب کې څنګه شریکولی شي؟

په دې سره په اجر کې شریکیدلی شي چې په قربانۍ کې یې برخه وشي.

۱۲۷ - : ایا له اختر پرته د مړي لپاره په نورو ورځو کې خیرات کولی شي؟

که د وصیت تنفیذ یې نه وي نو د نیت په تغیرولو بیا هیڅ باک نه کوي.

WWW.LARHKUD.COM

اووم څپرکی

د قربانۍ وخت

۱۲۹ – : د قربانۍ ذبحه کول کله مشروع دي؟

واجب دي چې قرباني دي د اختر له لمونځ نه وروسته ذبحه کړی شي.

۱۳۰ – : د اختر لمونځ نه مخکې د قربانۍ ذبحه کول څه حکم لري؟

دغه ذبحه قرباني نه شمېرل کيږي ځکه چې په داسې وخت کې يې وقوع وشوه چې د ياد عبادت وخت نه دی.

۱۳۱ – : په دې خبره باندي شرعي دليل څه دی؟

نبي صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ فرمايي (مَنْ صَلّى صَلاَتَنَا، وَنَسَكَ نُسُكَنَا، فَقَدْ أَصَابَ النُسُكَ، وَمَنْ نَسَكَ قَبْلَ الصّلاَةِ، فَتِلْكَ شَاةُ لَحْمٍ ) [ صحيح البخاري: ۹۸۳، صحيح مسلم: ۱۹۶۱ ]

ژباړه: څوک چې زمونږ لمونځ کوي او زمونږ قرباني کوي نو مطلوب عبادت يې وکړ، او څوک چې له لمونځ نه مخکې قرباني ذبحه کړي نو بيا قرباني نه خو د غوښې څاروی دی.

۱۳۲ – : ايا د اختر له خطبې وروسته يې فوراً ذبحه کول شرط دي؟

نا دا شرط نه دي، لکن واجب دا دي چې ذبحه بايد له لمونځ نه وروسته وي.

۱۳۳ – : ايا دا جائز دی چې د اختر خطبه پرېښودل شي او د قربانۍ ذبحه کولو ته تلوار وشي؟

نا، دا بيخي مناسب نه دي، لومړی باید خطبه واورېدل شي او بیا ذبحه وشي.

۱۳٤ - : د باندېو خلک کله قرباني کولی شي؟

هغوی به دومره صبر کوي چې د لمونځ او لمونځ نه وروسته د دوو خطبو وخت تېر شي بیا به ذبحه کوي، ځکه د باندېو په میشتوالو باندې د اختر لمونځ نشته.

۱۳۵ - : د اختر په دوهمه ورځ قرباني کول څه حکم لري؟

بالکل روا دي، تر څلورو وروځو پورې یې کولی شي، لومړۍ د اختر ورځ او ورپسې درې پرله پسې ورځې.

۱۳٦ - : د قربانۍ اخرنی وخت کوم یو دی؟

د اختر د څلورمې ورځ لمر پرېوتل یې اخرنی وخت دی.

۱۳۷ - : د اختر په شپو کې د قربانۍ ذبحه کول څه حکم لري؟

هېڅ پروا نه کوي ، سم او صحیح کار دی.

۱۳۸ - : که خلک د اختر پر ورځ علم ونه لري او له زوال نه وروسته خبر شي چې د اختر ورځ ده باید څه وکړي؟ او قربانیانې به کله ذبحه کوي؟

له علم سره به د اختر په سبا عیدګا ته ووځي او وروسته به ترې بیا قربانۍ ذبحه کړي.

۱۳۹ - : که له چا څخه قرباني کول هیر شي او د ذبحې وخت هم ووځي نو څه کول ورله په کار دي؟

که قرباني يې نذر وي نو ضرور ده چې له اختر لمونځ نه وروسته يې ذبحه کړي، او که يې قرباني د اختر وي نو خوښه يې، که يې ذبحه کوي نو د غوښو ښاروی دی قرباني نه ده او که يې راروان کال ته پريږدي.

WWW.LARHKUD.COM

اتم څپرکی

## د قربانۍ ځای

١٤٠ - : د قربانۍ څاروی باید چرته ذبحه کړی شي؟
مستحب خو دا دي چې په عیدګا کې ذبحه شي، له ابن عمر رضي الله عنهما نه روایت دی چې (أَنَّ النَّبِيّ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ كَانَ يَنْحَرُ، أَوْ يَذْبَحُ بِالْمُصَلّى ) [ صحيح البخاري: ٩٨٢ ]
ژباړه: نبي کریم صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ به نحر ( د اوښانو حلالول ) او ذبحه په عیدګا کې کوله.
١٤١ - : ایا په کور کې انسان قرباني ذبحه کولی شي؟
هو، هیڅ باک نه کوي، په دې شرط چې د هیواد د قانون خلاف ورزي نه وي.
١٤٢ - : که په کور کې هم د قربانۍ ذبحه کول امکان ونه لري باید څه وکړی شي؟
بیا باید په خپلو قصاب خانو کې څاروی ذبحه شي، دا هله چې هیواد خلک له دې څخه منعه کړي چې څاروی به په کورونو، لارو کوڅو کې په دې خاطر نه ذبحه کوئ چې هم لارې کوڅې پاکې صفا پاتې شي او هم عامې ګټې په نظر کې ونیول شي، بیا د قانون منل واجب دي.
١٤٣ - : ایا ذبحه کول په خپل ښار او که له ښار څخه بهر نورو ځایونو کې فضیلت لري؟
په ښار کې ځکه بهتره ده چې په دې کې ډېر خیر او برکت وي.

WWW.LARKHUD.COM

١٤٤ - : په ښار کې قرباني کول ولې غوره دي؟

په ښار کې د قربانۍ د فضیلت ډېره اسباب دي ځینې یې بیا په دې توګه دي:

- په دې خاطر چې د قربانۍ عبادت به باقي او تل پاتې شي او بهر ته یې په زیاتو لیږدولو شاید دا شعیره له منځه لاړه شي.
- له خپلې قربانۍ څخه خوراک کول به پاتې شي، او حالانکه الله پاک په دې امر کړی دی چې له خپلو قربانیو څخه خوراک وکړئ، الله پاک فرمایي (فَكُلُوا مِنْهَا وَأَطْعِمُوا الْبَائِسَ الْفَقِيرَ) [ سورت حج: ۲۸ ]
ژباړه: تاسو ترې هم خوراک وکړئ او خوار او ډېر غریب ته ترې هم خوراک ورکړئ.
- د ځینو مسلمانانو ناراستي او سستوالی چې د خپل مال لږه برخه د قربانۍ لپاره بهر ته استوي.
- د ځینو مسلمانانو له سوچ څخه دا خبره ویستل چې له هیواد یا ښار څخه بهر نورو ځایونو ته د قربانۍ لپاره نقدي مرستې لیږدول نبوي سنت دي.
- بهر ته د قربانۍ په لیږدولو بچیان له پلارانو زده کړه کوي او بیا پکې هیڅ دلچسپي نه اخلي.

WWW.LARKHUD.COM

۱۴۵ - : ایا پورتني اسباب په خپل کلي او ښار کې د قربانۍ په وجوب دلیل ګرځېدلی شي؟

هو، همدې ته ځینو علماؤ ترجیح ورکړې ده او – والله اعلم – همدا راجح مذهب دی چې قرباني باید د هیواد په داخل کې وشي او دا مستحب عمل دی.

۱۴۶ - : له هیواد او یا هم له ښار څخه بل چرته قرباني نقلول څه حکم لري؟

له هغو لویو مصلحتونو له جملې څخه چې اسلامي شریعت پرې غني دی او دا یې ستر مقصد هم دی چې مصالح او د خوار غریب مسلمانانو ګټو ته به اولویت ورکولی شي، دا هم لوی مصلحت دی چې قرباني دې د قرباني کونکي له ښاره او هېواده بل ښار او هېواد ته واستول شي، په قران کریم او نبوي حدیثونو کې د دې کار هېڅ مانع نشته، اصل په دې کې جواز دی، لکه څنګه چې په اجماع سره زکات ورکول واجب دي او د مصلحتونو په خاطر یې له یو هېواد اوښار څخه بل هیواد او ښار ته نقلول جواز لري همدا ډول د مصلحت او د مسلمانانو د ګټو په خاطر د غوښو او قربانیو غوښې چې مستحب هم دي ولې به جواز نه لري؟!

۱۴۷ - : داسې ویل کیږي چې له ښار او هیواد څخه بهر ذبحه صدقه ده خو قرباني نه ده، دا خبره څومره سمه او څومره ناسمه ده؟

اصل کې اعتبار نیت لره دی، او په اسلامي شریعت کې هېڅ داسې دلیل نشته چې له کلي او ښار څخه بهر د قرباني نیت صدقې ته واړوي.

WWW.LARKHUD.COM

۱٤۸ – : ايا دا استدلال به روغ وي چې که څوک له کلي او هيواد څخه د باندې قرباني کوي ډېر امور بېهوده پرېښودل کيږي لکه د قربانۍ ګواهان، په قربانۍ بسم الله ويل، له قربانۍ څخه خوراک کول، نو له دې کبله خو د صدقې او خيرات حکم اخلي؟

نا، دا خبره ځکه سمه نه ده چې ياد امور په قرباني کونکي باندې واجب نه دي چې په هرومرو دې په قربانۍ کې شته شي، بلکې دا د ډېر اجر ګټلو له باب څخه دي، له دې کبله په قربانۍ کې توکيل هم مشروع او روا دی.

۱٤۹ – : ايا دا خبره سمه ده چې د معلومو کميټو له مخې له هيواد او ښار څخه په قربانۍ کې توکيل د هغه توکيل په حکم کې دی چې د ښار او هېواد دننه وي؟

هو، دا خبره ځکه صحيح ده چې د قربانۍ لپاره څوک له کومې کميټۍ سره په اړيکه کې شي نو ډېر کارونه ورڅخه فوت کيږي لکه له قربانۍ څخه خوراک کول، يا په قربانۍ بسم الله ويل، نو که څوک د دې په څېر په جواز قايل دي ضرور ده چې له هېواد څخه د باندې په قربانۍ کولو هم د جواز عقيده ولري.

۱٥۱ – : دا خبره څومره سمه او څومره ناسمه ده چې که څوک له ښار او هيواد څخه بهر قرباني وکړي نو ګناهګار دی؟

دا خبره ځکه صحيح نه ده چې په خارج کې قرباني کول سم او روا دي، حکم يې د مؤکدو سنتو دی، او د دې خو بيخي تصور نه شي کېدلی چې د ذبحې په ځای کې دې د اجتهاد په صورت کې ده ته ګناه ورسيږي.

۱۵۱ – : له ښار او هېواد څخه بهر به کله خلک په قربانۍ کولو تېزولی شي؟

دا هله کېدای شي چې د کوم هېواد یا ښار خلک خوراک ته سخته اړتیا لري، په دې مهال به باور وړ او په اسلامي احکامو عالم ته انسان واک ورکوي، زه مونږ په خپلو کلیو او ښارونو کې داسې څوک هم لرو چې د اختر په ورځ قربانیانې ډېرې لري خو د خوراک یې بیا دومره څوک نه وي، یا خو یې خلک خزانه کړي او یا یې داسې چا ته ورکړي چې مستحق یې نه وي، نو له دې کبله قرباني او نرخونه یې چا ته استول ځکه ډېر غوره دي تر څو د مستحقینو لاسونو ته ورسیږي، دې نتیجې ته د ډېرو علماؤ ترڅنګ شیخ عبدالله بن جبرین رحمه الله هم رسېدلی دی.

۱۵۲ – : څوک چې د تل لپاره خارج ته خپلې قربانیانې لیږدوي او په خپل کلي ښار کې قرباني نه کوي نو ایا څه خیر خو به ترې پاتې نه وي؟

تکراراً شاید په دې کار سره د ډېرو نبوي ارشاداتو مخالفت راشي او خیر کثیر ورڅخه فوت شي، په دې سره د قرباني کونکي په خپل کلي کې له نور ډېر اجر او ثواب نه هم محروميږي.

۱۵۳ – : ځینې خلک د قربانۍ لپاره خارج ته نرخونه استوی او هلته قربانۍ ارزانې وي خو برعکس بیا د کور په کمالیاتو باندې ډېره خرچه کوي، دوی ته باید څنګه نصیحت وکړی شي؟

دوی ته باید مونږ دالله پاک دا قول وریاد کړو (ذَٰلِكَ وَمَنْ يُعَظِّمْ شَعَائِرَ اللَّهِ فَإِنَّهَا مِنْ تَقْوَى الْقُلُوبِ ) [ سورت حج : ۳۲ ]

ژباړه: او څوک چې د الله د ديني شعائرو تعظيم کوي نو دا د زړونو له تقوا څخه ده.

او په دې قول باید ورته نصیحت وکړو (لَنْ تَنَالُوا الْبِرَّ حَتَّى تُنْفِقُوا مِمَّا تُحِبُّونَ وَمَا تُنْفِقُوا مِنْ شَيْءٍ فَإِنَّ اللَّهَ بِهِ عَلِيمٌ ) [ سورت ال عمران: ۹۲ ]

ژباړه: تر هغه جنت نه شئ حاصلولې تر څو مو هغه مالیت نفقه نه کړئ چې ستاسو خوښ وي، او کوم شیان چې تاسو خرچه کوئ نو الله پرې ډېر ښه پوهیږي.

۱٥٤ - : که څوک له کلي، ښار او هېواد څخه د باندې قرباني وکړي نو له محرماتو ( نوکان غوڅول، وېښته کمول... ) څخه به تر کومه ډډه کوي؟

قرباني کونکی باید د خپل کلي ښار او هېواد او چرته چې یې قرباني استولې ده باید وختونه معلوم کړي او د لمونځ هغه وخت هم ډېر ښه وپېژني چې کله ادا کیږي او بیا به یې د خپل ښار او هېواد له وخت سره مقارنه کړي او له هغه وروسته به بیا حلال شي.

۱٥٥ - : کومې کمیټې چې په بهر ملکونو کې وي او د خلکو قربانۍ ځان ته تسلیموي پر هغوی باندې څه واجب دي؟

دغه کمیټې باید دې کارونو ته متوجه وي:

-: په قربانۍ کې باید د ټولو شرعي شروطو پوره پوره خیال وساتي.

-: په دې هم باید پوهه وي چې د ښارونو او هیوادونو ترمنځ د قربانۍ نرخونه سره توپیرونه لري.

WWW.LARHKUD.COM

-: که په کوم څاروي کې شروط پوره نه وي نو باید د نرخ د نه پوره والي په بهانه یې وانه اخلي چې په دې نرخ هغه څاروی نه کیږي چې شروط پکې پوره وي.

-: د قربانۍ غوښې باید په اړینو خلکو وویشي، ځکه د قربانۍ په نوم چې څوک خپل مالیت چا ته استوي هغه هم په دې خاطر چې دا پرې خیرات کړي، له دې کبله یې مالدارو او شمتنو خلکو ته غوښې ورکول مکروه دي.

-: د ذبح او حلالکې لپاره به د شریعت ټاکلي وخت پابندي کوي.

WWW.LARKHUD.COM

نهم څپرکی

## په قربانۍ کې وکالت

۱۵۶ - : په قربانۍ له وکالت څخه څه مراد دي؟

وکالت څخه دا مراد دي چې د قرباني کونکي متعلق نفس عمل د ده پر ځا بل څوک وکړي.

۱۵۷ - : ایا د توکیل لپاره خاص قول یا فعل شته؟

نا، که څه هم خاص قول یا فعل نه لري خو په هر فعلي دلالت باندې توکیل صحیح کیږي.

۱۵۸ - : که وکیل ذبحه وکړي او بسم الله ترې هېره شي نو ایا قرباني وشوه؟

هو، د قربانۍ والا ثواب پوره وشو.

۱۵۹ - : که د کومې ښځې خاوند د قربانۍ اراده وکړي او بیا مسافر شي ایا ښځه یې ورڅخه وکالت کولی شي؟

هو، ښځه د خپل خاوند وکالت کولی شي او په حلالکه کې یې ورڅخه نیابت درست دی.

۱۶۰ - : ایا په قربانۍ کې نیابت ته هغه موانع متوجه وي چې له قربانۍ څخه مخکې وي؟

نا، نائب ته یې هېڅ نه دي متوجه، بلکې هر څه د قربانۍ کونکي متوجه دي.

١٦١ - : که څوک کومې خارجي کمیټۍ ته مالیت ورکړي چې له ده څخه مال ذبح کړي، ایا دا د توکیل په حکم کې راتللی شي؟

هو، دا بیخي د توکیل احکام لري، او د متبرع له نیت سره سم احکام هم لري.

١٦٢ - : ایا موکل کولی شي چې اضحیه په کوم شرط او قید پریږدي؟

هو، بالکل کولی شي، خو د کمیټو لپاره مناسب دي چې په دې شرعي حکم باندې بېرته متبرعین اګاه کړي.

WWW.LARHKUD.COM

لسم څپرکی

د حلالکۍ په وخت شرعي احکام

١٦٣ - : تذکیه په عربۍ کې څه ته ویل کیږي؟
ذکاة په لغت کې ذبح کولو ته ویل کیږي.
او په اصطلاح کې یې د وینو بهولو، او مذبوحه کې د ساه رګونو غوڅولو، یا اوښان په مرۍ کې وهلو، او یا د تښتیدلي مال مرګوني ټپي کولو ته ویل کیږي، په دې شرط چې مقصد به یې د الله رضا وي.
١٦٤ - : ایا د قربانۍ کونکی به هرومرو خپل ځاروی ذبح کوي؟
خپله ذبحه کول یې شرط نه دي، خپله یې هم حلالولی شي او توکیل یې هم کولی شي چې په نیابت یې بل څوک حلالکه وکړي.
١٦٥ - : که قصاب مسلمان نه وي نو د حلالکې به څه حکم وي؟
که ناحر یهودي یا نصراني وي نو د قربانۍ په ذبحه باندې هیڅ منفي اغیز نه لري.
١٦٦ - :که قصاب کتابي ( یهودي یا نصراني ) وي نو په قربانۍ باندې به بسم الله څوک وایي؟
په قربانۍ باندې به بسم الله مسلمان او یا د قربانۍ خپل څښتن وایي.
١٦٧ - : ایا دا حکم یواځې د اختر د قربانۍ متعلق دی او که هر وخت ته شامل دی؟
دا یواځې د اختر د قربانۍ حکم دی، له اختر پرته بیا د دې جواز نشته چې له مسلمان او یا له کتابي نه بغیر بل کوم کافر حلالکه وکړي، که

څه هم کتابي په مذبوحې باندې د الله نوم هم نه وي ياد کړی خو ذبيحه يې روا ده.

۱۶۸ – : د قربانۍ د ذبحه کولو په مهال بايد څه ووېل شي؟

ضرور ده چې د قربانۍ په مهال وويل شي ( بِسْمِ اللهِ وَاللهُ أَكْبَرُ، اللّٰهُمَّ هَذَا عَنِّيْ وَعَنْ أَهْلِ بَيتِيْ )

۱۶۹ – : ايا دا واجبي حکم دی؟

بسم الله ويل واجب دي او تکراراً يې ويل استحبابي حکم دی.

۱۷۰ – : ايا د بسم الله په وجوب باندې قراني دليل شته؟

دليل پرې د الله پاک دا قول دی ( فَكُلُوْا مِمَّا ذُكِرَ اسْمُ اللهِ عَلَيْهِ اِنْ كُنْتُمْ بِآيَاتِهِ مُؤْمِنِيْنَ ) [ سورت أنعام: ۱۱۸ ]

ژباړه: تاسو له هغه څه خوراک وکړئ چې د الله نوم پرې ياد شوی وي که چرته تاسو مومنان ياست.

۱۷۱ – : د هغې قربانۍ څه حکم دی چې بسم الله پرې نه وي ويل شوې؟

که بسم الله پرې نسياناً نه وي ويل شوې نو هيڅ باک نه کوي او قرباني حلاله ده، خو که قصدا عمداً پرې بسم الله نه وي ويل شوي نو خوراک کول ترې حرام دي ځکه دا ډول ځاروی مردار شمېرل کيږي.

۱۷۲ – : د قربانۍ د ذبحې په مهال د حاضرينو څه واجب دي؟

د قربانۍ والاو باندې دا واجب ګرځي چې بايد د قربانۍ د ذبحې په مهال بسم الله ووايي.

۱۷۳ – : د حلالکۍ په مهال د چونکۍ چاړې متعلق اسلامي ادب څه دی؟

د چاړې چونکې د ادبونو له جملې څخه چې نبي صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ مونږ ته رازده کړي دي يو دا دی چې (إِنّ اللّهَ كَتَبَ الْإِحْسَانَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ، فَإِذَا قَتَلْتُمْ فَأَحْسِنُوا الْقِتْلَةَ، وَإِذَا ذَبَحْتُمْ فَأَحْسِنُوا الذّبْحَ، وَلْيُحِدّ أَحَدُكُمْ شَفْرَتَهُ، فَلْيُرِحْ ذَبِيحَتَهُ ) [ صحيح مسلم: ۱۹۵۵ ]

ژباړه: الله پاک له هر څه سره احسان کول فرض کړي دي، که قتل کوئ هم باید احسان پکې وکړئ او که ذبحه کوئ هم باید احسان پکې وکړئ، په تاسو کې هرڅوک خپله چاړه باید تېره کړي او خپله مذبوحه دې نه تکليفوي.

۱۷٤ - : د مخکني حديث څه ګټې او فايدې دي؟

د تېر حديث يوه ګټه دا ده چې له هغو انسانانو او حيواناتو سره هم احسان واجب ګڼي چې قتل يې روا وي، ترڅو ساه يې په چټکۍ او توندۍ سره ووځي او مزيد تکليف نه شي، ځکه دا بې ځايه دردول دي او هيڅ راجح مصلحت وريکې نشته.

۱۷٥ - : له ذبحې وړاندې باید له قربانۍ سره څه ډول نرمي وکړی شي؟

-: لومړی باید د حلالکې ځای ته څاروی په نرم او ډېر ښه انداز بوتلل شي چې هيڅ ډول تکليف پکې نه وي، عبدالله بن عمر رضي الله عنه يو سړی وليد چې يوه ګډه يې په زور راښکله چې حلاله يې کړي نو ورته يې وويل ( وَيْلَكَ، قُدْهَا اِلَی المَوْتِ قوداً جَمِيلاً )

ژباړه: خوار شې، مرګ ته يې په نېک انداز بوځه.

-: د څاروی مخې ته باید چاړه چونکې تېره نه کړی شي، له عبدالله بن عباس رضي الله عنه نه روايت دی چې يو سړی ګډه راڅملولې وه او

مخې ته يې ورله چاړه تېره کوله، نبي صلی الله علیه وسلم ورته وويل (أَتُرِيدُ أَنْ تُمِيتَهَا مَوْتَاتٍ هَلَّا حَدَدْتَ شَفْرَتَكَ قَبْلَ أَنْ تُضْجِعَهَا) [ مستدرک الحاکم: ٧٥٦٣، سلسلة الأحاديث الصحيحة: ٢٤ ]

ژباړه: ايا ته يې ډېر ځله وژنې؟ لخ راڅملولو مخکې دې ولې خپله چاړه نه تېره کوله ؟

١٧٦ - : ايا د قربانۍ له ذبحه کولو نه مخکې نور اسلامي ادبونه شته؟

هو، انسان بايد له څاروي سره ډېره نرمي وکړي، او نه يې بايد د نورو څارو مخې ته حلال کړي.

١٧٧ - : د ذبحې په مهال بايد څاروی په کوم حالت کې وي؟

مستحب خو دا دي چې ګډې بزې د ذبحې په دوران کې بايد په ډډه واچول شي، ځکه په دې ډول کې ورسره نرمي ډېره ده، عايشه رضي الله عنها هم وايي (وَأَخَذَ الْكَبْشَ فَأَضْجَعَهُ، ثُمَّ ذَبَحَهُ ) [ صحيح مسلم: ١٩٦٧]

ژباړه: ګډ يې راونيو، په ډډه يې څملو او بيا يې ذبحه کړ.

١٧٨ - : ايا قبلې ته د څاروی مخامخ اچول جائز دي؟

هو، دا جائز دي، عبدالله بن عمر رضي الله عنه به له هغې ذبيحې څخه خوراک مکروه ګڼه چې غير قبلې ته به ذبحه شوی و. ( مصنف ابن عبدالرزاق: ٨٥٨٥ )

١٧٩ - : په کومو الاتو باندې بايد قرباني ذبحه کړی شي؟

په اسلامي شريعت کې انسان کولی شي چې څاروی په چاړې، تورې، ټوکيا او داسې نورو شيانو باندې کولی شي.

١٨٠ - : د حلالکې د چړې لپاره څه شی شرط دی؟

په چاړه کې دا شرط دي چې باید تېره وي هېڅ پروا نه کوي که اصلیت یې هر څه وي.

۱۸۱ - : ایا داسې د غوڅې کوم الات شته چې اسلام پرې څېړل منع کړي وي؟

هو، نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایي (مَا أَنْهَرَ الدَّمَ، وَذُكِرَ اسْمُ اللهِ عَلَيْهِ فَكُلُوهُ، لَيْسَ السِّنَّ وَالظُّفُرَ، وَسَأُحَدِّثُكُمْ عَنْ ذَلِكَ: أَمَّا السِّنُّ فَعَظْمٌ، وَأَمَّا الظُّفُرُ فَمُدَى الحَبَشَةِ ) [ صحیح البخاري: ۲٤۸۸، صحیح مسلم: ۱۹٦۸ ]

ژباړه: هغه شی چې وینه تویولی شي او د الله نوم پرې یاد شي نو خوراک ترې وکړئ خو په نوک او هډوکي ذبحه شوي ځاروی مه خورئ، او په دې به مو هم خبر کړم، په نوک ځکه ذبحه سمه نه ده چې هډوکی دی، او نوکان د حبشیانو چاړه ده.

۱۸۲ – : د ذبح کیفیت څنګه دی؟

له انس رضي الله عنه نه روایت دی فرمایي (ضَحَّى النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِكَبْشَيْنِ أَمْلَحَيْنِ أَقْرَنَيْنِ، ذَبَحَهُمَا بِيَدِهِ، وَسَمَّى وَكَبَّرَ، وَوَضَعَ رِجْلَهُ عَلَى صِفَاحِهِمَا ) [ صحیح البخاري: ۵۵٦۵، ۱۹٦٦ ]

ژباړه: نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په دوو ټکو سپینو ښکرورو ګډانو باندې قرباني وکړه، دواړه یې په خپلو لاسونو باندې ذبحه کړل، بسم الله او الله اکبر یې پرې وویل، ما نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ولید چې په څټونو یې ورله خپه ایښې وه او بسم الله والله اکبر یې وویل.

۱۸۳ - : د ځاروي حلالکه باید کوم ډول وي؟

حلالکه له حیوان پورې تعلق لري، ګډې، بزې او غوګانې به ذبحه کیږي، له مرۍ نه لاندې به حلالیږي او نحر به په اوښانو کې کیږي.

۱۸٤ - : په اوښانو کې به نحر څنګه کېدلی شي؟

د اوښانو نحر به په دې ډول وي چې مخکنۍ چپه خپه – یا لاس – به یې وتړل شي او بیا به د مرۍ په منځ کې په چړې سره ووهل شي ترڅو یې وینه توی شي.

۱۸۵ - : له نحر یا ذبح وروسته به له حیوان سره څه کیږي؟

مناسب خو دا ده چې له ذبح یا نحر وروسته یې د خوراک او څښاک او بیا د تنفس او بیا د وینې رګونه پرې کړی شي، ترڅو ذبحه پوره یقیني شي.

۱۸٦ - : که د اوښانو په څېر مونږ غواګانې نحر کړو ایا سمه به وي؟

نا، د اوښانو په څېر غواګانې نحر کول مکروه دي.

۱۸۷ - : د څټ له پلوه څاروی حلالول څه حکم لري؟

دا کار خو بیخي نه دي کول په کار، مالکیان یې بیخي جائز نه ګڼي او احناف یې هله په جواز قائل دي چې په ګوزار سره د ساه اوتنفس، د خوراک او اوبو او څټ هر څه غوڅ کړي، نو که بسم الله دې پرې وویله او حلقوم او د ساه رګونه یې پرې شول او وینه ترې وبهېده نو د څاروي خوړل مباح دي.

۱۸۸ - : له څاروي راوتلې وینه څه حکم لري؟

له څاروی څخه خارج شوې وینه نجسه ده او واجب دې چې ووینځل شي، ځکه الله پاک فرمایي ( دَماً مَّسْفُوْحاً ) [ سورت انعام: ۱٤۵ ]

ژباړه : او هغه وينه چې بهيدونکې وي.

۱۸۹ - : د ذبحې په مهال د څاروي څټ ماتول څه حکم لري؟

د ساه د وتلو نه مخکې د څاروي څټ يا بل کوم هډوکی يا ورځخه څه غوڅول ټول مکروه دي.

۱۹۰ - : ايا په يو ګوزار سره نحر کول روا دي؟

هو، په دې شرط چې چاړه تېره وي او سر پرې کولی شي، بيا هېڅ باک نه کوي که ذبحه له څټ او که د مرۍ له پلوه وي.

۱۹۱ - : له هغه څاروي سره بايد څه وشي چې له ذبحې لږ وړاندې وتښتي؟

که قصاب يې په دې حالت کې داسې زخمي کړي چې لا پکې ساه وي نو ضرور ده چې ذبحې ته يې توندي وکړي ترڅو خوراک يې روا شي.

۱۹۳ - : ايا د څاروي له وړۍ او وېښتانو نه ګټه اخستلی شي؟

هو، ځکه له رنګ کولو وروسته وېښتان او وړۍ د طهارت حکم اخلي.

۱۹٤ - : ايا قصاب ته له قربانۍ څخه ورکړه څه حکم لري؟

د ذبحې او پوستکې ويستلو په مقابل کې ورته له قربانۍ څخه غوښه ورکول جائز نه دي، خو که د صدقې او خيرات په حيث څه ورکړل شي نو جائز دي.

۱۹۵ - : له قربانۍ څخه څه شی خرڅول څه حکم لري؟

بيخي نه دي جائز، چې يو ځل يې هر څه د الله لپاره قرباني کړل بيا يې لا څنګه خرڅولی شي؟

يولسم څپرکی

## قرباني او حج

۱۹۶ - : د حج هغه اقسام کوم کوم چې قرباني په کې وي؟

قرباني صرف په حج تمتع او قِران کې وي په افراد کې نه وي.

۱۹۷ - : په حج کې د وينې تويولو انواع کوم کوم دي؟

يو ته هدي بل ته فديه او بل ته دم جبران ويل کيږي.

۱۹۸ - : په حج کې نبي صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ څومره اوښان حلال کړي ول؟

نبي صلی الله عليه وسلم پخپلو مبارکو لاسونو درې شپېته اوښان حلال کړي و او تر سلو پورې شمېر يې بيا علي رضي الله عنه ته پرېښود.

۱۹۹ - : ايا په خپل ښار او هېواد کې د قربانۍ په بدل کې کعبې ته هدي استول بسنه کوي؟

هو، نبي کريم صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ کعبې ته په هدي کړي څاروي بسنه وکړه او قرباني يې ونه وکړه.

۲۰۰ - : ايا حاجي صيب اضحيه يا قرباني کولی شي؟

په حج کې هدي له اضحيې څخه بسنه کوي.

۲۰۱ - : که کوم حاجي صيب په خپل کلي کور کې قرباني ولري ايا د حج په دوران کې د قرباني ياد کولی شي؟

هو، مناسب خو دا ده چې ويې کړي ترڅو ثوابونه هم وګټي او د نبوي سنتو متابعت هم راشي.

۲۰۲ – : د اضحيې متعلق موانعو نه حاجي صيب کله حلاليدلی شي؟
چې څنګه هدي ذبحه کړي نو دا د اضحيې متعلق موانعو نه فارغ شو.

WWW.LARHKUD.COM

دولسم څپرکی

## د غوښې تقسیمول

۳۰۳ - : ایا د قربانۍ غوښه تقسیمول روا دي؟

هو، الله پاک فرمايي (فَكُلُوْا مِنْهَا وَأَطْعِمُوْا القَانِعَ وَالمُعْتَرّ) [ سورت حج : ۳٦ ]

ژباړه: تاسو يې غوښې وخورئ او قناعت کونکي انسان باندې يې هم وخورئ او پر هغه چا يې هم وخورئ چې خپل حاجت وړاندې کونکي دي.

۳۰٤ - : قرباني کونکی باید د قربانۍ له غوښو څه وکړي؟

د قرباني کونکي لپاره جائز دي چې د اختر لمونځ ته له تلو مخکې باید څه ونه خوري، ترڅو لږ وروسته له خپلې اضحيې خوراک وکړي.

۳۰۵ - : ایا د معلومې اندازې غوښې تقسیمولو اړوند په اسلامي شریعت کې څه شته؟

هو، نبي کريم صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ فرمايي ( كُلُوا وَأَطْعِمُوا وَادّخِرُوا ) [ صحيح البخاري: ٥٥٦٩، صحيح مسلم: ١٩٧٢ ]

ژباړه: خپله هم غوښې وخورئ، پر نورو يې هم وخورئ او ذخيره يې هم کړئ.

غوښه باید درې تقسیمه شي، یوه برخه باید په خپلو بچو، یوه یې په ګاونډیانو او بله یې په خوارو غریبو تقسیم کړی شي.

۳۰٦ - : ایا په ګاونډیانو غوښه تقسیمول سنت طریقه ده؟

هو، دا هم ګاونډتوب پالل دي او هم په دې دينې شعيرې هغوی ته يادګېرنه ده.

۲۰۷ - : که څوک ټوله قرباني له خپلې کورنۍ سره وخوري او هېڅ چا ته يې ور نه کړي؟

هېڅ باک نه کوي، ثوبان رضي الله عنه فرمايي (ذَبَحَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ ضَحِيّتَهُ، ثُمّ قَالَ: «يَا ثَوْبَانُ، أَصْلِحْ لَحْمَ هَذِهِ»، فَلَمْ أَزَلْ أُطْعِمُهُ مِنْهَا حَتّى قَدِمَ الْمَدِينَةَ ) [ صحيح مسلم: ۱۹۷۵ ]

ژباړه: نبي صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ قرباني وکړه بيا يې وويل: ثوبانه! د قربانۍ غوښه راله وساته، نو تر مدينې راتللو پورې به مې ورته ترې غوښه ورکوله .

۲۰۸ – : ايا د قربانۍ غوښه ذخيره کول روا دي؟

هو، نبي کريم صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ فرمايي (كُلُوا وَأَطْعِمُوا وَادّخِرُوا ) [ صحيح البخاري: ۵۵۶۹، صحيح مسلم: ۱۹۷۲ ]

ژباړه: خپله هم غوښې وخورئ، پر نورو يې هم وخورئ او ذخيره يې هم کړئ.

۲۰۹ - : د ګډو بزو خپې چا ته خيرات کول څه حکم لري؟

بالکل جائز دي، نبي کريم صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ فرمايي (يَا نِسَاءَ الْمُسْلِمَاتِ، لاَ تَحْقِرَنّ جَارَةٌ لِجَارَتِهَا، وَلَوْ فِرْسِنَ شَاةٍ ) [ صحيح البخاري: ۲۵۶۶، صحيح مسلم: ۱۰۳۰ ]

ژباړه: ای مسلمانانو ښځو! هېڅ ګاونډۍ د خپلې ګاونډۍ صدقه سپکه مه ګڼې، که صدقه څه هم د ګډې بزې خپې ولې نه وي.

۲۱۰ - : د قربانۍ غوښې داسې ګاونډي ته ورکول څه حکم لري چې مسلمان نه وي؟

هېڅ باک نه کوي، دا د خيرات او صدقاتو له جملې څخه شمېرل کيږي، شايد په دې سره غير مسلم ګاونډي ته زمونږ د دين شعائر لا پسې روښانه شي چې له ګاونډي سره په احسان او نېک برتاو باندې څومره تيزي ورکوي، که څه هم ګاونډي مسلمان نه وي.

۲۱۱ - : ځينې خلک له خپلو ګاونډيانو نه په دې دليل غوښه نه اخلي چې له هغه سره غوښه ډېره ده، داسې خلکو ته بايد څنګه نصيحت وکړی شي؟

دا ښه کار نه دی، هديه بايد هرومرو قبوله شي، د غوښو په دې تقسيم سره د ګاونډيانو ترمنځ مينه او الفت ډيريږي، په نېکو کارونو کې به دواړه خواوې يو بل پالي، او په نبوي مبارک عمل باندې يو بل ته ياداشت ورکوي، د صدقې قبلول هېڅ کله د انسان قدر نه کموي، ځکه دا هم امکان لري چې دا يې په نورو صدقه کړي.

۲۱۲ - : داسې ويل کيږي چې سنت طريقه دا ده چې لومړی بايد د قربانۍ يينه وخوړل شي، دا خبره څومره سمه او څومره ناسمه ده؟

دې ته ځينو فقهاؤ ترجيح ورکړې ده ځکه چې يينه ډېره زر وچيږي نو ځکه يې له قربانۍ څخه په توندۍ باندې خوراک ښه دی، خو دا څه عبادت نه دی، که څوک يې ونه خوري ګناهګار نه دی.

۲۱۳ - : ايا له قربانۍ د خوراک روا والی د نذر اضحې ته هم شامل دی؟

که قرباني د نذر قرباني وي بايد انسان يې ټوله صدقه کړي او خپله به ترې هېڅ شی هم نه خوري.

٢١٤ - : که د کور خادمه مسلمانه نه وي او د قربانۍ غوښه پخه کړي ايا خوراک کول ترې جائز دي؟

هو، ځکه خادمه خو يواځې پخول کوي ځه ذبحه خو يې نه ده کړې، او دا هم ثبوت لري چې نبي صَلّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ له يهودانو سره خوراک کړی دی.

WWW.LARKHUD.COM

پایځوړ

په پای کې یو ځل بیا..

د الله سبحانه وتعالی شکریه ادا کوم چې پر ما ښکاره او پټې لورینې لري، یوه لورینه یې دا ده چې ټولنې ته د دې جامعې رسالې د تقدیم توان یې راکړ چې د علماؤ د فتواګانو نچوړ دی، د دغو علماؤ علم دې الله پاک زما لپاره ګټور وګرځوي او مونږ او هغوی دې سره په جنت الفردوس کې یو ځای کړي.

ګرانه لوستواله..

که کومه خبره دې حق او سمه ولیدله، یا دې په دې رساله کوم اسان فهمه او صحیح معلومات ولیدل نو د الله احسان او لورینه ده، خو که په احکامو کې کومه تېروتنه، خطایي اوغلطي دې ولیدله دا مې د قاصر علم له کبله، زه ترې الله ته توبه ګار یم، هیله لرم چې قابل قدر وروڼه به مې د کتاب اړوند ښه توجیه وکړي او له رب کریم څخه به راله د توفیق دعاګانې وغواړي ترڅو په ګټور علم بریالی شم.

د چاپ په مراسمو کې د هر ونډوال ډېره مننیات کوم او هغه څوک چې د دې رسالې په نشر او اشاعت کې یې ډېر زیار ګاللی دی.

والحمدلله رب العلمین، والصلاة والسلام علی حبیبنا محمد، وعلی آله وصحبه، والتابعین لهم باحسان الی یوم الدین.

WWW.LARHKUD.COM

د دې رسالې پوښتو ته ترجمه د ذي الحجې د میاشت په اووم تاریخ د سه شنبې په ورځ چې د ۲۰۱۷ میلادي کال د اګست د ۲۹ تاریخ سره سمون خوري پای ته ورسېده.

الحمدلله الذي تتم بنعمته الصالحات، وله الحمد في الأولى والآخره.

لقمان حکیم حکمت

WWW.LARHKUD.COM

# سبعون مسئلة في الصيام

## د روژې متعلق

# اويا مهمې مسئلې

WWW.LARKHUD.COM

ليکوال: شيخ محمد صالح المنجد

ژباړن: لقمان حکيم حکمت

## د ژباړن سریزه

نحمده ونصلي على رسوله الكريم، أما بعد:

عبادتونه الله پاک ته د نزدېکت تر هر څه ستر سبب دی، له دغو عبادتونو له جملې څخه یو عبادت روژه ده چې الله پاک پرې د انسان تکریم کوي، د ریان په نوم روژه په جنت کې مستقله دروازه لري چې له روژدارو پرته به پرې نور څوک جنت ته ولاړ نه شي.

چونکه دا رساله د روژې متعلق په مهمو مسئلو مشتمله وه او اختصار یې هم داسې مخل نه دی چې پرې ذهن نه خلاصیږي له دې کبله مې پښتو ته وژباړله چې ګټه یې عامه تامه شي، رب پروردګار دې له ما څخه دا عمل قبول کړي او الله پاک دې دا عمل خالص د هغه د رضا سبب وګرځوي.امین

لقمان حکیم حکمت

۱۲/۰۲/۲۰۱۸

## د مشرف عام مقدمه

الْحَمْدُ لِلّٰهِ نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِيْنُهُ وَ نَسْتَغْفِرُهُ وَنَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّئَاتِ أَعْمَالِنَا، مَنْ يَهْدِهِ اللّٰهُ فَلاَ مُضِلّ لَهٗ وَمَنْ يُضْلِلِ فَلاَ هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لاَ اِلَهَ اِلاّ اللّٰهُ وَحْدَهُ لاَ شَرِيْكَ لَهُ وأَشْهَدُ أَنّ مُحَمّداً وَرَسُوْلُهُ... أَمّا بَعْدُ:

الله پاک پر خپلو بندګانو باندې د دې احسان کړی دی چې د خير ښېګړې موسمونه يې ورله ورکړي دي، په دې موسمونو کې نېکۍ په چندونو کيږي او ګناهونو پرې له منځه ځي او برسېره پر دې د انسان درجات هم پورته کيږي، د دې موسمونو ترڅنګ يو هم د رمضان موسم دی چې د دغه مياشت روژه الله پاک په خپلو بندګانو فرض کړې او روژې ته يې هڅولې دي او ورته يې ښوولي دي چې بايد د دې مياشتې د روژې فرضيت احسان بايد بندګان په ځانونو ومني.

دا چې د روژې د عبادت قدر او عظمت تر هر څه ستر دی نو ضرور ده چې هغه احکام زده کړو چې د رمضان له مياشت سره ټينګه اړيکه لري، خو دا رساله د روژې احکامو، ادبونو او سننو متعلق ډېره مختصره رساله ده.

**د صوم ( روژې ) تعريف**:

۱ - : صوم په لغت کې ځان بندولو ته ويل کيږي، او د شريعت په اصطلاح کې صوم د دوهم فجر له راختو څخه د لمر تر پرېوتو پورې ځان له مفطراتو څخه رابندولو ته ويل کيږي.

**د روژې حکم**:

۲ - : ټول امت سره په دې يوه خوله دی چې د رمضان روژه فرض ده، که څوک له عذر پرته د رمضان د مياشت روژه عمداً وخوري نو لويه ( کبيره ) ګناه يې وکړه.

**د روژې غوروه والي**:

۳ - : **د روژې يو فضيلت دا دی** چې د روژې د ثواب او اجر په ورکړه الله پاک ځان خاص کړی دی، له حساب پرته به الله پاک روژه دار ته اجر او ثواب ورکوي، **بل فضيلت يې دا دی** چې د روژه دار دعاګانې هرومرو قبليږي او روژه دار دوه ځل خوشحاليږي، **بل فضيلت يې دا دی** چې د قيامت په ورځ به روژه دار د انسانانو لپاره سفارش کوي، د روژه دار د معدې بړاس الله پاک ته د مسکو له بوی څخه هم ډېر خوندور دی، بله دا چې روژه ډال او له اور څخه پياوړې قلعه ده، که څوک د الله د رضا په خاطر يوه ورځ روژه ونيسي نو په بدل کې به يې ترې الله پاک د اويا کالو د مسافت په اندازه اور لرې کړي، روژه د **ريان** په نوم په جنت کې مستقله دروازه لري چې يواځې روژه دار به ترې جنت ته ننوځي او نور څوک به ترې ونه ننوځي.

● **د رمضان روژه** د اسلام کلک رکن دی، قران کریم هم په رمضان کې نازل شوی دی، په رمضان کې یوه شپه ده چې عبادت یې د زرو میاشتو له عبادت څخه ډېر بهتر دی، کله چې رمضان پیل واخلي نو د جنت دروازې بېرته شي او د جهنم دروازې پټې بندې شي، متمردین شیطانان په زنځیرونو وتړل شي، د رمضان د میاشت روژه د لسو میاشتو د روژو ثواب سره مساوي دي.

**د روژې ګټې**

٤ - : روژې ډېرې ګټې او فایدې لري او تولې له تقوا څخه څرخیږي، په روژې سره انسان هم شیطان ذلیله کولی شي او هم پرې شهوت ماتولی شي، په روژې سره ټول اندامونه په کامل تحفظ کې وي، روژه انسان له هواپرستۍ څخه په اجتناب روزي، له ګناهونو څخه یې لرې کوي، نظام تقویه کوي او د عبادتونو له وختونو سره د انسان اشنایي پیدا کوي، روژه د مسلمانانو وحدت او د یو ډول نظام ستر اعلان هم دی.

WWW.LARHKUD.COM

**د روژې ادبونه او سنتونه:**

٥ - : روژه ځینې واجبې او ځینې نور بیا مستحب ادبونه لري لکه:

● هرومرو پیشلمی کول او په پیشلمي کې تاخیر کول.

● د روژې په ماتولو کې بېړه کول، ځکه نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي (لَاَ يَزَالُ النَّاسُ بِخَيْرٍ مَا عَجَّلُوا الفِطْرَ) [ صحيح البخاري: ١٩٥٧، صحيح مسلم: ١٠٩٨ ]

ژباړه: خلک به تر هغه په ګټه او سعادت کې وي چې په روژه ماتي بيړه کوي.

نبي کريم صلی الله عليه وسلم به خپله هم له لمونځ څخه وړاندې په لمدو کجورو باندې روژه ماتوله، که به لمدې کجورې نه وې نو په وچو کجورو به يې روژه ماتوله، او که به وچې کجورې هم نه وې نو يو څو ګوټه اوبه به يې وڅکلې. ( جامع الترمذي: ٦٩٦ ]

له افطار څخه وروسته به نبي کريم صلی الله عليه وسلم بيا وفرمايل (ذَهَبَ الظَّمَأُ وَابْتَلَّتِ الْعُرُوقُ، وَثَبَتَ الْأَجْرُ إِنْ شَاءَ اللَّهُ) [ سنن ابي داود: ۲۳۵۷ ]

ژباړه: تنده له منځه ولاړه، رګونه لوانده شول او ان شاء الله چې ثواب مو هم وشو.

● له بدو، ناوړه او فاحشو خبرو څخه په روژه کې ځان ژغورل.

● په روژه کې چې حسنات له منځه وړي او ګناهونو راجلبوي الغاز، سريالونه فلمونه او لوبو کتل دي، بې ګټې مجلسونه کول او بې فايدې په لارو کوڅو کې کيناستل.

● ډير خوراک نه کول، ځکه حديث کې راځي (مَا مَلَأَ آدَمِيٌّ وِعَاءً شَرًّا مِنْ بَطْنٍ ) [ جامع الترمذي: ۲۳۸۰ ]

ژباړه: انسان له شر څخه لوښی نه ډکوي لکه د خيټې په څېر.

● د رمضان په مياشت کې په علم، مال، بدن او اخلاقو باندې پر خلکو سخا کول، ځکه د خير په نشر او اشاعت کې نبي صلی الله عليه وسلم ډير جواد انسان و، او له هر وخت نه به په رمضان کې ډير کريم او جواد و (كَانَ



WWW.LARHKUD.COM

رَسُولُ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَجْوَدَ النّاسِ، وَكَانَ أَجْوَدُ مَا يَكُونُ فِي رَمَضَانَ ) [ صحيح البخاري: ٦، صحيح مسلم: ٢٣٠٨ ]

ژباړه: له ټولو خلکو څخه نبي کريم صلى الله عليه وسلم ډېر سخي و، او په رمضان کې خو بيا بيخي ډېر سخي و.

## هغه څه چې په دې مياشت کې يې کول مناسب دي دا دي چې:

● **ځان او فضا د عبادت لپاره جوړول،** له ګناهونو څخه توبه او الله پاک ته رجوع کول، د روژې په مياشت خوشحالېدل او په سمه معنا باندې روژه نېول، د تراوېح په لمونځ کې خشوع کول او د منځنۍ لسو ورځو په دوران کې عملاً فتور نه کول، د ليلة القدر پلټل، صدقات او خيرات کول او د مياشتې په اخرو لسو ورځو کې اعتکاف کول.

● **د رمضان د مياشتې په راتګ مبارکې ورکول څه باک نه لري** ځکه چې نبي کريم صلى الله عليه وسلم پرې خپلو ملګرو ته زيرې ورکړې دی او په دې مياشت کې يې عبادت ته په خاص پاملرنې هڅولي دي.

## د روژې ځينې احکام

٦ - : **ځينې روژې داسې وي چې پرله پسې والی پکې واجب وي** لکه د رمضان روژه، په قتل خطأ کې د کفارې روژې، د ظهار روژې، د رمضان په مياشت کې د ورځې په مهال د جماع کولو د کفارې روژې او داسې نورې روژې.

**او ځينې روژې داسې وي چې تتابع پکې لازم نه وي** لکه د رمضان قضاء راوړل، يا هغه لس ورځې روژې چې انسان د حج په دروان کې ذبحه ترلاسه نه کړي شي او داسې نور...

۷ - : **نفلي روژې** د فرض روژو نقصان جبيره کوي.

۸ - : **ايکې يواځې به دجمعې د ورځې روژه څوک نه نيسي**، همدا راز به د شنبې ( خالي ) ورځ څوک د روژو لپاره نه ځانګړې کوي مګر دا که فرض روژه وريکې راشي، همدا راز د اخترونو په ورځ يا په ايام التشريق کې روژې نيول شرعا ممنوع دي.

**د رمضان د مياشتې د راتلو ثبوت:**

۹ - : **د رمضان ثبوت هله کېدای شي چې مياشت يې وليدل شي**، يا د شعبان دېرش ورځې پوره شي، خو د مياشتې په راتللو سره له حساباتو څخه ګټه اخستل ديني بدعت دی.

**روژه پر چا واجب ده؟**

۱۰ - : **روژه پر هر بالغ**، عاقل او مقيم مسلمان باندې فرض ده چې له فرضيت څخه وريکې کوم مانع نه وي لکه حيض او يا نفاس.

۱۱ - : **اووه کلن ماشوم که توان لري بايد په روژه ورته امر وکړی شي**، او ځينې علماء بيا دا هم وايي چې که تر لس کلنې ورسېږي نو بايد ده چې د روژو په نه نيولو باندې د لمونځ په څېر ووهل شي.

۱۲ - : **که د ورځې په دوران کې کافر اسلام راوړي**، يا ماشوم بلوغ ته ورسېږي، يا مجنون روغ رمټ شي، نو د پاتې ورځې روژه به نيسي خو که روژې ورڅخه فوت شوي وي نو قضاء به يې نه راوړي.

١٣ - : **له مجنون څخه قلم پورته وي،** که څوک د لږ وخت لپاره روغ وي او لږ وخت پرې لیونتوب راځي نو د صحت په مهال به په روژې التزام کوي نه د جنون په حالت کې، د روژې دا حکم هغه چا ته هم شامل دی چې چپه او غوټه پرې راځي.

١٤ - : **که څوک د رمضان میاشت په دوران کې ومړ** نو پر مړي او یا یې پر وارثانو د پاتې روژو بیخي قضا نشته.

١٥ - : **که د رمضان د میاشت روژې له فرضیت څخه څوک جاهل وي،** یا خوراک او یا هم همبسترۍ څخه جاهل وي چې روژه به پرې ماتیږي او که نه، نو جمهور علماء یې معذور ګڼي که رښتیا انسان معذور وي او پراو نه کوي، خو که څوک د مسلمانانو ترمنځ ژوندګي لري او سوال پوښتنې مجال هم ورته پراخه وي نو بیا معذور نه شي ګڼل کیدې.

**د مسافر روژه:**

١٦ - : **په سفر کې د فطر لپاره شرط ده چې** عرفاً او یا د مسافت په اعتبار سفر ګڼلی شي او له خپل کلي کور څخه د باندې وي، (د جمهورو په نیز به یې) سفر هم د معصیت سفر نه وي، او نه به یې له سفر څخه موخه دا وي چې روژه ماته کړي.

١٨ - : که د رمضان په میاشت کې څوک د سفر اراده ولري نو د فطر اراده به تر هغه نه کوي چې سفر یې نه وي شروع کړی، مسافر چې کله هم ووځي، د کلی له ودانیو څخه ووځي نو کولی شي چې روژه ماته کړي.

۱۹ - : **که لمر پرېوځي او پر ځمکه څوک روژه ماته کړي**، بيا الوتکه پورته شي او لمر ووينې نو له خوراک څخه ځان رابندول پرې نشته ځکه هغه د خپلې ورځې روژه سر ته رسولې ده.

۲۰ - : **که څوک يو کلي ته مسافر لاړ شي** او تر څلور ورځو پورې د اقامت نيت لري نو د جمهور علماؤ په نېز به وجوباً روژه نيسي.

۲۱ - : **که څوک مقيم وي** او روژه ونيسي بيا د ورځې په نيمايي کې په سفر ووځي نو د دې جواز ورته شته چې روژه ماته کړي.

۲۲ - : **که ډېر سفرونه کول د چا عادت وي** او بېرته خپل ټاټوبي ته راستنېږي نو جوازاً روژه ماتولی شي، لکه ډاکي، ډرائيوران، پيلوټ، نوکران او پر دندو ګمارل شوي خلک، که څه هم سفر يې يوه ورځنی ولې نه وي خو جوازاً روژه ماتولی شي او وروسته به قضا راوړي، نفس دا حکم کشتيوان ته هم شامل دی.

۲۳ - : **که د ورځې په نيمايي کې مسافر** کور ته ورسيږي نو ښه خبره دا ده چې د رمضان د حرمت له کبله ځان له خواړو څخه رابند کړي، که خوراک وکړي او که نه خو د روژې قضايي به راوړي.

۲٤ - : **که څوک په کوم ښار کې روژه ونيسي** او بيا بل ښار ته لاړ شي او هغوي ورڅخه روژه مخکې يا وروسته نيولې وي نو حکم يې د هغه کليوالو دی چې دی ورته سفر کړی دی.

**د ناجوړه روژه:**

۲۵ - : **هره هغه مرض چې انسان د صحت له** حدودو څخه وباسي نو کولی شي چې روژه پرېکې ماته کړي، تږخی، سر درد او داسې نورې ورېې ناروغیو سره د انسان لپاره د دې جواز نشته چې روژه ماته کړي، خو که طبابت او یا د داسې شخص له لارې واضحه شي چې په دې باب کې مهارت لري چې د روژې له کبله نږدې ده د انسان ناروغي لا وده وکړي او په زیان یې تمامه شي، یا ترې مزید بله ناروغي اخلي، نو په دې حالت کې ددې جواز شته چې روژه ماته کړي، بلکې په دې حالت کې ورله روژه نیول مکروه دي.

۲٦ - : **که د بیهوشۍ په صورت کې** څوک روژه ماته کړي نو بېرته به یې قضا راوړي، که په چا باندې د ورځې په جریان کې بیهوشي راشي او له لمر پرېوتو مخکې یا وروسته په هوش کې راشي نو که روژه خوله وي روژه یې سمه ده خو که بیهوشي د ورځې له پیل څخه تر لمر پرېوتو پورې وغځېږي نو د جمهورو علماؤ مسلک دا دی چې روژه یې سمه نه ده خو د جمهورو علماؤ مسلک د بیهوشه انسان متعلق دا دی چې د روژې قضاء پرې واجبې ده، که هرڅومره د بیهوشۍ حالت اوږد ولې نه شي.

۲۷ - : **که سخته ولږه یا شدیده تنده څوک ښکاره کړي** او انسان پر ځان وډار شي چې ژوند به ترې له لاسه ورکړم یا د غالب ظن او وهم له مخې اټکل کړي چې ځینې حواس به له لاسه ورکړي نو روژه به ماتوي او بیا به یې قضا راوړي، خو د رمضان د میاشتې په مهال په سختو کارونو بوخت کاریګر ته د دې جواز نشته چې روژه ماته کړي، که د کار کسب په دوران کې ورته د روژې نیول ګران و او کار یې هم نه شو پرېښودی نو روژه به

ماتوي خو بېرته به يې قضا راوړي، هېره دې نه وي چې د رمضان په مياشت کې د شاګردانو امتحان بيخي د روژې د ماتولو عذر نه دی.

۲۸ - : **هغه ناجوړه چې د صحت طمع توقع** يې شته د صحت انتظار به کوي او د روژو قضايي به راوړي او مسکينانو ته طعام ورکول ترې نه کافي کيږي، خو که څوک داسې رنځ راټينګ کړی وي چې د صحت هېڅ طمع توقع يې نه وي، يا سپين ږيرى بوډا وي چې د روژو توان نه لري نو د هرې ورځې په بدل کې به يو مسکين ته نيم صاع د خپل کلي ښار خوراک ورکوي.

۲۹ - : **که څوک ناجوړه شي او بيا روغ شي**، د قضا د راوړلو توان يې هم وي خو قضا يې لا نه وي راوړې چې مړ شي، نو د هرې ورځ په بدل کې به يې له مال څخه مسکين ته خوراک ورکول کيږي، خو که کوم عزيز قريب ترې روژه نيول غواړي روژه ترې نېولی شي.

**<u>د لويانو، بې توانه او د ډېر بوډا روژه</u>**

۳۰ - : ډېر بوډا او د زيات عمر څښتن چې بدني قوت يې بيخي له لاسه ورکړی وي روژه نېول پرې نشته، خو که روژه نېول ورته تکليف وي نو کولی شي چې روژه ماته کړي، خو که څوک د زندګۍ داسې مرحلې ته ورسيږي چې تميز هم له لاسه ورکړي او د سپين ږيرتوب له کبله يې عقلي قوه خرابه شي نو بيخي پرې روژه نه ده واجب او نه به ترې د کورنۍ غړي فديه ورکوي، ځکه چې تکليف ورڅخه ساقط دی.

۳۱ - : **که څوک له دښمن سره په جنګ بوخت وي** او يا يې دښمن کلی کور په ګېره کې اچولی وي او دهغوی سره د جنګ له کبله يې روژه لا کمزوری

کوي نو جوازاً روژه ماتولی شي، که څه هم د سفر په حالت کې هم نه وي، همدا ډول که له جنګ څخه وړاندې یې ماتولو ته ضرورت ولیدل شي هم روژه ماتولی شي.

۳۲ - : **که د چا د روژې د ماتولو سبب ظاهر وي** لکه مرض، نو که روژه ښکاره وخوري هېڅ ګناه پرې نشته، او که د چا د فطر سبب پټ وي نو باید ده چې د روژې ماتول یې هم پټ وي ترڅو تهمت پرې ونه تړل شي.

**په روژه کې نیت کول:**

۳۳ - : **په فرض روژه کې د نیت کول شرط دي،** همدا ډول هر هغه روژه چې وجوبي وي لکه قضایي روژې، او یا د کفارې روژې... د فرضي روژو لپاره نیت د شپې په هره برخه کې سم دی که څه هم د سهار له راختو څخه لګ ګړی وړاندې ولې نه وي، او نیت په یو کار باندې د زړه عزم ته ویل کیږي او تلفظ کول ورباندې بدعت دی، د دې هېڅ احتیاج نشته چې د رمضان د میاشتې روژدار دې هره ورځ د نیت تجدید وکړي، بلکې د میاشتې په راتګ سره یې د روژې نیت بسنه کوي.

۳٤ - : **د مطلق نفل لپاره له شپې څخه نیت شرط نه دی،** خو که نفل چرته معین وي نو ښه خبره دا ده چې باید له شپې څخه ورته نیت وکړی شي.

۳٥ - : **که څوک د واجبي روژې په نیولو پیل وکړي** لکه د قضاء روژه، د نذر یا د کفارې روژه نو ضرور ده چې تر سره یې ورسوي، له عذر پرته ورته د دې جواز نشته چې روژه ماته کړي، خو که روژه چرته نفلي وي نو روژه دار د خپل نفس امیر دی، که یې خوښه شي روژه دې ترسره ورسوي، او که

يې خوښه شي نو روژه دې ماته کړي که هېڅ عذر هم ونه لري کار يې سم دی.

٣٦ - : **که څوک د رمضان د مياشتې په راتګ هله خبر شي** چې سهار راختلی وي، نو دا پرې لازم دي چې پاتې ورځ روژه شي او د جمهورو علماؤ په نېز به د دې روژې قضا بېرته راوړي.

٣٧ - : **که بنديوان د رمضان د مياشتې په راتګ** له باورې سرچينې څخه وخبرېږي نو روژه نيول پرې واجب دي او که ونه خبرېږي نو اټکل به وکړي او د غالب ظن له مخې به پرې عمل کوي.

**روژه ماتي او پيشلمي**

٣٨ - : **کله چې د لمر ټيکلی ټول پرېوت** نو د روژه دار روژه ماته شوه، له دې وروسته هغې سرخۍ لره هېڅ اعتبار نشته چې په افق کې پاتې وي.

٣٩ - : **کله چې سهار راپورته شي نو پر روژه دار** واجب دي چې له سمدستي له خوراک څخه ډډه وکړي که اذان يې اورېدلی وي او که نه، خو د سهار له راختو وړاندې احتياطاً پر وخت ځان له خوراک څخه رابندول لکه لس دقيقې مثلاً نو دا ديني بدعت دی.

٤٠ - : **هغه ښارونه چې شپې ورځې** ورېکې څلور وېشت ساعته وي، نو مسلمانان وکړي به يې روژه نيسي که څه ورځ پرې ډېره اوږده وي.

**هغه شيان چې روژه ماتوي**

٤١ - : **له حيض او نفاس پرته** به روژه دار له دريو شرطونو پرته روژه نه ماتوي: په روژه به عالم وي جاهل به نه وي، په ياد به يې وي خوراک به يې نسياناً نه وي، مختار به وي چا به نه وي مجبور کړی، روژه په جماع سره

هم ماتيږي، په ګرزون ( کانګو )، حيض، نفاس، احتجام ( ښکر لګولو ) او خوراک څښاک سره هم ماتېږي.

٤٢ - : **ځينې مفطرات د خوراک او څښاک په درجه** کې وي لکه دارو درمل چې د خولې له لارې خوړل کيږي، يا غذا ورکونکې ستن لګول، يا د ستنې له لارې ورته وينه نقل شي، خو په کومې ستن ( انجکشن ) سره چې بدن ته غذا نه ورکول کېږي او ايکې يواځې د صحت په خاطر وي نو بيا پرې روژه نه ماتيږي، همدا راز د پختورګو وينځل هم روژه نه ماتوي، خو راجح دا ده چې په مقعد کې ستن لګول، په سترګو يا غوږونو کې څاڅکې اچول، د غاښ ويستل او ټپونه مرهم کولو سره د انسان روژه نه ماتيږي، د ساه بندۍ په سپري باندې هم روژه نه ما تېږي، همدا راز د وينو په اخستلو سره هم روژې ته کوم زيان نه رسيږي، په کومو دارو درملو چې غړغړه کيږي هم پرې روژه نه ماتېږي خو په دې شرط چې روژه دار يې تېره نه کړي، که څوک د غاښونو دارو درمل وکړي او خوند يې په حلق کې محسوس کړي نو روژه يې نه ماتيږي.

٤٣ - : **که له عذر پرته څوک د رمضان په ورځ کې** عمداً خوراک يا څښاک وکړي نو کبيره ګناه يې وکړه، هم به توبه اوباسي او هم به د روژې قضا راوړي.

٤٤ - : **که څوک نسياناً د رمضان په ورځ کې** خوراک وکړي نو خپله روژه دې پوره کړي، دا ورته الله پاک خوراک او څښاک ورکړ، او که څوک بل څوک ووينې چې نسيانا يې خوراک او څښاک کو نو واجب يې جوړيږي چې په روژه يې وخبروي.

٤٥ - : **څوک چې د روژې ماتولو ته اړ شي** ترڅو یو څوک له هلاکت څخه وژغوري، نو روژه به ماتوي او وروسته به یې قضا راوړي.

٤٦ - : **که په چا باندې روژه واجب وي او قصداً عمداً** د رمضان په ورځ کې له خپلې ښځې سره همبستري وکړي او په خپل کار کې مختار وي نو روژه یې فاسده شوه، هم به توبه اوباسي او هم به دغه ورځ روژه تر پایه رسوي، او هم به د روژې قضا راوړي او هم به مغلظه کفاره ورکوي، نفس دا حکم د رمضان د روژې په حالت کې زنا، لواطت او له حیواناتو سره بدفعلۍ ته هم شامل دی.

٤٧ - : **که څوک له خپلې ښځې سره همبستري کول وغواړي** او روژه لومړی په خوراک ماته کړي نو په سخت معصیت کې واقع شو او د رمضان حرمت او تعظیم یې دوه ځل دړې وړې کړ، یو ځل په خوراک او بل ځل په جماع سره، داسې انسان به غلیظه کفاره هرومرو ورکوي.

٤٨ - : **که څوک خپل شهوت قابو کولی شي** نو خپله ښځه یا وینځه ښکلول، یا ورسره غاړه غړۍ کېدل یا لاس وروړل یا ورته ډېر کتل په دې تولو سره روژه نه ماتېږي، خو که څوک د ډېر شهوت والا وي او شهوت په قابو کې نه شي راوستی نو بیا ورته بیخي دا شیان جائز نه دي.

٤٩ - : **که څوک له خپلې ښځې سره په داسې حالت کې جماع وکړي** چې سهار پرې راوخیژي نو جماع به بس کوي او روژه یې صحیح ده که څه هم له بس کېدو وروسته ترې اوبه هم ووځي، خو که د جماع په حالت کې تر سهار راختو وروسته پاتې شي نو روژه یې ماته ده، هم به توبه اوباسي او هم به د روژې قضا راوړي او غلیظه کفاره به هم ورکوي.

۵۰ - : **كه په چا باندې سهار راوخيژي** او دا جنب وي نو روژه يې صحيح ده، دا هم كولى شي چې د جنابت، حيض او نفاس غسل د سهار له راختو وروسته وكړي، خو كه د لمونځ په خاطر غسل له وخته وكړي نو ډېره ښه ده.

۵۱ - : **كله چې روژه دار ويده او په خوب كې** يې احتلام وشي نو د علماؤ په اجماع يې روژه نه ماتيږي.

۵۲ - : **كه د رمضان د ورځې په مهال** څوک په داسې شيانو استمنا وكړي چې ځان ژغورل ترې امكان لري، لكه لمس، بار بار كتل، نو الله ته توبه ويستل پرې واجب دي او پاتې ورځ به روژه نيسي، او د دې ورځې قضا به هم راوړي.

۵۳ - : **كه د روژې په دوران كې څوک كانګې ووهي** نو قضاء وربانډې نشته، خو كه عمداً څوک ځان ته كانګې راپورته كړي او ويې وهي نو د روژې قضا به راوړي، او كه چا ته كانګې ورشي او هغه يې د زور له مخې بېرته ستنې كړي نو روژه يې نه ماتيږي، ژاوله ( ببل، چينګم ) كه چرته خوند او ذائقه لري نو ژول يې د ورځې حرام دي، كه دغه خوند تر حلق رسيدګي وكړي نو روژه پرې ماتيږي، خو كه څوک خړاسكى مخكې له دې تېر كړي چې لا خولې ته نه وي رسېدلى نو روژه يې نه ماتيږي، خو كه تر خولې راشي او بېرته يې څوک تېر كړي نو روژه يې ماتيږي او اړتيا پرته د خواړو مالګه كتل هم مكروه دي.

۵۴ - : **د رمضان د ورځې په دوران** كې روژه دار ته د دې جواز شته چې مسواک استعمال كړي.

۵۵ - : **که د روژه دار ( د خولې، پوزې ) له تېې** څخه وينه وبهيږي، يا يې له اختيار پرته خولې ته تروې ترخې اوبه راشي، يا يې حلق ته اوبه يا بنزين ورسيږي نو روژه يې نه خرابيږي، همدا راز که يې حلق ته اوښکې ښکته شي هم يې روژه صحيح ده، يا څوک سر، ګيره بريت غوړ کړي، يا پرې نکريزي کېږدي او په حلق کې يې خوند محسوس کړي نو روژه يې روغه ده، ځکه نکريزې، رانجه او تېل مبطل روژه نه ماتوي، يا هغه پټۍ چې پوستکی نرم ساتي هم روژې ته زيان نه لري، که څوک عطر وغيره بوي کړي نو په هغه صورت کې هيڅ پروا نه کوي چې حلق ته يې خوند نه وي رسېدلی.

۵۶ - : **دروژه دار لپاره د احتياط** خبره دا ده چې بايد احتجام ونه کړي، ځکه په مسأله کې علماؤ سخت اختلاف لري.

۵۷ - : **سګرېټ - که هر ډول نوعيت ولري** - خو روژه پرې ماتيږي او هېڅکله د روژې د پرېښودلو لپاره عذر نه شي بلل کېدای.

۵۸ - : **که د ګرمۍ او تودخې له کبله څوک** ولامبي يا پر ځان لوند څادر وغيره راخپور کړي ترخو يخ شي نو روژه پرې نه ماتيږي.

۵۹ - : **که څوک خوراک، څښاک او له خپلې ښځې** سره په دې ګمان مجامعت وکړي چې شپه لا پاتې ده او بيا وروسته وپوهيږي چې سهار ختلی دی، نو هيڅ ګناه پرې نشته.

۶۰ - : **که څوک په دې ګمان چې لمر پرېوتی دی** او روژه ماته کړي او حالانکه لمر نه وي پرېوتی نو د جمهورو علماؤ په نيز به د روژې قضا راوړي.



WWW.LARHKUD.COM

٦١ - : **كه سهار راپورته شي او د ده په خوله کې** خوراک او يا اوبه وي نو د ټولو فقهاؤ په اتفاق به خوراک او څښاک تېروي او روژه يې صحيح ده.

**د ښځې متعلق د روژې ځينې احکام**

٦٢ - : **که د روژې په دوران کې جينۍ بلوغ** ته ورسيږي او حيا ورشي او روژه وخوري، هم به توبه اوباسي او هم چې يې څومره روژې خوړلې وي د هغې به قضا راوړي، خو که بل رمضان وربانديې راشي او قضاء يې نه وي راوړې نو د هرې روژې له قضا سره به مسکين ته د کفارې په توګه خواړه هم ورکوي، نفس همدا حکم هغې زنانه ته هم شمول لري چې د مياشتنۍ بيمارۍ په مهال د حياء له مخې روژې ونيسي او قضا يې را نه وړي.

٦٣ - : **له رمضان نه بغير به هيڅ ښځه چې** خاوند يې په کور کې وي له اجازې پرته به يې روژه نه نيسي، که خاوند يې د سفر په دوران کې و نو بيا کولی شي چې بې له اجازې پرته يې نفلي روژه ونيسي.

٦٤ -: **که حائضه ښځه خپله کپړه له وينې** څخه پاکه ووينې چې نوره طاهره شوه نو د روژې نيت به له شپې څخه کوي او روژه به نيسي، خو که د خپل طهارت څه نښې يې ونه ليدې نو مالوچ يا نور څه به استعمال کړي که مالوچ يا نور شيان پاک راووتل نو دا به طاهره وي او روژه به نيسي، د حيض او نفاس والا زنانه وينه چې کله د شپې ودريږي او د شپې له مخې د روژې نيت وکړي خو وړاندې له دې چې ښځه غسل وکړي سهار پرې راوخوت نو د ټولو علماؤ په مذهب روژه يې صحيح ده.



WWW.LARKHUD.COM

۶۵ – : **که کومه ښځه وپوهیږي چې میاشتنۍ** بیماري به ورته سبا راځي له خپل نیت سره به سم روژه نیسي او تر هغه به روژه نه ماتوي ترڅو یې وینه نه وي لیدلي.

۶۶ – : د حیض والا زنانه لپاره بهتره دا ده چې په خپل طبیعي حالت باندې پاتې شي، او پر هغه تقسیم راضي شي چې الله پاک ورته لیکلی دی، هغه ډول دارو درمل به نه استعمالوي چې د وینې د راتګ مخه پرې نیول کیږي.

۶۷ – : **که له امیدوارې ښځې څخه د ماشوم سقط وشي** نو خپل طبیعت به د نورو په څېر برابروي، ځکه چې دا د نفاس په حالت کې ده او روژه پرې نشته، ورنه مستحاضه به شمېرل کیږي او که توان یې و نو روژه به هم نیسي، که د نفاس والا کومه زنانه له څلوېښتو ورځو مخکې طاهره شي نو روژه به نیسي او د لمونځ لپاره به غسل هم کوي، او که یې نفاس تر څلوېښتو ورځو واوخوت نو د روژې نیت به کوي او غسل به هم کوي او له څلوېښتو ورځو پورته حالت کې به استحاضه ګڼلی شي.

۶۸ – : **د استحاضې وینه د** روژې په صحت کې هېڅ ډول اثر نه لري.

۶۹ – : **د رجحان له مخې حامله او مرضعه زنانه** قیاساً د ناجوړه انسان حکم لري، دواړه زنانه کولی شي چې روژه ماته کړي او له قضاء پرته پرې نور هېڅ هم نشته، دا هله که په ځانونو او یا ماشومانو باندې یې ویره احساس کوله.

۷۰ – : **په کومې ښځې چې روژه واجب ده،** که په رضا ورسره د رمضان په ورځ خپل خاوند همبستري وکړي نو دواړه یو څېر حکم لري، خو که

ښځه مُکره وه نو زیار به اوباسي چې خاوند له ځان څخه دفعه کړي او که جماع واقع شي نو کفاره هم ورباندې نشته.

**او په اخر کې**: دا د روژې اړوند ځینې مسئلې وې چې الله پاک یې راته راټولول اسان کړل، له رب پروردګار څخه سوال کوم چې د هغه په ذکر او شکر او ښایسته عبادت راسره مرسته وکړي، او د رمضان میاشت پر مونږ باندې داسې تېره کړي چې هم یې راته مغفرت کړی وي او هم یې له اور څخه ازاد کړي یو.

**وصلی الله علی نبینا محمد وآله و صحبه وسلم.**

WWW.LARHKUD.COM

په غور سوچ سره

# د قران کريم د لوستلو ثواب

فضيلة العلامة صالح بن فوزان الفوزان

ژباړن : لقمان حکيم حکمت

WWW.LARHKUD.COM

د ژباړن سریزه

الحمدلله وحده، والصلاة والسلام على من لانبي بعده ،وبعد:

د قران کریم عجائب، اسرار، علمونه او ګټې فایدې بیخي نه ختمیږي، ورځ تر بلې به پکې نا اشنا لیکنې او رنګارنګ موضوعګانې لیکل کیږي، نه خو یې تر دا مهاله مضامین سر ته رسېدلي دي او نه به تر قیامت ورسیږي، نه یې چا تر اوسه مقابله کړې ده، نه به یې وکړي او نه یې کولی شي، دې محاضرې یې ډېره ښه ترجماني کړې ده، پښتو ته مې د مزید خیر او ګټې په خاطر د یو دیني واجب پر بنسټ وژباړله، الله دې به خپل دربار کې قبوله کړې او د قیامت په ورځ دې له اور څخه زمونږ د نجات سبب وګرځوي، الله دې په قبر کې زمونږ لپاره نور وګرځوي ، زمونږ مور او پلار او ټولو مسلمانانو ته دې الله پاک په ځپل ځانګړې بخشش د ګناهونو مغفرت وکړي.

وصلى الله على نبينا محمد و على آله وأصحابه أجمعين

لقمان حکیم حکمت

۲۰۱۷/۱۰/۲۲

Hekmat۰۳٤٤@gmail.com

## د لومړي چاپ مقدمه

الحمدلله وحده، والصلاة والسلام على نبينا محمد وعلى آله وصحبه وسلم وبعد:

دا رساله په اصل کې ما د رياض په جامع الهريض کې د ( **تدبر القران** ) عنوان لاندې محاضره وړاندې کړې وه.

د موضوع د ډېر اهميت له کبله د محاضرې تفريغول او په ليکلي بڼه چاپول راته ډېر ګټور ښکاره شول، تر څو هر عام او خاص ترې مستفيد شي، ان شاء الله.

او هغو خلکو ته دې الله اجر ورکړي چې دا محاضره يې له کيسټ څخه ليکلې ده، الله پاک د عملونو بڼه ليدونکی او د دعا اورېدونکی دی.

WWW.LARKHUD.COM

الحمدلله رب العملين، وصلى الله وسلم على رسوله وعلى آله وأصحابه وسلم تسليما كثيرا.

امابعد: په دې امت باندې د الله لوی کرم دا دی چې هم يې ورته محمد صلى الله عليه وسلم راستولی او هم يې ورته قران کريم ورکړی دی ترڅو پرې د هدايت لار ومومي او د قران په رڼا کې ورته رسول الله صلى الله عليه وسلم ديني لارښوونې او د دنيا او اخرت په ګټورو شيانو يې هم وخبروي.

قران کريم حرفاً او معناً دواړو باندې د الله کلام دی، هغه نازل کړی دی او مخلوق نه دی، پيل يې هم له الله څخه شوی او انتهاء به يې هم هغه ته وي (وَإِنَّهُ لَتَنْزِيلُ رَبِّ الْعَالَمِينَ * نَزَلَ بِهِ الرُّوحُ الْأَمِينُ * عَلَى قَلْبِكَ لِتَكُونَ مِنَ الْمُنْذِرِينَ * بِلِسَانٍ عَرَبِيٍّ مُبِين )[ سورت شعراء: ١٩٢ — ١٩٥ ]

ژباړه: قران کريم د ټول مخلوق پالونکي راستولی کتاب دی* روح الامين – جبريل عليه السلام – ستا پر زړه نازل کړی دی* ترڅو ډارونکی جوړ شې * او په ښکاره عربي ژبې يې راوړی دی.

الله سبحانه وتعالى فرمايي (تَبَارَكَ الَّذِي نَزَّلَ الْفُرْقَانَ عَلَى عَبْدِهِ لِيَكُونَ لِلْعَالَمِينَ نَذِيرًا )[ سورت فرقان : ١ ]

ژباړه: هغه ذات د ډېر برکت والا دی چې قران يې پخپل بنده باندې نازل کړی دی په دې خاطر چې د ټول بشريت لپاره ويرونکی جوړ شي .

قران کريم د ټول بشريت نه بلکې د انس او جن لپاره نړيوال کتاب دی، ( بَشِيْراً وَّنَذِيْراً ) هم بشارت او هم انسان ته ويره ورکوي، کله چې پېريانو دا قران واورېد (قُلْ أُوحِيَ إِلَيَّ أَنَّهُ اسْتَمَعَ نَفَرٌ مِنَ الْجِنِّ فَقَالُوا إِنَّا سَمِعْنَا قُرْآنًا عَجَبًا * يَهْدِي إِلَى الرُّشْدِ فَآمَنَّا بِهِ وَلَنْ نُشْرِكَ بِرَبِّنَا أَحَدًا )[ سورت جن: ١ – ٢ ]

ژباړه: ورته ووايه چې ما ته د دې وحي شوې ده چې کله د پېريانو څه نفرو قران ته غوږ کېښود نو وېويل: مونږ ډېرې نا اشنا خبرې واورېدې، * درشد او هدايت او سمې لارې ته راهنمايي کوي نوځکه خو پرې مونږ ايمان راوړ نو هېڅکله به مونږ له خپل رب سره هېڅ څوک برخه دار ونه ګرځو.

او الله پاک فرمايي (الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِي أَنْزَلَ عَلَى عَبْدِهِ الْكِتَابَ وَلَمْ يَجْعَلْ لَهُ عِوَجًا * قَيِّمًا لِيُنْذِرَ بَأْسًا شَدِيدًا مِنْ لَدُنْهُ وَيُبَشِّرَ الْمُؤْمِنِينَ الَّذِينَ يَعْمَلُونَ الصَّالِحَاتِ أَنَّ لَهُمْ أَجْرًا حَسَنًا * مَاكِثِينَ فِيهِ أَبَدًا * وَيُنْذِرَ الَّذِينَ قَالُوا اتَّخَذَ اللّٰهُ وَلَدًا ) [ سورت کهف: ۱ـــ ٤ ]

ژباړه: هغه ذات لپاره حمدونه او ثناګانې دي چې په خپل بنده يې داسې کتاب نازل کړ چې هېڅ کږې نسکورې نه لري، د سمو سېدو خبرو ښوونکی کتاب دی او د سخت عذاب ننګونې هم ورکوي خو هغو مومنانو ته بيا زيري ورکوي چې نېک علمونه کوي* او وعده ورسره کوي چې د دوی لپاره غوره ترين ثواب (جنت) هم وي* دوی به بيا د تل لپاره په جنت کې وي *او دا قران هغو خلکو ته ډار ورکوي چې وايي الله کوم څوک په ځوی ولی سره نېولی دی.

الله ځان په ډېرو عظيمو صفتونو موصوف کړی دی، د قران په دوهم سور ت بقره کې يې الله پاک داسې صفت کوي (الم * ذَلِكَ الْكِتَابُ لَا رَيْبَ فِيهِ هُدًى لِلْمُتَّقِينَ * الَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِالْغَيْبِ وَيُقِيمُونَ الصَّلَاةَ وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنْفِقُونَ * وَالَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِمَا أُنْزِلَ إِلَيْكَ وَمَا أُنْزِلَ مِنْ قَبْلِكَ وَبِالْآخِرَةِ هُمْ يُوقِنُونَ ) [ سورت بقره : ۱ــ ٤ ]

ژباړه: الم * په دې کتاب ( قران ) کې ددې هېڅ شک نشته چې د متقيانو لپاره هدايت دی * هغه متقيان چې په مغيباتو باور لري او هم لمونځونه قائموي او له

هغه رزق څخه نفقه او خيرات کوي چې مونږ ورته ورکړې دی * او متقيان هغه خلک دي چې په ټولو هغه څه باور لري چې تا ته نازل شوي دي او پر هغه څه ايمان لري چې له تا نه مخکې نازل شوي دي او د اخرت په ورځ هم پوره يقين لري.

د سورت بقرې په منځ کې بيا الله پاک فرمايي (شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِي أُنْزِلَ فِيهِ الْقُرْآنُ هُدًى لِلنَّاسِ وَبَيِّنَاتٍ مِنَ الْهُدَى وَالْفُرْقَانِ ) [ سورت بقره: ۱۸۵ ]

ژباړه:رمضان هغه مياشت ده چې قران پکې نازل شوی دی چې د ټولو خلکو لپاره هدايت او لارښود دی او دهدايت داسې دلائل پکې دي چې حق او باطل سره توپيروي.

نو د سورت په اول او منځ دواړو کې ورته الله ( هدايت ) وويل چې هم د متقيانو او هم د ټولو خلکو لپاره هدايت دی، معنا دا ده چې قران عام تام هدايت دی هم د متقيانو او هم د غير متقيانو لپاره.

د متقيانو لپاره په دې معنا هدايت دی چې هغوی ترې ګټه اخلی او له نور (رڼا) څخه يې استفاده کوي او د غير متقيانو لپاره په دې معنا هدايت دی چې دوی ته د خير لارې هله ورښايي چې دوی کله د حق طلبګار وي نو قران د ټولو خلکو لپاره هم د دلالت په لحاظ او هم د ارشاد او توجيه په لحاظ هدايت دی، او هم په ځانګړې توګه بيا د متقيانو لپاره د توفيق په لحاظ هدايت دی چې د قران د اوامرو کلک پابند وي.

**ځکه هدايت په دوه قسمه دی**:د عمل او توفيق هدايت:دا ډول هدايت د مومنانو لپاره ځانګړی دی .

د دلالت او ارشاد هدايت : دا ډول هدايت بيا ګرد مخلوق ته شمول لري، د قران



WWW.LARKHUD.COM

کریم په وصف کې الله پاک فرمایي ( إِنَّ هَذَا الْقُرْآنَ يَهْدِي لِلَّتِي هِيَ أَقْوَمُ وَيُبَشِّرُ الْمُؤْمِنِينَ الَّذِينَ يَعْمَلُونَ الصَّالِحَاتِ أَنَّ لَهُمْ أَجْرًا كَبِيرًا * وَأَنَّ الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِالْآخِرَةِ أَعْتَدْنَا لَهُمْ عَذَابًا أَلِيمًا )[ سورت اسراء: ۹—۱۰ ]

ژباړه: په نهايت زيات باور سره چې دا قران هغې لارې ته ارشادات کوي چې سمه سيخه ده، او هغو مومنانو ته زيری ورکوي چې د شريعت برابر نېک عملونه کوي چې د دوی لپاره ډېر لوی لوی اجرونه دي * خو بيا هغه څوک چې په اخرت بې باوره دي نو په يقيني توګه مو ورله دردناک عذاب تيار کړی دی .

دلته د قران وصف الله پاک په دې سره وکړ چې هاغې لارې ته توجيهات کوي چې سمه سيده ده، او الله ته پرې د انسان رسيدګي کېدلی شي، که غواړې چې الله ته ورسېږې او د هغه جنتونو ته لاس رسی ولرې نو قران د تعمل لاندې راوله ځکه قران تا په هغه لاره روانوي چې کومه الله ته رسېدلې ده.

همدا ډول په بل ايت کې الله پاک قران په دې موصوف کړی دی چې قران ( روح ) دی، او د ورح يوه معنا دا هم ده چې په قران سره انساني جسم ته معنوي زندګي ورکړل کيږي او زړونه پرې ژوندي وي، په جسم کې چې کله هم ساه وي نو ژوندی وي خو چې ساه ترې لاړه شي نو جسم مړ شي له دې کبله خو الله پاک فرمايي (وَكَذَلِكَ أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ رُوحًا مِنْ أَمْرِنَا )[ سورت شوری : ۵۲]

ژباړه: همدا ډول مونږ په خپل حکم تا ته روح ( قران ) وحي کړی دی .

دلته په ايت کې له روح څخه قران مراد دی چې الله پاک خپل رسول ته وحي وکړی دی.

قران کريم د زړونو روح دی او د زړه روح له بدنونو له روح څخه ډېر خاص

الخاص ده، قران ته الله پاک ځکه روح وويل چې کله هم قران د زړه له بشاشت او ځلا سره ګډوډ شي نو زړه ورسره ژوندی او روښانه شي، بيا دغه زړه الله ډېر ښه پيژني او په دليل سره يې عبادت کوي، له الله څخه ډارېږي او خوف ورڅخه لري، مينه او محبت ورسره لري او د الله تعظيم او اجلال باندې عقيده لري، قران د زړه لپاره داسې متحرک روح دی لکه د بدن د حرکت لپاره چې ساه کوم رول لوبوي.

کله چې په بدن کې روح راشي نو بدن په حرکت او خوځښت کې هم راشي او ژوندی وي، همدا راز چې کله قران زړونو ته ننوځي مو زړه پرې ژوندی او له الله څخه يې په خوف او خشيت کې راولي، خو که زړونه چرته د الله پاک له خوف او خشيت څه تش تور وي نو داسې مري لکه بدن چې له ساه څخه تش تور او مړ شي.

نو مړګونه هم دوه دي او ژوندونه هم، مرګ هم په روح راځي او هم په بدن، او ژوند هم د روح وي او هم د بدن، د جسم او بدن زندګي کافر او مسلمان، پرهېزګار او فاسق دواړو ته يو شان حاصله وي، بلکې انسان او حيوان دواړو ته دا ډول زندګي ورکړل شوې ده، لنډه دا چې په ژوند کې هيڅ څوک له بل شي څخه توپير يا ځانګړنه نه لري.

توپير يواځې د زړه په ژوندون انسان ته حاصلېږي او هغه هم هغه انسان ته چې پرهېزګار، مومن او الله پاک ته منقاد وي.

کافر او حيوان دواړه د زړه ژوند نه لري که څه هم د جسم او بدن له زندګۍ څخه برخه من دي.

خو ولې مومن انسان دوه ډوله ژوند لري هم د جسم او هم د زړه، خو کافر بيا

ايکې يواځې بدني زندګي لري او د زړه نه.

د خبرې نچوړ دا دی چې الله پاک قران ته په دې معنا روح ويلي دی چې هم پرې زړونه راژوندي کيږي او هم يې په توسط د الله مهربان ذات سره نور او رڼا تر لاسه کيږي، قران د زړونو نجات، ژوند او د خالق او د تعريف او پېژندګلو سبب دی.

قران کريم ته الله پاک نور او رڼا ويلې ده، رڼا هغې محسوس ته ويل کيږي چې دانسان مخې ته لاره روښانه کوي ترڅو په کندو کپرو او ازغکو باندې ونه غورځيږي، او پر هغه لاره يې روانوي چې روغه رمټه ده.

خو که له چا سره نور او رڼا نه وي نو په تيارو او ظلمت کې به روان وي، نه خو به کندې کپرې ويني او نه ازغکي غني، او نه به هغه کومه سترې ستونزه چې لا يې دوی نه ويني.

که څه هم مونږ د لمر ، ډيوې او نورې محسوسې رڼاګانې پېژنو او د استعمال طريقه کار يې هم مونږ په لارو کوڅو او کورنو کې پېژنو او په سبب يې له موذي شيانو څخه ځانونه ژغورو او پوره احتياط کو.

خو د قران کريم رڼا معنوي رڼا ده، ټول هغه څه درته درښايي چې دنيوي او ديني دواړه ګټې لري او حق او باطل درته په ډاګه کوي، دا معنوي رڼا درته د جنتې لارو ښوونه کوي او دالله په مرسته به تر پايه بيا په دغه لاره روان يې، الله پاک فرمايي (يَاأَيُّهَا النَّاسُ قَدْ جَاءَكُمْ بُرْهَانٌ مِنْ رَبِّكُمْ وَأَنْزَلْنَا إِلَيْكُمْ نُورًا مُبِينًا * فَأَمَّا الَّذِينَ آمَنُوا بِاللَّهِ وَاعْتَصَمُوا بِهِ فَسَيُدْخِلُهُمْ فِي رَحْمَةٍ مِنْهُ وَفَضْلٍ وَيَهْدِيهِمْ إِلَيْهِ صِرَاطًا مُسْتَقِيمًا ) [ سورت نساء: ١٧٤ – ١٧٥ ]

ژباړه: ای خلکو تاسو ته مو د رب له پلوه دليل راغلی دی او تاسو ته مو ښکاره

رڼا نازله کړې ده * پس هغو خلکو چې په الله يې ايمان راوړی دی او د هغه په دين يې منګولې ښخې کړې دي نو الله پاک به يې په خپل رحمت او فضل کې ډېر زر ننباسي او د سمې نېغې لارې هدايت به ورته وکړي.

نو قران کريم هغه معنوي رڼا ده چې له تورتمونو څخه پرې انسان د هدايت لارې موندلی شي، له اور څخه پرې د جنت او له زيانمن څخه پرې ګټور پېژندلی شي.

په قران سره خير له شر څخه پېژندل کيږي، قران کريم ټولو نړيوالو ته د هغوی دنيوي او اخروي بهبود او نجات او کاميابۍ لاره ورښايي.

دتېر په څېر الله پاک قران ته فرقان ويلی دی، الله پاک فرمايي (تَبَارَكَ الَّذِي نَزَّلَ الْفُرْقَانَ عَلَى عَبْدِهِ لِيَكُونَ لِلْعَالَمِينَ نَذِيرًا ) [ سورت فرقان : ۱ ]

ژباړه: د برکت والا ذات هغه څوک دی چې په خپل بنده باندې يې فرقان ( دحق او باطل ترمنځ توپيرونکی کتاب ) نازل کړی دی ترڅو د ټولو خلکو لپاره ډارونکی جوړ شي.

دلته د فرقان معنا دا ده چې قران د حق او باطل ترمنځ او د هدايت او ګمراهۍ ترمنځ کامل فرق کوي.

ای مسلمانه! قران تا ته د هغو شيانو ترمنځ تميز کوي چې ايا ګټور او که تاواني دي؟ په هر کار خير درته امر کوي او له هر شر نه دې رابندوي، او په دنيوي او اخروي ټولو اړتيا وړ چارو باندې دې خبروي نو ځکه خو د باطل او حق ترمنځ فارق هم دی.

قران کريم ژوند دی، زړه پرې راژوندی کيږي مړ او ناجوړه زړه ته ژوند او روغتيا ورکوي.

الله پاک قران د شفا په صفت هم یاد کړی دی، هغه فرمايي ( يَاأَيُّهَا النَّاسُ قَدْ جَاءَتْكُمْ مَوْعِظَةٌ مِنْ رَبِّكُمْ وَشِفَاءٌ لِمَا فِي الصُّدُورِ وَهُدًى وَرَحْمَةٌ لِلْمُؤْمِنِينَ) [ سورت یونس: ۵۷ ]

ژباړه: ای خلکو تاسو ته مو له رب څخه پند او نصیحت او د سینو لپاره شفا او صحت راغلی دی، او د مومنانو لپاره هدایت او رحمت هم دی.

قران کریم له حسي او معنوي رنځونو څخه شفاء او صحت دی، د حسي رنځونو لپاره ځکه صحت دی چې کله په ناجوړه او له نظره شوي رنځور باندې ولوستل شي، یا پر هغه چا ولوستل شي چې د پیریانو غوټې پرې راځي نو د الله په اذن سره به په دې شرط روغ رمټ شي چې په رښتونې توګه له هغه زړه نه لوستل شوی وي چې په الله پوره باور او کامل یقین لري.

که د قران په قرائت د لوستونکي او رنځور دواړو پوره باور و نو دغه ډول رنځورانو ته الله پاک ډېر زر روغتیا ورکوي.

همدا راز قران کریم د معنوي رنځونو لپاره هم شفاء ده، انسان ته له شکونو شبهاتو او د کفر او نفاق له مرضونو نجات ورکوي، ځکه کفر او نفاق د انساني جسم لپاره تر هر څه ډېر ستونزمن رنځ دی، قران کریم هم زړه ته صحت ورکوي او هم ورڅخه هغه رنځونه پورته کوي چې زړه پرې ککړ وي، د تیر په څیر قران انساني بدن ته له حسي امراضو نه هم نجات ورکوي.

د بدن له رنځونو څخه د زړه رنځونه ډېر ستونزمن وي، ځکه د بدن رنځ که څه هم ډېر شي خو مرګ ترې منځ ته راشي او مرګ بې له رنځه هم راځي، الله پاک فرمايي (كُلُّ نَفْسٍ ذَائِقَةُ الْمَوْتِ) [ سورت آل عمران: ۱۸۵ ]

ژباړه: هر نفس مرګ لره څښونکی دی.

خو ولې د زړه رنځ بیا تر هر څه زیات ستونزمن دی، که د زړه په رنځ څوک اخته شي نو د تل لپاره به ومري او له کافرانو، یا فاسقانو او یا به هم له هغه چا له جملې څخه وګرځي چې کاږه زړونه لري، دا چې د زړه رنځ له بدن څخه د ډېر خطرې حامل دی نو شفاء یې هم بې له هغه قران څخه ناشونې ده چې الله پاک د شفاء لپاره نازل کړی دی، الله پاک فرمايي ( وَنُنَزِّلُ مِنَ الْقُرْآنِ مَا هُوَ شِفَاءٌ وَرَحْمَةٌ لِلْمُؤْمِنِينَ وَلَا يَزِيدُ الظَّالِمِينَ إِلَّا خَسَارًا) [سورت اسراء ۸۲]

ژباړه: او مونږ له قران څخه هغه څه نازلو چې هم د مومنانو لپاره شفاء او هم رحمت وي، او د قران دغه نزول د ظالمانو لپاره بې له تاوان نور څه نه زیاتوي.

نو الله پاک قران د مومنانو لپاره شفا ګرځولی ده او مومنان یې په دغه شفاء باندې خاص کړي دي، ځکه مومنان خپله داسې څوک دي چې له قران کریم څخه ګټه اخلي او د سمې لارې تالاش پرې کوي نو ځکه یې قران له زړونو څخه د شکونو او شبهاتو او د وسوسو رنځونه پورته کوي.

خو ولې منافقان او کافران او جمله مشرکان چې له قران کریم څخه ګټه نه اخلي او په خپل شرک قائم او دائم وي له خپل نفاق او کفر څخه اسلام ته نه راګرځي نو ځکه په یادو رنځونو هم ککړ دي مګر دا چې رښتنې توبه وباسي او الله ته رجوع وکړي.

قران کریم د دغو لوړو منزلو څښتن کتاب دی او دغه یې هغه ډېر صفتونه دي چې الله ورته په ګڼ شمېر ځایونو کې ورکړي دي، پوښتنه دا ده چې زمونږ دریځ باید له قران کریم څخه څه وي؟

زمونږ د مسلمانانو دریځ د قران متعلق دا دی چې قران پر مونږ لوی او درانه مسؤلیتونه لري چې ډېرو مهمو ته به یې دلته اشاره وکړو:

د قران زده کړه او ښوونه:

لومړی: د قران کريم زده کړه او ښوونه په مسلمانانو باندې واجبي حق دی، بايد ده چې مسلمانان خپلو ورونو او بچو ته قران کريم درس او تدريس کړي او يادولو ته يې ځانګړی پام ولري، څکه نبي صی الله عليه وسلم فرمايي (خَيْرُكُمْ مَنْ تَعَلَّمَ الْقُرْآنَ وَعَلَّمَهُ ) [ صحيح البخاري: ۵۰۲۷ ]

ژباړه: په تاسو کې غوره ترينه هغه څوک دی چې قران کريم زده کړي او نورو ته يې وښايي.

د حديث موخه هم دا ده چې څوک قران کريم خپله ياد کړي، ښه يې مضبوط کړي او بيا يې خپلو مسلمانانو ورونو ته د تعليم زيا وګالي يواځې پر ځان بسنه ونه کړي بلکې خير او ګټه نورو مسلمانانو ورونو او بچو ته هم ورسوي.

له مسلمان سره ښائيږي چې دقران په زده کړه ځانګړی اهتمام ولري او نه يواځې دا چې د قران د حروفو سمه سيده ادا زده کړي بلکې په يادو به يې دومره مضبوط زده کوي چې توان يې وي او د تهجي هغه تعليم يې هم تر لاسه کړي چې له مخې يې دا پرې سم صحيح نطق کولی شي.

د قران د حروفو د واجبي ادا په زده کړه کې ډېر خير دی، نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايي (وَالَّذِي يَقْرَأُ الْقُرْآنَ وَيَتَتَعْتَعُ فِيهِ، وَهُوَ عَلَيْهِ شَاقٌّ، لَهُ أَجْرَانِ ) [ صحيح مسلم:۷۹۸ ]

ژباړه: او هغه څوک چې قران په تته تته ژبه باندې په سختی سره لولي د هغه لپاره دوه اجرونه دي.

دا خو د هغه چا په حق کې چې قران د خپل توان په اندازه لولي او الله پاک



WWW.LARKHUD.COM

انسان په عبادتونو دومره مکلف کوي چې څومره د انسان توان وي، خو ترڅو چې د مسلمان توان وي نو د قران کريم لوستل به هېڅ چرته نه پرېږدي، خو که د چا ترځنګ د قران ښوونکی وي او دا ترې د قران کريم د سم صحيح قرائت زده کړه کولی شي نو واجب یې جوړېږي چې دقران سمه صحيح زده کړه وکړي او د قران په لوست باندې جاهل پاتې نه شي، نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايي (الْمَاهِرُ بِالْقُرْآنِ مَعَ السَّفَرَةِ الْكِرَامِ الْبَرَرَةِ، وَالَّذِي يَقْرَأُ الْقُرْآنَ وَيَتَتَعْتَعُ فِيهِ، وَهُوَ عَلَيْهِ شَاقٌّ، لَهُ أَجْرَان ) [ صحيح مسلم: ۷۹۸ ]

ژباړه: د قران پر لوست باندې ماهر انسان به د الله پاک استازو او نېکانو ملائکو مل او ملګری وي، او څوک چې قران په تته تته ژبه په سختۍ سره وايي نو د ده لپاره دوه اجرونه دي.

په حديث کې له (الماهر بالقران ) نه مراد هغه څوک دی چې  په سمه توګه د قران کريم لوستل کوي نو دا انسان به د قيامت په ورځ له هغو قدرمنو ملائکو مل وي چې ( سفرة ) ورته ويل شوي دي، سفرة د سفير جمع ده او سفره ملائک ورته ځکه ويل کيږي چې دوی د الله او بندګانو تر منځ د وحي او رسالتونو د راوړلو استازي دي، دوی د الله سفيران دي او الله پاک یې د خپلې مرضۍ له مخې خپلو بندګانو او پيغمبرانو ته د رسالتونو د راوړلو په موخه راستوي.

او ( کرام بررة ) ورته ځکه ويل کيږي چې دوی د الله په نيز د ډېر احترام والا او عزتمند دي، او ( بررة ) د ( بار ) جمع ده، او (بِـر) د نېکو کارنو انجامولو او اطاعت ته ويل کيږي.

نو مسلمانه وروره! دا لوړه مرتبه د هغه چا بدله ده چې صرف د قران کريم تلفظ سم دم کوي او په مطلوب انداز یې لولي، نو ډېر حرص وکړه چې ته هم د

كرام برره ملائکو د مجلس مل جوړ شي، خو که چا ته د قران لوست سخت او ګران وي نو هيڅکله دې قران کريم نه پرېږدي بلکې د خپل توان په اندازه دې ولولي ترڅو د قرانکريم د لوست لپاره ښه او بهترين ښوونکي وموي او صحيح قرائت ترې ياد کړي، ( لَا يُكَلِّفُ اللَّهُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا ) [ سورت بقره: ٢٨٦ ]

ژباړه: الله پاک په تکليف کې هيڅ نفس له توان پورته نه اچوي.

د قران تلاوت عبادت دی

دوهم: کله چې مونږ قران کريم زده کړو او سم صحيح لوستل يې ياد کړو او حروف يې په سمه توګه ادا کړی شو، نو نه يواځې په دې بايد بسنه ونه کړو، ضرور ده چې بارها يې تلاوت کړو ځکه د قران کريم لوستل عبادت دی او ډېر اجر او ثواب لري.

نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايي (مَنْ قَرَأَ حَرْفًا مِنْ كِتَابِ اللَّهِ فَلَهُ بِهِ حَسَنَةٌ، وَالحَسَنَةُ بِعَشْرِ أَمْثَالِهَا، لَا أَقُولُ الم حَرْفٌ، وَلَكِنْ أَلِفٌ حَرْفٌ وَلَامٌ حَرْفٌ وَمِيمٌ حَرْفٌ ) [ جامع الترمذي: ٢٩١٠ ]

ژباړه: څوک چې د الله له کتاب څخه يو حرف ولولي نو يوه نيکه به يې وشي، او يوه نيکي په لسو قبليږي، زه نه وايم چې الم يو حرف دی بلکې الف مستقل، لام مستقل او ميم مستقل حرف دی.

او نبي صلى الله عليه وسلم فرمايي (تَعَاهَدُوا هَذَا الْقُرْآنَ، فَوَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ لَهُوَ أَشَدُّ تَفَلُّتًا مِنَ الْإِبِلِ فِي عُقُلِهَا ) [ صحيح مسلم: ٧٩١ ]



WWW.LARKHUD.COM

ژباړه: قران بارها ولولئ، زما دې په هغه ذات قسم وي چې د محمد صلی الله علیه وسلم نفس یې په لاس کې دی قران ( له ذهن نه ) دومره زر تښتي ( وځي ) چې دومره اوښان له خپلو پړو نه هم زر نه شي تښتېدلی.

دلته یې موخه د قران کریم ډېر تلاوت دی، کله چې انسان له قران څخه غافله وي، ډېر وخت تېر شي او دی قران ونه لولي نو زړه یې د اعراض، د غفلت او قسوت په رنځ رنځور شي، خو که د قران کریم تلاوت ډېر کوي نو هم به یې زړه ژوندی وي او هم به یې ذهن او ذاکره.

له دې کبله من حیث یو مسلمان د هر چا لپاره مناسب دي چې میاشت تېرېدو کم ازکم باید ده پکې قران یو ځل لوستلی وي، خو که ټول قران په لسو ورځو کې یو ځل ختم کړي او په میاشت کې یې درې ځل نو ډېره به ښه وي، او که یې په اوو ورځو کې ختم کړي نو بیخي ډېر به ښه وي او که یې په دریو ورځو کې ختم کړ نو بیخي ډېر زیات به ښه وي.

څومره چې انسان قران لولي هومره یې ثواب او اجر کېږي او بصیرت یې روښانه کېږي او زړه یې ژوندی کېږي .

د قران تلاوت په هر حالت کې ثواب لري، په لمونځ کې او که د لمونځ نه بهر، که سپور وي او پیادل، ناست او که تکیه یې وهلې وي خو چې اودس یې وي، که اودس یې نه وي قران دې ولولي خو قران ته دې لاس نه وروړي، که چرته د جنابت په حالت کې وي نو تر هغه به قران نه لولي چې غسل یې نه وي کړي، خو که څوک قران کریم په لمونځ کې لولي نو غوره ده او که څوک یې په قیام اللیل کې ولولي نو هم ډېره غوره ده، الله پاک فرمایي (إِنَّا سَنُلْقِي عَلَيْكَ قَوْلًا ثَقِيلًا * إِنَّ نَاشِئَةَ اللَّيْلِ هِيَ أَشَدُّ وَطْئًا وَأَقْوَمُ قِيلًا ) [ سورت مزمل : ۵ – ٦]

ژباړه: مونږ په تا باندې درووند قول ( قران ) نازولو * د شپې په منځ کې منځ ته راغلې عبادت په زړه ښه اثر کوي او د قرائت له نګاه نه ډېر مبین ترین او واضحه وي.

څوک چې د شپې په تهجدو کې قران لولي له هغه قرائت څخه بهتره دی چې یا یې څوک په ناسته لولي او یا یې د ورځې په لمونځ کې که څه هم د قران کریم لوستل په هر وخت کې عبادت شمېرل کیږي خو ولې د وختونو او احوالو په تفاوت یې درجه هم تغییر خوري .

کله چې انسان د فرض څلور رکعتیز یا درې رکعتیز لمونځ په لومړنیو دوو رکعتونو کې اوږد قرائت وکړي هومره غوره دي، له دې کبله خو الله پاک قران ته لمونځ ویلې دی، الله پاک فرمايي (وَلَا تَجْهَرْ بِصَلَاتِكَ وَلَا تُخَافِتْ بِهَا وَابْتَغِ بَيْنَ ذَلِكَ سَبِيلًا ) [ سورت اسراء: ۱۱۰ ]

ژباړه: د قران قرائت دې مه ډېر ښکاره کوه او مه پرې پټوالی کوه.

دلته ترې مطلب دا دی چې قران دې په لمونځ کې دومره ښکاره هم مه وایه چې مشرکان یې واوري او دومره قلاره یې هم مه وایه چې خپل ملګري دې نه اوري.

د تېر په څېر الله پاک قران ته هم لمونځ ویلی دی، لکه الله پاک فرمايي (وَقُرْآنَ الْفَجْرِ إِنَّ قُرْآنَ الْفَجْرِ كَانَ مَشْهُودًا * وَمِنَ اللَّيْلِ فَتَهَجَّدْ بِهِ نَافِلَةً لَكَ ) [ سورت اسراء: ۷۸ – ۷۹ ]

ژباړه: او د سهار لمونځ قائم کړه ، د سهار لمونځ ته ملائک حاضریږي، او د شپې له مخې دې په تهجدو کې هم قران ووایه ستا لپاره به په قدر او احترام کې زیادت راولي.

نو دلته د سهار لمونځ ته الله پاک قران ووایو او دا یواځې په دې خاطر چې د نورو لمونځونو په نسبت ورپکې قران ډېر لوستل کیږي.

خلاصه دا شوه چې الله سبحانه وتعالی له مونږ څخه غواړي او امر راته کوي چې مونږ قران کریم ولولو او په لمونځونو کې ډېر قران ووایو، که لمونځ نفل وي او که فرض، او د خپل ژوند په نورو حالتونو کې هم باید قران ولولو که مونږ ناست یو او که ولاړ، که سپاره یو او که ملاست، نبي کریم صلی الله علیه وسلم به خپله د قران کریم ډېر زیات تلاوت کو، هغه مهال به یې د قران له تلاوت ډډه کوله چې دجنابت په حالت کې به و، همدارنګه د حیض او نفاس په حالت کې د ښځې لپاره هم د قران کریم د لوستلو جواز نشته، ځکه دا حدث اکبر دی او دا ډول بې اودسي انسان له قراني تلاوت څخه رابندوي، همدا ډول د قران تلاوت په پلیتو ځایونو کې هم ناروا دی، لکه حمام، خو ولې په پاکو او مقدسو ځایونو کې مناسب دي چې انسان د توان په اندازه قران ولولي، که هغه له یادو څخه او که له قران څخه وي، ترڅو د تلاوت په هغو اجرونو او ثوابونو د برخې خاوند جوړ شي چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم ترې مونږ خبر کړي یو، هغه فرمایي (مَنْ قَرَأَ حَرْفًا مِنْ كِتَابِ اللهِ فَلَهُ بِهِ حَسَنَةٌ، وَالحَسَنَةُ بِعَشْرِ أَمْثَالِهَا، لَا أَقُولُ الم حَرْفٌ، وَلَكِنْ أَلِفٌ حَرْفٌ وَلَامٌ حَرْفٌ وَمِيمٌ حَرْفٌ )[ جامع الترمذي: ۲۹۱۰ ]

ژباړه: څوک چې د الله له کتاب څخه یو حرف ولولي نو یوه نیکه به یې وشي، او یوه نیکې په لسو قبلیږي، زه نه وایم چې الم یو حرف دی بلکې الف مستقل، لام مستقل او میم مستقل حرف دی.

په بل حدیث کې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي (وَمَا اجْتَمَعَ قَوْمٌ فِي

بَيْتٍ مِنْ بُيُوتِ اللهِ، يَتْلُونَ كِتَابَ اللهِ، وَيَتَدَارَسُونَهُ بَيْنَهُمْ، إِلَّا نَزَلَتْ عَلَيْهِمِ السَّكِينَةُ، وَغَشِيَتْهُمُ الرَّحْمَةُ وَحَفَّتْهُمُ الْمَلَائِكَةُ، وَذَكَرَهُمُ اللهُ فِيمَنْ عِنْدَهُ ) [ صحيح مسلم: ٢٦٩٩ ]

ژباړه: هېڅ قوم د الله په کوم کور کې د الله د کتاب د لوستلو او درس تدريس لپاره نه راټوليږي مګر سکينت پرې نازليږي او د الله رحمت يې په ځان کې پټوي او ملائک ترې ارد ګرد وي، او الله پاک يې ياد او ذکر په خپل مجلس کې هم کوي.

همدارنګه الله پاک فرمايي ( إِنَّ الَّذِينَ يَتْلُونَ كِتَابَ اللهِ وَأَقَامُوا الصَّلَاةَ وَأَنْفَقُوا مِمَّا رَزَقْنَاهُمْ سِرًّا وَعَلَانِيَةً يَرْجُونَ تِجَارَةً لَنْ تَبُورَ * لِيُوَفِّيَهُمْ أُجُورَهُمْ وَيَزِيدَهُمْ مِنْ فَضْلِهِ إِنَّهُ غَفُورٌ شَكُورٌ ) [ سورت فاطر: ۲۹ – ۳۰ ]

ژباړه: هغه خلک چې د الله کتاب لولي او لمونځونه قائموي او له هغه رزق څخه پټې او ښکاره نفقې کوي چې مونږ ورته ورکړی دی، په دې سره دوی د داسې تجارت اراده لري چې بيخي به برباد نه شي * په دې خاطر چې الله پاک ورته پوره پوره نيکې بدلې ورکړي او خپل اضافي نور فضل او احسان هم ورکړي، الله پاک ډېر بخشش کونکی او ډېر ثواب ورکونکی دی.

دلته الله پاک خپل بندګان په دې توصيف کړل چې دوی د الله د کتاب ډېر تلاوت کوي او په تلاوت يې اجر او ثواب غواړي، برسېره پر دې لمونځونه په ښه توګه قائموي او د الله د ورکړي رزق نه د ثواب په نيت باندې ښکاره او پټ خيراتونه کوي.

د قران کريم په معناګانو او اسرارو کې سوچ او غور کول

دريم: يواځې په دې بسنه بايد ونه شي چې مونږ قران کريم زده کړو او ډېر ډېر تلاوت يې وکړو اوبس، ضرور ده چې په معناګانو کې يې له سوچ او غور نه کار واخلو، اسرار يې وپېژنو او د الله عظمت او اسماء او صفات پرې وپېژنو، د هغو امتونو له واقعو او قيصو کې له تعقل او تدبر نه بايد کار واخلو چې مخکې تېر شوي دي، که هغوی مسلمانان وي او که کافران.

له هغو عذابونو څخه بايد درس زده کړو چې د الله په مکذّبينو او جرم پېشه عناصرو باندې واقع شوي و، او د مومنانو بندګانو له هغې الهي اکرام څخه هم درس زده کړو چې الله يې اکرام او قدر کړی دی، ضرور ده چې په قران کريم کې د اخرت د ورځې او د حساب او کتاب نه پوره پوره درس واخلو چې هلته به اعمال تلل کيږي او عمل نامې به ورکړل کيږي، هلته به د جنت او دوزخ فيصلې کيږي او دغه ورځ ډېر ستر اهوال او سترې ستوماني لري، بايد ده چې له سوچ او غور نه کار واخلو چې له مرګ نه وروسته څه څه نه دي راروان! په قبر کې څه ډول حالات دي! دا ټول هر څه راته قران کريم ډېر په تفصيل سره بيان کړي دي، دا زمونږ د مستقبل اړوند امور دي او هرومرو به ورته مونږ ورځو زمونږ لپاره ډېره ضرور ده چې له نيکو عملونو څخه توښه واخلو او له حرامو او ناوړو کارونو څخه ځانونه وژغورو، ضرور ده چې بايد د شرعي احکامو متعلق فکر او غور وکړو ځکه شريعت مونږ ته حرام او حلال دواړه په ډېر ښه توګه توضيح کړي دي، او راته يې ښودلي دي چې کوم کارونه او صفات له مونږ سره مناسب دي او کوم نه، الله پاک فرمايي (كِتَابٌ أَنْزَلْنَاهُ إِلَيْكَ مُبَارَكٌ لِيَدَّبَّرُوا آيَاتِهِ وَلِيَتَذَكَّرَ أُولُو الْأَلْبَابِ ) [ سورت ص: ۲۹ ]

ژباړه: تا ته دا وحي شوی کتاب ډېر برکتي کتاب دی په دې خاطر چې دوی

یې په ایتونو کې له غور نه کار واخلي او دعقل څښتنان ترې پند او نصیحت واخلي.

په دې ایت کې الله پاک د قران د نزول سپېڅلی هدف په ډاګه کړ چې مونږ یې باید په ایتونونو کې سوچ او غور وکړو او په معناګانو او مدلولاتو، او د قران په اسرارو اخبارو کې له تعقل او تفکر نه کار واخلو ترڅو هدایت پرې ومومو او ګټه له قران کریم څخه واخلو، له الله څخه چې ایکې یواځې دی او هیڅ شریک نه لري د هغه په عبادت کې به په مونږ کې خشوع پیدا شي، نیک عملونه به ترسره کو او له بدو به ځانونه رابندو، او دا ټول هر څه هله ترلاسه کیږي چې مونږ په قران کریم سوچ او غور وکړو.

الله پاک د قران صفت کړی دی چې قران په ټولې معنا باندې برکتي کتاب دی، که څوک پکې سوچ غور وکړي نو دغه برکت به ترلاسه کړي، که څوک یې په زده کړه بوخت وي نو کولی شي دغه برکت تر لاسه کړي، که څوک یې تلاوت کوي هم کولی شي دغه برکت ترلاسه کړي، که څوک پرې عمل درامد ولري هم به دغه برکت تر لاسه کړي خو چې څوک ورته څومره نزدې کیږي نو دغه برکتونه به ترلاسه کولی شي.

الله پاک فرمایي: (أَفَلَا يَتَدَبَّرُونَ الْقُرْآنَ وَلَوْ كَانَ مِنْ عِنْدِ غَيْرِ اللَّهِ لَوَجَدُوا فِيهِ اخْتِلَافًا كَثِيرًا ) [ سورت نساء: ۸۲ ]

ژباړه: ایا دوی په قران کریم له غور څه کار نه اخلي؟ خو که قران کریم له الله پرته د بل چا له پلوه راغلی وی نو دوی به پکې ډېر زیات اختلاف کتلی وی.

پر هغو خلکو الله پاک له قران څخه اعراض ډېر بد ګڼلی دی چې له قران څخه مخ اړوي، او همدغه اعراض یې د دې لامل جوړ شوی دی چې په

حيرت او ګمراهۍ کې يې اچولې دي خو که د دې پر ځای يې د الله په کتاب کې سوچ کړی وی او د پند او نصيحت په خاطر يې قران ته تول پام راړولی و نوهرومرو به يې هدايت موندلی وی او په دې به هم پوهېدلی وی چې قران کريم په واقعيت کې د الله کلام دی او منځپانګه کې هيڅ تناقض نه لري بلکې هر ايت او مضمون يې يو بل تصديقوي او ځينې برخه يې د نورې برخې تفسير دی، په حسن او بلاغت او په صدق او اعجاز کې هر ايت او برخه يې له بل سره مشابهت لري.

په قران کريم کې هيڅ منځنی اختلاف نشته بلکې هره برخه يې بله تصديقوي او وضاحت يې کوي، هره برخه يې د بلې تاييد کوي، دا کتاب متشابه او خپل منځ کې د يو بل مؤيد کتاب دی، الله پاک فرمايي (اللَّهُ نَزَّلَ أَحْسَنَ الْحَدِيثِ كِتَابًا مُتَشَابِهًا) [سورت زمر: ۲۳]

ژباړه: الله پاک داسې ښايسته خبرې نازلې کړي دي چې ( په حسن او بلاغت، په اتقان او صدق او د يو بل په تفسير کې ) متشابه کتاب دی.

اما د مخلوق کلام کې بيا بلا ډېر خلل وي ځکه چې مخلوق خپله ناقص دی او تناقض لري، يوه خبره يې بله دروغجنوي، خو ولې د خالق کلام بيا داسې نه وي ځکه چې هغه له نقص څخه پاک او منزّه دی، او کتاب يې هم متقن او محکم کتاب دی نه کوم خلل لري او نه نقصان، دا په دې ښکاره دليل دی چې نزول يې د الله پاک له پلوه شوی دی، الله پاک فرمايي (الر كِتَابٌ أُحْكِمَتْ آيَاتُهُ ثُمَّ فُصِّلَتْ مِنْ لَدُنْ حَكِيمٍ خَبِيرٍ) [ سورت هود: ۱ ]

ژباړه: الر، دا قران داسې کتاب دی چې ايتونه يې پاخه او محکم دي، او د حکمت د څښتن او باخبره ذات له پلوه يې ايتونه په تفصيل سره بيان شوي دي.

کله چې ته قران کريم په سوچ او غور ولولې، زړه د تلاوت په مهال حاضر وي او په معناګانو کې يې فکر کوې، نو ډېر وهمونه به درڅخه وکوچوي او لوی لوی وسوسې به درڅخه پورته کړي، په زړه کې به دې تسکين او اطمئنان پېدا کړي او ايمان به درپکې مضبوط کړي، الله پاک فرمايي (إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ إِذَا ذُكِرَ اللَّهُ وَجِلَتْ قُلُوبُهُمْ وَإِذَا تُلِيَتْ عَلَيْهِمْ آيَاتُهُ زَادَتْهُمْ إِيمَانًا وَعَلَى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ * الَّذِينَ يُقِيمُونَ الصَّلَاةَ وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنْفِقُونَ * أُولَئِكَ هُمُ الْمُؤْمِنُونَ حَقًّا ) [سورت انفال: ۲ – ٤]

ژباړه: په باوري توګه مومنان هغه خلک دي چې کله هم ورته الله پاک ياد کړی شي نو زړونه يې ولړزيږي، او چې کله ورباندې د قران ايتونه لوستل کيږي نو ايمان ورله زيات کړي او دوی په خپل رب باندې بروسه لري * مومنان هغه خلک دي چې لمونځونه قائموي او چې مونږ ورته کوم رزق ورکړی دی له هغې څخه خيرات او صدقه کوي* همدوی سم صحيح مومنان دي.

نو په غور او سوچ د قران کريم تلاوت کول د بنده مسلمان ايمان زياتوي، الله پاک فرمايي (فَأَمَّا الَّذِينَ آمَنُوا فَزَادَتْهُمْ إِيمَانًا وَهُمْ يَسْتَبْشِرُونَ ) [ سورت توبه: ۱۲٤ ]

ژباړه: کوم چې هغه خلک دي چې ايمان يې راوړی دی نو قران ورله ايمان نور هم زيات کړي او دوی پرې خوشحاله وي.

نو چې څومره انسان په قران کې په سوچ او غور تلاوت زياتوي هومره يې ايمان زياتيږي، يقين يې پياوړی کيږي، زړه ته يې اطمئنان حاصليږي او علم او فقاهت يې وده کوي، نه علماء کرام د قران کريم په تلاوت مړيږي او نه د قران

عجائب پای مومي او نه د بار بار تلاوت له مخې بې مزې کيږي.

د مرتدينو او کوږ زړو اړوند الله پاک فرمايي (فَهَلْ عَسَيْتُمْ إِنْ تَوَلَّيْتُمْ أَنْ تُفْسِدُوا فِي الْأَرْضِ وَتُقَطِّعُوا أَرْحَامَكُمْ * أُولَئِكَ الَّذِينَ لَعَنَهُمُ اللَّهُ فَأَصَمَّهُمْ وَأَعْمَى أَبْصَارَهُمْ * أَفَلَا يَتَدَبَّرُونَ الْقُرْآنَ أَمْ عَلَى قُلُوبٍ أَقْفَالُهَا * إِنَّ الَّذِينَ ارْتَدُّوا عَلَى أَدْبَارِهِمْ مِنْ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمُ الْهُدَى الشَّيْطَانُ سَوَّلَ لَهُمْ وَأَمْلَى لَهُمْ * ذَلِكَ بِأَنَّهُمْ قَالُوا لِلَّذِينَ كَرِهُوا مَا نَزَّلَ اللَّهُ سَنُطِيعُكُمْ فِي بَعْضِ الْأَمْرِ وَاللَّهُ يَعْلَمُ إِسْرَارَهُمْ ) [ سورت محمد: ۲۲ – ۲٦ ]

ژباړه: اوس ايا ستاسې له دې پرته د نور څه هيله نه شي کېدلی چې که قدرت ولرئ نو يا به له اطاعت څخه په شا واوړئ او خپلولي به ونه پالئ؟ * دوی همغه خلک دي چې الله پرې لعنت کړی دی او کاڼه او ړانده کړي يې دي * ايا دوی په قران کريم له غور څخه کار ولې نه اخلي؟ او که نه په زړونو يې قلفونه وهل شوي دي * حقيقت دا دی چې کوم خلک چې د هدايت له روښانه کېدو څخه وروسته بېرته په شا وګرځېدل دغو لپاره شيطان دغه کړنلاره اسانه کړې ده او د دروغجنو هيلو لړۍ يې د هغو لپاره اوږده کړېده * له همدې امله دوی د الله د نازل کړي دين بد ګڼونکو ته وويل چې په ځينو چارو کې به مونږ ستاسې حکم ومنو، الله د دوی په دغو پټو خبرو ښه پوهيږي.

خو که دوی په قران کريم کې سوچ او غور کړی وی نو دغه رنځونه او قبيح عوارض به يې له منځه تللی وی او خپلولي به يې پاللی وی او د ټولو هغو شيانو د پاللو خاص خيال به يې ساتلی وی چې الله يې په پاللو امر کړی دی، خو دا چې دوی ورڅخه اعراض وکړ او په ايتونو کې يې ورله سوچ فکر ونه کړ نو

ځکه خو په دغو مصيبتونو باندې وازمول شول او خپلولیانې یې هم له کبله ونه پاللې او د لعنت جوګه وګرځېدل ان چې په ردت کې واقع شول، دا ټول هر څه په دې خاطر چې په قران کې یې سوچ او فکر نه کو، او د قران له فهم څخه يې زړونه بند او قلف وساتل ( أَمْ عَلى قُلُوْبٍ أَقْفَالُهَا ) .

نو کله چې انسان له قران کريم څخه اعراض وکړي هم يې زړه سخت شي او هم رنځور، او په پای کې پرې قلفونه ووهل شي بيا ورته هدايت رسيدګي هم نه شي کولی او نه يې ايماني نور روښانه کولی شي، دا يواځې په دې خاطر چې الله ورته په دنيا کې دا سزا ورکوي – نعوذ بالله – ځکه خو امام ابن القيم رحمه الله وايي:

فَتَدَبُرِ القُرْآنَ اِنْ رُمْتَ الهُدَى
فَالْعِلْمُ تَحْتَ تَدَبُرِ القُرْآنِ

ژباړه: كه هدايت او مستقيمه لاره غواړې نو په قران کې له سوچ او غور نه کار واخله، ټول علم او فقاهت په قران کې سوچ او غور کولی کې دی.

<u>په قران باندې عمل کول</u>

څلورم: له مونږ څخه يواځې دا بسنه نه کوي چې قران کريم زده کړو او قران کريم ولولو او غور سوچ هم پکې وکړو، نا ، بلکې څلورم کار هم ډېر ضرور دی چې هرورمرو بايد عمل پرې هم وکړو، مطلب حلالو ته يې حلال او حرامو ته يې حرام ووايو، اوامر يې ومنو او له نواهيو څخه يې ځانونه وژغورو.

مخکې چې مو د قران کريم د تعلم او زده کړې، د قران کريم د تلاوت او سوچ

فکر وړيـکې کول څومره معلومات ورکړل دا ټول قران باندې عمل کولو ته وسيله ده، که يواځې قران په سوچ او غور تلاوت کړو او عمل پرې پرېږدو نو د لارې په سر کې به ولاړ يو او هيڅ ګټه به لاس ته رانه وړو، او ټول زيار او سترړيا به مو بې ګټې وي، ځکه په اسبابو به مو ځان ستړی کړی وي او ثمره او نتيجه مو روله پرېښوده، ځکه ميوه يې خپله بېرته په قران کريم باندې عمل کول دي، الله سبحانه وتعالى فرمايي ( إِنَّ الَّذِينَ يَتْلُونَ كِتَابَ اللَّهِ وَأَقَامُوا الصَّلَاةَ وَأَنْفَقُوا مِمَّا رَزَقْنَاهُمْ سِرًّا وَعَلَانِيَةً يَرْجُونَ تِجَارَةً لَنْ تَبُورَ * لِيُوَفِّيَهُمْ أُجُورَهُمْ وَيَزِيدَهُمْ مِنْ فَضْلِهِ إِنَّهُ غَفُورٌ شَكُورٌ ) [ سورت فاطر: ٢٩ – ٣٠ ]

ژباړه: هغه خلک چې د الله کتاب لولي او لمونځونه قائموي او له هغه رزق څخه پټې او ښکاره نفقې کوي چې مونږ ورته ورکړی دی، په دې سره دوی د داسې تجارت اراده لري چې بيخي به برباد نه شي * په دې خاطر چې الله پاک ورته پوره پوره نېکې بدلې ورکړي او خپل اضافي نور فضل او احسان هم ورکړي، الله پاک ډېر بخشش کونکی او ډېر ثواب ورکونکی دی.

دا ايتونه په دې دلالت کوي چې دغو مومنانو يواځې دقران کريم په تلاوت بسنه نه وه کړې، بلکې لمونځونه به يې هم قائمول وروسته له دې چې د قران کريم تلاوت به يې په سمه ښه وکړ، همدا ډول به يې زکاتونه او صدقات هم ورکول او له ګرد مخلوق سره به يې نېک برتاو کو، دې ته د ايمان ثمره ويل کيږي چې په قران باندې عمل وکړی شي، ځکه په قران باندې عمل کولو سره قران ستا لپاره د الله پاک په دربار کې دليل جوړيږي، نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايي (وَالْقُرْآنُ حُجَّةٌ لَكَ أَوْ عَلَيْكَ ) [ صحيح مسلم: ٢٢٣ ]

ژباړه: قران ستا لپاره او يا پر تا باندې دليل دی.

د قيامت په ورځ به يې له تا څخه الله پاک پوښتنه کوي، الله پاک فرمايي (أَلَمْ تَكُنْ آيَاتِي تُتْلَى عَلَيْكُمْ فَكُنْتُمْ بِهَا تُكَذِّبُونَ ) [ سورت مومنون: ۱۰۵]

ژباړه: ايا زما ايتونه به پر تاسو نه لوستل کېدل چې تاسو به ورته د دروغو نسبت کو؟

او الله پاک فرمايي ( قَدْ كَانَتْ آيَاتِي تُتْلَى عَلَيْكُمْ فَكُنْتُمْ عَلَى أَعْقَابِكُمْ تَنْكِصُونَ ) [ سورت مومنون: ٦٦]

ژباړه: پر تاسو باندې به زما ايتونه لوستل کېدل نو تاسو به خپلو پوندو باندې په شا ګرځېدلئ.

د قيامت په ورځ به الله پاک جمله کافرانو او دوزخيانو ته وايي چې ايا ما درته په قران کريم کې دا مصير او بد انجام نه و په ډاګه کړی؟ هغه هم په دې خاطر چې تاسو ورڅخه ځانونه وژغورئ او نيک عملونه وکړئ ترڅو مو له دوزخ څخه وساتي.

نو که څوک ايکې يواځې د قران کريم ايتونه زده کړي، تلاوت يې کړي او سوچ غور سره يې ولولي خو ولي عمل پرې ونه کړي نو دې انسان پر ځان قران کريم دليل وګرځو ، له دې کبله ځيني سلف صالحين وايي: ځيني قاريان داسې هم وي چې که څه هم قران کريم لولي خو قران کريم به پرې لعنت وايي، چا وپوښتل چې دا څنګه کېدلی شي، هغه ووېل: ځکه قاري د الله پاک دا قول وايي چې ( فَنَجْعَلْ لَعْنَتَ اللهِ عَلَى الْكَاذِبِينَ ) [ سورت ال عمران: ٦١]

ژباړه: نو مونږ به د الله لعنت په دروغجنانو باندې وګرځو.

قاري دا ايت لولي او بيا هم دروغ وايي.

همدا راز قاري د الله پاک دا قول لولي (أَلَا لَعْنَةُ اللهِ عَلَى الظَّالِمِينَ ) [ سورت

هود: ١٨ ]

ژباړه: خبردار ! په ظالمانو باندې دې د الله لعنت وي.

او بیا هم ظلم کوي.

د قران کریم له نزول څخه یواځې په خوش اوازې باندې لوستل بیخي موخه نه ده او نه دا بسنه کوي او نه کومه ګټه لري، ځینې خلکو خو د قران کریم تلاوت بیخي د خوش اوازۍ لپاره کار او پیشه ګرځولې ده چې خلک ورباندې ځان ته متوجه کوي، په خایسته اواز باندې قران کریم لولي او خلکو ته پرې خوند او مزه ورکوي، خو که د عمل او تطبیق پوښتنه یې اړوند وکړې نو له لږ عمل پرته به نور هیڅ ونه وینې، نو دا هیڅ ګټه او فایده نه لري.

سمه ده چې قران کریم باید په ښایسته اواز ولوستل شي او حروف یې دې سم ادا شي، هم اثر لري او هم له قران کریم سره وړ او لایق دي، خو اصلي هدف دا نه دی ، اصلي هدف دا دی چې انسان باید له قران کریم څخه ګټه او فایده واخلي او له اورېدو سره پرې خشوع او له الله څخه ډار ولیدل شي.

له دې کبله خو نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته پسند هم دا و چې قران کریم له نورو څخه واوري، هغه له ابوموسی اشعري رضي الله عنه نه قران کریم اورېدو او د هغه اواز هم ډېر ښایسته و.

همدا راز یې عبدالله بن مسعود رضي الله ته وویل چې قران ورته واوروي، هغه ورته وویل: زه به درته څنګه قران درو واوروم او حالانکه نازل شوی هم پر تا باندې دی؟ هغه ورته وویل: دا راته ډېره پسنده ده چې له بل څخه یې واورم، نو عبدالله بن مسعود رضي الله عنه ورته سورت نساء شروع کړه، چې څنګه دې قول ته ورسېد (فَكَيْفَ إِذَا جِئْنَا مِنْ كُلِّ أُمَّةٍ بِشَهِيدٍ وَجِئْنَا بِكَ عَلَى هَؤُلَاءِ شَهِيدًا

)[ سورت نساء: ٤١ ]

ژباړه: د قيامت په ورځ به بيا د خلکو څه حالت وي چې مونږ پرې خپل رسول ګواه راولو او تا به هم په دې خلکو باندې ګواه راولو.

نو نبي صلی الله علیه وسلم ورته وويل: همدومره بسنه کوي، خو چې ما ورته وکتل نو له دواړو سترګو يې اوښکې رواني وې.

دا په دې باندې دلالت کوي چې د قران د لوست په مهال د اورېدونکي نيت بايد خشوع وي هسې تلذذ او مزه اخستل نه وي چې د الله له کلام څخه يې واخلي.

الله پاک فرمايي (وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوا لَهُ وَأَنْصِتُوا لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ [ سورت أعراف: ٢٠٤]

ژباړه: چې کله هم قران کريم لوستل کېږي نو سم صحيح غوږ ورته کېږدئ او ورته خاموش شئ اميد دی چې رحم درباندې وشي.

له قران سره بايد د مسلمانانو ادب دا وي چې ورته خاموش وي، اما که څوک د تلذذ لپاره قران کريم لولي يا ورته خاموش وي نو هيڅ ګټه به ونه کړي، ګټور هغه څوک دی چې د الله د کلام د لوست يا اورېدو په مهال ورېکې خشوع وي، هم د الله په کلام پوهيږي او هم پرې ځان پوهوي او عملورباندې کوي، د الله پاک کلام ايکې يواځې په دې خاطر اوري چې الله ورڅخه خوشحاله شي نه يې موخه ريا او نيک نامي وي، نه يې نيت خوش اوازي او نه له خوږو اوازونو څخه مزه اخستل وي، دا ټول شيان تر هغه انسان ته ګټه نه رسوي چې په مخکنو عظيمو صفتونو يې عمل نه وي کړی.

له الله رب کريم څخه غواړم چې مونږ او تاسو هغه اهل القران وګرځوي چې

تلاوت یې هم په صحیح معنا کوي او او سوچ فکر هم وریکې په صحیح معنا کوي، هم پرې عمل کوي او هم یې عملونه د الله پاک په خاطر وي، الله پاک اوریدونکی او دعا قبلونکی دی.

په جهل باندې د قران کریم تفسیر نه کول:

پنځم: دا واجب دي چې د قران کریم تفسیر باید په جهل او جهالت سره ونه شي، نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي (وَمَنْ قَالَ فِي الْقُرْآنِ بِرَأْيِهِ فَلْيَتَبَوَّأْ مَقْعَدَهُ مِنَ النَّار ) [ جامع الترمذي: ۲۹۵۱ ]

ژباړه: د قران کریم تفسیر چې څوک په خپلې ترو (فکر او عقل) سره وکړي نو په اور کې یې د ځان لپاره ځای جوړ کړ.

ضرور ده چې د قران تفسیر په قران، یا په نبوي حدیثونو، یا د صحابه کرامو په اقوالو، یا د تابعینو په اقوالو او په هغو عربي اسلوبونو چې د عربی تقاضا وي، خو ولې په عقل او رایي باندې د قران کریم تفسیر هم حرام دی او هم پرې سخترین وعید راغلی دی او دا ډول تفسیر په الله باندې دروغ تړل هم دي.

د عقلي او بالرأي تفسیر له جملې څخه ځینې هغه تفسیرونه هم دي چې جاهلانو لیکلي دي او زیاتره یې آتکل دي، منځنی تضاد، تناقض، او بلا تغییر لري، ځینې خبرې یې نورې خبرې تکذیبوي نو د دې خو بیخي جواز نه پیدا کیږي چې د الله د کتاب د تفسیر په نوم دې یاد شي، ځینې جاهلان راولاړ شي دغه ډول لیکنې وکړي او د اعجاز علمي نوم پرې کیږدي، دا ډېر خطرناک کار دی او د الله په کتاب باندې ملنډې وهل دي ضرور ده چې مسلمانان ورڅخه وډارول شي، الله دې ټول مسلمانان د ګټور علم او نیک

WWW.LARKHUD.COM

عمل لپاره موفق ولري.

وصلى الله وسلم على نبينا محمد وعلى آله و صحبه وسلم.

WWW.LARHKUD.COM

# خَلَلٌ فِي الاِلْتِزَامِ

په واجباتو کې

# د مسلمان کوتاهي

WWW.LARKHUD.COM

ژباړن: لقمان حکیم حکمت

د ژباړن سريزه

الحمدلله، والصلاة والسلام على رسول الله، وعلى آله و أصحابه ومن والاه، ومن دعا بدعوته ومن اهتدى بهداه، اما بعد:

د اسلامي شريعت د نصوصو په رڼا کې د ځان او بيا د ټولنې اصلاح د اسلامي شريعت او مبين دين ستر هدف دی، د هېنداري په څېر مسلمان په خاموش انداز خپل عيب ته متوجه کول د انسانيت فريضه ده ترڅو هغه خوګاني له منځه ولاړې شي چې هم د الله د رضا مخې ته خنډ او خار دي او هم پرې انساني ټولنه له پرمختګ څخه په ټپه ولاړه ده.

له رب کريم څخه پوره يقين لرم چې زمونږ په وګړيز او ټولنيز نظام کې د شته خوګانو لپاره به دا کرښې او ژباړل شوي ديني ارشادات دارو درمل شي او الله دې دارو درمل کړي.

الله دې دا وړه علمي او له خيرخواهۍ څخه ډکه رساله د مسلمانانو لپاره په ګټه تمامه کړي، رب کريم دې دا کوچني خدمت ليکوال، ژباړن، لوستوال او د چاپ مالي او معنوي مرستندويانو ته په خير او سعادت تمام کړي.

لقمان حکيم حکمت
Hekmat۰۳٤٤@gmail.com
۱٤۳۸/۱۲/۰۹

٢٠١٧/٠٨/٣١

WWW.LARKHUD.COM

الحمدلله الهادي الى صراطه المستقيم، والصلاة والسلام على من بعثه الله رحمة للعالمين، أما بعد:

د الله دين ته هدايت او پر دين سربښندنه د الله پاک ستره لورينه ده او د خپلې مرضۍ له مخې يې پر خپلو هغو بندګانو کوي چې خوښه يې شي او هغه ته يې ورښکاري.

خو دا چې زړه پرې خوشحاليږي او د انسان سينه پرې يخيږي دا ده چې الحمدلله مونږ په هر وخت او ځای کې داسې ځوانه طبقه او شبابان وينو چې الله يې په ديني هدايت زړونه روښانه کړي دي او د هدايت لورينه يې پرې کړې ده، مونږ ورله له الله څخه د ديني ثبات او کامل استقامت غوښتونکي يو، خو ولې نور ځينې ځوانان بيا داسې دي چې په خپلې سرکشۍ کې اخته، په هواپرستۍ کې بنديوان او د سمې لارې له هدايت څخه بيخي ناخبره دي.

د درد او خفګان خبره دا ده چې په شرعي بڼه برابر ځينو ځوانانو کې بيا هغه سلبي مظاهر ليدل کيږي چې هم يې په شرعي امورو باندې پر التزام او هم يې پر ايمان ناوړه اغېز لري.

مونږ زيار اوباسو چې ځينې دغه خوګانې ذکر کړو او په ځانګړې توګه بيا هغه خوګانې چې اصلاح يې مهمه ده:

**١ - : په لمونځ کې خشوع نه کول**

په لمونځ کې خشوع نه کول په ډېرو خلکو کې عادي خبره ګرځېدلې ده، مګر هغه خلک چې الله پرې رحم کړی دی او حالانکه د مومنانو د


WWW.LARKHUD.COM

صفت په مقام کې الله پاک فرمايي (قَدْ أَفْلَحَ الْمُؤْمِنُونَ * الَّذِينَ هُمْ فِي صَلَاتِهِمْ خَاشِعُونَ) [ سورت مؤمنون : ۱– ۲ ]

ژباړه: په باوري ډول هغه مومنان بريالي دي چې په خپلو لمونځونو کې خشوع کونکي دي.

دا چې خشوع د انسان د دنيوي او اخروي سعادت او بهبود ستر لامل دی نو د هر مسلمان لپاره بايد ده چې په خپل لمونځ کې خشوع ويلتيي او په کامل سکينت او د زړه په پوره حاضرۍ يې ادا کړي، ضرور ده چې د کمال په خاطر د لمونځ د شروطو، واجباتو او سنتونو پوره خيال وساتي، نه دا چې لمونځ په کسالت او سستۍ او يا يې هم د کارغه د ټونګو په څېر ادا کړي، دوی لمونځ عبادت نه بلکې ورځنۍ عادت پېژني.

**۲ – : لمونځ ته ناوخته تلل**

لمونځ ته ناوخته تلل که هغه د جماعت لمونځ وي او که د جُمعې د ورځې لمونځ وي، ځينې خو دومره په تاخير روږدي دي چې يا خو د خطيب له را تګ سره نزدې او يا هم له خطبې وروسته مسجد ته رادرومي، او د باجماعت لمونځ لپاره يې عادت داسې جوړ وي چې يا وروسته او يا هم د اقامت له اورېدو سره راځي، له ځينو څخه يې يو يا دوه رکعته هم فوت شوي وي که رکعت ترې هم لاړ نه شي نو تکبيرة الاحرام خو ترې هرومرو فوت وي، دا ډول تقصير به له يو چا څخه په مراتو او کراتو تکراريږي خو نه ورته څه توجه کوي او نه پرې کوم اهتمام.

ځینې لمونځ ګوزاران بیا داسې وي مخکني صفونو کې له هیڅ چا سره سبقت نه کوي سره له دې چې نبي کريم صلی الله علیه وسلم ورته ډیر ترغیب ورکړی دی، نبي صلی الله علیه وسلم فرمايي (لَوْ يَعْلَمُ النَّاسُ مَا فِي النِّدَاءِ وَالصَّفِّ الْأَوَّلِ، ثُمَّ لَمْ يَجِدُوا إِلَّا أَنْ يَسْتَهِمُوا عَلَيْهِ لَاسْتَهَمُوا ) [ صحیح مسلم:٤٣٧ ]

ژباړه: که خلک د اذان او د لومړي صف په ثواب او اجر باندې پوهېدلی او بله کومه چاره ورته نه وه معلومه او قرعه اندازي پرې کېدلی شوه نو پرې کړې به یې وه.

او مزيد فرمايي (خَيْرُ صُفُوفِ الرِّجَالِ أَوَّلُهَا، وَشَرُّهَا آخِرُهَا ) [ صحیح مسلم: ٤٤٠ ]

ژباړه: د نارينه غوره صفونه لومړني صفونه دي او بدترين يې وروستني صفونه دي.

کله به يو څوک مسجد ښه وختي راشي، په لومړي صف کې خالي ځايونه وګوري خو په لومړي صف کې نه بلکې د مسجد په نورو وروستنيو برخو کې به کيني.

ځيني به يې له امام نه وروسته په صف کې خاليګا ښه ووينې خو خاليګا به پريږدي يا به د صف منځ او يا به يې کوم لرې اړخ ته ودريږي، دوی خلکو له ډيرو ثوابونو او اجرونو نه ځانونه بې برخې کړي دي.

**۳ - : په نوافلو کې دلچسپي نه اخستل**

لکه نفلي روژې نه نيول، د دوشنبې او پنجشنبې، د ذي الحجې د لسو ورځو، او يا اقلاً ايام البيض په هره مياشت کې درې ورځې روژې، د

عرفې او عاشوراء د ورځې روژې نه نیول، همدا ډول په نفل لمونځ کې سستي کول لکه قیام اللیل او رواتب سنت نه کول، د څاښت لمونځ او داسې نور نوافل نه کول، بیا لا که څوک پکې د شپې لمونځ کوي نو پر درې او چې ډېر شي نو په پنځو لنډو لنډو رکعتونو بسنه کوي، ډېر کم وګړي به وي چې د نبي کریم صلی الله علیه وسلم په څېر د شپې یوولس رکعتونه لمونځ کوي.

**٤ - : د قران کریم لږ تلاوت کول او کمه برخه یې یادول**

په دې کې شک نشته چې د الله په دین باندې د ثبات او استقامت له سترو لاملونو څخه د قران کریم تلاوت تر هر څه ستر لامل او غوره ترین عمل دی، نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي (خَيْرُكُمْ مَنْ تَعَلَّمَ الْقُرْآنَ وَعَلَّمَهُ ) [صحيح البخاري: ٥٠٢٧ ]

ژباړه: په تاسو کې غوره ترین هغه څوک دی چې قران زده کړي او بل ته یې ورزده کړي.

او فرمایي (أَهْلُ الْقُرْآنِ، أَهْلُ اللهِ وَخَاصَّتُهُ ) [ سنن ابن ماجه: ٢١٥ ]

ژباړه: قاري صاحبان د الله پاک اولیاء او خصوصي دوستان دي.

او نبي صلی الله علیه وسلم فرمایي (اقْرَءُوا الْقُرْآنَ فَإِنَّهُ يَأْتِي يَوْمَ الْقِيَامَةِ شَفِيعًا لِأَصْحَابِهِ ) [ صحيح مسلم: ٨٠٤ ]

ژباړه: قران ولولئ، دا به د قیامت په ورځ په داسې حالت کې راشي چې خپلو لوستوالو له به سفارش کوي.

ډېر ملتزمین او پابند خلک بیا داسې هم وي چې ورځ، دوه، درې اوځلور پرې تېرې شي خو ده له قران څخه هیڅ نه وي لوستلي، که یې لوستلي

وي نو هم ډېر لږ، يا پرې مياشت يا دوه مياشتې تېرې شي خو ده د قران هېڅ برخه نه وي لوستلې او په دې کې شک نشته چې دا له خير څخه د انسان محروميت دی.

**٥ - : د اذکارو او دعاګانو پرېښودل**

لکه د سهار او ماښام اذکار، د خوراک څښاک او د خوب هغه اذکار چې له نبي صلی الله عليه وسلم نه ثبوت لري، ډېر داسې مسلمان او مومن ملت شته چې نه خو د دې اذکارو پابند دي او د الله پاک ياد او ذکر هم ډېر کم کوي، په ځينو خو بيخي پوره ورځ تېره شي يا خو پکې الله پاک بيخي ياد نه کړي او که ياد يې کړي نو هم ډېر کم، سره له دې چې په ډېر ذکر او اذکارو باندې الله پاک ترغيب ورکړی دی او په دې يې ډېر زيات اجر او ثواب مرتب کړی دی ، الله پاک فرمايي ( وَالذَّاكِرِينَ اللَّهَ كَثِيرًا وَالذَّاكِرَاتِ أَعَدَّ اللَّهُ لَهُمْ مَغْفِرَةً وَأَجْرًا عَظِيمًا ) [ سورت أحزاب: ۳۵ ]

ژباړه: او هغه نارينه او زنانه چې الله پاک ډېر ډېر يادوي، د دوی لپاره الله پاک ډېر مغفرت او زيات اجر تيار کړی دی.

او نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايي (سَبَقَ الْمُفَرِّدُونَ قَالُوا: وَمَا الْمُفَرِّدُونَ؟ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ: الذَّاكِرُونَ اللهَ كَثِيرًا، وَالذَّاكِرَاتُ ) [ صحيح مسلم: ٢٦٧٦ ]

ژباړه: خاص خلک ډېر مخکې شول، صحابه کرامو ووېل: خاص خلک لا څوک دي؟ هغه ووېل: هغه نارينه او زنانه چې الله پاک ډېر ډېر يادوي.



WWW.LARKHUD.COM

د دې فضيلت او بهترۍ باوجود به ځيني مسلمانان په ګڼتو ګڼتو ايکې يواځې ناست وي، يا به ايکې يواځې د سفر په دروان کې په ګڼتو ګڼتو مزل ووهي خو دالله له ياد څخه به غافله او ناخبره وي او له دې موقعې څخه به په ذکر او اذکارو، په الحمدلله او سبحان الله او استغفر الله نه هېڅ ګټه وانه اخلي.

**٦ - : ناوړه اخلاق او ناکاره رويه**

په ظاهره کې به زياتره مسلمانان داسې وګورې چې ډېر به ښه وي – له رب کريم څخه يې مونږ همدغسې غواړو – خو باطن کې به ډېر بداخلاقه او د ناوړه کردار څښتن وي، دا حالت لومړی د انسان په خپل کور کې وي، له خپل پلار مور، له ورونو او خويندو، له خپلو خپلوانو سره به بدزبانه، بدکرداره او د ناوړې رويې څښتن وي، دا اخلاق يې بيا تر مدرسې او ښونځې وغځيږي، بيا يې په راکړه ورکړه او بيا په هر ځای کې يې شيوه او اخلاق وګرځي، که له خلکو سره څه عمل درامد لري له شدت او سختې پرته يې نه کوي، نه کومه نرمي لري او نه رحم ترحم، او نه په هغو ځايونو کې له نرمۍ ګټه اخلي چې هلته اسانتيا کول ګټوره وي، نه خو په پلور پېر کې نرم مزاجه وي او نه په بل څه کې، د خپلو حقوقو به پوره مطالبه کوي خو بل ته بيا پوره حقوق نه ورکوي، په خپلې ورکړه کې پر نورو احسان کوي او په پلور کې له دوکې پرته يې بل کار هم نه وي، سره له دې چې نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايي (مَنْ غَشَّنَا فَلَيْسَ مِنَّا ) [ صحيح مسلم: ١٠١ ]

ژباړه: څوک چې له مونږ سره دوکه وکړي له مونږ څخه نه دی.

او په دې کې خو د شک هېڅ ځای نشته چې دا د مسلمانانو اخلاق نه دي، د اسلامي احکامو پابند انسان سره ښايي چې تر هر څه لومړی ورځخه همدا لرې وي او په نېکو اخلاقو او له خلکو سره په عمل درامد کې له بل څه لپاره نمونه جوړه شي، ځکه دا صفتونه لوړه رتبه لري، (سُئِلَ رَسُولُ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ عَنْ أَكْثَرِ مَا يُدْخِلُ النّاسَ الجَنّةَ، فَقَالَ: تَقْوَى اللهِ وَحُسْنُ الخُلُقِ ) [ جامع الترمذي:٢٠٠٤ ]

ژباړه: له نبي کریم صلی الله علیه وسلم څخه پوښتنه وشوه چې کوم عملونه زیاتره انسانانو لره جنت ته بیایي، هغه وویل: له الله څخه ډار او ښه اخلاق.

او نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمايي (إِنّمَا بُعِثْتُ لِأُتَمِّمَ مَكَارِمَ الْأَخْلَاقِ ) [ السنن الكبرى للامام البيهقي: ٢٠٧٨٢ ]

ژباړه: زه په دې سره رالیږدول شوی یم چې د ښو اخلاقو اخره پوره کړم.

**٧ - : د نصیحت نه قبلول**

ځینې مسلمانان بیا داسې وي چې که څوک ورته نصیحت وکړي او یا یې د کوم سرغړونې مخالفت وکړي نو زړه به ورته راتنګ او ډک کړي، نصیحت به پرې ډېر بد او سخت لګیږي، ډېره ارزو به لري چې کاشکې دا نصیحت خو یې نه و اوریدلی، داسې اټکلوي چې ګنې په دې نصیحت سره یې عیبونه ښکار کیږي او په تقصیر او عمل کې په خیانت تورن دی، ځکه هغه خپل ځان پوره ګڼي چې د چا هېڅ ډول نصیحت ته اړتیا نه لري، سره له دې چې دا یې هم لویه تېروتنه ده، ځکه نوم انسان په تېروتنې او خطا کې واقع کیږي او له انبیاؤ علیهم الصلاة والسلام پرته

نور هېڅوک معصوم نه دي، نو که چا ته د زړه له تله نصيحت وکړی شي بايد په پراخه سينه ورته هرکلی وکړي او پوره يې ومني، او زيار اوباسي چې نصيحت ته هله عملي بڼه ورکړي چې له قران او حديث سره سمون خوري.

**۸ - : په بې ګټې شيانو باندې وختونه ضايعه کول**

د ډېر خفګان مقام دی چې له ځينو مسلمانانو څخه ډېر وختونه په هغه څه کې ضايع کيږي چې هېڅ ګټور نه بريښي، کله نا کله يې قيمتي وختونه په داسې څه کې تېر کړي چې اقلاً مباح هم نه وي، بلکې په محرماتو کې ورڅخه قيمتي وختونه سر وخوري، کله په غيبت او په بدزبانۍ او فحش فجور مبتلا وي، يا خپل قيمتي وختونه په ډېر چکرو او په هغو ناستو غونډو کې تېر کړي چې څنګه بايد ساعت تېرې وکړي او وخت څه ډول بې ګټې له لاسه ورکړي چې ديني او دنيوي هېڅ ګټه وته نه لري.

لائق خو دا وه چې دې ډول خلکو له خپلو وختونو څخه په خپلو دنيوي چارو، يا عبادتونو لکه ذکر اذکار، د قران لوستل، د ګټورو کتابونو مطالعه، د علم زده کړه او اورېدل، د الله دين ته دعوت يا د نېکانو صالحانو ملاقات، يا د خپلو خپلوانو زيارت يا د کوم مسکين غريب پوښتنې يا داسې نور د احسان په کارونو کې وختونه غنيمت ګڼلي وای او په هغه څه کې ترې نه وی تېر شوی چې هېڅ ګټه نه لري.

**۹ - : په نفسي خواهشاتو او کم عقلو کارونو باندې بوختېدل**

چې بيخي ترې مخکې وروسته کيږي نه، بلکې تر ډېر وخته پورې ورته ناست وي، لکه په تلويزيو باندې تر ډېره لوبې کتل، د لوبو اړوند معلومات ورکول او اخستل او حتی جزئيات يې څېړل، داسې ډېر خلک به وګورې چې د لوبو د مسابقې وختونه، نتيجې، د هرې لوبډلې د لوبغاړو نومونه او داسې نور اړوند معلومات چې له عاقل سره بيخي نه ښايي او په ځانګړې توګه بيا هغه څوک چې د صلاح او التزام نښې پرې ښکاره وي چې خپل وختونه دې په داسې کم عقلو او بې ګټې شيانو باندې خراب تراب نه کړي، همدا ډول پر هغو اخبارونو، مجلو ځان بوخت ساتل چې موخه ورڅخه کومه ګټه نه بلکې بې ګټې معلومات او د وخت ضايع کول وي، يا د داسې کتابونو په لوست ځان بوخت ساتل چې هيڅ ديني او دنيوي ګټه نه لري، بس کهانيانې او د قيمتي وخت ضياع وي، په دې بې ګټې شيانو بوختيا انسان له ډېر ګټورو شيانو محروم ساتي.

**۱۰ - : په ديني چارو ځان نه پوهول**

له ډېرو مسلمانانو خلکو څخه به په عبادتونو کې داسې خطاګانې تکراراً صادريږي چې د ده په شعور کې هم نه وي، او نه د دې زيار اوباسي چې خپل هغه ديني امور زده کړي چې دا پکې بارها تېروځي ترڅو نور له خطاګانو ځان قابو کړي، نه کوم ديني کتاب لولي او نه ديني پټې ( کيسټې ) اوري، بلکې عبادتونه په هغه ډول انجاموي چې له کوچنيتوب څخه يې څنګه زده کړي دي که څه هم ډېر څه پکې خطا وي، ديني زده کړې نه کولو سره انسان له ډېر هغه خير او سعادت څخه

هم محرومیږي چې اسلامي دين ځينو وختونو ته کوم خير او فضيلت ورکړی دی چې نېک عملونه ورپکې په چندونو اجر او ثواب لري، لکه د رمضان میاشت او د ذي الحجې لس ورځې..

**۱۱ - : د بدو کارونو مخه نه نیول**

که په کور کې وي او که په ښار او بازار کې او که یا په نورو ځايونو کې وي، کله يو انسان په خپل کور کې په خپلو کورني غړو کې ناوړه او منکر کار ويني خو خاموش پرې پاتې شي او هيڅ ډول نصيحت ورته ونه کړي او نه اقلاً له هغه ځايه ولاړ شي چې ده پکې منکر ليدلی وي بلکې ورسره ناست پاست پاتې شي، کله ناکله له داسې خلکو سره مجلسونه ولري چې له غيبت يې بل کار نه وي، ناروا ويډيوګانې ګوري او ګانې بجانې اوري، يا له داسې خلکو سره اشنايي لري چې نشې تماشې کوي نو نه خو د منکر مخه نیسي او نه ولاړ روانوي، په دې دليل خاموش پاتې وي چې په زړه کې ورسره نفرت لري او د ايمان کمزورې برخه ده!!

دې ډول خلکو ته مونږ نصيحةً وايو: ورور جانه تېروتې، هرومرو بايد د توان په مقام کې يې د منکر مخه په ژبه ونيسې او خپل کورني غړو ته دې نصيحت او د خير خواهۍ خبرې وکړې، يا دې د خپل مجلسونو ملګرو ته د خير او سعادت خبرې وکړې او هغه خوګانې ور په ګوته کړې چې د هغوی د ژوند برخه ګرځېدلې ده چې دا حرام او ناروا دي، که يې درله خبره ومنوده نو الحمدلله، ورنه دا ستا واجب جوړيږي چې له هغه مجلس څخه پورته شې چې د الله په معصيت او نافرمانۍ ودان

دي او خپله مخه ونيسي، په زړه باندې انکار هله درست دی چې ته خپله د هغه مجلس غړی جوړ نه شې چې منکرات پکې پالل کيږي، هېڅکله د ايمان په تقاضا باندې دا انکار بسنه نه کوي، ځيني مسلمانان خو بيا داسې دي چې نه خو ورسره په زړه کې کرکه لري او نه يې ورته د مخ پوستکي ګونځې کيږي، بلکې په منکراتو ورسره خندا بقا کوي او انګيروی چې ګنې دوی خپله کومه ګناه نه ده کړې.

د منکراتو مخه نه نيول له شک او شبهې پرته چې له ګناهګارانو سره مرسته او تعاون دی، هغوی ته په منکراتو باندې مزيد تشجيع ورکول دي ترڅو په خپلو ګناهونو باندې قائم دائم پاتې شي او توبه تائب ترې نه شي، دا ځکه چې په منکراتو باندې ښکيل وګړي د نصيحت څوک نه لري او نه داسې څوک چې د منکراتو پالل يې وغندي او په ځانګړې توګه بيا هغه څوک چې علمي سهم او ونډه هم ولري.

خو که هر څوک په خپل ايمان او پابندۍ کې صادق وای، د منکر په ليدلو يې د منکر مخنيوی کولی شو او ښکيل انسان ته يې دړکه ورکولی شوې چې يا به له منکر څخه لاس اخلي او يا درته مجلس پريږدم نو په نشر او انتشار کې به منکراتو دومره وده نه کوله او خلکو به ډېر محرمات مباح نه بلل چې ګنې هېڅ ګناه نه لري، دا ځکه چې په منکراتو باندې هېڅ ډول انکار نشته، که داسې وای نو د الله په اذن سره به منکراتو دومره نه و عام تام شوې او هر چا به يې خوګانې، عيبونه او ناوړه عواقب پېژندلی وی، له خلکو به حيا ورتله چې څنګه يې د دوی په حضور کې وکړي، که نصيحت وای نو همدوی ښکېل خلکو ته به له

پېله شرم ورغلی وای او د تل لپاره به يې له منکراتو سره خدای په اماني کړې وه ا و د الله پاک فرمانبرداری ته به يې غاړه ورکړې وه، د الله په اذن سره به د نصيحت له لارې وکولی شو چې د معاصيو او منکراتو سلنه راټيټه کړو.

ځينې مسلمانان بيا داسې دي چې په بازارونو او ټولګټو عامو ځايونو کې به بې حجابي او عرياني وګوري نو خو ښځو ته په ستر او حشمت او حياء دعوت کولی شي او نه يې ورته زړه بديږی، بلکې ځينې مسلمانان بيا د ښځو اړوند د ژوند اړتياوې پلورې او ښځه ورسره په ډېرې بې حجابۍ دوکان کې يواځې کېږي او ورسره د نرخ اړوند غږيږي او خبرې تبادله کوي، نه خو دوکاندار ورته په حجاب باندې نصيحت کوی او نه يې خير پلټي، بلکې داسې يې له دوکان څخه ولاړه شي لکه څنګه چې دوکان ته راننوتې وه، نه په بې حيايۍ کوم انکار او نه په ښو ښايسته کلماتو کوم نصيحت، نه ورته د انساني کرامت خونديتوب لپاره د ديني کيسټ تحفه او نه د حجاب اړوند کوم کتاب...

**۱۲ - : بې ځايه له تساهل څخه کار اخستل**

د نمونې په توګه لکه د ښځو په لباس او حجاب کې تساهل کول، هغوی ته په تنګ او لنډ لباس اچولو باندې وچورلې نه تريوول، يا بازارونو او خياطانو ته بې له کومې شرعي اړتيا بېهوده، له شرعي محرم يا له بلې ښځې پرته ايکې يواځې تلل، د دوکان په دننه له دکاندار سره يواځې ځانله کېدل يا له ماشومانو جينکو سره په لنډ او تنګ لباس کې تساهل کول، ځينې مسلمانان بيا داسې دي چې خپلو ښځو ته د دې توصيه کوي

چې لونړو ته يې تنګ او لنډ لباس ورواغوندي، په دې دليل چې دا لا وړې دي، په ځينو وختونو کې جينۍ تر لس کلنۍ هم ورسيږي او تر پنډو به لنډ لباس اچوي.

**دا هم بې ځايه تساهل دی** چې ځينې خلک د ګيرې په لنډولو يا خريلو کې تساهل کوي، په ګېرې باندې لوبې کوي او نقشجات پرې جوړوي.

له محرم پرته کور ته خادمه راوستل هم هغه تساهل دی چې له زيان پرته نور هيڅ نه لري، يا کومې ښځې ته اجازه ورکول چې له محرم پرته په موټر او ګاډي، يا الوتکه کې سفر وکړي، دا ټول ناروا حرام کارونه دي.

۱۳ - : **دروغ**

ځينې مسلمانان په ادنی او وړو وړو کارونو کې په دې دليل چې کوم باک به نه لري هم دروغ وايي، لکه په کوم کمربند کې دورغ ويل ترڅو روغ پورې وځي، يا د کوم مالي زيان د مخنيوی لپاره دروغ ويل، يا له کوم ملګري سره مجاملةً دروغ ويل تر څو مرسته يې وکړی شي، يا په پلور پېر کې دروغ ويل، د مجلس د غړو خندولو لپاره دروغ ويل لکه خلک چې يو له بل څخه نقلونه او روايتونه په دې کې لري چې له خندا او خندولو پرته نور هيڅ نه وي او حالانکه د دورغو قيصې او حکايات وي، په داسې حال کې چې ټول پوهيږي چې دا نقل او قيصه دروغ دي او هيڅ ګټه نه لري، خو د دې برسېره يې بيا هم تکراروي او د خلکو د خندا لپاره يې بيان ته پونده ورکړې وي، خو ولې دې عقلي بې وزله د نبي کريم صلی الله عليه وسلم دا قول له ياده ويستلی دی هغه فرمايي

(وَيْلٌ لِلَّذِي يُحَدِّثُ فَيَكْذِبُ لِيُضْحِكَ بِهِ الْقَوْمَ، وَيْلٌ لَهُ وَيْلٌ لَه ) [ سنن ابي داود: ٤٩٩٠، جامع الترمذي: ٢٣١٥ ]

ژباړه: هغه چا لره دې تباهي وي چې د خلکو د خندولو لپاره دروغ وايي، هلاک دې شي او بيا دې هلاک شي.

**۱٤ - : د بچيانو او ښځې حقونو کې غفلت کول**

بچيانو ته او ښځې ته اسلامي تربيت نه ورکول، ځينې مسلمانان به د خپلې ښځې په حق کې غفلتونه کوي، ځينې به د دعوتي چارو باندې د بوختيا په دليل د ښځې حقوق پايمالوي، يا به يې د سوداګريزو بوختياو او يا نورو په نور څه د مصروفيت په دليل...

خپله ښځه به يې په کور کې تنها پريښې وي او له ځانلوالي به کړيږي، دردونو او غمونو به اخستې وي، يا به يې له کومې مراقبې او د سمې صحيح توجيه پرته خپل اولاد بيهوده پريښې وي، له بدو او ناکاره خلکو سره يې ملګرتوب برابر شي چې د دوی اخلاقي انحراف او ديني فساد لپاره ستر لامل جوړ شي او حالانکه تر هر څه ستر سبب يې خپله د پلار بې غوري ده.

**۱۵ - : الله پاک ته ددعوت په چارو کې تقصير کول**

ځينې مسلمانان – الله دې مونږ او دوی ته هدايت وکړي – داسې دي چې هيڅ دعوتي نشاط نه لري، هيڅ څوک يې له نصيحت او کومې توجيه څخه ګټه وانخلي، ارد ګرد به خپل ورونه او ملګري په ضلالت بې لارې کې ويني خو بيخي يې پرې پروا نه وي، نه خپل ځان د هغوي په دعوت تکليفوي او نه ورته کوم نصيحت کوی، او نه ورته کوم ګټور کتاب،

کیسټ، تقریر یا بل څه ورکوي چې له غفلت څخه یې راپورته او له خوب څخه یې رابېدار کړي، ځینې په دې بهانه چې خلکو ته د نصیحت کولو توان نه لري او نه دومره علم لري چې دوی ته به پرې قناعت ورکړی شي دعوتي مهم نه انجاموي، خو دا بیخي عذر نه دی، ځکه الله ته د دعوت مجال یواځې په خطابت پورې منحصر نه دی، بلکې د دعوت میدان دومره پراخه دی چې لیکلو، د کوم دیني کیسټ ډالۍ کولو، د کوم کتاب یا رسالې نشر او اشاعت چې د انسان په توان کې وي ورته شامل دی، نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي (بَلِّغُوا عَنِّي وَلَوْ آيَة ) [ صحیح البخاري: ۳٤٦۱، جامع الترمذي: ۲٦٦۹ ]

ژباړه: له ما څخه دعوت او تبلیغ وکړئ که څه هم د یو ایت ( مسئله ) وي.

او دا د هر چا زیر توان دي چې په مخکنو مذکوره مجالاتو کې دعوت او تبلیغ وکړي، ځینې مسلمانان بیا داسې وي چې که څه هم په یادو مجالاتو کې ورته د دعوت موقع وي خو په دعوتي مهم کې ترې هېڅ ګټه وانخلي او ځان تکلیف نه کړي، بلکې د راحت په نوم باندې کسالت او سستۍ ښکار کړی وي، او ځینې خو بیخي په دې موقعو کې ددعوت هېڅ ملګرتیا نه کوي او نه پکې مالي ونډه اخلي، پر ځان او بچو باندې او د کور په کمالیاتو به زرګونه مالیت خرچه کوي خو که د دعوتي مهم لپاره ترې لږه مالي مرسته هم وغوښتل شي نو عذرونه، د مالي ظروفو قحط او د خپلو قرضونو اړوند به درته ډېر کمزوري عذرونه وړاندې کړي.

خو چې داسې خلک د دعوت په مجالاتو کې نه مالي او نه زباني، نه د قلم او نه بل ډول مرسته ولري نو دا ډېر بې خيره خلک دي، له ډېر خير او فضيلت څخه يې ځان محروم کړ، ځکه دعوتي مجال پياوړي ساتلو کې نهايت زيات اجر دی، الله پاک فرمايي (وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللَّهِ وَعَمِلَ صَالِحًا وَقَالَ إِنَّنِي مِنَ الْمُسْلِمِينَ ) [ سورت فصلت: ٣٣ ]

ژباړه: او له هغه چا څخه د قول په اعتبار ښوک ډېر ښه دی چې د الله لورې ته دعوت ورکوي او نېک عملونه هم کوي، او دا وايي چې زه د مسلمانانو له جملې څخه يم.

او نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايي: ( لَأَنْ يُهْدَى بِكَ رَجُلٌ وَاحِدٌ خَيْرٌ لَكَ مِنْ حُمْرِ النَّعَمِ ) [ صحيح البخاري: ٢٩٤٢ ]

ژباړه: که ستا په سبب الله پاک يو سړي ته هدايت وکړي نو له سرو اوښانو څخه به هم درله ډېر غوره وي.

او نبي صلی الله عليه وسلم فرمايي (مَنْ دَعَا إِلَى هُدًى، كَانَ لَهُ مِنَ الْأَجْرِ مِثْلُ أُجُورِ مَنْ تَبِعَهُ، لَا يَنْقُصُ ذَلِكَ مِنْ أُجُورِهِمْ شَيْئًا ) [ صحيح مسلم: ٢٦٧٤ ]

ژباړه: څوک چې خير او هدايت ته دعوت ورکړي، نو د ده به د هغو خلکو په څېر ثواب وشي چې خبره يې ورله منلې ده چې د منونکو له اجرونو او ثوابونو به هېڅ نه کمېږي.

**١٦ - : په دنده کې ناراستي کول**

ډېری مسلمانان داسې وي چې په خپلو رسمياتو کې به له کسالت څخه کار اخلي، له ټاکلي وخت څخه به د تل لپاره وروسته او دائمي تاخير

کوي، او یا به له عذر او اجازې پرته د دندې په جریان کې له ټاکلي وخت څخه مخکې ځي، ځیني پکې بیا داسې هم وي چې ناوخته دندې ته حاضري ورکوي خو په راجسټر کې وخت هماغه ولیکي چې ادارې ټاکلی وي، دا ټول دروغ او په دنده کې ټګي او غلا ده.
ځیني مسلمانان د دندو په مهال اداري توکې او یا هم د خپلو خصوصي کارونو لپاره د ادارې موټرې ګاړې په کار راولي، چونکه اداري اموال د عامو خلکو دي نو په خصوصي چارو کې یې استعمال حرام دی، ایکې یواځې کولی شي چې د ادارې په رسمي کارونو کې یې وکاروي، او بس.

**په اخر کې** :
دا په مسلمانانو کې ځینې سلبي پدیدې وې – الله دې مونږ او هغوی ته هدایت وکړي – د دې معنا به دا نه وي چې که په چا کې له دې خویونو څخه کوم خصلت وي نو هغه به غیر مستقیم او په اړوند چارو کې به پابند نه وي، نا بلکې معنا دا ده چې په دندو ګمارل شویو ځینې خلکو کې لږ څه قصور شته.
ګرانه لوستواله! ځان پرتله کړه ترڅو په تقصیر او کوتاهۍ کې واقع نه شې، په دې حریص شه چې د خلکو لپاره په خپلو چارو او ګردو تصرفاتو کې نمونه جوړه شې، په خپلو ټولو کارونو کې زیار اوباسه چې لوی او کوچني شرعي اوامر تطبیق کړی شې، ځکه خلک درته د یو پابند انسان په نظر ګوري په هر حالت کې ته د هغو لپاره نمونه یې، له تا څخه صادره تیروتنه د هغې تیروتنې په څیر نه ده چې له غیر پابند انسان

څخه صادرېږي، ګرد مخلوق بېخي پسند نه بولي چې له پابند انسان څخه دې د شریعت ضد اندک قصور هم ووینې، ستا له کبله باید ټول مسلمانان بدنام نه شي چې کوم ناوړه حرکت درڅخه وشي، یا ناکاره خبره وکړې او یا درڅخه غوره ترینو عباداتونو کې تقصیر ولیدل شي، ډېر زیار اوباسه چې په خپلو دیني واجباتو، سننو او مستحباتو کې باغوره او د پوره خیال څښتن یې، په امر بالمعروف او نهي عن المنکر باندې د خپل توان په اندازه خیال وکړه، او په دعوتي مجالاتو کې چې دې څومره توان وي هومره پکې ونډه ولره.

ګرانه لوستواله!

له تکاسل او ناراستۍ څخه بېخي ځان وژغوره، باطل پرست د خپل فساد او ورانکارۍ او له دین اسلام څخه د خلکو په رابندولو کې ټول هر څه په کار اچولي دي، او ضرور ده چې د خلکو په پوهاوي او نصیحت او د دین ته په تبلیغ یې مونږ مقابله وکړو، دا هله کېدای شي چې زه او ته او ټول سره د یو بل مرسته وکړو، خو که مونږ هر څومره د پابندۍ دعوه هم ولرو او عملي بڼه خپلې دعوې ته ورنه کړو نو ددعوت په مجال کې به بیا څوک کار خیر کوي؟ او حالانکه نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي (بَلِّغُوا عَنِّي وَلَوْ آيَة ) [ صحيح البخاري: ٣٤٦١، جامع الترمذي: ٢٦٦٩ ]

ژباړه: له ماځه دعوت او تبلیغ وکړئ که څه هم د یو ایت ( مسئله ) وي.

دا حديث شريف د هيڅ چا لپاره عذر او اعتذار نه پرېږدي ترڅو په دعوتي مهم کې تقصير وکړي، بلکې چې څومره يې توان وي هومره بايد مرسته وکړي.

ما ته او تاسو ته دې الله پاک د هغه څه توفيق راکړي چې د هغه خوښه وي او پرې رضا کېږي، الله پاک دې مونږ ټول په اسلامي دين سربښندونکي، دعوتګر او په سمه لاره روان خلک وګرځوي، مونږ دې الله پاک له نورو او دين دې الله پاک زمونږ لپاره ګټور وګرځوي، الله پاک په دې قادر او هغه ډېر ښه مددګار او ذمه وار دی.

وصلى الله وسلم على نبينا محمد وعلى آله وصحبه أجمعين.

WWW.LARKHUD.COM

لـــه يــاده وتـلي

# پنځوس نبوي سنتونه

ژباړن: لقمان حکیم حکمت

WWW.LARHKUD.COM

د ژباړن سریزه

نَحْمَدُهُ وَ نُصَلِّيْ عَلَى رَسُوْلِهِ الكَرِيْمِ وَبَعْد:

د نبي کریم صلی الله علیه وسلم له سنتو سره مینه او محبت او په ژوند کې نبوي سنتو باندې عمل درامد د نبي کریم صلی الله علیه وسلم سره د پوره مینې لرلو نښه او ستره علامه ده، له دې کبله بدعتونه په دین کې د غلیظ حرمت حکم لري. له دې کبله عمر بن عبدالعزیز رحمه الله فرمایي: ( اِذَا رَأَيْتَ قَوْماً يَتَنَاجُوْنَ فِيْ دِيْنِهِمْ بَشِيْءٍ دُوْنَ العَامّةِ فَاعْلَمْ أَنّهُمْ عَلَى تَأْسِيْسِ ضَلاَلَةٍ )

ژباړه: کله چې داسې قوم او خلک وویني چې په دیني چارو کې له عوامو پرته خپل منځ کې ګنګوسی کوي نو وپوهېږه چې د کومې بې لارۍ تاسیس کې بوخت دي.

او امام شافعي رحمه الله وايي : اِذَا وَجَدْتُم سُنّةً لِرَسُوْلِ اللهِ صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ فَاتّبِعُوْهَا وَلاَ تَلْتَفِتُوْ اِلَى قَوْلِ أَحَدٍ ) [حلية الأولياء: ۹ / ۱۰۷ ]

ژباړه: چې کله هم د نبي صلی الله علیه وسلم سنت ووینئ نو ویئ منئ او په ضد کې یې د هیڅ چا خبرې ته مه ګورئ .

له دې کبله پر نبوي سنتو ځانګړی خیال کول د ښه مسلمان شیوه ده، ترڅو په سنتو باندې د عمل درامد له مخې د بدعتونو مخه ونیول

شي.څومره چې بدعتونه ساه اخلي او ژوندي کيږي هومره ورسره نبوي سنت مړه کيږي . مبرة التواصل الخيرية د ( سنن منسية ) په نوم پنځوس نبوي ارشادات چې واقعا له خلکو هېر دي په جالب انداز ټولنې ته وړاندې کړي دي چې ستاسو د ښه مستقبل په خاطر مې پښتو ته ترجمه کړل.الله پاک دې دا عمل خالص د هغه د رضا لپاره وګرځوي او رب کريم دې په دې کتاب د ډېرو اسلامي داعيانو پام د نبوي سنتو راژوندي کولو ته واړوي.

لقمان حکيم حکمت

٢٠١٧/١٠/١١

WWW.LARHKUD.COM

پښې ابله تلل

۱ - : عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ بُرَيْدَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ ( كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْمُرُنَا أَنْ نَحْتَفِيَ أَحْيَانًا ) [سنن ابي داود: ٤١٦٠]

ژباړه: له عبدالله بن بريده رضي الله عنه نه روايت دی چې نبي كريم صلى الله عليه وسلم به مونږ ته كله ناكله امر كوو چې پښې ابله شو.

په درې ګوتو خوراک کول:

۲ - : عَنِ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: ( كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْكُلُ بِثَلَاثِ أَصَابِعَ، وَيَلْعَقُ يَدَهُ قَبْلَ أَنْ يَمْسَحَهَا ) [ صحيح مسلم: ٢٠٣٢]

ژباړه: له کعب بن مالک رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم به په دريو ګوتو خوراک کو او ګوتې به يې له پاکولو نه مخکې په ژبه څټلې.

له خوب نه وروسته په سترګو لاس راښکل:

۳ - : عَنْ مَيْمُونَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ: اسْتَيْقَظَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَجَلَسَ يَمْسَحُ النَّوْمَ عَنْ وَجْهِهِ بِيَدِهِ ) [ صحيح البخاري: ١٨٣ ]

ژباړه: د نبي كريم صلى الله عليه وسلم له بي بي ميمونې رضي الله عنها نه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم له خوبه راپورته شو، کښېناست او بيا يې په لاس باندې له خپل مخ نه خوب مسح کو.

دتوبې لمونځ كول:

٤ - : عَنْ أَبِيْ بَكْرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، أَنّهُ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ يَقُولُ: [ مَا مِنْ عَبْدٍ يُذْنِبُ ذَنْبًا، فَيُحْسِنُ الطُّهُورَ، ثُمّ يَقُومُ فَيُصَلِّي رَكْعَتَيْنِ، ثُمّ يَسْتَغْفِرُ اللّٰهَ، إِلّا غَفَرَ اللّٰهُ لَه ) [ سنن ابي داود: ١٥٢١، صحيح الجامع: ٥٧٣٨ ]

ژباړه: له ابوبكر رضي الله عنه نه روايت دى چې ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم نه اورېدلي دي ويل يې : هيڅ يو بنده ګناه نه كوي او بيا ښايسته اودس وكړي بيا پورته شي او دوه ركعته لمونځ وكړي او له الله څخه بخشش وغواړي مګر الله به ورته بخښنه وكړي.

له مجلس او لمونځ نه وروسته دعا

٥ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ: [ مَنْ جَلَسَ فِي مَجْلِسٍ فَكَثُرَ فِيهِ لَغَطُهُ، فَقَالَ قَبْلَ أَنْ يَقُومَ مِنْ مَجْلِسِهِ ذَلِكَ: سُبْحَانَكَ اللّهُمّ وَبِحَمْدِكَ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلّا أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ، إِلّا غُفِرَ لَهُ مَا كَانَ فِي مَجْلِسِهِ ذَلِكَ ) [ جامع الترمذي: ٣٤٣٣]

ژباړه: له ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: څوک چې په كوم مجلس كې كېني او د ګناه خبرې يې پكې ډېرې شي او له مجلس څخه د پاڅېدو نه مخكې دا



WWW.LARHKUD.COM

وايي: سبحانک اللّٰهُمَّ... ای الله تا لره پاکي ده او ثنا هم تا لره ده، زه د دې ګواهي کوم چې له تا پرته بل برحق معبود نشته، زه له تا نه بخشش غواړم او تا ته توبه اوباسم، مګر د مجلس ټوله ګناه به ورته وبښل شي.

عَنْ عَائِشَةَ، أَنّ رَسُولَ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ كَانَ إِذَا جَلَسَ مَجْلِسًا أَوْ صَلّى تَكَلّمَ بِكَلِمَاتٍ، فَسَأَلَتْهُ عَائِشَةُ عَنِ الْكَلِمَاتِ، فَقَالَ: سُبْحَانَكَ اللّهُمّ وَبِحَمْدِكَ، أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْك ) [ سنن النسائي: ١٣٤٤]

ژباړه: له عايشې رضي الله عنها نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم چې به کله په مجلس کې کېناست او يا به يې لمونځ وکړ نو څه کلمات به يې ويل، نو عايشې رضي الله عنها ترې ددغو کلماتو پوښتنه وکړه، هغه ورته وويل: سبحانک اللّٰهُمَّ...

د شپې له مخې د لوښو او کالو سر پټول

٦ - : عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ، يَقُولُ: ( غَطّوا الْإِنَاءَ، وَأَوْكُوا السِّقَاءَ، فَإِنّ فِي السّنَةِ لَيْلَةً يَنْزِلُ فِيهَا وَبَاءٌ، لَا يَمُرّ بِإِنَاءٍ لَيْسَ عَلَيْهِ غِطَاءٌ، أَوْ سِقَاءٍ لَيْسَ عَلَيْهِ وِكَاءٌ، إِلّا نَزَلَ فِيهِ مِنْ ذَلِكَ الْوَبَاء ) [ صحيح مسلم: ٢٠١٤ ]

ژباړه: له جابر رضي الله عنه نه روايت دی چې ما له رسول الله صلی الله عليه وسلم نه اورېدلي دي ويل يې: د شپې له مخې د لوښو سرونه

پټ کړئ او مشکیزې مو وتړئ، په کال کې یوه شپه ده چې مرضونه پکې راښکته کیږي، په هېڅ لوښي نه تیریږي چې سر یې خلاص وي مګر له دغې وبا څخه ورته یو څه ورښکته شي.

د مسواک استعمالول

۷ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: ( لَوْلا أَنْ أَشُقَّ عَلَى أُمَّتِي أَوْ عَلَى النّاسِ لَأَمَرْتُهُمْ بِالسِّوَاكِ مَعَ كُلِّ صَلاَةٍ ) [ صحيح البخاري: ۸۸۷ ]

ژباړه: له ابوهریره رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: که مې په امت باندې سختي نه راتله یا په خلکو سخته نه وه نو امر به مې ورته کړی و چې له هر لمونځ سره مسواک استعمال کړي.

له ننوتو مخکې درې ځله اجازه غوښتل:

۸ - : عَنْ أَبِيْ مُوْسَى أَشْعَرِيْ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ ( الاِسْتِئْذَانُ ثَلاَثٌ، فَإِنْ أُذِنَ لَكَ، وَإِلاّ فَارْجِعْ ) [ جامع الترمذي: ۲٦۹۰ ]

ژباړه:له ابوموسی اشعري رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: اجازه باید درې ځل وغوښتل شي، که اجازت شي – نو ننوځه – ورنه بېرته ستون شه.

کورته د ننوتو او وتلو په مهال دوه رکعتونه لمونځ کول:

٩ - : عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ الله صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ : ( إذا خرجت من منزلك فصل ركعتين يمنعانك من مخرج السوء، وإذا دخلت إلى منزلك فصل ركعتين يمنعانك من مدخل السوء ) [ سلسلة الأحاديث الصحيحة: ١٣٢٣ ]

ژباړه: له ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: کله چې له کور څخه وځې نو دوه رکعته وکړه تا به له ناکاره مخرج څخه وساتي، او چې کله کور ته ننوځې نو دوه رکعته وکړه تا به له ناکاره مدخل – ننوتون ځای – څخه وساتي.

له مؤذن سره د اذان کلمات ويل:

١٠ - : عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ: رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا أَنّ رَسُولَ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ قَالَ: ( مَنْ قَالَ حِينَ يَسْمَعُ النِّدَاءَ: اللّهُمّ رَبّ هَذِهِ الدّعْوَةِ التّامّةِ، وَالصّلاَةِ القَائِمَةِ آتِ مُحَمّدًا الوَسِيلَةَ وَالفَضِيلَةَ، وَابْعَثْهُ مَقَامًا مَحْمُودًا الّذِي وَعَدْتَهُ، حَلّتْ لَهُ شَفَاعَتِي يَوْمَ القِيَامَةِ ) [ صحيح البخاري: ٦١٤، ٤٧١٩ ]

ژباړه:له جابر بن عبدالله رضي الله عنهما نه روايت دي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: څوک چې اذان واوري او بيا ووايي: اى الله د دې پوره دعوتنامې او د دائمي لمونځ ربه! محمد صلى الله عليه وسلم ته لوړه مرتبه او غير منتهي لوړ منزلت ورکړه، او د شفاعت هغه مقام ته يې ورسوه چې تا يې ورسره وعده کړې ده، نو د



WWW.LARHKUD.COM

دغه انسان لپاره به د قيامت په ورځ زما سفارش واجب او ثابت شي.

په ماشومانو سلام کول:

۱۱ - : عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [ مَرَّ عَلَى غِلْمَانٍ فَسَلَّمَ عَلَيْهِمْ ) [ صحيح مسلم: ۲۱٦۸ ]

ژباړه:له انس بن مالک رضي الله عنه نه روايت دي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم په ماشومانو باندې تېرېده نو سلام يې پرې وکړ.

د پورته کېدو او ښکته کېدو اذکار:

۱۲ - : عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا، قَالَ: [ كُنَّا إِذَا صَعِدْنَا كَبَّرْنَا، وَإِذَا نَزَلْنَا سَبَّحْنَا ) [ صحيح البخاري:۲۹۹۳ ]

ژباړه:له جابر بن عبدالله رضي الله عنهما نه روايت دي چې کله به مونږ پورته ختلو نو الله اکبر به مو ويل، او چې په ښکته به کوزېدو نو سبحان الله به مو ويل.

په پېژندګلو او نه پېژندګلو ټولو باندې سلام کول:

۱۳ - : عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّ رَجُلًا سَأَلَ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَيُّ الْإِسْلَامِ خَيْرٌ؟ قَالَ: «تُطْعِمُ الطَّعَامَ وَتَقْرَأُ السَّلَامَ عَلَى مَنْ عَرَفْتَ، وَمَنْ لَمْ تَعْرِفْ ) [ سنن ابي داود: ۵۰۰۰ ]

ژباړه: له عبدالله بن عمرو رضي الله عنه نه روايت دی چې يو سړي له رسول الله صلى الله عليه وسلم نه پوښتنه وکړه چې د اسلام کوم

خصلت ډېره غوره دی؟ هغه ورته وویل: دا چې خوراک ورکړې او پر هغه چا سلام وکړې چې یې پېژنې او که یې نه پېژنې.

په ناسته باندې اوبه څښل:

١٤ – : عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، [ أَنَّهُ نَهَى أَنْ يَشْرَبَ الرَّجُلُ قَائِمًا»، قَالَ قَتَادَةُ: فَقُلْنَا فَالْأَكْلُ، فَقَالَ: «ذَاكَ أَشَرُّ أَوْ أَخْبَثُ ) [ صحيح مسلم: ٢٠٢٤ ]

له انس رضي الله عنه نه روایت دی چې نبي صلی الله علیه وسلم په ولاړه باندې له اوبو څښلو نه منعه کړې ده، قتاده وایي مونږ انس رضي الله عنه ته وویل: او په ولاړه خوراک کول؟ هغه وویل: دا خو بیخي ډېر بې خیره او یا ډېر پلیت کار دی.

په لمونځ کې د وسوسې په مهال کیڼ لورې ته توکاڼې

١٥ – : عَنْ أَبِي الْعَلَاءِ، أَنَّ عُثْمَانَ بْنَ أَبِي الْعَاصِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّ الشَّيْطَانَ قَدْ حَالَ بَيْنِي وَبَيْنَ صَلَاتِي وَقِرَاءَتِي يَلْبِسُهَا عَلَيَّ، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «ذَاكَ شَيْطَانٌ يُقَالُ لَهُ خَنْزَبٌ، فَإِذَا أَحْسَسْتَهُ فَتَعَوَّذْ بِاللهِ مِنْهُ، وَاتْفِلْ عَلَى يَسَارِكَ ثَلَاثًا» قَالَ: فَفَعَلْتُ ذَلِكَ فَأَذْهَبَهُ اللهُ عَنِّي ) [ صحيح مسلم: ٢٢٠٣ ]

ژباړه: ابوالعلاء وایي چې عثمان بن ابي العاص رضي الله عنه نبي صلی الله علیه وسلم ته راغی او ورته یې وویل: ای د الله رسوله! شیطان زما او د لمونځ په منځ کې مانع واقع کیږي لمونځ او قرائت

راباندې ګډوډوي، رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل: دغه شیطان ته خنزب ویل کیږي، چې کله ترې څه محسوس کړې نو الله پورې ترې پناه ونیسه او خپل کیڼ لورې ته درې ځل توکاڼې واچوه، عثمان وایي: ما همدغه شان وکړل نو الله پاک رانه شیطان وتښتو.

د خوب په مهال اودس کول:

١٦ - : عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قال قَالَ رسُوْلُ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ ( طهروا هذه الأجساد طهركم الله فإنه ليس عبد يبيت طاهرا إلا بات معه ملك في شعاره لا ينقلب ساعة من الليل إلا قال: اللّٰهُمَّ اغفر لعبدك فإنه بات طاهرا ) [ صحيح الجامع الصغير: ٣٩٣٦ ]

ژباړه: له ابن عمر رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: الله دې تاسو پاک کړي خپل بدنونو مو پاک وساتئ، هیڅ انسان خپله په طهارت کې نه تیروي مګر ملائک یې ورسره په جامه کې شپه تیره کړي او د شپې هیڅ وخت په ډډه نه اوړي مګر ملائک وایي: ای الله ستا دې بنده ته بخشش وکړه ځکه ده شپه په طهارت کې تیره کړه.

له مسلمان سره خندل:

١٧ - : عَنْ أَبِي ذَرٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ لِيَ النَّبِيُّ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ: «لَا تَحْقِرَنَّ مِنَ الْمَعْرُوفِ شَيْئًا، وَلَوْ أَنْ تَلْقَى أَخَاكَ بِوَجْهٍ طَلْقٍ ) [ صحيح مسلم: ٢٦٢٦ ]

ژباړه: له ابو ذر رضي الله عنه نه روایت دی چې ما ته نبي صلی الله

عليه وسلم وویل: د خیر هیڅ کار کم او سپک مه ګڼه، که څه هم د خپل مسلمان ورور سره په ورین تندې ملاقات ولې نه وي.

په پڼو کې لمونځ کول:

۱۸ - : عَنْ شَدَّادِ بْنِ أَوْسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «خَالِفُوا الْيَهُودَ فَإِنَّهُمْ لَا يُصَلُّونَ فِي نِعَالِهِمْ، وَلَا خِفَافِهِمْ ) [ سنن ابي داود: ٦٥٢ ]

ژباړه: له شداد بن اوس رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: له یهودانو سره مخالفت وکړئ، هغوی په خپلو پیزارونو او بوټانو کې لمونځ نه کوي – مطلب تاسو وریکې لمونځونه وکړئ.

په خوارو عیبونه نه کول:

۱۹ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: ( مَا عَابَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طَعَامًا قَطُّ، إِنِ اشْتَهَاهُ أَكَلَهُ، وَإِنْ كَرِهَهُ تَرَكَهُ ) [ صحيح البخاري: ٥٤٠٩، صحيح مسلم: ٢٠٦٤ ]

ژباړه: له ابوهریره رضي الله عنه نه روایت دی چې نبي صلی الله علیه وسلم هیڅکله په خوارو باندې عیب نه دی لګولی، که به یې ورته زړه وشو خوړل به یې او که به یې ورته زړه ونه شو نو پرېښوده به یې.

له اذان نه وروسته دعا ویل:

٢٠ - : عَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ، عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ: ( مَنْ قَالَ حِينَ يَسْمَعُ الْمُؤَذِّنَ أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ، رَضِيتُ بِاللهِ رَبًّا وَبِمُحَمَّدٍ رَسُولًا، وَبِالْإِسْلَامِ دِينًا، غُفِرَ لَهُ ذَنْبُه ) [ صحيح مسلم: ٣٨٦ ، صحيح الجامع: ٦٤٢٢]

ژباړه: له سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: څوک چې له مؤذن څخه ( اذان ) واوري او بيا ووايي: أشهد... زه د دې ګواهي ورکوم چې له الله پرته بل برحق معبود نشته هغه يواځې دی هيڅ شريک نه لري او محمد صلی الله عليه وسلم د هغه بنده او حق استازی دی، په الله باندې د رب په توګه، او په محمد صلی الله عليه وسلم باندې د اسماني استازي په توګه او په اسلام باندې د دين په توګه خوشحاله يم ، نو ټول ګناهونه به ورته وبښل شي.

له خوب نه مخکې سورت اخلاص او معوذتين لوستل:

٢١ - : عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ( أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا أَوَى إِلَى فِرَاشِهِ كُلَّ لَيْلَةٍ جَمَعَ كَفَّيْهِ، ثُمَّ نَفَثَ فِيهِمَا فَقَرَأَ فِيهِمَا: قُلْ هُوَ اللهُ أَحَدٌ وَقُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الفَلَقِ وَقُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ، ثُمَّ يَمْسَحُ بِهِمَا مَا اسْتَطَاعَ مِنْ جَسَدِهِ، يَبْدَأُ بِهِمَا عَلَى رَأْسِهِ وَوَجْهِهِ وَمَا أَقْبَلَ مِنْ جَسَدِهِ يَفْعَلُ ذَلِكَ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ ) [ صحيح البخاري: ٥٠١٧ ]

WWW.LARKHUD.COM

ژباړه: له عايشې رضي الله عنها نه روايت دی چې نبي كريم صلی الله عليه وسلم چې به كله هم هره شپه خپلې بسترې ته راغی خپل لاسونه به يې لپه كړل، كوپ به يې پكې وكړل او قل هو الله احد، قل اعوذ برب الفلق، قل أعوذ برب الناس به يې په كې ولوستل او چې د بدن تر كومه به يې لاس رسېده پر هغه ځای به يې راښكو، له سر او مخ او د بدن له مخامخ نه به يې شروع وكړه تول بدن به يې مسح كړ، درې ځل به يې دا كار كو.

WWW.LARKHUD.COM

د څاښت لمونځ كول:

٢٢ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: ( أَوْصَانِي خَلِيلِي بِثَلاَثٍ لاَ أَدَعُهُنَّ حَتَّى أَمُوتَ: «صَوْمِ ثَلاَثَةِ أَيَّامٍ مِنْ كُلِّ شَهْرٍ، وَصَلاَةِ الضُّحَى، وَنَوْمٍ عَلَى وِتْرٍ ) [ صحيح البخاري: ١١٧٨]

ژباړه: له ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی چې ما ته مې دوست په درې شيانو وصيت كړی دی چې تر مرګه به يې نه پرېږدم: له هرې مياشت نه درې ورځې روژه نيول، د څاښت لمونځ او له ويده كېدو نه مخكې وتر كول.

د غسل په مهال لومړی اودس كول:

٢٣ - : عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، ( أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا اغْتَسَلَ مِنَ الْجَنَابَةِ بَدَأَ فَغَسَلَ يَدَيْهِ، ثُمَّ تَوَضَّأَ كَمَا يَتَوَضَّأُ لِلصَّلَاةِ، ثُمَّ يُدْخِلُ أَصَابِعَهُ الْمَاءَ فَيُخَلِّلُ بِهَا أُصُولَ شَعْرِهِ، ثُمَّ يَصُبُّ

عَلَى رَأْسِهِ ثَلَاثَ غُرَفٍ، ثُمَّ يُفِيضُ الْمَاءَ عَلَى جَسَدِهِ كُلِّه ) [ سنن النسائي: ٢٤٧ ]

ژباړه: له عايشې رضي الله عنها نه روايت دی چې نبي صلی الله عليه وسلم به کله هم له جنابت څخه غسل کول، نو شروع به يې وکړه او لاسونه به يې ووينخل، بيا به يې لکه د لمونځ لپاره اودس وکړ، بيا به يې اوبو ته ګوتې ورښکته کړې او د وېښتانو بيخونه به يې پرې لانده کړل، بيا به يې په سر باندې درې لپې اوبه واچولې، بيا به يې په ټول بدن اوبه واړولې.

د نويو کاليو ( جامو ) په وخت کې دعا:

٢٤ - : عَنْ أَبِي سَعِيدٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ ( كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا اسْتَجَدَّ ثَوْبًا سَمَّاهُ بِاسْمِهِ، عِمَامَةً، أَوْ قَمِيصًا، أَوْ رِدَاءً، ثُمَّ يَقُولُ: «اللَّهُمَّ لَكَ الحَمْدُ أَنْتَ كَسَوْتَنِيهِ، أَسْأَلُكَ خَيْرَهُ وَخَيْرَ مَا صُنِعَ لَهُ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّهِ وَشَرِّ مَا صُنِعَ لَهُ ) [ جامع الترمذي: ١٧٦٧ ]

ژباړه: له ابوسعيد خدري رضي الله عنه نه روايت دی چې کله به رسول الله صلی الله عليه وسلم نوی کالي واچول نو نوم به يې ورله ياد کړ چې پټکی، يا کميس او څادر بيا به يې وويل: اللّٰهُمَّ... ای الله! ستا لپاره ډېرې ثناګانې دي چې تا راته دا پوښاک راواغوندو، له تا څخه د دې پوښاک خير غواړم او هغه خير درنه غواړم چې دا پوښاک يې له کبله جوړ شوی دی، او تا پورې د دې پوښاک له شر نه پناه غواړم او له هغې شر نه درپورې پناه غواړم چې دا پوښاک يې له کبله

جوړ شوی دی.

د چرګ له اواز سره دعا ویل:

٢٥ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: ( إِذَا سَمِعْتُمْ صِيَاحَ الدِّيَكَةِ فَاسْأَلُوا اللَّهَ مِنْ فَضْلِهِ، فَإِنَّهَا رَأَتْ مَلَكًا، وَإِذَا سَمِعْتُمْ نَهِيقَ الحِمَارِ فَتَعَوَّذُوا بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ، فَإِنَّهُ رَأَى شَيْطَانًا ) [ صحيح البخاري: ٣٣٠٣ ]

ژباړه: له ابوهریره رضي الله عنه نه روایت دی چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمايي: کله چې تاسو د چرګ اواز واورئ نو له الله څخه د هغه د مهربانۍ سوال وکړئ ځکه چې ملائک يې ليدلی وي، او کله چې د خر رمباړې واورې نو د الله پورې له شيطان نه پناه ونيسې ځکه چې شيطان يې ليدلی وي.

له هر لمونځ نه وروسته ايت الکرسي لوستل:

٢٦ - : عَنْ أَبِيْ أُمَامَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : ( من قرأ آية الكرسي دبر كل صلاة مكتوبة لم يمنعه من دخول الجنة إلا أن يموت ) [ صحيح الجامع: ٦٤٦٤ ]

ژباړه: له ابوامامه رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي: څوک چې د هر فرض لمونځ نه وروسته ايت الکرسي ولولي نو جنت له ننوتو يې يواځې مرګ رابندوي.

له سفر څخه د ستنېدو په مهال مسجد کې دوه رکعته لمونځ کول:

٢٧ - : عَنْ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ ( كَانَ لَا يَقْدَمُ مِنْ سَفَرٍ إِلّا نَهَارًا فِي الضُّحَى، فَإِذَا قَدِمَ بَدَأَ بِالْمَسْجِدِ، فَصَلّى فِيهِ رَكْعَتَيْنِ، ثُمّ جَلَسَ فِيهِ ) [صحيح مسلم: ٧١٦]

ژباړه: له کعب بن مالک رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم به له سفر څخه نه راستنېده مګر د سهار په مهال، خو چې کله به راورسېد نو په مسجد کې به يې په دوو رکعته پيل وکړ او بيا به په کې کېناست.

د رواتبو سنتونو خاص خيال ساتل:

٢٨ - : عَنْ أُمِّ حَبِيْبَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ ( من صلى في يوم وليلة ثنتي عشرة ركعة بني له بيت في الجنة: أربعا قبل الظهر وركعتين بعدها وركعتين بعد المغرب وركعتين بعد العشاء وركعتين قبل صلاة الغداة ) [ صحيح الجامع: ٦٣٦٢ ]

ژباړه: له ام حبيبي رضي الله عنها نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: څوک چې په شپه او ورځ کې دولس رکعته لمونځ وکړي نو الله پاک به ورله په جنت کې کور ودان کړي، څلور رکعتونه له ماسپښين نه مخکې او دوه ورځخه وروسته، او دوه له ماښام نه وروسته او دوه له ماسخوتن نه وروسته او دوه له سهار نه مخکې.

سپين وېښته له تورولو نه ساتل:

۲۹ - : عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ ( أُتِيَ بِأَبِي قُحَافَةَ يَوْمَ فَتْحِ مَكَّةَ وَرَأْسُهُ وَلِحْيَتُهُ كَالثَّغَامَةِ بَيَاضًا، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «غَيِّرُوا هَذَا بِشَيْءٍ، وَاجْتَنِبُوا السَّوَاد ) [ صحيح مسلم: ۲۱۰۲ ]

ژباړه: له جابر بن عبدالله رضي الله عنه نه روايت دی چې د مکې د فتح په ورځ د ابوبکر رضي الله عنه پلار ابوقحافه په داسې حالت کې راوستل شو چې سر او ږیره یې لکه د ثغامه بوټې په څېر تک سپین و، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: سپینوالی یې په څه شي بدل کړئ خو له تور رنګ نه ځان وساتئ.

د وتر لمونځ

۳۰ - : عَنْ أَبِيْ بَصْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ( إن الله زادكم صلاة وهي الوتر، فصلوها بين صلاة العشاء إلى صلاة الفجر ) [ سلسلة الأحاديث الصحيحة : ۱۰۸ ]

ژباړه: له ابو بصره رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: تاسو ته الله پاک د وتر په نوم اضافی لمونځ هم درکړی دی، د ماسخوتن او سهار لمونځ ترمنځ یې وکړئ.

ایکې یواځې د جمعې په ورځ روژه نه نیول:

۳۱ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلّى اللهُ

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: «لاَ يَصُومَنّ أَحَدُكُمْ يَوْمَ الجُمُعَةِ، إِلَّا يَوْمًا قَبْلَهُ أَوْ بَعْدَهُ ) [ صحيح البخاري: ١٩٨٥، صحيح مسلم: ١١٤٤ ]

ژباړه: له ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی چې ما له نبي صلی الله عليه وسلم نه اورېدلي دي ويل يې: ايکې يواځې د جمعې ورځې روژه دې هېڅوک نه نيسي مګر دا چې يوه ورځ روژه ترې مخکې يا وروسته ونيسي.

مسجد ته د شپې له مخې د ښځو تلل:

٣٢ - : عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيّ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ قَالَ: ( ائْذَنُوا لِلنِّسَاءِ بِاللّيْلِ إِلَى المَسَاجِدِ ) [ صحيح البخاري: ٨٩٩، صحيح مسلم: ٤٤٢ ]

ژباړه: له ابن عمر رضي الله عنه نه روايت دی چې نبي صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: د شپې له مخې ښځو ته اجازت ورکړئ چې مسجدونو ته ولاړې شي.

له شيدو وروسته مضمضه کول:

٣٣ - : عَنِ ابْنِ عَبّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنّ رَسُولَ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ ( شَرِبَ لَبَنًا فَمَضْمَضَ، وَقَالَ: «إِنّ لَهُ دَسَمًا ) [صحيح البخاري:٢١١، صحيح مسلم: ٣٥٨، جامع الترمذي: ٨٩ ]

ژباړه: له عبدالله ابن عباس رضي الله عنهما نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم شيدې وڅښلې او بيا يې خوله ووينځله او

وېويل: په باوري توګه چې شيدو لره غوره ځي ده.

د جمعې ورځې سهار لمونځ کې سورت سجده او سورت دهر لوستل:
٣٤ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: ( كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ فِي الجُمُعَةِ فِي صَلاَةِ الفَجْرِ الم تَنْزِيلُ السَّجْدَةُ وَهَلْ أَتَى عَلَى الإِنْسَان ) [ صحيح البخاري: ١٠٦٨ ]
ژباړه: له ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دي چې نبي كريم صلى الله عليه وسلم به د جمعې د ورځې په سهار لمونځ کې الم تنزيل سجده او هل أتى على الانسان سورتونه لوستل.

تحية المسجد کول که څه هم امام خطبه ولې نه وايي:
٣٥ - : عَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ ( دَخَلَ رَجُلٌ يَوْمَ الجُمُعَةِ وَالنَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَخْطُبُ، فَقَالَ: «أَصَلَّيْتَ؟» قَالَ: لاَ، قَالَ: «قُمْ فَصَلِّ رَكْعَتَيْن ) [ صحيح البخاري: ٩٣١ ]
ژباړه: له جابر رضي الله عنه نه روايت دی چې د جمعې په ورځ يو سړی مسجد ته راننوت او نبي صلى الله عليه وسلم خطبه کوله، نو سړي ته يې وويل: اې لمونځ دې وکړ، هغه وويل : نا، نو ورته يې وويل: پورته شه او دوه رکعته لمونځ وکړه.

د پرکالی يا سترېا په وخت کې په ناسته لمونځ کول:
٣٦ - : عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: دَخَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَإِذَا حَبْلٌ مَمْدُودٌ بَيْنَ السَّارِيَتَيْنِ، فَقَالَ: «مَا هَذَا الحَبْلُ؟» قَالُوا: هَذَا حَبْلٌ لِزَيْنَبَ فَإِذَا فَتَرَتْ تَعَلَّقَتْ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لاَ حُلُّوهُ لِيُصَلِّ أَحَدُكُمْ نَشَاطَهُ، فَإِذَا فَتَرَ فَلْيَقْعُد ) [ صحيح البخاري: ١١٥٠ ]

ژباړه: له انس رضي الله عنه نه روايت دی چې نبي صلی الله عليه وسلم ( کور ته ) ننوت نو د دوو ستنو ترمنځ يې ځړېدلې رسۍ ( پړی ) وليده، وېويل: دا د څه شي رسۍ ده؟ هغوی ورته وويل: دا د زينب رضي الله عنها رسۍ ده چې کله په لمونځ ستړې شي نو ځان ورپورې وتړي، نو نبي صلی الله عليه وسلم وويل: نا، رسۍ پرانيزئ، په تاسو کې دې هر څوک دومره عبادت وکړي چې څومره بېدار وي، خو چې ستړی شي بايد کيني.

غائبانه کې مسلمان ورور ته دعا کول:

عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ( مَا مِنْ عَبْدٍ مُسْلِمٍ يَدْعُو لِأَخِيهِ بِظَهْرِ الْغَيْبِ، إِلَّا قَالَ الْمَلَكُ: وَلَكَ بِمِثْلٍ ) [ صحيح مسلم: ٢٧٣٢، صحيح الجامع: ٥٧٣٧ ]

ژباړه: له ابودرداء رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: هېڅ مسلمان نشته چې د خپل ورور لپاره غائبانه دعاګانې کوي مګر ملائک يې پر دعا دا وايي: ستا دې هم دغومره اجر وشي.

د شکر سجده کول:

٣٨ - : عَنْ أَبِي بَكْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ كَانَ ( إِذَا جَاءَهُ أَمْرُ سُرُورٍ أَوْ بُشِّرَ بِهِ خَرَّ سَاجِدًا شَاكِرًا لِلَّهِ ) [ سنن ابي داود: ٢٧٧٤ ]

ژباړه: له ابوبکره رضي الله عنه نه روايت دی چې نبي صلی الله علیه وسلم ته چې به کله د خوشحالۍ څه شی راغلل یا به پرې د خوشحالۍ زیری وشو نو الله ته به د شکر په حالت کې په سجده باندې پرېوت.

ډېر استغفار ويل:

٣٩ - : عَنِ الْأَغَرِّ الْمُزَنِيِّ، وَكَانَتْ لَهُ صُحْبَةٌ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: «إِنَّهُ لَيُغَانُ عَلَى قَلْبِي، وَإِنِّي لَأَسْتَغْفِرُ اللهَ، فِي الْيَوْمِ مِائَةَ مَرَّةٍ ) [ صحيح مسلم: ١٥١٥ ]

ژباړه: له اغر مزني رضي الله عنه چې صحابی دی ورڅخه روايت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وايي: زما پر زړه باندې هم غفلت راځي او زه په ورځ کې له الله څخه سل ځله بخښش غواړم.

د باران راښکته کېدو په مهال باران ته ودرېدل:

٤٠ - : عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: أَصَابَنَا وَنَحْنُ مَعَ رَسُولِ اللهِ صلّى الله عليه وسلم مَطَرٌ فَخَرَجَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَحَسَرَ ثَوْبَهُ عَنْهُ حَتَّى أَصَابَهُ، فَقُلْنَا: يَا رَسُولَ اللهِ، لِمَ صَنَعْتَ هَذَا؟ قَالَ: «لِأَنَّهُ حَدِيثُ عَهْدٍ بِرَبِّهِ ) [ سنن ابي داود: ٥١٠٠]

له انس رضي الله عنه نه روایت دی چې مونږ له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره و او باران راباندې راښکته شو، له ځان نه یې کپړه پورته کړه تر دې چې باران پرې وشو، مونږ ورته وویل: د الله رسوله! دا دې ولې وکړل؟ هغه وویل: ځکه چې دا تازه د الله له خوا نه راغی.

لویدلی خښوګی پاکول او خوړل:

٤١ - : عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيّ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ كَانَ إِذَا أَكَلَ طَعَامًا لَعِقَ أَصَابِعَهُ الثّلَاثَ، وَقَالَ: «إِذَا مَا وَقَعَتْ لُقْمَةُ أَحَدِكُمْ فَلْيُمِطْ عَنْهَا الأَذَى وَلْيَأْكُلْهَا، وَلَا يَدَعْهَا لِلشّيْطَانِ، وَأَمَرَنَا أَنْ نَسْلِتَ الصّحْفَةَ»، وَقَالَ: «إِنّكُمْ لَا تَدْرُونَ فِي أَيِّ طَعَامِكُمُ البَرَكَة ) [ جامع الترمذي: ۱۸۰۳ ]

ژباړه: له انس رضي الله عنه نه روایت دی چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم به کله خواړه وخوړل نو درېواړه ګوتې به یې وڅټلې،اوویل به یې: کله چې تاسو کې له چا څخه مړی ولوېږي نو ګندګي دې ترې پاکه کړي او ودې خوري خو شیطان ته دې نه پرېږدي، او په دې یې هم مونږ ته امر کړی دی چې لوښی وڅټو، او ویل به یې: تاسو ته ددې پته نشته چې برکت مو د خوراک په کومه برخه کې دی.

د شپې له شروع کېدو سره ماشومان له کوره بهر نه پرېښودل:

٤٢ - : جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللهِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ: «إِذَا كَانَ جُنْحُ اللّيْلِ - أَوْ أَمْسَيْتُمْ - فَكُفُّوا صِبْيَانَكُمْ،

فَإِنّ الشّيْطَانَ يَنْتَشِرُ حِينَئِذٍ، فَإِذَا ذَهَبَ سَاعَةٌ مِنَ اللّيْلِ فَخَلّوهُمْ، وَأَغْلِقُوا الْأَبْوَابَ، وَاذْكُرُوا اسْمَ اللهِ، فَإِنّ الشّيْطَانَ لَا يَفْتَحُ بَابًا مُغْلَقًا، وَأَوْكُوا قِرَبَكُمْ، وَاذْكُرُوا اسْمَ اللهِ، وَخَمّرُوا آنِيَتَكُمْ وَاذْكُرُوا اسْمَ اللهِ، وَلَوْ أَنْ تَعْرُضُوا عَلَيْهَا شَيْئًا، وَأَطْفِئُوا مَصَابِيحَكُم ) [ صحيح مسلم: ۲۰۱۲، صحيح الجامع: ٧٦٤ ]

ژباړه: جابر بن عبدالله رضي الله عنه وايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي دي: کله چې شپه تورتم شي – یا په تاسو ماښام شي – نو ماشومانان مو له ګرځېدو بند کړئ، ځکه دغه وخت کې شیطانانان خورېږي خو چې د شپې څه برخه تېره شي نو بېرته ماشومانان پرېږدئ، دروازې بندې کړئ او د الله نوم پرې یاد کړئ، شیطان بندې دروازې نه شي خلاصولی، د مشکونو خولې مو هم وتړئ او د الله نوم پرې یاد کړئ، د لوښو کالیو سرونه مو پټ کړئ او د الله نوم پرې یاد کړئ ولو که په سر یې څه شی په اوږدو هم کېږدئ – لکه لرګی – ، او ډیوې – اورونه – مو هم مړې کړئ.

نیم لمر او نیم سیوري ته نه کېناستل:

٤٣ - : عَنْ أَبِيْ عَيَاضٍ عَنْ رَجُلٍ مِنْ أَصْحَابِ النّبِيّ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ أَنّهُ نهى أنْ يجلسَ بين الضّحِ والظل، وقال: مجلس الشيطان ) [ سلسلة الأحاديث الصحيحة : ۳۱۱۰ ]

ژباړه: ابوعیاض له یو صحابي څخه روایت کوي چې نبي صلی الله علیه وسلم له دې څخه منع کړې ده چې څوک دې نیم سیوري او نیم

لمر ته کېني، او وېويل: دا د شيطان ناستځی دی.

توبه کې رښتنولي:

٤٤ - : عَنْ كَعْبٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ (قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللهِ إِنّ مِنْ تَوْبَتِي أَنْ أَنْخَلِعَ مِنْ مَالِي صَدَقَةً إِلَى اللهِ وَإِلَى رَسُولهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ، قَالَ:أَمْسِكْ عَلَيْكَ بَعْضَ مَالِكَ فَهُوَ خَيْرٌ لَك) [ صحيح البخاري: ٢٧٥٧]

قال ابن القيم: وَقَوْلُ كعب: «يَا رَسُولَ اللهِ إِنّ مِنْ تَوْبَتِي أَنْ أَنْخَلِعَ مِنْ مَالِي . دَلِيلٌ عَلَى اسْتِحْبَابِ الصّدَقَةِ عِنْدَ التّوْبَةِ بِمَا قُدِرَ عَلَيْهِ مِنَ الْمَالِ.) [ زاد المعاد: ٣ / ٥١٢ ]

ژباړه: كعب رضي الله عنه وايي چې ما وويل: ای د الله رسوله! د توبې د قبلېدو – په خوشحالۍ کې – زه غواړم چې شتمني مې الله او دهغه رسول ته صدقه کړم، هغه وويل: ځينې شتمني دې له ځان سره پرېږده دا به درله ډېره غوره وي.

ابن القيم رحمه الله وايي: د كعب رضي الله عنه په دې قول کې چې د توبې د قبلېدو په خوشحالۍ کې بايد زه خپل مال الله پاک او د هغه رسول لپاره صدقه کړم، دا به دې دليل دی چې د توبې د قبلېدو په مهال د توان مطابق صدقه کول مستحب دي.

له خوب نه مخکې بستره څنډل:

٤٥ - : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنّ رَسُولَ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ، قَالَ: [ إِذَا أَوَى أَحَدُكُمْ إِلَى فِرَاشِهِ، فَلْيَأْخُذْ دَاخِلَةَ إِزَارِهِ،

فَلْيَنْفُضْ بِهَا فِرَاشَهُ، وَلْيُسَمِّ اللَّهَ، فَإِنَّهُ لَا يَعْلَمُ مَا خَلَفَهُ بَعْدَهُ عَلَى فِرَاشِهِ ) [ صحيح مسلم: ٢٧١٤ ]

ژباړه: له ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: کله چې تاسو کې څوک خپلې بسترې ته راشي نو په خپل څادر دې بستره وڅنډي او د الله نوم دې پرې ياد کړي، ځکه دا نه پوهيږي چې په بستره باندې څه شی پراته دي؟

WWW.LARKHUD.COM

د کاسې له څنډو نه خوراک کول:

٤٦ - : عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: [ إِذَا أَكَلَ أَحَدُكُمْ طَعَامًا فَلَا يَأْكُلْ مِنْ أَعْلَى الصَّحْفَةِ، وَلَكِنْ لِيَأْكُلْ مِنْ أَسْفَلِهَا، فَإِنَّ الْبَرَكَةَ تَنْزِلُ مِنْ أَعْلَاهَا ) [ سنن ابي داود: ٣٧٧٢ ]

ژباړه: له ابن عباس رضي الله عنهما نه روايت دی چې نبي صلی الله عليه وسلم فرمايي: تاسو کې چې کله څوک خوراک کوي نو د کاسې له بره سره دې خوراک نه کوي، بلکې له لاندې نه دې خوراک کوي، ځکه د طعام په سر باندې برکتونه راښکته کيږي.

د ښځو جامې اوږدول:

٤٧ - : عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمَّا ذُكِرَ فِي الْإِزَارِ مَا ذُكِرَ، قَالَتْ أُمُّ سَلَمَةَ: فَكَيْفَ بِالنِّسَاءِ؟ قَالَ: «يُرْخِينَ شِبْرًا». قَالَتْ: إِذًا تَبْدُوَ أَقْدَامُهُنَّ، قَالَ: «فَذِرَاعًا، لَا يَزِدْنَ عَلَيْهِ ) [ سنن النسائي: ٥٣٣٨ ]

ام سلمه رضي الله عنها وايي چې نبي صلی الله علیه وسلم چې کله د لنګ – پرتوګ – متعلق هغه څه وويل چې ويې ويل: نو ام سلمه رضي الله عنها ورته وويل: ښځې باید څه وکړي؟ هغه وويل: يوه لويشت دې اوږد پرتوګ وکړي، هغې وويل: نو بيا يې هم خپې (قدمونه) ښکاره کيږي! هغه وويل: پرتوګ دې يو څنګل اوږد وکړي او له دې نه دې نه اوږدي.

د دم په مهال درمند ځای باندې لاس کېښودل:

٤٨ - : عَنْ عُثْمَانَ بْنِ أَبِي الْعَاصِ الثَّقَفِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّهُ شَكَا إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَجَعًا يَجِدُهُ فِي جَسَدِهِ مُنْذُ أَسْلَمَ فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «ضَعْ يَدَكَ عَلَى الَّذِي تَأَلَّمَ مِنْ جَسَدِكَ، وَقُلْ بِاسْمِ اللهِ ثَلَاثًا، وَقُلْ سَبْعَ مَرَّاتٍ أَعُوذُ بِاللهِ وَقُدْرَتِهِ مِنْ شَرِّ مَا أَجِدُ وَأُحَاذِرُ ) [ صحيح مسلم: ۲۲۰۲ ]

ژباړه: عثمان بن ابي العاص رضي الله عنه نبي كريم صلی الله علیه وسلم ته د اسلام له راوړو وروسته په خپل بدن کې له درد څخه شکایت وکړ، رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وويل: خپل لاس دې د بدن پر هغه ځای کېږده چې درديږي او درې ځله بسم الله ووايه، او بيا اووه ځله ووايه ( اعوذ بالله... ) د الله او د قدرت پورې يې له هغه شر نه پناه نيسم چې زه يې درد محسوسوم او ترې ويريږم او ځان ترې ساتم.

له خوب نه وروسته پوزه وينځل:

٤٩- : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: ( إِذَا اسْتَيْقَظَ أَحَدُكُمْ مِنْ مَنَامِهِ فَلْيَسْتَنْثِرْ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ، فَإِنَّ الشَّيْطَانَ يَبِيتُ عَلَى خَيَاشِيمِهِ ) [ صحيح مسلم: ٢٣٨ ]

ژباړه: له ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی چې نبي صلی الله عليه وسلم فرمايي: په تاسو کې چې کله څوک له خوب څخه رابيدار شي نو درې ځله دې پوزه ووينځې، ځکه شيطان يې په خيشوم – پوزه – کې شپه تېروي.

خطبه لنډه او لمونځ اوږد کول:

٥٠ - : عَنْ أَبِيْ وَائِلٍ قَالَ خَطَبَنَا عَمَّارٌ، فَأَوْجَزَ وَأَبْلَغَ، فَلَمَّا نَزَلَ قُلْنَا: يَا أَبَا الْيَقْظَانِ لَقَدْ أَبْلَغْتَ وَأَوْجَزْتَ، فَلَوْ كُنْتَ تَنَفَّسْتَ فَقَالَ: إِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: «إِنَّ طُولَ صَلَاةِ الرَّجُلِ، وَقِصَرَ خُطْبَتِهِ، مَئِنَّةٌ مِنْ فِقْهِهِ، فَأَطِيلُوا الصَّلَاةَ، وَاقْصُرُوا الْخُطْبَةَ، وَإِنَّ مِنَ الْبَيَانِ سِحْرًا ) [ صحيح مسلم: ٨٦٩، صحيح الجامع: ٢١٠٠ ]

ژباړه: ابو وائل وايي عمار رضي الله عنه مونږ ته لنډه خطبه راکړه کله چې له ممبر نه راښکته شو مونږ ورته وويل: خبرې دې ښې وکړې خو ډېره لنډه خطبه دې وويله، که خطبه دې لږه اوږده کړې وی ډېره به ښه وه، هغه وويل: ما له رسول الله صلی الله عليه وسلم نه اورېدلي دي چې د سړي اوږد لمونځ او لنډه خطبه د هغه د علم نښه ده، لمونځ اوږد وکړئ او خطبه لنډه ووايئ، او هرومرو ځيني بيانونه –

په اثر او زړه راښکلو کې – د سحر په څېر وي.

الحمدلله الذي بنعمته تتم الصالحات، والحمدلله طيبا كثيرا مباركا فيه.

WWW.LARKHUD.COM

# أَمَانَةُ الكِلَمَةِ

# خبرې امانت دی

فضيلة الشيخ دكتور سعيد بن سالم الدرمكي ( حفظه الله )

پښتو ژباړه: لقمان حکیم حکمت

WWW.LARKHUD.COM

الحمدلله رب العلمين، وأشهد أن لا اله الا الله وحده لا شريک له وأشهد أن محمداً عبده ورسوله، أما بعد:

قدرمنو ورونو! د خلکو ترمنځ د فهم تفاهم لپاره خطاب الله پاک ډېره ښه وسیله جوړه کړې ده، هرڅوک له بل سره خپلې اړتیاوې په دومره ښایسته اسلوب شریکوي چې سامع پرې پوهېږي، دا هر څه په دې خاطر چې سامع د خبرو په مغز ورسېږي او مراد یې په ذهن کې کېني، نو له دې کبله یې ژوند دوام کې وي او خلک په دغسې اسلوب سره خپل پېژندګلو کوي او خپل منځ کې سره د یو بل مرسته کوي.

د رب کائنات فضل او کرم دی چې د کلماتو د نقل لپاره یې مونږ ته په هر زمان او مکان کې دغه وسیله اسانه کړې ده، په ډېر لږ وخت کې په مغرب کې د ګرځېدونکې په خبرو اترو د هغه چا مغز خلاص شي چې د نړۍ په ختیځ کې دي.

ټولې انټرنیټي شبکې او د هغې فعال رنګارنګ پروګرامونه، ورځنۍ او میاشتنۍ مجلې او تلویزیونونه ټول هغه څه دي چې د خبرو اترو په نشر او اشاعت ځانګړې پاملرنه کوي.

له کوم انسان څخه چې خبرې اترې راوځي که دغه خبرې مسموعې وي او که لیکلې بڼه لري خو د انسان په وګړیز او ټولنیز او حتی د انسان په مصیر ښکاره اغېز لري، له دې کبله خبرې اترې د انسان په غاړه کې هغه امانت دی چې د قیامت په ورځ به یې ورڅخه اړوند پوښتنه کېږي، الله تعالی فرمایي ( مَا يَلْفِظُ مِنْ قَوْلٍ اِلاَّ لَدَيْهِ رَقِيْبٌ عَتِيْدٌ ) [ سورت ق: ١٨ ]

ژباړه: انسان په هېڅ ډول خبرو تلفظ نه کوي مګر ليکونکي او ليکلو ته چمتو ملک ورسره وي. له دې کبله له انسان سره مناسب دا دي چې له خبرو کولو وړاندې بايد سوچ وکړي مخکې له دې څخه نور يې واوري او يا يې نقل او نشر کړي، ورنه د قيامت په ورځ به ګناه پر همده وي، الله پاک فرمايي ( وَلَا تَقْفُ مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ إِنَّ السَّمْعَ وَالْبَصَرَ وَالْفُؤَادَ كُلُّ أُولَئِكَ كَانَ عَنْهُ مَسْئُولًا ) [ سورت اسراء: ٣٦ ]

ژباړه: او په څه شي چې علم او يقين ونه لرې نو مه ورپسې کېږه، ځکه د غوږونو، سترګو او زړه اړوند به له تا څخه پوښتنه کېدلی شي. او له ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول کريم صلی الله عليه وسلم فرمايي (إِنَّ العَبْدَ لَيَتَكَلَّمُ بِالكَلِمَةِ مِنْ رِضْوَانِ اللَّهِ، لاَ يُلْقِي لَهَا بَالًا، يَرْفَعُهُ اللَّهُ بِهَا دَرَجَاتٍ، وَإِنَّ العَبْدَ لَيَتَكَلَّمُ بِالكَلِمَةِ مِنْ سَخَطِ اللَّهِ، لاَ يُلْقِي لَهَا بَالًا، يَهْوِي بِهَا فِي جَهَنَّمَ ) [ صحيح البخاري: ٦٤٧٨ ]

ژباړه: په يقين سره چې ځينې وخت انسان د الله د رضا متعلق داسې څه ووايي چې د ډېر ثواب عمل يې هم ونه بولي خو الله يې پرې ډېرې درجې پورته کړي، او ځينې وخت انسان د الله د غضب متعلق داسې خبرې وکړې چې دا يې د ګناه خبرې نه بولي خو په سبب به يې جهنم ته وغورځېږي.

د ارزښتناکو خبرو مثال الله پاک خپله په قران کريم کې بيان کړی دی، هغه فرمايي: ( أَلَمْ تَرَ كَيْفَ ضَرَبَ اللَّهُ مَثَلًا كَلِمَةً طَيِّبَةً كَشَجَرَةٍ طَيِّبَةٍ أَصْلُهَا ثَابِتٌ وَفَرْعُهَا فِي السَّمَاءِ ) [ سورت ابراهيم: ٢٤ ]

www.larkhud.com

ژباړه: ای پیغمبره! تا ته د دې معلومات نشته چې د پاکې کلمې ( لااله الا الله ) مثال د هغې لوېې ونې ( کجورې ) دی چې سټه یې په ځمکه کې پیاوړې وي او څانګې یې پورته او لوړې وي.

دلته ایت پر دوو کلمو غرېدلی دی یوه ګټوره خبره ده چې هر چا ته یې خیر شامل وي، او بله ګنده کلمه وي چې نه خو ثبات لري او نه کومه ګټه، له ګنده خبرې څخه ګټه نه متکلم خپله اخستلی شي او نه یې ترې نور.

له دې کبله اسلامي دین مونږ پر نېکو خبرو کولو هڅولو یو چې له شریعت او دین سره سمون خوري او یا د تعذر په مهال لږ تر لږ ورته نږدې وي، که هغه ویل وي او که لوستل، که امر بالمعروف وي او که نهي عن المنکر، علم او تحصیل او پر حق باندې حرص کول او یا نور هغه لاملونه چې حق ته د رسیدګۍ سبب وي.

د غورو خبرو له جملې څخه نرمې خبرې کول او له خلکو سره په خبرو کې لطف کول هم دي، الله پاک چې کله فرعون ته موسی علیه السلام واستو چې د الله لورې ته بلنه ورکړي نو ورته یې وویل: ( فَقُولَا لَهُ قَوْلًا لَيِّنًا لَعَلَّهُ يَتَذَكَّرُ أَوْ يَخْشَى ) [ سورت طه: ٤٤ ]

ژباړه: دواړه ورته نرمې خبرې وکړئ شاید پند واخلي او له رب څخه ډار ولري.

یو واعظ چې کوم ټولواک ته یې نصیحت کو نو پند یې ورته په سختو خبرو ورکړ، ټولواک ورته وویل: واعظه! له نرمۍ څخه کار واخله، الله پاک له تا څخه غوره هستي موسی علیه السلام له ما څخه بدترین انسان فرعون ته واستو، خو بیا هم ورته الله د دې سپارښتنه وکړه چې ( فَقُولَا لَهُ

قَوْلًا لَيِّنًا ) نو دعوت کې ته د موسی علیه السلام درجې ته نه شې پورته کېدی او زه د فرعون کفري درجې ته ټیټ شوی نه یم.

مونږ د خپلې کورني غړو، ښځې، بچیان، طالب العلمان او پر دندو بوخت خلکو ته د دا ډول تربې ډېره اړتیا لرو، همدوی په دعوتي اسلوب کې پر نرمو خبرو د فرعون په پرتله ډېر اولی دي.

د ښو خبرو او د حقیقي تقوا نېک اغېز الله پاک په بل ځای کې ډېر ښه روښانه کړی دی، هغه فرمايي: ( يُصْلِحْ لَكُمْ أَعْمَالَكُمْ ) [ سورت احزاب : ۷۱ ] ژباړه: نو الله پاک به ستاسو عملونه دروست کړي.

ښې او ګټورې خبرې د اعمالو د سمښت سبب دی او د اعمالو د قبول ډېر ښه لامل دی، خو که د چا په خبرو کې تقوا او ګټه نه وي نو هم يې عملونه فاسد او قبول نه دي او نه پرې کوم نېک اثر مرتب کيږي، [ تفسیر سعدي: ۶۷۳ ]

او نبي کريم صلی الله علیه وسلم په هراړخيزه معنا د نیکو خبرو اړوند فرمايي: (وَالْكَلِمَةُ الطَّيِّبَةُ صَدَقَةٌ ) [ صحیح مسلم: ۱۰۰۹ ]

ژباړه: او نېکه خبره کول خیرات او صدقه ده.

نیکې خبرې ډېرې ګټې او میوې لري چې مسلمان يې په خبل ژوند او حتی له مرګ وروسته ترې هم ګټه اخلي، په ښو خبرو سره مینه او محبت برحال وي، ملګرتوب ته وده ورکوي، د ذات البين اړوند د شیطان ورانکارۍ هلې ځلې شنډوي، الله پاک فرمايي: ( وَقُلْ لِعِبَادِي يَقُولُوا الَّتِي هِيَ أَحْسَنُ إِنَّ الشَّيْطَانَ يَنْزَغُ بَيْنَهُمْ إِنَّ الشَّيْطَانَ كَانَ لِلْإِنْسَانِ عَدُوًّا مُبِينًا ) [سورت اسراء: ۵۳ ]

ژباړه: زما بندګانو ته ووايه چې هغه ډول خبرې وکړئ چې ښې او ګټورې وي، ځکه چې شيطان مو د بدو خبرو له لارې غواړي په ورانکارۍ کې مو واچوي، په يقين سره چې شيطان د انسان لپاره ډېر ښکاره دښمن دی.

د دې ايت لاندې مفسرين ليکي: قول حسن هغه ته ويل کيږي چې ښو اخلاقو او نېک عمل ته بلنه ورکوي، ځکه څوک چې خپله ژبه قابو کړي نو ټولې چارې په قابو کې راوستلی شي. [ تفسير السعدي: ٤٦٠ ]

تر دې چې له دښمن سره هم په نېک انداز خبرې کول د اسلامي دين مطلب دی، په دې سره له دښمن څخه جنګ جګړه او د غضب او غصې اورونه مړه کيږي، زړونه سره يو بل ته نزدې کوي او له سينې څخه حسد او کينه اوباسي، الله پاک فرمايي : ( وَلَا تَسْتَوِي الْحَسَنَةُ وَلَا السَّيِّئَةُ ادْفَعْ بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ فَإِذَا الَّذِي بَيْنَكَ وَبَيْنَهُ عَدَاوَةٌ كَأَنَّهُ وَلِيٌّ حَمِيمٌ ) [ سورت فصلت: ٣٤ ]

ژباړه: د مؤمنانو ښه او د کافرانو بد سره نه دي برابر، د بدو مخه په احسان سره ډپ کړه، په دې سر به هغه څوک چې له تاسره دښمني لري داسې شي لکه نزدې او مشفق دوست. ستر تابعي طلحه بن عمر عطاء بن ابي رباح ته وويل: ته داسې هستي يې چې خلک درته ډېر راغونډيږي او بېلابېلې نظريې لري، او زه خبره لږه سخته کوم کله ناکله ورته خبره هم سخته وکړم، هغه ورته وويل: داسې بېخي مه کوه، ځکه الله پاک فرمايي ( وَقُولُوا لِلنَّاسِ حُسْناً ) چې په يهودي او نصراني کې نرمې خبرې اثر کړی دی نو په مسلمان کې به ولې اثر نه کوي؟! په نېکو خبرو کولو سره انسان جنت ته ننوځي، ابو مقدام له خپل پلار او هغه يې له خپل پلار نه روايت کوي چې

ما نبي کريم صلى الله عليه وسلم ته وويل: داسې عمل راوښایه چې جنت ته تلل واجبوي، هغه راته وويل: ښې خبرې کوه او خواړه خلکو ته ورکوه. همدارنګه نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايي: ( اتَّقُوا النَّارَ وَلَوْ بِشِقِّ تَمْرَةٍ، فَمَنْ لَمْ يَجِدْ فَبِكَلِمَةٍ طَيِّبَةٍ ) [ صحيح البخاري: ٦٥٤٠، صحيح مسلم: ١٠١٦ ]

ژباړه: له اور څخه ځانونه وژغورئ که په نيمه کجوره ولې نه وي، که يې څوک نه لري په ښو خبرو بايد ځانونه له اور څخه بچ کړئ.

طيب الکلام پراخه مجال او واسع مفهوم لري او د خير ټولو اړخونو ته شامل دی، که امر بالمعروف او نهي عن المنکر وي، که د قران کريم لوستل وي او که ذکر او تسبيح او استغفار وي، که د الله لورې ته په حکمت او نصيحت سره د خلکو دعوت وي او که حتی له خپلو بې بيانو او بچو سره لوبې لوبالې کول وي، نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايي: ( أَرْبَعٌ مِنْ أَطْيَبِ الْكَلَامِ، وَهُنَّ مِنَ الْقُرْآنِ، لَا يَضُرُّكَ بِأَيِّهِنَّ بَدَأْتَ: سُبْحَانَ اللهِ، وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ، وَلَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ، وَاللهُ أَكْبَرُ ) [ مسند أحمد: ٢٠١٢٦]

ژباړه: خوندرې خبرې څلور دي او څلور واړه له قران څخه دي، که په هرې خبرې دې پيل واچو هيڅ باک نه لری: سبحان الله، الحمدلله، لااله الا الله ، والله اکبر .

دوهم قسم خبرې چې الله پاک يې ذکر کړی دی پليتي او خبيثي خبرې دي چې نه ثبات لري او نه کومه ګټه، مسلمان بايد له دغو خبرو ځان وژغوري او تر شا يې وارتوي، دغه خبرې له ندامت او حسرت پرته نور هيڅ نه دي، بلکې د دغو خبرو په سبب به پرې خلک بد وايي او په عزت

او مرتبه به يې خلک لوبې وکړي، له دې کبله ځينې سلفو صالحينو ويلي دي: ځينو وختونو کې راته يو سړی ډېر ګران شي خو چې پليتي خبرې وکړي نو له سترګو مې وغورځيږي.پليتي خبرې جهنم ته د تللو ډېر لوی سبب دی، له نبي کريم صلى الله عليه وسلم څخه وپوښتل شول چې خلک به اور ته د کوم سبب په خاطر ډېر ځي؟ هغه وفرمايل: (الْفَمُ، وَالْفَرْجُ ) [ سنن ابن ماجه: ٤٢٤٦، جامع الترمذي: ٢٠٠٤ ] ژباړه: خوله او فرج. له معاذ بن جبل رضي الله عنه نه هم روايت دی چې نبي کريم صلى الله عليه وسلم ما ته وويل: ( أَلَا أُخْبِرُكَ بِمَلَاكِ ذَلِكَ كُلِّهِ؟ قُلْتُ: بَلَى يَا نَبِيّ اللَّهِ، فَأَخَذَ بِلِسَانِهِ قَالَ: كُفَّ عَلَيْكَ هَذَا، فَقُلْتُ: يَا نَبِيّ اللَّهِ، وَإِنَّا لَمُؤَاخَذُونَ بِمَا نَتَكَلَّمُ بِهِ؟ فَقَالَ: ثَكِلَتْكَ أُمُّكَ يَا مُعَاذُ، وَهَلْ يَكُبُّ النَّاسَ فِي النَّارِ عَلَى وُجُوهِهِمْ أَوْ عَلَى مَنَاخِرِهِمْ إِلَّا حَصَائِدُ أَلْسِنَتِهِمْ ) [ سنن ابن ماجه: ٣٩٧٣، جامع الترمذي:٢٦١٦ ]

ژباړه: ايا د دې ټولو د اجر او ثواب ګټلو په لنډه دې نه خبروم؟ ما وويل: ولې نه د الله رسوله، نو خپله ژبه يې ونيوله او ويويل: دا کنترول کړه، ما ورته وويل: ای د الله پيغمبره! ايا په ژبه هم نيول کيږو (محاسبه راسره کيږي) ؟ هغه وويل: معاذه! مور دې درباندې بوره شه په اور کې خلکو لره پړ مخ نه دي روان کړي مګر د هغوی د ژبو لونو پړمخ روان کړي دي.

ناکاره او پليتي خبرې د مسلمان حسنات له منځه وړي او بدياني يې ډېروي، نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايي: ( أَتَدْرُونَ مَنِ الْمُفْلِسُ؟ قَالُوا: الْمُفْلِسُ فِينَا يَا رَسُولَ اللَّهِ مَنْ لَا دِرْهَمَ لَهُ وَلَا مَتَاعَ، قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: الْمُفْلِسُ مِنْ أُمَّتِي مَنْ يَأْتِي يَوْمَ الْقِيَامَةِ بِصَلَاتِهِ

وَصِيَامِهِ وَزَكَاتِهِ، وَيَأْتِي قَدْ شَتَمَ هَذَا وَقَذَفَ هَذَا، وَأَكَلَ مَالَ هَذَا، وَسَفَكَ دَمَ هَذَا، وَضَرَبَ هَذَا فَيَقْعُدُ فَيَقْتَصُّ هَذَا مِنْ حَسَنَاتِهِ، وَهَذَا مِنْ حَسَنَاتِهِ، فَإِنْ فَنِيَتْ حَسَنَاتُهُ قَبْلَ أَنْ يُقْتَصّ مَا عَلَيْهِ مِنَ الخَطَايَا أُخِذَ مِنْ خَطَايَاهُمْ فَطُرِحَ عَلَيْهِ ثُمّ طُرِحَ فِي النّارِ ) [ صحيح مسلم: ٢٥٨١ ]

ژباړه: ايا تاسو پوهېږئ چې ناداره څوک دی؟ صحابه کرامو وويل: مونږ کې ناداره هغه څوک دی چې درهم او ساز او سامان و نه لري، رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل: زما په امت کې ناداره هغه څوک دی چې د قيامت په ورځ به خپل لمونځونه، روژې او زکاتونه راوړي، رابه شي او ده ته به يې کنځلې کړي وي، پر ده به يې تور پورې کړی وي، او د ده به يې مال دولت خوړلی وي، د ده به يې وينه توی کړي وي او دا به يې وهلی وي، هغه به کيني، د ده بدل به هم ترې واخستل شي او د ده به هم ، که يې حسنات مخکې له دې ختم شي چې قصاص ترې نه وي اخستل شوی نو د مظلومانو ګناهونه به راواخستل شي او په ده به بار کړی شي او بيا به اور ته ګوزار کړی شي.

لکه څنګه چې د ښو خبرو مجال پراخه دی دا ډول د پليتو خبرو مجال هم ډېر غځېدلی دی، لوی پليتي دا ده چې له الله سره څوک برخه دار جوړ کړي، له علم پرته پر الله دروغ وتړي، د دروغو ګواهي ورکول، سحر او جادو کول، تور لګول، سپورې ستغې ويل، غيبت او نميمت کول، په باطل سره جنګ جګړې کول، د ځان صفتونه کول، ناروا ګاني بجانې اورېدل، له چا پسې ټوکې تمسخر کول يا يې دين تنقيصول، دا ټول هغه پليتې خبرې او

پلیت کارونه دي چې د الله پاک له رحمت څخه د حرمان سبب دی او د خلکو ترمنځ د ناخوالو او تربګنو تر هر څه ستر لامل دی.

له مسلمان سره ښايي چې خپله ژبه کنترول کې ولري او ځان له ګردو خباثتونو څخه پاک صفا وساتي، او مسلمان باید پر دې پوهه شي چې په مال دولت سره هېڅکله خلک نه شي خپلولی خو په دې يې خپلولی شي چې په ورين تندي ورسره ويني او هېڅ ډول ستونزې سترې ورته جوړې نه کړي، په ښو اخلاقو او ښایسته خبرو يې خپلولی شي، مسلمان باید دې ته ځير وي چې که هر څه وليکي نو انسان به نه وي او ليکل به يې پاتې وي، نو که د خير ښېګړې کار يې کړی وي په خير به يې خلک يادوي، او که د شر او شرارت کارونه او خبرې يې کړې وي نو په شر او شرارت به يې خلک يادوي.

الله پاک دې مونږ ته د هغو کارونو توفيق راکړي چې دهغه خوښ وي او هغه پرې خوشحاليږي.

## حُكْمُ التَّشَبُّهِ بِالحَيْوَانِ

## له حیوان سره د ځان جوړولو

# اسلامي حكم

WWW.LARHKUD.COM

ليکوال: فضيلة الشيخ ابراهيم بن عبدالله المزروعي
ژباړن: لقمان حکيم حکمت

بسم الله الرحمن الرحيم

الحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ العَلَمِيْنَ، وَالصَّلاَةُ وَالسَّلامُ عَلَى خَاتَمِ النَّبِيِّينَ، وَأَشْهَدُ أَنْ لاَ اِلَهَ اِلاّ اللّٰهُ وَحْدَهُ لاَشَرِيْک لَهُ وَأَشْهَدُ أَنّ مُحَمّداً عَبْدُ وَرَسُوْلُهُ وَبَعْدُ:

دا د اسلامي شريعت ځانګړنه ده چې هم اسلامي شريعت خپله او هم مسلمان د نورو امتونو سره توپير خوري، له دې کبله اسلام د کافرانو او شيطانانو سره له تشبّه څخه کلکه منع فرمايلې ده، همدا راز يې سړي له ښځو او ښځې له سړو سره له تشبه څخه منعه کړي دي، ځکه چې هر جنس له بل څخه په وړو کړو کې جلا طبيعت او مختلف واجبات لري، همدا راز اسلامي شريعت د مسلمان شان په دې سره هم لوړ کړی دی چې بايد ځان له حيواناتو سره مشابه نه کړي او همدا نن په دې موضوع سره غږېږو.

الله پاک پر انسان د عقل او معرفت لورينه کړې ده او په دې يې ورته پر ګرد مخلوق شرف او عزت ورکړی دی، نو له انسان سره نه ښايي چې د ډنګرو او حيواناتو تر درجې ځان ښکته کړي، د حيواناتو په څېر حرکتونه کوي او په ځان کې هغه ته ورته والی راولي، او حالانکه الله پاک د کافرانو د تکذيب په سبب هغوی له حيواناتو سره مشابه کړي دي، الله پاک فرمايي: (فَمَثَلُهُ كَمَثَلِ الْكَلْبِ إِنْ تَحمِلْ عَلَيْهِ يَلْهَثْ أَوْ تَتْرُكْهُ يَلْهَثْ ذَلِكَ مَثَلُ الْقَوْمِ الّذِينَ كَذّبُوا بِآيَاتِنَا فَاقْصُصِ الْقَصَصَ لَعَلّهُمْ يَتَفَكّرُونَ ) [سورت أعراف:۱۷۶].

ژباړه: د ده سړي مثال د سپي په څېر دی که يې شړې او که نه خو ژبه يې راويستلې وي، همدا صفت د هر هغه قوم هم دی چې زمونږ ايتونو ته د

درواغو نسبت کوي، د مخکنو امتونو واقعې دې خلکو ته بيان کړه شايد غور پکې وکړي. او الله پاک فرمايي: (مَثَلُ الَّذِينَ حُمِّلُوا التَّوْرَاةَ ثُمَّ لَمْ يَحْمِلُوهَا كَمَثَلِ الْحِمَارِ يَحْمِلُ أَسْفَارًا بِئْسَ مَثَلُ الْقَوْمِ الَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِ اللَّهِ وَاللَّهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ) [سورت جمعه: ۵]

ژباړه: د هغو يهودانو مثال چې تورات يې زده کړ او عمل يې پرې نه کو د هغه خر دی چې کتابونه يې بار کړي وي، د داسې قوم ډېر بد صفت دی چې د الله ايتونه تکذيبوي او ظالم قوم ته الله پاک د هدايت توفيق نه ورکوي. او الله پاک فرمايي: (وَالَّذِينَ كَفَرُوا يَتَمَتَّعُونَ وَيَأْكُلُونَ كَمَا تَأْكُلُ الْأَنْعَامُ وَالنَّارُ مَثْوًى لَهُمْ ) [سورت محمد:۱۲]

ژباړه: او هغه خلک چې کفر يې کړی دی داسې خوراکونه کوي لکه حيوانات چې خوراکونه کوي، او اور د همدوی خلکو ځای دی. خو د مومن مسلمان درجه الله پاک پورته کړې ده او له کافرانو او حيواناتو څخه يې ورته امتياز ورکړی دی، په ګڼ شمېر حديثونو کې نبي کريم صَلىّ اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هم مومنان له دې څخه منع کړي دي چې ځانونه دې له حيواناتو سره تشبيه کړي، ځکه چې اسلام د سليم فطرت او د اسان شريعت دين دی، او له حيواناتو سره تشبّه له انساني فطرت او اسان دين سره ټکر کې ده، صنعاني رَحِمَهُ اللّهُ وايي: (له حيواناتو سره د تشبّه نه نبي کريم صَلىّ اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ منع کړې ده) [سبل السلام: ۲۵۷ نمبر حديث].

زمونږ د سبق منځ پانګه په دې ډول ده: سريزه، د تَشّبُه تعريف، له حيواناتو سره په تشبه کې شرعي قانون، له حيواناتو سره له تشبه کولو نه ځان ساتلو کې ګټې، له حيواناتو سره په تشبه کې ځينې نمونې، پايڅوړ.

د تشبّه تعریف: د بل چا په څېر په ټولو یا ځینو صفاتو کې په تکلف سره قصداً عمداً ځان جوړولو ته تشبه ویل کیږي، په دې سره یې له حکم نه هغه څوک مستثنی دی چې یا یې قصد نه وي، یا مجبور وي او یا پرې له ځان څخه د کوم تاوان مخه نیسي، تشبه زیاتره په ظاهري امورو کې راځي لکه خبرې اترې او کارونه نه په باطني امورو کې، د مشابهت اطلاق په مماثلت، پېښې څېرې، او په موافقت او تقلید او داسې نورو الفاظو کې هم راتللی شي. اما له حیواناتو سره د تشبّه په باب دوه اسلامي قاعدې دي:

لومړۍ قاعده: ( له حیواناتو سره د هغه په ځانګړنو او صفتونو کې تشبه په عمومي توګه مکروه ده ) نو که څوک له بهائمو سره په خصوصیتونو او صفتونو کې ځان یو څېر کړي که دغه تشبّه په عبادت کې وي او که په نورو حالتونو کې وي، نو د راروانو دلیلونو له مخې یې مکروه کار وکړ: (۱) د قران او حدیث عمومي نصوص چې له حیواناتو او ډنګرو سره یې تشبه غندلې ده، الله پاک فرمایي: (فَمَثَلُهُ كَمَثَلِ الْكَلْبِ إِنْ تَحْمِلْ عَلَيْهِ يَلْهَثْ أَوْ تَتْرُكْهُ يَلْهَثْ ذَلِكَ مَثَلُ الْقَوْمِ الَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا فَاقْصُصِ الْقَصَصَ لَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُونَ ) [سورت أعراف:۱۷٦].

ژباړه: د ده سړي مثال د سپي په څېر دی که یې شړې او که نه خو ژبه یې راویستلې وي، همدا صفت د هر هغه قوم هم دی چې زمونږ ایتونو ته د درواغو نسبت کوي، د مخکنو امتونو واقعې دې خلکو ته بیان کړه شاید غور پکې وکړي.

او رسول الله صَلیّ اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلّمَ فرمايي: (اعْتَدِلُوا فِي السُّجُودِ، وَلاَ يَبْسُطْ أَحَدُكُمْ ذِرَاعَيْهِ انْبِسَاطَ الْكَلْبِ ) [صحيح البخاري: ۸۲۲، صحيح مسلم:٤٩٣]

ژباړه: په سجده کې ميانه روي وکړئ او په تاسو کې دې څوک د سپي په څېر څنګلې نه خوروي. مناوي رَحِمَهُ اللّٰهُ وايي: په دې حديث کې له خسيسو او بدترينو حيواناتو په اخلاقو او صفتونو او په ناسته پاسته کې له تشبه نه منعه ده. ( فيض القدير: ۱/ ۵۵۳). (۲)

اولوي قياس: دا چې له ځينو خسيسو انسانانو له تشبه نه په دين کې منعه راغلې ده چې په انسان کې ترې نقص لازميږي نو له حيواناتو پورې له تشبه نه خو هرومرو نقص لازميږي. (۳) ابن تيميه رَحِمَهُ اللّٰهُ وايي: دا قاعده د تنبيه له لارې تقاضا کوي چې د حيواناتو له ټولو صفتونو څخه على الاطلاق بايد ځان انسان وساتي که څه هم دغه ځانګړني مذموم نه وي، ځکه دغه تشبه انسان هغو ډول کړو ته مجبوروي چې بعينه به مذموم وي. (الفتاوى:۳۲/ ۲۵۸)

همدا راز وايي: کومې ځانګړني چې د حيواناتو وي له انسان سره مناسب نه دي چې تشبه پکې له حيوان سره وکړي. (الفتاوى:۳۲/ ۲٦۰)

(ب) دوهمه قاعده: (که قصداً څوک ځان له حيوان سره مشابه کړي نو د شرعي فطرت تخليق ته يې ته تغير ورکړ او دا شرعاً حرام کار دی) (الفتاوى:۳۲/۲٦۰)

لومړی قاعده د دې بنسټ ده او دا قاعده يې د قيد په توګه ده، له حيوان سره که څوک په هر شي کې تشبّه وکړي او د الله فطرت پرې تغيرېدلی

شي نو د هغو نصوصو په رڼا کې حرام دي چې فطرت ته تغير ورکوونکو ښځو په لعن طعن کې راغلي دي لکه د زينت په خاطر غاښونو کې کولاوالی راوستل نو پر انسان باندې د يو حيوان په خاص صفت کې تقليد حرام دی لکه د خر په څېر رمباړې وهل، د سپي په څېر غپل او داسې نور... له حيوان سره له تشبه نه د حرمت ګټه دا ده چې الله پاک فرمايي (وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِيْ آدَمَ) [سورت اسراء: ٧٠]

ژباړه: او په تحقيق سره چې مونږ انسانانو ته شرف ورکړی دی. او د شرف له دې درجې څخه د نقص، سپکوالي ته ښکته کېدل د الله تکريم نه منل دي، يو خو له داسې حيوان سره ځان مشابه کول دي چې هېڅ عقل نه لري او په دې کې د انساني کرامت لپاره ستر تحفظ دی، ابن تيميه رَحِمَهُ اللهُ وايي (په حقيقت کې الله انسان له حيوان سره ټکر ګرځولی دی، او د انسان کمال او صلاح يې په هغه څه کې ايښی دی چې ورسره ښائيږي چې دغه امور بيخي په حيوان کې نه شته، که قصداً څوک له حيوان سره مماثلت وکړي نو د الله په فطرت کې يې لاسوهنه وکړه او شرعا دا کار حرام دي) (الفتاوی: ٣٢/٢٦٠). نو د حيوان له تشبه نه ځان ساتلو کې هم د انساني فطرت او هم د اسلامي شريعت تحفظ دی، همدا ورڅخه لوی راز او لويه ګټه ده.

له حيواناتو سره د تشبه ځينې نمونې: په دې اړه له رسول الله صَلىّ اللهُ عَليْهِ وَسَلّمَ څخه دليلونه شتون لري:

١ - : د سپي په څېر ناسته: خو دا يواځې په لمونځ کې، د سپي ناسته دا ده چې انسان خپل کوناټي پر ځمکه کېږدي او زنګونان ودروي او لاسونه هم

پر ځمکه کېږدي لکه سپی چې ناست وي، دا د عامو اهل علمو تفسیر دی، بلکې له ابن عبدالبر رَحِمَهُ اللّٰهُ نه دا هم نقل دي چې (دا ډول ناسته د ټولو فقهاؤ په اجماع حرامه ده) (الاستذکار:٤/ ٢٦٧) یو بل ډول ناسته هم شته چې حرامه نه ده، لکه د دوو سجدو منځ کې کوناټی په خپو کېښودل ا وښېې ودرول، دا جائز بلکې سنت دي کله ناکله باید وشي، په صحیح مسلم کې له ابن عباس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دی چې دا ستاسو د نبي سنت دي، همدا ډول په بیهقي کې په حسن سند له ابن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا نه نقل دي چې کله به یې سجده کوله له اولنۍ سجدې څخه چې به یې سر راپورته کړ نو د ګوتو په څنډو به کېناست او ویل به یې چې (دا سنت دي) (سنن بیهقي: ٢/ ١١٩).

ترمذي وايي: (د نبي کریم صَلیّ اللّٰهُ عَلیْهِ وَسَلّمَ ځینې ملګري د دې حدیث په رڼا کې اقعاء بې باکه ګڼي ) ( سنن ترمذي: ٧٤/٢)،

د مزید وضاحت لپاره د نووي شرح مسلم ته مراجعه وکړه (١٩/٥) د سپي په څېر کومه ناسته چې په لمونځ کې حرامه ده د دې دلیلونو له مخې: له ابوهریره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دی ( نَهَانِيْ خَلِيْلِيْ صَلیّ اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ عَنْ ثَلَاثٍ: نَهَانِيْ أَنْ أَنْقُرَ نَقْرَ الدِّيْكِ، وَأَنْ أَلْتَفِتَ التِفَاتَ الثَّعْلَبِ، وَأَقْعَى اِقْعَاءَ السَّبُعِ ) [الدراية د ابن حجر: ١٨٤/١]

ژباړه: زه مې دوست له درې شیانو منع کړی یم: زه یې منع کړی یم چې د چرګ په څېر به ټونګې نه وهم، د ګیدړ په څېر به اخوا دیخوا نه ګورم او د سپي په څېر به نه کېنم. په ټولو سندونو حدیث د حسن درجه لري او شیخ احمد شاکر یې هم سند حسن ګڼلی دی او له عائشې رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا نه

روايت دی چې (كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلىّ اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ يَنْهَى عَنْ عَقِبِ الشّيْطَانِ) [صحيح مسلم: ٤٩٨] ژباړه: رسول الله صَلىّ اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ به د شيطان له ناستې څخه منعه کوله.

٢ - : د سپي په څېر ځنګلې خورول: افتراش فى السجود دې ته ويل کيږي چې څوک د سپي په څېر د سجدې په حالت کې دواړه ځنګلې خورې کړي او له ځمکې څخه يې پورته نه کړي، ټول علماء دا عمل مکروه ګڼي او د تحريم مذهب يې د ابن حزم دی، نهي ورڅخه په ګڼ شمېر حديثونو کې راغلې ده، له انس رَضِيَ اللّهُ عَنْهُ نه روايت دی چې نبي کريم صَلىّ اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ فرمايي: (اعْتَدِلُوا فِي السُّجُودِ، وَلاَ يَبْسُطْ أَحَدُكُمْ ذِرَاعَيْهِ انْبِسَاطَ الكَلْبِ) [صحيح البخاري:٨٢٢، مسلم:٤٩٣]

ژباړه: په سجده کې ميانه روي وکړئ او په تاسو کې دې څوک د سپي په څېر ځنګلې نه خوروي. او له جابر رَضِيَ اللّهُ عَنْهُ نه روايت دی چې نبي کريم صَلىّ اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ فرمايي: (إِذَا سَجَدَ أَحَدُكُمْ فَلْيَعْتَدِلْ وَلَا يَفْتَرِشْ ذِرَاعَيْهِ افْتِرَاشَ الكَلْبِ ) [ جامع الترمذي: ٢٧٥]

ژباړه: په تاسو کې چې کله څوک سجده کوي نو ميانه رو سجده دې وکړي او د سپي په څېر دې دواړه ځنګلې نه خوروي. ترمذي له حديث وروسته وايي: دا حديث د ټولو اهل علمو معمول دی، ميانه روي په سجده کې پسنده بولي او د سپي په څېر افتراش مکروه ګڼي.

٣ - : په لمونځ کې د چرګ يا کارغه په څېر له ټونګو څخه منعه: مطلب په لمونځ کې تيزي کول او په ارام سره لمونځ نه کول [ النهاية: ٥/ ١٠٤]

امام بغوي رَحِمَهُ اللّٰهُ وايي: ( د کارغه ټونګې دې ته ويل کيږي چې نه پوره سجده وکړي او نه په کې اطمئنان واخلي، بلکې پوزه او تندی له ځمکې ولګوي او د کارغه په څېر يې زر پورته کړي) [ شرح السنة: ۳/ ۱٦۳]

نو د چرګ يا کارغه په څېر په لمونځ کې ټونګې وهل حرام دي چې نه خو لمونځ ګوزار وريکې ارکان پوره ادا کړي او نه يې په لمونځ کې طمانينت منځ ته راشي، په تحريم يې دا دليلونه هم دلالت کوي:

عبدالرحمن بن شبل رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وايي: (نَهَى رَسُولُ اللّٰهِ صَلىّ اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ نَقْرَةِ الْغُرَابِ، وَافْتِرَاشِ السَّبْعِ، وَأَنْ يُوَطِّنَ الرَّجُلُ الْمَكَانَ فِي الْمَسْجِدِ كَمَا يُوَطِّنُ الْبَعِيرُ ) [ سنن ابي داود: ۸٦۲]

ژباړه: رسول الله صَلىّ اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د کارغه په څېر له ټونګو، د سپي په څېر کېناستل او په مسجد کې لکه د اوښ په څېر ځای نيولو نه منعه کړې ده.او مخکې د ابوهريره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ حديث هم تېر شو چې رسول الله صَلىّ اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي (نَهَانِيْ رَسُوْلُ اللّٰهُ صَلىّ اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ ثَلَاثٍ: نُقْرَةً كَنُقْرِ الدِّيْكِ )

ژباړه: زه مې دوست له درې شيانو منع کړی يم: زه يې منع کړی يم چې د چرګ په څېر دې ټونګې ووهم. ابن تيميه رَحِمَهُ اللّٰهُ فرمايي: که څه هم د درېواړو جنسونه جلا دي خو د درېواړو جنسونو له حرکت څخه يې په لمونځ کې ځکه منع راوړې ده ترڅو مشابهت نه يې ځان وساتل شي، د کارغه د ټونګو، د سپو په څېر له ناستې او د اوښ په هيئت له کېناستلو څخه يې منع کړې ده که څه هم د ډېرو حديثونو له مخې شديده نهي د کارغه له ټونګو څخه راغلې ده. ( الفتاوی: ۲۲/ ۵۳۷).

زه وایم: له دې ښخه د ابن تیمیه رَحِمَهُ اللّٰهُ موخه هغه حدیث دي چې مسلم رَحِمَهُ اللّٰهُ په خپل صحیح کې د انس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ په روایت نقل کړی دی چې رسول الله صَلیّ اللّٰهُ عَلیْهِ وَسَلّمَ فرمایي: (تِلْكَ صَلَاةُ الْمُنَافِقِ، يَجْلِسُ يَرْقُبُ الشّمْسَ حَتّى إِذَا كَانَتْ بَيْنَ قَرْنَيِ الشّيْطَانِ، قَامَ فَنَقَرَهَا أَرْبَعًا، لَا يَذْكُرُ اللهَ فِيهَا إِلّا قَلِيلًا) [صحيح مسلم:٦٢٢]

ژباړه: د منافق لمونځ همداسې وي چې ناست وي او د لمر انتظار کوي، چې څنګه لمر د شیطان دواړو ښکرونو ترمنځ شي منافق پورته شي او څلور ټونګې ووهي چې الله پاک پکې ډېر نه یادوي.

٤ - : د اوښ په څېر ځان لپاره ځان نه نیول: له دې موخه دا ده چې څوک په مسجد کې معلوم ځای د ځان لپاره وټاکي او په همدغه ځای کې لمونځ کوي بل ځای کې نه، دا کار شرعا ممنوع دی، عبدالرحمن بن شبل رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وایي: (نَهَى رَسُولُ اللّٰهِ صَلیّ اللّٰهُ عَلیْهِ وَسَلّمَ عَنْ نَقْرَةِ الْغُرَابِ، وَافْتِرَاشِ السّبْعِ، وَأَنْ يُوَطِّنَ الرّجُلُ الْمَكَانَ فِي الْمَسْجِدِ كَمَا يُوَطِّنُ الْبَعِيرُ ) [ سنن ابي داود: ٨٦٢]

ژباړه: رسول الله صَلیّ اللّٰهُ عَلیْهِ وَسَلّمَ د کارغه په څېر له ټونګو، د سپي په څېر کېناستل او په مسجد کې لکه د اوښ په څېر ځای نیولو نه منعه کړې ده. په بل روایت کې راځي: (وَأَنْ يُواطِنَ الرّجُلُ بِالمَكَانِ فِيْ المَسْجِدِ كَإِيْطَانِ البَعِيْرِ) [صحيح سنن أبي داود:٨٦٢]

ژباړه: او دا چې یو څوک دې په مسجد کې د اوښ په څېر معلوم ځای محدود کړي. ابن حجر رَحِمَهُ اللّٰهُ فرمایي: په دې کې ګټه دا ده چې انسان له ریاکارۍ او شهرت څخه وژغورل شي او حالانکه ریا د ټولو افتونو

بنسټ دی، معلومه شوه چې څومره کېدای شي باید ورڅخه انسان لرې شي.

۵ - : د سجدې په مهال د اوښ په څېر نه کېناستل: له ابو هریره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صَلىّ اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ فرمايي: (إِذَا سَجَدَ أَحَدُكُمْ فَلَا يَبْرُكْ كَمَا يَبْرُكُ الْبَعِيرُ، وَلْيَضَعْ يَدَيْهِ قَبْلَ رُكْبَتَيْهِ) [ سنن أبي داود:۸٤۰]

ژباړه: په تاسو کې چې کله څوک سجده کوي نو د اوښ په څېر دې نه کيني او خپل لاسونه دې له زنګونانو مخکې کېږدي. او په بل روایت کې راځي (يَعْمِدُ أَحَدُكُمْ فِي صَلَاتِهِ، فَيَبْرُكُ كَمَا يَبْرُكُ الْجَمَلُ) [سنن ابي داود:۸٤۱]

ژباړه: هيڅ څوک دې په خپل لمونځ کې د دې قصد نه کوي چې د اوښ په څېر سجدې ته ولاړ شي.

له ابن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دی چې خپل لاسونه به يې له زنګونانو مخکې کېښودل. [فتح الباري: ۲/ ۲۹۰] په حديث کې له دې نه منعه راغلې ده چې سجدې ته د تللو په مهال له لاسونو مخکې زنګونان کې نه ږدي ځکه په دې کې له اوښ سره مشابهت راځي، او دا د مالک، اوزاعي، احمد او د ټولو اهل حديثو مذهب دی، اوزاعي رَحِمَهُ اللّٰهُ وايي: (ما ډېر خلک ولیدل چې له زنګونانو نه به يې لاسونه سجدې ته مخکې وړل) [مروزي په خپلو مسائلو کې په صحيح سند روايت کړی دی]

٦ - : د ګېدړ په څېر په لمونځ کې التفات نه کول: التفات دې ته ويل کېږي چې څوک له ضرورت پرته په لمونځ کې اخوا دېخوا ګوري او دا

شرعاً منع دي، په دې سره ثواب کمیږي او خشوع له منځه ځي، له عائشې رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا نه روایت دی چې ما په لمونځ کې د التفات متعلق له نبي کریم صَلیّ اللّٰهُ عَلیْهِ وَسَلّمَ نه پوښتنه وکړه هغه وویل: (هُوَ اخْتِلَاسٌ يَخْتَلِسُهُ الشّيْطَانُ مِنْ صَلَاةِ العَبْدِ ) [صحيح البخاري:۷۵۱]

ژباړه: دا غلا ده چې شیطان یې د انسان له لمونځ څخه کوي. او مخکې د ابوهریره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ حدیث هم تېر شو (نَهَانِيْ خَلِيْلِيْ صَلیّ اللّٰهُ عَلیْهِ وَسَلّمَ عَنْ ثَلَاثٍ: نَهَانِيْ أَنْ أَنْقُرَ نَقْرَ الدِّيْكِ، وَأَنْ أَلْتَفِتَ التِفَاتَ الْثّعْلَبِ، وَأَقْعَى اِقْعَاءَ السّبُعِ ) [الدراية د ابن حجر: ۱/۱۸٤]

ژباړه: زه مې دوست له درې شیانو منع کړی یم: زه یې منع کړی یم چې د چرګ په څېر دې ټونګې ووهم، یا دې د ګیدړ په څېر اخوا دیخوا وګورم او یا دې د سپي په څېر کېنم.

ګــــتــــوره خبره : که څوک اخوا دیخوا لمونځ کې وګوري خو څټ ورسره تاو نه کړي نو د التفات په حکم کې نه راځي، عبدالله بن عباس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا وایي: (أَنّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ كَانَ يَلْحَظُ فِي الصّلَاةِ يَمِينًا وَشِمَالًا، وَلَا يَلْوِي عُنُقَهُ خَلْفَ ظَهْرِهِ) [ جامع الترمذي:۵۸۷]

ژباړه: رسول الله صَلیّ اللّٰهُ عَلیْهِ وَسَلّمَ به په لمونځ کې ښي او چپ خوا ته کتل خو څټ به یې ورسره نه تاوو. همدارنګه په لمونځ کې د شیطان د وسوسې د له منځه وړلو لپاره کیڼ لورې ته توکانو اچول هم په التفات مذموم کې نه راځي، عثمان بن ابي العاص رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نبي کریم صَلیّ اللّٰهُ عَلیْهِ وَسَلّمَ ته راغی او ورته یې وویل: (يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنّ الشّيْطَانَ قَدْ حَالَ بَيْنِي وَبَيْنَ صَلَاتِي وَقِرَاءَتِي يَلْبِسُهَا عَلَيّ، فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلّى اللّٰهُ

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاكَ شَيْطَانٌ يُقَالُ لَهُ خَنْزَبٌ، فَإِذَا أَحْسَسْتَهُ فَتَعَوَّذْ بِاللّٰهِ مِنْهُ، وَاتْفِلْ عَلَى يَسَارِكَ ثَلَاثًا قَالَ: فَفَعَلْتُ ذَلِكَ فَأَذْهَبَهُ اللّٰهُ عَنِّي) [ صحيح مسلم:٢٢٠٣]

ژباړه:د الله رسوله! شیطان زما او د لمونځ ترمنځ مانع واقع کیږي او قرائت مې راباندې ګډ وډوي، رسول الله صَلىّ اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ راته وویل: دا شیطان دی او خنرب نوم يې دی، چې کله يې محسوس کړې نو له الله پورې ترې پناه وغواړه او ګڅ اړخ ته درې ځله توکاڼې واچوه، نو چې ما دغه شان وکړل الله رانه شیطان بوتو.

٧ - : خپله ډالۍ بېرته اخستل داسې دي لکه سپی چې خپل ګرزون وخوري: رسول الله صَلىّ اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: (العَائِدُ فِي هِبَتِهِ كَالكَلْبِ يَعُودُ فِي قَيْئِهِ) [صحيح الباري:٣٠٠٣]

ژباړه: د خپلې ډالۍ بېرته اخستونکی د هغه سپي په څېر دی چې خپل ګرزون (کانګې) خوري. او رسول الله صَلىّ اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: (لَيْسَ لَنَا مَثَلُ السَّوْءِ، الَّذِي يَعُودُ فِي هِبَتِهِ كَالكَلْبِ يَرْجِعُ فِي قَيْئِهِ ) [صحيح البخاري:٢٦٢٢]

ژباړه: ناوړه خصلتونه له مونږ سره نه دي مناسب، څوک چې خپلې ډالۍ بېرته اخلي د هغه سپي په څېر دی چې خپلې کانګې خوري. ابن حجر رَحِمَهُ اللّٰهُ وايي: (له مونږ مسلمانانو سره ناړه خصلتونه نه ښائيږي چې انسان ورپکې د بدترين حيوان په بدترين حالت کې يو شان شي) [ فتح البخاري: ٥/٢٣٥]

۸ - : له لمونځ څخه د سلام ګرځولو په مهال د اسونو د لکۍ په څېر لاسونه نه خوځول: له جابر بن سمره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دی چې مونږ به کله له رسول الله صَلیّ اللّٰهُ عَلیْهِ وَسَلّمَ سره لمونځ وکړ نو په لاسونو به مو اشارې کولې چې السلام علیکم ورحمة الله، او دواړو خواو ته یې اشاره وکړه، نو رسول الله صَلیّ اللّٰهُ عَلیْهِ وَسَلّمَ وویل: (عَلَامَ تُومِئُونَ بِأَيْدِيكُمْ كَأَنَّهَا أَذْنَابُ خَيْلٍ شُمْسٍ؟ إِنَّمَا يَكْفِي أَحَدَكُمْ أَنْ يَضَعَ يَدَهُ عَلَى فَخِذِهِ ثُمَّ يُسَلِّمُ عَلَى أَخِيهِ مَنْ عَلَى يَمِينِهِ، وَشِمَالِهِ) [ صحیح مسلم:٤٣١]

ژباړه: ولې مو په لاسونو باندې د اسونو د لکۍ په څېر اشارې کوئ؟ ستاسو لپاره همدومره بسنه کوي چې خپل لاس په خپل ورون کېږدئ او بیا په ښي او ګڅ اړخ ته ناست ورور باندې سلام وکړئ. امام نووي رَحِمَهُ اللّٰهُ وایي: (شُمْسٌ: د میم په سکون او ضمې دواړو سره د شموس جمع ده، او شموس هغه اس ته ویل کېږي چې په یو ځای نه ودریږي بلکې خپې او لکۍ خوځوي راخوځوي، دلته ترې د سلام د ګرځولو په مهال په لاسونو باندې د سلام لپاره اشارې کول مراد دي چې نه به یې کوئ) [ شرح مسلم نووي: ١٥٣/٤]

۹ - : په خبرو کې د غوا په څېر له اوښکو وهلو څخه منعه: په خبرو کې اوښکي وهل او تکلفاً په ډکه خوله خبرې کول بیخي جائز نه دي، ځکه په دې کې انسان له غوا سره مشابه کېږي چې په ژبه باندې ځان ته ګیاه (واخه) راغوندوي. [النهایة في غریب الحدیث: ٧٣/٢]

له عبدالله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا نه روایت دی چې رسول الله صَلىّ اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: (إِنّ اللهَ عَزّ وَجَلّ يُبْغِضُ الْبَلِيغَ مِنَ الرِّجَالِ الّذِي يَتَخَلّلُ بِلِسَانِهِ تَخَلُّلَ الْبَاقِرَةِ بِلِسَانِهَا) [ ابوداود: ۵۰۰۵، ترمذي: ۲۸۵۳]

ژباړه: په فصاحت کې د مبالغه کونکی انسان د الله بدي شي، په خبرو کې ژبه داسې تاووي راتاووي لکه غوا چې په وښو (ګیا) باندې ژبه تاووي.

پايځوړ: اسلامي شريعت بيخي پوره راغلی دی او خلکو ته د غوره ترينو حالتونو ارشادات کوي، له دې کبله يې په خپلو خوي خصلتونو کې له حيواناتو سره له تشابه نه منعه کړې دی، له انسان سره مناسب نه دي چې له حيواناتو او ډنګرو سره په صفتونو او کړو وړو کې ځان مشابه کړي او ځان د حيوان تر درجې ښکته کړي، او وړاندې په حديثونو کې نمونې تېرې شوې چې په مزل، په ناسته پاسته او خوراک کې، په اواز او نورو حالتونو کې بايد انسان ځان له حيوان سره مشابه نه کړي.

په دې موضوع کې راته د دې نصوص راغونډول الله اسان کړل، وآخر دعوانا أن الحمدلله رب العلمين.

WWW.LARKHUD.COM

# أَحْكَامُ الطَّهَارَةِ

# د طهارت احکام او مسائل

WWW.LARKHUD.COM

ليکوال: فضيلة الشيخ ابراهيم بن عبدالله المزروعي.
ژباړن: لقمان حکيم حکمت

الحمدلله رب العلمين، والصلاة والسالم على خاتم النبيين، وأشهد أن لا اله الا الله وحده لاشريک له وأشهد محمدا عبده ورسوله وبعد:

د طهارت په باب کې دا په شرعي مخالفتونو باندې ځینې تنبیهات دي چې د غفلت او په احکامو یې د جهل له کبله ډېر مسلمانان تساهل کوي، په دې ډول مخالفتونو کې خلک دوه ډوله دي: لومړی ډول یې هغه خلک دي چې په شرعي منهیاتو علم لري خو د تساهل ل مخې په مخالفت کې واقع کیږي او دوهم ډول یې بیا هغه خلک دي چې د جهل له کبله په دغو مخالفتونو کې واقع کیږي خو که څوک یې توجیه کړي او پوهه شي نو بیا پکې نه واقع کیږي.

دا د طهارت په بابونو کې ځینې مخالفتونه دي:

۱ - : د بادو وتلو له کبله استنجا کول: ډېر خلک به د دې سبب له کبله تشنابونو ته قطار ولاړ وي، خو ولې دا شرعي مخالفت دی په شتون یې هیڅ شرعي دلیل نه دی غړېدلی، بلکې شرعي دلائل په دې غړېدلي چې باد وتل پر انسان باندې اودس واجبوي امام احمد بن حنبل رحمه الله وایي: د الله په کتاب او د رسول الله صَلىّ اللهُ عَليْهِ وَسَلّمَ په سنتو کې د بادو له کبله استنجا کول بیخي نشته.

۲ - : د اودس، غسل او مسح کولو په مهال په نیت باندې تلفظ کول، د نبي کریم صَلىّ اللهُ عَليْهِ وَسَلّمَ د سنتو مخالفت ځکه دی چې هغه خپله ورباندې تلفظ نه دی کړی، شیخ الاسلام ابن تیمیه رَحِمَهُ اللهُ په مجموع الفتاوی (۱/ ۲۱٤) کې وایي: په نیت باندې تلفظ کول په دیني او عقلي

نقصان باندې ډېر ښه دليل دی، په ديني نقصان ځکه دليل دی چې په نيت تلفظ کول بدعت دی او په عقلي نقصان ځکه دليل دی چې ايا دا خبره به ځومره ښه وي چې څوک خواړه خوري او وايي: نيت مې کړی دی په دې لوښي کې به خپل لاس ږدم او غواړم چې يوه لقمه ترې راپورته کړم او په خوله کې يې کيږدم، لومړی به يې ژويم او بيا به يې تېروم ترڅو موړ شم. نو دا هم حماقت دی او هم جهل.

٣ - : په شپږو پا لسو غړپ اوبو باندې مضمضه او استنشاق کول، امام نووي رَحِمَهُ اللّٰهُ فرمايي: مضمضه او استنشاق بايد په دريو غړپ اوبو باندې وشي، په هر چونګي اوبو باندې به مضمضه او استنشاق کوي، صحيح حديثونه په دې باندې غږيدلي دي خو ولې په شپږو چونګو يې د فضيلت حديثونه بيخي ثبوت نه لري. [فتاوی النووي : ۲۰] ترتيب: العطار

زه وايم: د اودس په بيان کې خو په صحيحينو کې له عبدالله بن زيد رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دی: (ثُمَّ أَدْخَلَ يَدَهُ فَاسْتَخْرَجَهَا فَمَضْمَضَ، وَاسْتَنْشَقَ مِنْ كَفٍّ وَاحِدَةٍ فَفَعَلَ ذَلِكَ ثَلَاثًا)

ژباړه: بيا يې لاس اوبو ته ورننويست،له يو ورغوي اوبو نه يې هم مضمضه او هم استنشاق وکړ، او دا يې درې ځله وکړ.[ بخاري: ۱۸۶، مسلم: ۲۳۵]

٤ - : د اودس او غسل په دوران کې د اوبو بې دريغه لګښت: يو دا چې اندامونه به له دريو ځخه زيات نه وينځي، بخاري رَحِمَهُ اللّٰهُ فرمايي: علماؤ په اودس او غسل کې د اوبو بې دريغه استعمال غندلی دی چې د نبي کريم صَلىّ اللّٰهُ عَليْهِ وَسَلّمَ د فعل مخالفت دې پکې وکړی شي. [فتح الباري: ۱/ ۲۸۰]

او عبدالله بن مغفل رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دى چې رسول الله صَلىّ اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ فرمايي(إِنّهُ سَيَكُونُ فِي هَذِهِ الْأُمّةِ قَوْمٌ يَعْتَدُونَ فِي الطّهُورِ وَالدُّعَاءِ )

ژباړه: په دې امت كې به داسې خلك راپيدا شي چې په طهارت او دعا دواړو كې به له حد څخه تجاوز كوي. [سنن ابي داود: ۹۶، صحيح الجامع الصغير: ۳۳۹۶]

او اعتداء في الطهور له دري ځله د اندامونو زياتو وينځلو ته ويل كيږي، يا په غسل كې د وسوسې د ختمولو لپاره زياتې اوبه استعمالول. د اعرابي حديث د دې ډېره ښه شرحه كوي چې درې درې ځله يې اندامونه ووينځل، بيا يې وويل:( هَذَا الْوُضُوءُ فَمَنْ زَادَ عَلَى هَذَا فَقَدْ أَسَاءَ، وَتَعَدّى، وَظَلَمَ ) ژباړه: دا د اودس طريقه كار دى، كه څوك پرې شمېر زيات كړي بد به كوي او له حد څخه به تجاوز كوي.[مسند احمد:٦٦٨٤، سنن النسائي:١٤٠ ، صحيح الجامع الصغير: ۷۰۱۵]

۵ - : د اودس او غسل په جريان كې د لاس يا د خپو د ګوتو تخليل پرېښودل، ځكه نبي كريم صَلىّ اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ فرمايي: پوره اودس وكړه او د ګوتو منځونو كې تخليل وكړه (منځ كې يې ګوتې راكاږه) [مسند احمد:١٧٨٤٦، سنن ابي داود:١٤٢، جامع الترمذي: ۷۸۸] امام صنعاني په سبل السلام كې وايي: حديث د پوره او كامل اودس كولو په وجوب باندې دلالت كوي. د مستورد بن شداد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په حديث كې راځي:(

رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا تَوَضَّأَ يَدْلُكُ أَصَابِعَ رِجْلَيْهِ بِخِنْصَرِهِ) (سنن ابي داود:۱٤۸)

ژباړه: ما نبي کريم صَلىّ اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ وليد چې اودس يې کو او په قچه (وړه) ګوته يې د خپو د ګوتو منځونه ووينځل، او په بل روايت کې داسې راځي: نو په قچه (وړه) ګوته يې د خپو ګوتې ووينځلې.

٦ - : د اودس يا غسل په مهال د بدن ځينو برخو ته اوبه نه رسول، حديث کې راځي: (وَيْلٌ لِلْأَعْقَابِ مِنَ النَّارِ) [صحيح البخاري:٦٠، صحيح مسلم:۲٤٠]

ژباړه: هغه وروستي (وچ) ځايونه دې به اور وسوځول شي چې په اودس کې وچ پاتې شي. په بل صحيح حديث کې راځي: (أَنَّ رَجُلًا جَاءَ إِلَى النَّبِيِّ صَلىّ اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَدْ تَوَضَّأَ وَتَرَكَ عَلَى قَدَمِهِ مِثْلَ مَوْضِعِ الظُّفْرِ، فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللّٰهِ صَلىّ اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ارْجِعْ فَأَحْسِنْ وُضُوءَكَ)

ژباړه:نبي صَلىّ اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ ته يو سړی راغی او اودس يې کړی و خو په خپه کې يې د نوک اندازه ځای وچ پاتې و نبي صَلىّ اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ ورته وويل: ستون او ښايسته اودس وکړه.

۷ - : انس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وايي: بريتو په غوڅولو، د نوکانو په پرېکولو، له تخرګ څخه د وېښتانو په ويستلو، له نامه نه لاندې وېښتانو خريلو کې مونږ ته نبي کريم صَلىّ اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ څلوېښت ورځې مهلت راکړی دی چې له دې څخه به زيات رانه نه پاتې کيږي.

۸ - : د زمزم به ابوبو اودس نه کول او پر ځای يې تيمم وهل: او حالانکه الله پاک فرمايي: (فَلَمْ تَجِدُوا مَاءً فَتَيَمَّمُوا صَعِيدًا طَيِّبًا) [سورت مائده: ٦]

ژباړه: که مو اوبه تر لاسه نه کړې نو په پاکه خاوره باندې تیمم ووهئ. او په اوبو کې د زمزم اوبه هم داخلې دي. له علي رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دی(فَدَعَا بِسَجْلٍ مِنْ مَاءِ زَمْزَمَ، فَشَرِبَ مِنْهُ وَتَوَضَّأَ) [مسند احمد:٥٦٤]

ژباړه: رسول الله صَلىّ اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ د زمزم اوبه په لوښي کې راوغوښتې هم یې وڅښلې او هم یې پرې اودس وکړ.

امام نووي رَحِمَهُ اللّٰهُ وایي: زمونږ په نیز د زمزم په اوبو باندې طهارت بیخي مکروه نه دی، د امام احمد نه له یو روایت پرته نور د ټولو علماؤ دا مذهب دی، او زمونږ دلیل پرې د نهي عدم ثبوت دی. [فتاوی النووي: ١٢ شمېر، ترتیب: عطار]

٩ - : د تشو یا ډکو بولو په ټینګولو باندې د انسان ځان مجبوروول او حالانکه حدیث کې راځي (لَا صَلَاةَ بِحَضْرَةِ الطّعَامِ وَلَا هُوَيُدَافِعُهُ الْأَخْبَثَانِ) [ صحيح مسلم: ٥٦] ژباړه: د تیارو خوړو او دتشو یا ډکو بولو د ټینګولو په وخت کې لمونځ نه کیږي. اما ابن تیمیه رَحِمَهُ اللّٰهُ وایي: په مذکوره وختونو کې لمونځ کول مکروه او ورځخه منعه راغلې ده، اګر که په صحت یې دوه روایتونه هم شته. [مجموع الفتاوی: ٢١/ ٤٧٣]

١٠ - : تشناب ته دتللو او راتللو په وخت کې دعاګانې نه ویل، یا بسم الله پرېښودل، حدیث کې راځي(سِتْرُ مَا بَيْنَ الْجِنِّ وَعَوْرَاتِ بَنِي آدَمَ إِذَا دَخَلَ الْكَنِيفَ أَنْ يَقُولَ: بِسْمِ اللّٰهِ) [ سنن ابن ماجه:٢٩٧، ارواء الغليل:٥٠)

ژباړه: په بیت الخلاء کې له جناتو څخه د بني ادمو عورتونه پټ ساتل په بسم الله سره کیږي. او انس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فرمایي: نبي کریم صَلىّ اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ چې به کله بیت الخلاء ته ننوتو نو ویل به یې:( اللّٰهُمّ إِنّي أَعُوذُ

بِكَ مِنَ الخُبُثِ وَالخَبَائِثِ) [صحيح البخاري:١٤٢، صحيح مسلم:٣٧٥]
ژباړه: اى الله! له تا پورې د نارينه او ښځينه شيطانانو نه پناه نيسم. عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وايي: د بيت الخلاء نه چې به كله نبي صَلىّ اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ راوتو نو ويل به يې(غُفْرَانَكَ) [سنن ابي داود:٣٠]
ژباړه: اى الله ما ته ببښنه وكړه.

١١ - : له وړو يا تشو بولو څخه ځان نه ساتل هم د طهارت مخالفت دى، يا له دواړو څخه په طهارت كې مبالغه كول هم د شرعي طهارت مخالفت دى چې انسان پكې له مشروع حد څخه ووځي.

- د تشو بولو له څاڅكو څخه ځان نه ساتل د عذاب قبر لوى سبب دى، حديث كې راځي (عَامَةُ عَذَابُ القَبْرِ مِنَ البَوْلِ) [صحيح الجامع:٢١٠٢ ]

ژباړه: د قبر عذاب په عمومي توګه د تشو بولو څخه په ځان نه ساتلو كې وي.

- له بولو څخه ځان پاكولو كې مبالغه كول، لكه محمد بن عبدالسلام دا خبره به (السنن والمبتدعات) د قشيري په كتاب كې كړې ده.

د شيطان په پراډونو او وسوسو باندې ښكېل خلكو له بدعتونو څخه دا هم دي چې له ذكر (مخصوص اندام) نه د زور له لارې متيازې راوباسي، هغې ته ترينګې وركوي، نحنحه كول، ټوپ وهل، په بره ختل، د مخصوص اندام سورى (سوارخ) د پاكوالي په خاطر بار بار كتل او د طهارت په خاطر پرې ډېرې اوبه اچول او بارها يې تالاش ټول ديني بدعتونه دي.

زه وايم: ځلوېښت يا زيات کم قدمونه اخستل دا تړوله هغه شيان دي چې نفس په سترړيا کې اچوي، بې ځايه تکليف او مذموم مشقت دی.

۱۲ - : د ځينو خلکو عقيده چې کله هم څوک اودس وکړي او بيا يې بدن يا جامې ګنده شي نو اودس يې هم ماتيږي دوباره به اودس کوي، دا بيخي خطا خبره ده او له اودس سره هېڅ اړيکه نه لري، بلکې فورا يې وينځل واجب دي.

۱۳ - : له طهارت شرعي سره بل تړکر عمل دا دی چې ځينې خلک باور لري چې له بدن څخه د وينو په وتلو سره اودس ماتيږي دا هم ناسمه ده ځکه په هره وينه باندې اودس نه ماتيږي، بلکې د حيض يا نفاس په وينې سره اودس ماتيږي، خو ولې کومه وينه چې له زخم ټپ يا پوزې او غاښ نه ووځي نو اودس پرې نه ماتيږي.

۱٤ - : د ځينو خلکو عقيده چې خپلې منکوحې ته په لاس وروړلو يا مچې کولو سره اودس ماتېږي، نبي کريم صَلیّ اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ خپلې ځينې بي بيانې ښکل کړي دي او اودس يې ترې نه دی کړی. [ مسند احمد: ۲۵۷٦٦، جامع الترمذي: ۸٦، سنن ابن ماجه: ۵۰۲]. خو که څوک ښځه په شهوت سره مس کړي او مذي ورڅخه ووځي نو اودس يې ماتيږي.

۱۵ - : د بې اوودسۍ په حالت کې لمونځ ته دوام ورکول يا د خجالت او شرم له کبله او يا د صفونو په منځ کې د تېرېدلو څخه خو ولې که څوک د لمونځ په دوران کې بې اودسه شي يا ورياد شي چې اودس يې نه دی کړی بايد لمونځ قطع کړي او د اودس لپاره ولاړ شي، اودس دې وکړي او بېرته دې راستون شي او د جماعت پاتې برخه دې راونيسي، خو که له دې کبله

نه شي وتلی چې په ناسته لمونځ کوي او بیخي مزل نه شي کولی، یا سپینږیری وي هغه به کیني خو ولې د امام متابعت به نه کوي ترڅو امام لمونځ پای ته ورسوي. [دا د ابن باز رَحِمَهُ اللّٰهُ په خپلې فتاوی : ۲/ ۹۱، کتاب الدعوة کې د پوښتنې ځواب دی]

۱۶ - : د ځای د نجاست له کبله د لمونځ په بطلان د جمهورو علماؤ اتفاق دی خو که نجاست په کوم ځای کې پروت وي او له اوبو بسره ګډ وړ شي او رنګ خوند او بوی تغییر کړي نو ځای نجس بلل کیږي.

۱۷ - : د اودس په مهال د هر اندام او ینځلو سره دعا ویل لکه د ښي اړخ اندامونو وینځلو سره دا دا دعا ویل: ای الله ما ته مې عمل نامه په ښی لاس راکړه، یا د مخ وینځلو په مهال ویل: ای الله په هغه ورځ مې مخ سپین کړه چې مخونه پکې سپینیږي، امام ابن القیم رَحِمَهُ اللّٰهُ وایي: د نبي صَلیّ اللّٰهُ عَلیْهِ وَسَلّمَ نه بیخي د دې ثبوت نشته چې په اودس کې یې له بسم الله پرته نور څه ویلي وي، د اودس د اذکارو متعلق ټول حدیثونه موضوعي دی نه نبي صَلیّ اللّٰهُ عَلیْهِ وَسَلّمَ دغه اذکار د اودس په دوران کې ویلي دي او نه ترې د بسم الله نه بغیر کوم ذکر ثبوت لري، او دا ترې هم ثبوت لري چې ویل به یې (أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنّ مُحَمّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ، اللّهُمّ اجْعَلْنِي مِنَ التّوّابِينَ، وَاجْعَلْنِي مِنَ الْمُتَطَهِّرِينَ) [جامع الترمذي:۵۵] ژباړه: زه ددې ګواهي ورکوم چې له الله پرته بل برحق معبود نشته هغه یواځې دی او هېڅ شریک نه لري او زه د دې ګواهي کوم چې محمد صَلیّ اللّٰهُ عَلیْهِ وَسَلّمَ د الله رسول او بنده دی، ای الله ما له توبه ویستونکو او له پاکو خلکو څخه وګرځوه.

۱۸ - : دا عقيده لرل چې لامبل له اودس څخه کفايت کوي، الله پاک فرمايي: (وَإِنْ كُنْتُمْ جُنُبًا فَاطَّهَّرُوا) [ سورت مائده: ٦]

ژباړه: او که چرته تاسو جنب وئ نو ځانونه پاک کړئ.

خو که لامبل د تنظيف يا له ګرمۍ څخه د يخوالي به خاطر وي نو له اودس څخه کفايت نه کوي.

۱۹ - : د حيض يا جماع څخه په طهارت کې د ځينو ښځو په غسل کې ان تر لمر ختو پورې تاخير کيږي، دا خو په اجماع ناجائز دي، ځکه له عذر پرته لمونځ له خپل وخت څخه ويستل که څه هم جواز نه لري خو کبيره ګناه هم ده.

۲۰ - : د حيض او استحاضې په احکامو باندې د نارينه او ښځينه جهالت او ترمنځ يې فرق کول چې د مستحاضې لپاره درې حالتونه دي او يا استحاضه د طهارت به څېر احکام لري، بغير د اوس په وجوب چې مستحاضه به د هر لمونځ لپاره اودس کوي د ويني اثر به وينځي او ټوټه به ويني ته ږدي او لمونځ به کوي، او يا دا چې خاوند کولی شي له مستحاضې سره جماع او همبستري وکړي.

۲۱ - : له شرعي طهارت سره بل مخالفت دا دی چې د جنابت، حيض او نفاس په حالت کې د قران کريم لوستل يا قران ته لاس وروړل غندل. ځکه نبي کريم صَلىّ اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ به الله پاک پخپلو ټولو حالتونو کې يادو [مسلم: ۳۷۳]

ابن حجر رَحِمَهُ اللّهُ په فتح الباري: [۱/٤٠٧] کې وايي: د عائشې رَضِيَ اللّهُ عَنْهُ له حديث راوړلو څخه د امام بخاري مطلب د حائضې او جنب د قران

د لوستلو جواز باندې استدلال دی، د حائضې ښځې قران خوانۍ ته امام مالک، داود ظاهري، سعید بن المسیب او ابن المنذر هم جواز ورکړی دی، اما د ابن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ حدیث چې (لَا تَقْرَأِ الحَائِضُ، وَلَا الجُنُبُ شَيْئًا مِنَ القُرْآنِ) [جامع الترمذي:۱۳۱]

ژباړه: حائضه ښځه او جنب به بیخي قران نه لولي، نو دا حدیث احمد بن حنبل، امام بیهقي، ابن ابي حاتم او ابن القیم رَحِمَهُمُ اللّٰهُ ضعیف کړی دی، او ویلي یې دي: د اهل علمو په نیز دا حدیث بیخي صحیح نه دی او عدم صحت سبب یې قادح علت دی [ اعلام الموقعین: ۳/ ۲۳]

ابن حجر رَحِمَهُ اللّٰهُ ورته په فتح الباري [۱/ ٤۰۹] کې ضعیف ویلي دي، امام نووي رَحِمَهُ اللّٰهُ هم دا حدیث ضعیف کړی دی، د هر چا لپاره د قران کریم د مس کولو فتوه عبدالله بن عباس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، شعبي، زید بن علي، ابن حزم، سعید بن جبیر او نورو علماؤ ورکړې ده، اود (لاَ يَمَسّ القُرآنَ اِلاّ طَاهِرٌ) نه یې جواب داسې کړی دی چې د طاهر نه دلته مومن مراد دی، ځکه بل حدیث کې راځي(إِنّ المُسْلِمَ لاَ يَنْجُسُ لاَ يَنْجُسُ) [صحیح البخاري:۲۸۳] ژباړه: مومن نه پلیتیږي.

۲۲ - : په اودس کې وسوسې کول: یا له دریو ځخه زیات اندامونه وینځل او یا په اودس کې شکونه کول، دا د شیطان وسوسې دي او په اودس کې نبي صَلىّ اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ له دریو ځخه زیات کوم اندام نه دی وینځلی.

۲۳ - : د اسلامي او شرعي طهارت سره بل تکړ عمل دا دی چې(أَنّ رَجُلًا مَرّ وَرَسُولُ اللهِ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ يَبُولُ، فَسَلّمَ، فَلَمْ يَرُدّ عَلَيْهِ) [صحیح مسلم:۳۷۰]



WWW.LARHKUD.COM

ژباړه: له ابن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دي پر نبي کريم صَلىّ اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ باندې يو سړی تېر شو او په داسې حالت کې يې پرې سلام وکړ چې هغه تشې بولې کولې، خو نبي کريم صَلىّ اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ ورته ځواب ورنه کړ.

۲٤ - : د ځلوېښتو ورځو نه مخکې د نفاس والا ښځو لمونځونه نه کول په داسې حالت کې چې هغوی پاکې شوي هم وي، سمه دا ده چې له ځلوېښتو ورځو مخکې چې ښځه هر کله طاهره شي بايد فرض عبادتونه ادا کړي او حتی تر جماع پورې ورله هر څه د طاهرې په څېر د جواز حکم لري.

۲۵ - : بل مخالفت له شرعي طهارت سره د اودس نه وروسته د څټ او مرۍ مسح کول دي، شيخ الاسلام ابن تيميه رَحِمَهُ اللّٰهُ په مجموع الفتاوی [۱/ ٥٦] کې وايي: دا بېخي له نبي صَلىّ اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ څخه ثبوت نه لري چې له اودس نه وروسته يې په څټ مسح کړې وي دا ورځکه بېخي په صحيح حديث کې ثبوت نه لري، له دې کبله خو يې جمهور علماء مستحب هم نه بولي، که په څټ باندې څوک مسح پرېږدي د علماؤ په نيز يې اودس جګ جوړ دی.

اما دا حديث (مَنْ تَوَضَّأَ وَمَسَحَ عُنُقَهُ لَمْ يَغلْ بِالْأَغْلَالِ يَوْمِ القِيَامَةِ) نو موضوعي حديث دی. [مجموع الفتاوی: ۱/ ٤٨٩]

۲٦ - : له شرعي طهارت سره بل مخالفت د دې حديث نه منل دي (إِذَا أَتَى أَحَدُكُمُ الغَائِطَ، فَلاَ يَسْتَقْبِلِ القِبْلَةَ وَ لاَ يُوَلِّهَا ظَهْرَهُ) [صحيح البخاري: ١٤٤]

ژباړه: په تاسو کې چې کله څوک غټو بولو ته راشي نو نه دې قبلې ته مخ ګرځوي او نه دې شا.

ابن حزم په محلی کې [ ١٤٦] مسئلې لاندې وايي: د تشو يا ډکو بولو په مهال قبلې ته شا يا مخ ګرځول په صحرا يا ابادۍ کې جائز نه دي، او بيا يې دغه مذکور حديث ذکر کړی دی، او د مخکې حديث رواوي ابوايوب انصاري رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وايي: (فَقَدِمْنَا الشَّأْمَ فَوَجَدْنَا مَرَاحِيضَ بُنِيَتْ قِبَلَ القِبْلَةِ فَنَنْحَرِفُ، وَنَسْتَغْفِرُ اللَّهَ تَعَالَى) [ صحيح البخاري: ٣٩٤، صحيح مسلم: ٢٦٤]

ژباړه: مونږ شام ته راغلو نو تشنابونه مو وليدل چې د قبلې په مخ جوړ شوي وي نو مونږ به ورپکې په ډډه شو او له الله څخه به مو ښښنه غوښتنه.

دا په طهارت کې ځينې مخالفتونه ول چې ذکر مو کړل(وآخر دعوانا أن الحمدلله رب العلمين)

# نِعْمَةُ المَرَضِ

## رنځ او مرضونه د الله لورينه ده

WWW.LARKHUD.COM

ليکوال: شيخ ابراهيم بن عبدالله المزروعي
ژباړن: لقمان حکيم حکمت

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمدلله رب العلمين، والصلاة والسلام على خاتم النبيين، وأشهد أن لا اله الا الله وحده لاشريک له، وأن محمدا عبده ورسوله، وبعد:

ازمېښت ولې: د رنځ په شمول ټولې سترې ستونزې او حتی روغتیا او ټول محبوب شیان د الله د ازمېښت رباني طریقې دي، انسان پر هر څه باندې ازمېښت کیږي هم په خوښیو او هم په ناخوښیو، هم په هدایت او هم په ضلالت، الله پاک فرمایي (وَنَبْلُوكُمْ بِالشَّرِّ وَالْخَيْرِ فِتْنَةً وَإِلَيْنَا تُرْجَعُونَ) [سورت أنبياء :٣٥]

ژباړه: مونږ مو په خوښیو او ناخوښیو ازمایو او مونږ ته به تاسو راستنیږئ.

عبدالله بن عباس رضي الله عنه وایي: مونږ به مو په سختیو او سهولت، په جوړه او ناجوړه، په شتمنۍ او نیستۍ، په حرامو او حلالو، په پیروکارۍ او سرغړونې باندې وازمو(١) رنځونه هغه څه دي چې الله پاک ورباندې خپل بندګان ازموي، رنځونه ډېرې ګټې او ځانګړې احکام لري، په شفاء العلیل کې یې ابن القیم رحمه الله له سلو نه ډېرې ګټې ذکر کړي دي(٢).

د رنځونو له ګټو او فائدو څخه ځینې دا دي:

---

(١) تفسیر الطبري: (١٦/٢٦٩)

(٢) شفاء العلیل: (٢٥٠)

۱ - : په انسان کې د پټ عبوديت (صبر) او د ښکاره عبوديت (شکر) قوه را برسيره کوي.

انسان د تل لپاره د رنځ او صحت ترمنځ اوړي راوړي، ترڅو د الله پاک عبوديت ورته په پوره توګه وښودل شي،نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايي: (عَجَبًا لِأَمْرِ الْمُؤْمِنِ، إِنّ أَمْرَهُ كُلّهُ خَيْرٌ، وَلَيْسَ ذَاكَ لِأَحَدٍ إِلّا لِلْمُؤْمِنِ، إِنْ أَصَابَتْهُ سَرّاءُ شَكَرَ، فَكَانَ خَيْرًا لَهُ، وَإِنْ أَصَابَتْهُ ضَرّاءُ، صَبَرَ فَكَانَ خَيْرًا لَه ) (۱)

ژباړه: دمومن حالت ته خوشحالي په کار ده او دا خوشحالي له مومن پرته د بل هيڅ چا لپاره نشته، که خير ورته ورسيږي نو شکر پرې اوباسي نو د ده لپاره د ګټې خبره ده او که تکليف ورته ورسيږي نو صبر پرې وکړي نو د ده لپاره د ګټې خبره ده.

۲ - : په رنځونو او مرضونو باندې الله پاک له انسان څخه ګناهونه رژوی، چې څومره ګناهونه تا په خپل زړه، غوږونو او سترګو او ژبې او د بدن نورو غړو په توسط کړي دي د مرض

په سبب درڅخه رژيږي، ابن عبدالبر رحمه الله وايي: سترې ستونزې، رنځونه او دردونه د ټولو علماؤ په اتفاق ګناهونه روژوي. (۲) ځکه کله مرض د انسان د ګناه له کبله پرې واقع شي.

---

(۱) صحيح مسلم:(۲۹۹۹)

(۲) التمهيد :( ۲۳/ ۲۶)

WWW.LARHKUD.COM

الله تعالى فرمايي: (وَمَا أَصَابَكُمْ مِنْ مُصِيبَةٍ فَبِمَا كَسَبَتْ أَيْدِيكُمْ وَيَعْفُو عَنْ كَثِيرٍ) (سورت شورى: ٣٠)

ژباړه: او تاسو ته چې كوم مشقت درسيږي نو ستاسو د لاسي ګناهونو په سبب او الله پاک له ډېرو ګناهونو څخه درته بخشش هم كوي.

او رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: (مَا اخْتَلَجَ عِرْقٌ وَلَا عَيْنٌ إِلَّا بِذَنْبٍ ، وَمَا يَدْفَعُ اللهُ عَنْهُ أَكْثَر) (١)

ژباړه: په رګونو او سترګو كې ګډوډي د ګناه په سبب راځي، او كوم عذابونه چې الله يې دفع كوي بيخي ډېر دي.

او په دنيا كې مومن په سزا نيول له دې څخه ډېر بهتره دي چې اخرت كې پرې ونيول شي، نبي كريم صلى الله عليه وسلم فرمايي: (إِذَا أَرَادَ اللهُ بِعَبْدِهِ الخَيْرَ عَجَّلَ لَهُ العُقُوبَةَ فِي الدُّنْيَا، وَإِذَا أَرَادَ اللهُ بِعَبْدِهِ الشَّرَّ أَمْسَكَ عَنْهُ بِذَنْبِهِ حَتَّى يُوَافِيَ بِهِ يَوْمَ القِيَامَةِ) (٢)

ژباړه: الله چې كله پر خپل بنده د خير اراده ولري نو په دنيا كې ورله عقوبت وركړي، او كله چې الله په خپل بنده د خير اراده ونه لري نو په ګناه يې په دنيا كې سزا وار نه كړي او اخرت كې ورته پوره سزا وركړي.

نور ډېر حديثونه شته چې په مرضونو باندې الله پاک له انسان نه ګناهونه رژوي چې ځينې نمونې يې دا دي:

---

(١) المعجم الصغير: (١٠٥٣)

(٢) سنن الترمذي: (٢٣٩٦)، صحيح الجامع الصغير: (٣٠٨)

نبي صلى الله عليه وسلم فرمايي: (مَا مِنْ مُسْلِمٍ يُصِيبُهُ أَذًى، مَرَضٌ فَمَا سِوَاهُ، إِلَّا حَطَّ اللهُ لَهُ سَيِّئَاتِهِ، كَمَا تَحُطُّ الشَّجَرَةُ وَرَقَهَا) (۱)

ژباړه: هیڅ داسې مسلمان نشته چې کوم تکلیف ورته ورسیږي او یا مریض شي او یا بل تکلیف ورپیښ شي مګر الله ورڅخه ګناهونه داسې رژوي لکه ونه چې خپلې پاڼې رژوي.

او نبي صلى الله عليه وسلم فرمايي: (مَا يَزَالُ البَلَاءُ بِالمُؤْمِنِ وَالمُؤْمِنَةِ فِي نَفْسِهِ وَوَلَدِهِ وَمَالِهِ حَتَّى يَلْقَى اللهَ وَمَا عَلَيْهِ خَطِيئَةٌ) (۲)

ژباړه: په مومن نارینه او زنانه باندې په خپل ځان، په بچو او مال کې تر هغه مصیبتونه پیښ وي چې له الله سره مخامخ شي او هیڅ ګناهورباندې نه وي.

۳ - : په رنځ او مرض باندې د رنځور انسان حسنات ډیریږي او مرتبه یې پورته کیږي، کله چې هم انسان په مرض باندې صبر وکړي نو حسنات یې ډیر او مرتبه یې لاپسې پورته شي او د ډیرو اجرونو او ثوابونو څښتن شي، نبي کریم صلى الله عليه وسلم فرمايي: (مَا مِنْ مُسْلِمٍ يُشَاكُ شَوْكَةً، فَمَا فَوْقَهَا إِلَّا كُتِبَتْ لَهُ بِهَا دَرَجَةٌ، وَمُحِيَتْ عَنْهُ بِهَا خَطِيئَةٌ) (۳)

(۱) صحيح البخاري:(٥٦٦٠) صحيح مسلم:(٢٥٧١).

(۲) سنن الترمذي:(٢٣٩٩).

(۳) صحيح مسلم:(٢٥٧٢)

ژباړه: د هيڅ مسلمان په خپه کې غنه نه ځي يا ورته له دې نه غټ بل مصيبت نه رسيږي مګر يوه درجه ورته وليکل شي، او يوه ګناه ورڅخه ورژيږي.

په بل حديث کې راځي: (وَإِنَّهُ لَيُصِيبُ مُؤْمِنًا نَكْبَةٌ مِنْ شَوْكَةٍ، فَمَا فَوْقَ ذَلِكَ، إِلَّا حُطَّتْ بِهِ عَنْهُ خَطِيئَةٌ، وَرُفِعَ بِهَا دَرَجَةً) (۱)

ژباړه: مومن بنده ته ان چې د غنې مصيبت يا له دې نه لوی مصيبت وروررسيږي مګر دا چې هم ورڅخه ګناه رژيږي او هم پرې يوه درجه پورته شي.

٤ – : رنځونه او مرضونه جنت ته د تللو ستر لامل دی، ځکه جنت ته ننوتل په هغو عملونو کيږي چې د نفس بدي راځي، او حديث کې هم راځي: (حُفَّتِ الْجَنَّةُ بِالْمَكَارِهِ) (۲)

ژباړه: جنت په مشقتونو کې نغښتل شوی دی. همدارنګه نبي کريم صلى الله عليه وسلم هغې ښځې ته چې چپه به پرې راتله ورته وويل: (إِنْ شِئْتِ صَبَرْتِ وَلَكِ الجَنَّة) (۳)

ژباړه: که دې خوښه وي په مرض دې صبر وکړه او ستا برخه به جنت وي.

---

(۱) مسند احمد: ٢٥٢٦٤)

(۲) صحيح البخاري: (٦٤٨٧) صحيح مسلم:(٢٨٢٢)

(۳)صحيح البخاري: (٥٦٥٢) صحيح مسلم:(٢٥٧٦)

او په قدسي حديث کې راځي: (إِذَا ابْتَلَيْتُ عَبْدِي بِحَبِيبَتَيْهِ فَصَبَرَ، عَوَّضْتُهُ مِنْهُمَا الجَنَّةَ) (١)

ژباړه: زه چې کله خپل بنده په دواړو سترګو وازموم او هغه پرې صبر وکړي نو ضرور به ورته په بدل کې جنت ورکړم

نو مرضونه او ازميښتونه او خفګانونه جنت ته د تللو لاملونه دي.

٥ - : له اور څخه خلاصون: په حديث کې راځي له ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی: (أَنَّهُ عَادَ مَرِيضًا، وَمَعَهُ أَبُو هُرَيْرَةَ مِنْ وَعْكٍ كَانَ بِهِ، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَبْشِرْ فَإِنَّ اللَّهَ يَقُولُ: هِيَ نَارِي أُسَلِّطُهَا عَلَى عَبْدِي الْمُؤْمِنِ فِي الدُّنْيَا، لِتَكُونَ حَظَّهُ مِنَ النَّارِ، فِي الْآخِرَةِ) (٢)

ژباړه: نبي صلى الله عليه وسلم د يو ناجوړه پوښتنه کوله او ابوهريره رضي الله عنه هم ورسره و، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وويل: مبارک دې شه، الله پاک وايي: تبه زما اور دی چې خپل مومن بنده ته يې په دنيا کې استوم په دې خاطر چې د اخرت برخه اور ورته په دنيا کې ورسيږي.

او له عائشې رضي الله عنها نه مرفوعا روايت دی فرمايي: (الحُمَّى حَظُّ كِلِّ مُؤْمِنٍ مِنَ النَّارِ) (٣)

(١) صحيح البخاري:(٥٦٥٣)

(٢) سنن ابن ماجه: (٣٤٧٠)

(٣) سلسلة الأحاديث الصحيحة: (١٨٢١) مسند البزار:(٧٦٥)

ژباړه: تبه له اور څخه د هر مومن برخه ده.

٦ - : له ګناهونو څخه الله پاک ته د بنده سالم ستنېدل او له خپل غفلت نه رابېدارېدل، ځکه مرضونه او تکليفونه له الله څخه غافل انسان الله ته ډېر ښه راستنوي او له ګناهونو نه يې رابندوي، ځکه چې دغه شان انسان باندې کله هم الله پاک مرضونه کيږدي نو خپل ضعف او ذلت او فقر په سمه معنا وپېژني او د الله په حق کې خپل تقصيرات ورته معلوم شي، الله پاک فرمايي: (وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا إِلَى أُمَمٍ مِنْ قَبْلِكَ فَأَخَذْنَاهُمْ بِالْبَأْسَاءِ وَالضَّرَّاءِ لَعَلَّهُمْ يَتَضَرَّعُونَ) (١)

ژباړه: له تا نه مخکې امتونو ته مونږ استازي استولي ول نو د عصيان په صورت کې مو په دې خاطر په فقر او مرضونو ونيول چې بېرته خپل رب ته رجوع وکړي.

امام طبري رحمه الله فرمايي: مونږ په سخت په فقر او مرضونو ونيول په دې خاطر چې ما ته به پکې عاجزي پيدا شي او عبادت کې به اخلاص پيدا کړي. (٢)

شيخ الاسلام ابن تيميه رحمه الله فرمايي: له هغه نعمت څخه چې له الله څخه دې غافله کوي هغه مصيبت ډېر ښه دی چې الله ته دې راستنوي(٣).

(١) سورت أنعام: (٤٢)

(٢) تفسير الطبري: (١١/٣٥٥)

(٣) تسلية أهل مصائب: (١٧٥)



WWW.LARKHUD.COM

۷ - : د الله په تېرو او راروانو نعمتونو باندې انسان خبرول، په مرض او رنځ باندې الله پاک تا ته د ډېرو هغو نعمتونو ارزښت دربنايي چې په صحتمندۍ کې يې ته په ارزښت نه پوهېدې، نو په دې سره ته د خپل رب د نعمتونو مزيده شکريه ادا کړې او د انسان لپاره دا د لويې ګټې خبره ده.

۸ - : په مرضونو باندې تا ته خپل هغه ناجوړه مسلمانان ورونه درياديږي چې ته ترې د خپلې صحتمندۍ په حالت کې ناخبره وې، نو په دې سره ته کولی شې چې حقوق يې په سمه توګه ادا کړی شې، د هغوی پوښتنه وکړې او حاجتونه يې پوره کړې چې په دې سره د هغوی تکليف ډېر کميږي او پوره تسليت يې کيږي، او هغه اسباب به ورته شته کړې چې د ناجوړه د صحت سبب جوړيږي او د هغوی لپاره د صحت دعاګانې کول او داسې نورې ډېرې ګټې او فايدې.

۹ - : په حسي مرضونو سره له زړه څخه د کبر او غرور، د بخل او ځان خوښۍ، د حسد او کينې او د زړه ټول مرضونه له منځه ځي.

ابن القيم رحمه الله فرمايي: په دردونو او مرضونو کې د هغه چا زړه او روح ته ګټه ده چې څوک ژوندی وي، ځکه د زړونو او روح زندګي په بدني مرضونو او مشقتونو کې نغښتل شوې ده.

مرضونه د الله لورينه ده:

د مرض متعلق له تېرو ګټو او فايدو څخه موږ ته معلومه شوه چې مرضونه او رنځونه د الله له پلوه نعمت او لورينه او رحمت دی، لکه څنګه چې موږ په صحتمندۍ خوشاليږو داسې به سلف صالحين په

مرضونو خوشحالېدل، نبي کریم صلی الله علیه وسلم د پېغمبرانو او صالحینو بندګانو د مرضونو او مصیبتونو د ازمېښت متعلق وایي: (وَإِنْ كَانَ أَحَدُهُمْ لَيَفْرَحُ بِالْبَلَاءِ، كَمَا يَفْرَحُ أَحَدُكُمْ بِالرَّخَاء) (١)

ژباړه: په هغوی کې به هرڅوک په مصیبت داسې خوشحالېده لکه تاسو کې چې څوک په سهولتونو خوشحالیږي.

ابن القیم رحمه الله وایي: چې الله پاک دربانديې هر څه کوي ته ورڅخه خوشحاله اوسه، هغه چې له تا څخه څه منعه کوي په دې خاطر چې نور ډېر څه درکړي، او تا چې په کومو ازمیښتونو کې اچوي په دې خاطر چې تا ته عافیت درکوي، او ناجوړه کوي دې هم ځکه چې صحت درته درکړي، او چې مړ کوي دې هم په دې خاطر چې بیرته دې راژوندی کړي، پام کوه چې بیخي ترې نارضا نه شې ورنه له سترګو به یې ولویږې(٢).

سفیان ثوري رحمه الله وایي: هغه سړی جاهل دی چې مصیبت ته نعمت نه وایي او سهولت ته مصیبت نه وایي(٣).

په هر مسلمان باندې د هغه د ایمان په اندازه مصیبت راځي:

عائشه رضي الله عنها فرمايي:( مَا رَأَيْتُ أَحَدًا أَشَدَّ عَلَيْهِ الوَجَعُ مِنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم) (١)

---

(١) سنن ابن ماجه:(٤٠٢٤) سلسلة الأحاديث الصحيحة: (١٤٤)

(٢) مدارج السالكين: (٢/ ٢٠٨)

(٣) حلية الأولياء: ( ٧/ ٥٥)

ژباړه: د نبي صلی الله علیه وسلم نه بغیر مې څوک ډېر درمند نه دی لیدلی.

د مریض لپاره زیري:

کوم طاعت او الله ته د قربت عملونه چې ته کوې او مرض دې ورځخه رابندوي نو که ته یې ونه کړې هم درته اجر او ثواب درکول کیږي، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: (إِذَا مَرِضَ العَبْدُ، أَوْ سَافَرَ، كُتِبَ لَهُ مِثْلُ مَا كَانَ يَعْمَلُ مُقِيمًا صَحِيحًا) (۲)

ژباړه : کله چې څوک ناجوړه شي او یا سفر وکړي نو د هغه عبادت اجر ورله لیکل کیږي چې د عدم سفر او د صحت په وخت کې به یې کو.

او له انس رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: (إِذَا ابْتَلَى اللَّهُ الْعَبْدَ الْمُسْلِمَ بِبَلَاءٍ فِي جَسَدِهِ، قَالَ لِلْمَلَكِ: اكْتُبْ لَهُ صَالِحَ عَمَلِهِ الَّذِي كَانَ يَعْمَلُ، فَإِنْ شَفَاهُ، غَسَلَهُ وَطَهَّرَهُ، وَإِنْ قَبَضَهُ، غَفَرَ لَهُ وَرَحِمَه) (۳)

ژباړه: الله پاک چې کله کوم بنده په خپل بدن کې ازمېښت کړي نو ملک ته ووایي: د ده پسې هغه نېک عملونه لیکه چې ده به کول، نو که الله ورته صحت ورکړي نو په مرضونو یې وینځلی او پاک کړی وي، او

---

(۱)صحیح البخاري:( ٥٦٤٦)، صحیح مسلم: (۲٥۷۰)

(۲) صحیح البخاري:( ۲۹۹٦)

(۳) مسند احمد: ( ۱۳۷۱۲).

که په مرض کې يې وفات کړي نو بخشش يې ورته کړی وي او رحم يې پرې کړی وي.

نو ناجوړه وروره! دا ستا واجب جوړېږي چې په مرض او رنځ باندې صبر وکړې، شيخ الاسلام رحمه الله وايي: د ديني امامانو په اتفاق سره په مصيبتونو باندې صبر کول واجب دي(۱).

ابن القيم رحمه الله وايي: په مصيبتونو باندې صبر کول د امت د علماؤ په اجماع باندې واجبي کار دی، صبر د ايمان نيمه برخه ده، ځکه ايمان دوه برخې دی، نيم ايمان صبر او نيم يې شکر دی. بيا وايي: او صبر په دريو شيانو منځ ته راتللای شي: نفس له جزع فزع او غم او غصې نه رابندول، مخلوق ته له شکايتونو نه ژبه رابندول، او د بدن غړي له هغو کړنو رابندول چې له صبر سره ټکر لري.

بيا ابن القيم رحمه الله د صبر انواع ذکر کړي وايي: د صبر يو ډول دا دی چې الله پاک د صابرينو صفت کړی دی، له صابرينو سره هغه مينه لري او په خاص معيت ورسره وي، او په دې برخه باندې د الله ډېر قراني ايتونه غږېدلي دي، د نمونې په توګه:

الله پاک فرمايي: ﴿وَالصَّابِرِينَ فِي الْبَأْسَاءِ وَالضَّرَّاءِ وَحِينَ الْبَأْسِ أُولَئِكَ الَّذِينَ صَدَقُوا وَأُولَئِكَ هُمُ الْمُتَّقُونَ﴾ (۲)

---

(۱) تسلية أهل المصائب: (۱۳۳).

(۲) سورت بقره: (۱۷۷)

ژباړه: او هغه خلک چې په سختیو او مرضونو او د جنګ په مهال صبر او حوصله کوي، نو همدوی په ایمان کې رښتني دي او همدوی متقیان دي.

او الله پاک فرمايي: (وَاللَّهُ يُحِبُّ الصَّابِرِيْنَ) (۱)

ژباړه: له صبر کونکو سره الله مینه کوي.

او الله پاک فرمايي: (وَاصْبِرُوا إِنَّ اللَّهَ مَعَ الصَّابِرِين) (۲)

ژباړه: او صبر کوئ، په یقین سره چې د صبر کونکي ملګرى الله پاک دى.

او ځینو سلفو صالحینو به ویل: صبرناکو خلکو د دنیا او اخرت خیر یوړ، ځکه چې الله ورسره په خاص معیت باندې وي.

او الله پاک فرمايي: (قُلْ يَاعِبَادِ الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا رَبَّكُمْ لِلَّذِينَ أَحْسَنُوا فِي هَذِهِ الدُّنْيَا حَسَنَةٌ وَأَرْضُ اللَّهِ وَاسِعَةٌ إِنَّمَا يُوَفَّى الصَّابِرُونَ أَجْرَهُمْ بِغَيْرِ حِسَابٍ) (۳)

ژباړه: ورته ووایه اى پیغمبره! اى زما بندګانو چې ایمان مو راوړى دى له خپل رب نه وویریږئ، په دې دنیا کې چې څوک نیک کار وکړي نو بدله یې حسنه ده او د الله ځمکه ډېره پراخه ده، او صبرناکو خلکو ته به بې حسابه اجر او ثواب ورکول کیږي.

---

(۱) سورت ال عمران: (۱٤٦)

(۲) سورت أنفال: (٤٦)

(۳) سورت زمر: (۱۰)

او نبي صلی الله علیه وسلم فرمايي: (مَا أُعْطِي أَحَدٌ عَطَاءً خَيْرًا لَهُ وَأَوْسَعَ مِنَ الصَّبْرِ) (۱)

ژباړه:له صبر نه بغیر هیڅ چا ته غوره او پراخه نعمت نه دی ورکړل شوی.

په دې باب له سلفو صالحينو نه هم بلا ډېر اثار نقل دي:

عمر بن الخطاب رضي الله عنه فرمايي: مونږ خوندوره زندګي په صبر کې ترلاسه کړه.

علي رضي الله عنه فرمايي: صبر په ايمان کې داسې مرتبه لري لکه په بدن کې چې يې سر لري.

حسن بصري رحمه الله فرمايي: صبر د خير له خزانو څخه يوه خزانه ده، الله پاک يې هغه چا ته ورکوي چې د هغه په نيز کريم وي.

په رنځ او مرض باندې د صبر کولو سببونه:

داسې ځينې اسباب شته چې له انسان سره په مرض باندې په صبر کولو مرسته کوي، ځينې يې دا دي:

۱ - : په دې علم لرل چې مرض د الله له پلوه تقديري امر دی، الله پاک فرمايي: (قُلْ لَنْ يُصِيبَنَا إِلَّا مَا كَتَبَ اللَّهُ لَنَا هُوَ مَوْلَانَا) (۲)

ژباړه: ورته ووايه: مونږ ته هېڅکله څه شی نه رسيږي مګر هغه چې الله راته ليکلي وي او هغه زمونږ ډېره ښه کارساز دی.

---

(۱) عدة الصابرين: (۸۵). مدارج السالكين: (۲/ ۱۵۵)

(۲) سورت توبه: (۵۱)

او الله پاک فرمايي: (مَا أَصَابَ مِنْ مُصِيبَةٍ إِلَّا بِإِذْنِ اللَّهِ وَمَنْ يُؤْمِنْ بِاللَّهِ يَهْدِ قَلْبَهُ وَاللَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ) (١)

ژباړه: هيڅ مصيبت چا ته د الله له اذن نه بغېر نه رسيږي، او څوک چې په الله ايمان لري نو الهي قضا ته به يې د زړه تسليمي ورهدايت کړي او الله پاک په هر شي باندې پوهه دی.

علقمه رحمه الله فرمايي: په ايت کې مذکور شخص هغه څوک دی چې کله هم ورته تکليف ورسيږي نو پوهه شي چې د الله له پلوه دی نو هم پرې راضي شي او هم ورته ځان تسليم کړي.

٢ - : په دې بايد ستا يقين جوړ شي چې الله پاک په تا باندې ستا نه او هم له ټولو خلکو نه ډېر مهربانه دی، الله پاک فرمايي: (كَتَبَ عَلَى نَفْسِهِ الرَّحْمَةَ) (٢)

ژباړه: الله پر ځان باندې مهرباني کول ليکلي دي.

او نبي صلی الله عليه وسلم فرمايي: (لَلَّهُ أَرْحَمُ بِعِبَادِهِ مِنْ هَذِهِ بِوَلَدِهَا) (٣)

ژباړه: له دې (مور) نه هم الله پاک په خپلو بندګانو باندې ډېر مهربان دی. چې کله ته په دې باندې سم صحيح پوهه شې چې الله پاک په تا

(١) سورت تغابن: (١١)

(٢) سورت أنعام: (١٢)

(٣) صحيح البخاري: (٥٩٩٩)

باندې ستا نه هم ډېر مهربان دی، نو د هغه قضا او پرېکړې ته تا تسليم کړي او د الله په تدبير درته د صبر تلقين درکوي.

٣ - : ته بايد په دې پوهه شې چې د مصيبتونو په دوران کې صبر په تا باندې د الله حق دی، ځکه صبر د الله پاک پټ عبادت دی.

٤ - : د مرض او مصيبت په مهال بايد ته هغه ګټې او فايدې ځان ته رايادې کړې چې مخکې يې ذکر وشو.

٥ - : ته بايد په دې پوهه شې چې په رنځ او مصيبت باندې الله پاک په تا د خير اراده کړې ده، په حديث شريف کې راځي: (مَنْ يُرِدِ اللَّهُ بِهِ خَيْرًا يُصِبْ مِنْه) (١)

ژباړه: الله چې په چا باندې د خير اراده ولري نو په مصيبتونو يې وازموي.

٦ - : ته بايد په دې پوهه شې چې په مرض يا نورو مصيبتونو باندې د انسان امتحانول په دې دليل دی چې له دغه بنده سره الله محبت کوي، نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايي: (عِظَمُ الْجَزَاءِ مَعَ عِظَمِ الْبَلَاءِ، وَإِنَّ اللَّهَ إِذَا أَحَبَّ قَوْمًا ابْتَلَاهُمْ، فَمَنْ رَضِيَ فَلَهُ الرِّضَا، وَمَنْ سَخِطَ فَلَهُ السُّخْط) (٢)

ژباړه: لوی اجر د لوی مصيبت سره وي، الله پاک چې کله له کوم قوم سره مينه کوي نو مصيبتونه پرې راولي، که څوک يې په مصيبتونو

(١) صحيح البخاري: (٥٦٤٥)

(٢) سنن ابن ماجه: (٤٠٣١)، سنن الترمذي:(٢٣٩٦).

راضي وي الله به ورڅخه راضي وي او که څوک پرې نارضا وي نو الله به ترې نارضا وي.

۷ - : د صبر په کولو بل مرستندویه دا دی چې ته په دې پوهه شې چې جزع فزع تا ته هیڅ ګټه نه شي رسولی، بلکې ستا غمونه او دردونه لا ډېروي او ثواب دې له منګولو اوباسي، لکه مخکې حدیث کې ورته اشاره وشوه (وَمَنْ سَخِطَ فَلَهُ السُّخْط)

۸ - : مرګ او له دنیا څخه کوچېدل ډېر ډېر یادول، د مرګ یادول انسان ته د مرضونو تنګي سختي اسانوي او د ثواب او اجر دروازې ورته پرانیزي، له ابوهریره رضي الله عنه نه روایت دی چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي: (أَكْثِرُوا ذِكْرَ هَاذِمِ اللَّذَّاتِ، فَمَا ذَكَرَهُ عَبْدٌ قَطُّ وَهُوَ فِي ضِيقٍ إِلَّا وَسَعَهُ عَلَيْهِ، وَلَا ذَكَرُهُ وَهُوَ فِي سَعَةٍ إِلَّا ضَيِّقَهُ عَلَيْه) (۱)

ژیاړه: مرګ ډېر یادوئ، د تنګۍ په وخت کې هیڅ څوک مرګ نه یادوي مګر تنګي پرې پراخوي، او په پراخه حالت کې یې څوک نه یادوي مګر پرې راتنګوي یې.

عمر بن عبدالعزیز رحمه الله وایي: که په دنیا کې بدترین حالت کې وې نو مرګ رایا دکړه درته به اسان شي(۲).

---

(۱) صحیح ابن حبان: (۲۹۹۳)

(۲) الفرج بعد الشدة: (۷٦)

۹ - : په مرض او رنځ باندې د صبر بل سبب دا دې چې په دنیا دې د دار الابتلاء علم راشي چې دنیا د غمونو، دردونو او سترو ستونزو کور دی، الله پاک فرمایي: (لَقَدْ خَلَقْنَا الِانْسَانَ فِيْ كَبَدٍ) (۱)

ژباړه: مونږ انسان په سختیو او تکلیفونو کې پیدا کړی دی.

ځینو سلفو صالحینو به ویل: انسان به دنیوي مصیبتونه او اخروي مشقتونه برداشت کوي.

۱۰ - : د هغه چا په مرض او رنځ ځان ته تسلي ورکول چې له تا څخه په لوی رنځ او مرض اخته دی.

۱۱ - : هغه نعمتونه له یاده نه ویستل چې د رنځونو باوجود دربانديې الله پاک پرېښي دي، لکه د ایمان نعمت، د عقل نعمت، د غوږونو او د ژبې نعمتونه او داسې نور.

ابوبکر مزني رحمه الله وایي: که غواړې چې د الله د نعمتونو ارزښت ځان ته معلوم کړې نو سترګې دې رابندې کړه. (۲)

۱۲ - : په مرضونو باندې د صبر کولو بل سبب دا دی چې ته خپل ځان په صبر کولو مجبور کړې، څکه حدیث کې راځي(وَمَنْ يَتَصَبَّرْ يُصَبِّرْهُ الله) (۳)

ژباړه: څوک چې ځان په زوره صبروي نو الله به د صبر توفیق ورکړي.

---

(۱) سورت بلد: (٤)

(۲) الشکر د ابن ابي دنیا لیکنه: (٦٢)

(۳) صحیح البخاري:(١٤٦٩)، صحیح مسلم: (١٠٥٣).

۱۳ - : تر هر څه وروستنی سبب د صحت انتظار دی، په دې سره مرض ډېر اسانیږي او په صبر باندې له انسان سره مرسته کوي.

ناجوړه انسان ته سپارښتنې:

۱ - : د ( که چرته ) له کلماتو نه به ځان کلک وساتې ځکه دا درباندې د شیطان دروازه بېرته کوي، که ته د هر سبب له مخې ناجوړه شوی یې نو دا بیخي مه وایه که چرته داسې مې کړی وی نو داسې به شوی وی، او که دا مې نه وی کړی داسې به نه وی شوی، ځکه دا په تقدیر باندې اعتراض دی.

۲ - : په دارو درملو او د صحت یابۍ د نورو اسبابو په استعمال او یا د تجربه کار طبیب په لټه لټون کې درباندې هیڅ ګناه نشته، نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي:( تَدَاوَوْا فَإِنَّ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ لَمْ يَضَعْ دَاءً إِلَّا وَضَعَ لَهُ دَوَاءً) (۱)

ژباړه: دارو درمل وکړئ، الله پاک هیڅ مرض نه دی ایښی مګر ضرور یې ورله دارو درمل هم ایښي دي.

دومره ده باید دوو شیانو ته متوجه یو:

(أ) چې دارو درمل د شفاء سبب دی او حقیقي شافي پخپله الله پاک دی، زړه دې باید له هیڅ طبیب پسې ونه انخلي.

(۱) سنن أبي داود:( ۳۸۵۵)

(ب) په حرامو توکو باید هېڅ دارو درمل ونه کړې، ځکه نبي صلی الله علیه وسلم فرمایي: (تَدَاوَوْا، وَلاَ تَتَدَاوَوْا بِحَرَامٍ) (١)

ژباړه: دارو درمل وکړئ خو په حرامو يې مه کوئ.

٣ - : له مرګ نه مه ډارېږه، ځکه رنځ هېڅکله انسان مرګ ته نه نږدې کوي لکه څنګه چې صحت له مرګ نه څوک لرې کولی نه شي:

كَمْ مِنْ صَحِيْحٍ مَاتَ مِنْ غِيْرِ سُقْمٍ * وَكَمْ مِنْ عَلِيْلٍ عَاشَ حِيْناً مِنَ الدَّهْرِ

وَكَمْ مِنْ فَتىً يُمْسِيْ وَيُصْبِحُ آمِناً * وَقَدْ نُسِجَتْ أَكْفَانُهُ وَهُوَ لاَيَدْرِيْ

ژباړه: ډېر صحتمند خلک له کوم رنځ پرته مړه شول او ډېر رنځوران دي چې تر ډېره وخته ژوندي وي

ډېره ځله يو ځوان باندې سهار او ماښام په صحت او امن کې راشي خو لا خبر نه وي او کفنونه يې ورته تيار شوي وي.

٤ - : کله چې درباندې مرض سخت شي او دردونه ډېر شي نو مه خو د مرګ ارزوګانې کوه او مه د مرګ دعا کوه، له انس رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي: (لاَ يَتَمَنَّيَنَّ أَحَدٌ مِنْكُمُ المَوْتَ لِضُرٍّ نَزَلَ بِهِ، فَإِنْ كَانَ لاَ بُدّ مُتَمَنِّيًا لِلْمَوْتِ فَلْيَقُلْ: اللَّهُمَّ أَحْيِنِي مَا كَانَتِ الحَيَاةُ خَيْرًا لِي، وَتَوَفَّنِي إِذَا كَانَتِ الوَفَاةُ خَيْرًا لِي) (٢)

---

(١) المعجم الكبير: (٦٤٩)

(٢) صحيح البخاري:(٦٣٥١) ، صحيح مسلم: (٢٦٨٠)



WWW.LARKHUD.COM

ژباړه:په تاسو کې دې هېڅ څوک د کوم رنځ له کبله د مرګ تمنا نه کوي، که هرومرو یې تمنا لري داسې دې ووایي: ای الله تر هغه مې ژوندې ولره چې ژوند راله خیر او برکت وي، او که مرګ راله ښه وي نو ما وفات کړه.

شیخ عبدالرحمن بن سعدي رحمه الله وایي: په حدیث کې له دې څخه منعه راغلې ده چې که په چا باندې مرض یا فقر او یا وېره وي یا په مهلکو کارونو او سختیو کې وي نو د هغې له کبله به د مرګ تمناګانې نه کوي، ځکه دغه د مرګ په تمنا کې ګڼ شمېر مفاسد دي لکه: انسان په صبر مامور دی او هغه به په مرض یا نورو سختیو باندې د غضب او غصې اظهار نه کوي، په دې سره د هغه نفسي مورال لا کمزوری کیږي او نا امیدۍ ته ترقي کوي، بل دا چې په مرګ سره د انسان هغه نېک عملونه ختم شي چې دا وربانډې مصروف وي.

۵ - : د مرض په مهال دعاګانې او الله ته ډېر تضرع کوه، ځکه شافي ذات یوازې الله پاک دی، الله پاک فرمایي: (أَمَّنْ يُجِيبُ الْمُضْطَرَّ إِذَا دَعَاهُ وَيَكْشِفُ السُّوءَ) (۱)

ژباړه: هغه لا بل کوم ذات دی چې د مضطر انسان دعا قبلوي او تکلیف ورځخه پورته کوي.

د دعا په قبلېدو کې له استعجال نه کار مه اخله، حدیث کې راځي: (يُسْتَجَابُ لِأَحَدِكُمْ مَا لَمْ يَعْجَلْ، يَقُولُ: دَعَوْتُ فَلَمْ يُسْتَجَبْ لِي) (۱)

---

(۱) سورت نمل: (٦٢).

ژباړه: په تاسو کې د يو چا دعا تر هغه قبليږي چې عجله يې نه وي کړي، بس ايله دا وايي چې دعاګانې کوم خو نه قبليږي. بلکې په دعا کې له الحاح څه کار واخله او پوره يقين ولره چې دعا دې قبليږي.

په شرعي دمونو ځان دموه ځکه چې شرعي دمونه د الله په اذن سره د شفا مؤثر سبب دی، چې له جملې څخه يې ځينې دمونه دا دي:

سورت فاتحه، قل هو الله احد، قل أعوذ برب الفلق، قل أعوذ برب الناس، په بخاري او مسلم کې له عائشې رضي الله عنها نه روايت دی چې دا به درې ځل لوستل کيږي او په ځان به چوپ کيږي، درمند ځای په خپل ښی لاس باندې مسح کړه او دا دعا ووايه (أَذْهِبِ البَاسَ رَبَّ النّاسِ، اشْفِ وَأَنْتَ الشّافِي، لاَ شِفَاءَ إِلّا شِفَاؤُكَ، شِفَاءً لاَ يُغَادِرُ سَقَمًا) (٢)

ژباړه: ای د خلکو ربه! دا مرض بوځه، ته صحت ورکونکی يې صحت راکړه، ستا له شفا پرته بله کامله شفا نشته، داسې شفا چې هيڅ مرض پرې نه ږدي.

په درمند ځای لاس کيږده او درې ځله (بسم الله) ووايه او بيا اووه ځله ووايه: (أَعُوذُ بِاللهِ وَقُدْرَتِهِ مِنْ شَرِّ مَا أَجِدُ وَأُحَاذِر) (٣)

ژباړه:د الله پاک د قدرت پورې د هغه څه له شر نه پناه غواړم چې زه يې اوس محسوس کوم او يا ترې په مستقبل کې ويره لرم.

(١) صحيح البخاري: (٦٣٤٠)، صحيح مسلم: (٢٧٣٥).

(٢) صحيح البخاري:(٥٦٧٥)، صحيح مسلم: (٢١٩١).

(٣) صحيح مسلم:(٢٢٠٢)، سنن ابي داود: (٣٨٩١).

دمګرى به خپلې توکاڼې په ګوته کې راواخلي او له خاورو سره به يې شريکې کړي، په درمند ځای باندې به يې بيا کيږدي او دا به ووايي (بِسْمِ اللّٰهِ، تُرْبَةُ أَرْضِنَا، بِرِيقَةِ بَعْضِنَا، يُشْفَى سَقِيمُنَا، بِإِذْنِ رَبِّنَا) (۱)

ژباړه: د الله په نوم، زمونږ د ځمکې په ځينې خاورې او زمونږ د لړو توکاڼو سره، په دې خاطر چې زمونږ د رب په اذن سره زمونږ ناجوړه روغ شي.

٦ - : د تل لپاره ډير استغفار او د الله ذکر کوه او توبې اوباسه.

۷ - : په خپل رب دې نيک ګومان ولره، ځکه الله پاک په هيڅ چا باندې ظلم زياتی نه کوي.

۸ - : د صحت طمع توقع ولره او پوهه شه چې اسانتياوې له تکليفونو وروسته وي او له هرې تنګۍ سره اسانتياوې وې.

۹ - : کاهنان، پالګرو او ساحرانو او دغيبو دعوه ګرو ته مه ورځه، نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايي: (مَنْ أَتَى عَرَّافًا فَسَأَلَهُ عَنْ شَيْءٍ، لَمْ تُقْبَلْ لَهُ صَلَاةٌ أَرْبَعِينَ لَيْلَةً) (۲)

ژباړه: څوک چې منجم ته راشي او د خپل حاجت متعلق ترې څه وغواړي نو څلويښت شپې به يې لمونځ قبول نه شي.

شيخ ابن باز رحمه الله فرمايي: له رنځور سره نه ښايي چې د علم غيب دعوېدارو ته په دې خاطر ولاړ شي چې د مرض نوعيت يې ورته وښايي،

(۱) صحيح البخاري:(٥٧٤٥)، صحيح مسلم:(٢١٩٤)

(۲) صحيح مسلم: (٢٢٣٠).



WWW.LARHKUD.COM

او نه ورله د دې جواز شته چې کاهنان په خپلو خبرو کې تصديق کړي، ځکه دوی له ځانه دروغ وايي(١).

١٠ - : د مرض له کبله هغې دنيوي برخې پسې مه بې چروته کېږه چې له لاسه دې ووتله، ځکه ټوله دنيا په دې نه ارزي چې سړی پسې خفه شي پاتې لا لږه برخه!! نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايي: (لَوْ كَانَتِ الدُّنْيَا تَعْدِلُ عِنْدَ اللهِ جَنَاحَ بَعُوضَةٍ مَا سَقَى كَافِرًا مِنْهَا شَرْبَةَ مَاء) (٢)

ژباړه: که دنيا له الله سره د ماشي د وزر په څېر ارزښت هم درلود نو کافر ته به يې ترې د اوبو ګوټ هم نه و ورکړی.

ځکه د رزق کفالت الله پاک په خپله اخستی دی، حديث کې راځي: (إِنَّ الرِّزْقَ لَيَطْلُبُ الْعَبْدَ كَمَا يَطْلُبُهُ أَجَلُهُ) (٣)

ژباړه: رزق د انسان تالاش داسې کوي لکه اجل چې يې ورله کوي.

او نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايي: (لَا تَسْتَبْطِئُوا الرِّزْقَ، فَإِنَّهُ لَنْ يَمُوتَ الْعَبْدُ حَتَّى يَبْلُغَهُ آخِرُ رِزْقٍ هُوَ لَهُ، فَأَجْمِلُوا فِي الطَّلَب) (٤)

ژباړه: رزق ته مو دتاخير په نظر مه ګورئ، انسان تر هغه نه مړ کيږي چې خپل اخرنی رزق ورته نه وي رسيدلی، نو د رزق په طلب کې ښه انداز غوره کړئ.

---

(١) مجموع فتاوى ابن باز: (١٦١/٨).

(٢) جامع الترمذي:(٢٣٢٠).

(٣) صحيح ابن حبان: (٣٢٣٨).

(٤) صحيح ابن حبان: (٣٢٣٩).

۱۱ - : په تا باندې له رحيم ذات څخه هغه چا ته شکايتونه مه کوه چې رحم درباندې نه شي کولی، نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايي چې الله پاک وايي: (إِذَا ابْتَلَيْتُ عَبْدِيَ الْمُؤْمِنَ فَلَمْ يَشْكُنِي إِلَى عُوَّادِهِ أَطْلَقْتُهُ مِنْ إِسَارِي، ثُمَّ أَبْدَلْتُهُ لَحْمًا خَيْرًا مِنْ لَحْمِهِ، وَدَمًا خَيْرًا مِنْ دَمِهِ، ثُمَّ يُسْتَأْنِفُ الْعَمَلَ) (۱)

ژباړه: کله چې زه خپل مومن بنده وازموم او له ما څخه خپلو ملاقاتيانو ته شکايتونه ونه کړي نو له خپل بند څخه به يې خلاص کړم، او پر داسې غوښه به يې ودان کړم چې له مخکنۍ غوښې نه به يې ښه وي، او داسې وينه به ورکړم چې له مخکنۍ وينې نه به ښه وي او خپل کار روزګار به کوي.

خو که ناجوړه انسان چا ته له شکايت پرته د مرض خبر ورکول غواړي لکه پوښتنه يې ځوابوي يا ورته د طبيب خبر ور اوروي، يا له چا څخه د دارو درملو پوښتنه کوي نو دا جائز دي حرام نه دي.

ابن القيم رحمه الله وايي: کله چې ناجوړه انسان د الله حمد او ثنا وايي او چا ته د خپل مرض علت بيان کړي نو په مذموم شکايت کې نه راځي، خو که د تسخط او د غصې اظهار له مخې څه ووايي نو په مذموم شکايت کې داخليږي. (۲)

---

(۱) شعب اليمان: (۸۸۰۱)، صحيح الجامع:(٤۳۰۱)

(۲) عدة الصابرين وذخير الشاكرين: (۹۱)

ابن حجر رحمه الله وايي: د علماؤ په اتفاق دا څه بده خبره نه ده که مریض خپل ملګري یا طبیب ته د خپل رنځ معلومات ورکړي. (۱)

۱۲ – : د خپل توان په اندازه دې د وخت پوره خیال وساته او هغه څه کوه چې ستا لپاره ګټور وي او الله ته دې نزدې کوي، او له ټولو محرماتو څخه په کلکه رابند شه.

۱۳ – : که د خلکو قرضونه درپورې وي یا دې په چا قرض پورې وي او یا په شی صدقه کول غواړې نو په عاجله توګه یې وصیت نامه نویشته کړه.

۱٤ – : پردې حقوق په عاجله توګه خلکو ته وسپاره، نبي کريم صلی الله علیه وسلم فرمایي: (مَنْ كَانَتْ لَهُ مَظْلَمَةٌ لِأَخِيهِ مِنْ عِرْضِهِ أَوْ شَيْءٍ، فَلْيَتَحَلَّلْهُ مِنْهُ اليَوْمَ، قَبْلَ أَنْ لاَ يَكُونَ دِينَارٌ وَلاَ دِرْهَمٌ، إِنْ كَانَ لَهُ عَمَلٌ صَالِحٌ أُخِذَ مِنْهُ بِقَدْرِ مَظْلَمَتِهِ، وَإِنْ لَمْ تَكُنْ لَهُ حَسَنَاتٌ أُخِذَ مِنْ سَيِّئَاتِ صَاحِبِهِ فَحُمِلَ عَلَيْه) (۲)

ژباړه: که څوک د کوم مسلمان ورور له ابرو یا د بل کوم څه شي ظلم زیاتی په ذمه کې لري نو ځان دې ترې مخکې له دې نه اوزګار کړي چې دینار او درهم به ورسره بیا نه وي نو د ظلم په اندازه به یې له نېک عمل څخه اخستل وشي، او که حسنات نه لري نو د مظلوم ګناهونه به راواخستل شي او په ده به بار شي.

---

(۱) فتح الباري: (۱۰/ ۱۲٤).

(۲) صحیح البخاري: (۲٤٤۹)

۱۵ - : او په اخیر کې: که الله پاک دربانديې د صحت لورینه وکړه نو حمد او ثنا یې بیان کړه او شکر پرې اوباسه، او په دې ښه پوهه شه چې صحت غټ ترین او عظیمترین نعمت دی، له ناجوړتیا وړاندې دې له صحمتنندې څخه او له بوختیا مخکې دې له فراغت نه ګټه واخله او خپل صحت او اوزګارتیا دې د الله په اطاعت کې مصروف کړه.

واخر دعوانا أن الحمد لله رب العلمين.

WWW.LARKHUD.COM

## دَلِيْلُ الحَجِّ وَالعُمْرَةِ مِنَ الكِتَابِ وَالسُّنَّةِ

له قرآن او حديث څخه

# د حج لارښود

WWW.LARHKUD.COM

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمدلله رب العلمين، وأشهد أن لا اله الا الله وحده لاشريک له وأشهد أن محمدا عبده ورسوله، اللّٰهُمَّ صل وسلم عليه وعلى آله وأصحابه أجمعين، وبعد:

هر مسلمان په دې پوهيږي چې حج د اسلام مهم رکن دی، په حديث کې راځي عبدالله بن عمر رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي [بُنِيَ الْإِسْلَامُ عَلَى خَمْسٍ، عَلَى أَنْ يُعْبَدَ اللهُ، وَيُكْفَرَ بِمَا دُونَهُ، وَإِقَامِ الصَّلَاةِ، وَإِيتَاءِ الزَّكَاةِ، وَحَجِّ الْبَيْتِ، وَصَوْمِ رَمَضَانَ] (۱) .

ژباړه: اسلام په پنځه شيانو جوړ شوی دی، دا چې د الله عبادت وکړی شي او له هغه پرته په نورو کفر وکړی شي، زکات ورکول او حج کول او د رمضان روژه نيول.

## حج د قران او حديث او اجماع له مخې واجبې حکم لري:

الله پاک فرمايي: [وَلِلَّهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلًا وَمَنْ كَفَرَ فَإِنَّ اللَّهَ غَنِيٌّ عَنِ الْعَالَمِينَ] (۲)

ژباړه: حج کول د توان په مهال په خلکو باندې د الله حق دی او څوک چې کفر وکړي نو الله پاک له مخلوق څخه غني باچا دی.

شيخ الاسلام ابن تيميه رحمه الله وايي: د (عَلَى) کلمه د وجوب حکم لري او په ځانګړي توګه بيا هغه وخت چې مستحق يې ذکر شي، له دې کبله وروسته

(۱) صحيح مسلم: (۱٦)

(۲) سورت آل عمران: (۹۷)



WWW.LARKHUD.COM

ترې الله پاک وويل (وَمَنْ كَفَرَ فَإِنَّ اللَّهَ غَنِيٌّ عَنِ الْعَالَمِين) دا د دې بيان دی چې که د توان په حالت کې يې څوک د وجوب عقيده ونه لري نو کافر کيږي. (١)

او له نبوي سنت يې په وجوب دليل دا دی چې:

نبي صلی الله عليه وسلم فرمايي: ( أَيُّهَا النَّاسُ قَدْ فَرَضَ اللَّهُ عَلَيْكُم الحَجَّ فَحُجُّوْا ) (٢)

ژباړه: ای خلکو! الله درباندې حج فرض کړی دی نو حج وکړئ.

د حج په کولو باندې نبي کريم صلی الله عليه وسلم ډېره تيزي ورکړې ده، د عبدالله بن عباس رضي الله عنه نه روايت دی چې نبي صلی الله عليه وسلم فرمايي: (عَجِّلُوا الْخُرُوجَ إِلَى مَكَّةَ ، فَإِنَّ أَحَدَكُمْ لَا يَدْرِي مَا يَعْرِضُ لَهُ مِنْ مَرَضٍ أَوْ حَاجَةٍ) (٣)

ژباړه: مکې ته په وتلو باندې تلوار وکړئ، تاسو کې هيڅ چا ته هم دا معلومات نشته چې کوم رنځ او له کوم کار سره به مخامخ شي.

له اجماع څخه د حج په فرضيت دليل دا دی چې د حج په فرضيت باندې ټول هغه علماء چې په شروطو سينګار دي يوه خوله دي، په فرضيت باندې يې اجماع ابن المنذر، ابن حزم او نووي رحمهم الله ذکر کړې ده. (٤)

ابن کثير ر حمه الله وايي: ډېر حديثونو په راغلي دي چې حج د اسلام رکن، ستن او لويه قاعده ده، او ټولو مسلمانانو پرې ضروري اجماع کړې ده، د نص او

(١) شرح عمدة الفقه
(٢) رواه مسلم:؟؟؟؟؟؟؟؟؟؟؟؟؟؟
(٣) حلية الأولياء: ( ٧ / ١١٤ )
(٤) مراتب الاجماع: (٤١) د ابن حزم ليکنه، الاجماع : (

اجماع د دلالت له مخې حج په مسلمان باندې په عمر کې یو ځل فرض دی. (١)

## د حج له وجوب څخه د منکر حکم:

امام نووي رحمه الله وايي: څوک چې د اسلامي واجباتو له احکامو نه لکه د رمضان روژه، زکات او حج او داسې نور، یا د زنا او شرابو له تحریم چې په حرمت یې اجماع شوې ده منکر شي نو که چرته د انکار یې د خواصو او عوامو په مجلسونو کې مشهور وي نو انسان مرتد دی، او که چرته ایکې یواځې خواص (علماء) ترې خبر وي نو انسان نه کافر کېږي خو مونږ به ورته ورښايو چې صحیح مسئله داسې او داسې نه ده ... (٢)

## حج په انسان باندې په عمر کې یو ځل فرض دی:

له ابوهریره رضي الله عنه نه روایت دی چې مونږ ته رسول الله صلی ا لله علیه وسلم خطبه ویله نو ویویل: (أَيُّهَا النَّاسُ قَدْ فَرَضَ اللهُ عَلَيْكُمُ الْحَجَّ، فَحُجُّوا»، فَقَالَ رَجُلٌ: أَكُلَّ عَامٍ يَا رَسُولَ اللهِ؟ فَسَكَتَ حَتَّى قَالَهَا ثَلَاثًا، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " لَوْ قُلْتُ: نَعَمْ لَوَجَبَتْ، وَلَمَا اسْتَطَعْتُمْ "، ثُمَّ قَالَ: «ذَرُونِي مَا تَرَكْتُكُمْ، فَإِنَّمَا هَلَكَ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ بِكَثْرَةِ سُؤَالِهِمْ وَاخْتِلَافِهِمْ عَلَى أَنْبِيَائِهِمْ، فَإِذَا أَمَرْتُكُمْ بِشَيْءٍ فَأْتُوا مِنْهُ مَا اسْتَطَعْتُمْ، وَإِذَا نَهَيْتُكُمْ عَنْ شَيْءٍ فَدَعُوه)

---

(١) تفسير ابن كثير: (٢ / ٧٠)

(٢) المجموع شرح المهذب: (٣ / ١٦) چاپ: الارشاد.

ژباړه: ای خلکو! الله پاک درباندې حج فرض کړی دی نو حج وکړئ، نو یو سړي درې ځله وویل: ایا په هر کال کې؟ خو نبي صلی الله علیه وسلم خاموش و، بیا نبي صلی الله علیه وسلم وویل: که مې درته (هو) ویلي ول نو درباندې به فرض شوی وی او بیا به ستاسو طاقت نه و، چې زه خاموش پاتې کېدم نو تاسو مې پرېږدئ، له تاسو څخه مخکني امتونه له خپلو پیغمبرانو څخه ډېرو پوښتنو او په خپلو پیغمبرانو باندې اختلاف هلاک کړي دي، زه چې درته په څه شي امر وکړم نو دومره یې وکړئ چې ستاسو توان وي او چې له څه شي مو رابند کړم نو پوره ورڅخه رابند شئ.

امام نووي رحمه الله وایي: د دین علماؤ پ دې اجماع کړې ده چې په انسان باندې حج او عمره په زندګۍ کې یو ځل فرض دي خو که څوک نذر وکړي نو د نذر په شرط درباندې وفاء واجب ده. (۱)

د عمرې کولو حکم:

د عمرې حکم او د مکې باشندګانو او د نورو کلیو ښارونو باشندګانو ترمنځ علماء اختلاف لري.

د مکې باشندګانو اړوند یې حکم دا دی چې

علماء کرام وايي: سمه دا ده چې واجب پرې نه ده، ځکه د عمرې معنا زیارت او ملاقات دی، او دا معنا د هغه چا په حق کې صحیح

(۱) شرح النووي على مسلم: ( ۸/ ۷۲)



WWW.LARHUD.COM

کیږي چې د مکې باشنده نه وي، دا د امام احمد رحمه الله مذهب دی او شیخ الاسلام ابن تیمیه او نورو علماؤ یې قول راجح ګڼلی دی.

اما له مکې پرته د نورو ځاینونو باشندګانو متعلق یې حکم دا دی چې:

په دې مسئله کې راجح مذهب له حنابله او شافعینو د جمهورو علماؤ مذهب دی چې په عمر کې یو ځل په انسان باندې واجب ده، له دلیلونو څخه یې یو د عائشې رضي الله عنها حدیث دی چې هغه وایي ما رسول الله صلى الله علیه وسلم ته ویل: (هَلْ عَلَى النِّسَاءِ مِنْ جِهَادٍ؟ قَالَ: " نَعَمْ، عَلَيْهِنَّ جِهَادٌ لَا قِتَالَ فِيهِ: الْحَجُّ وَالْعُمْرَةُ) (۱)

ژباړه: ایا په ښځو باندې جهاد شته؟ هغه وویل: هو په دوی داسې جهاد فرض دی چې جنګ جګړه پکې نشته، حج او عمره .

او د نبي صلى الله علیه وسلم د ( عَلَيْهِنَّ ) کلمه د اصول فقه په علم کې په وجوب دلالت کوي.

ایا حج سمدستي فرض کیږي؟

کله چې هم په مسلمان باندې حج د خپلو شروطو سره څنګه شته شي نو حج کول پرې واجبیږي، خو ایا حج به سمدستي په همدغه کال کې کوي او که نه خپلې طبعې ته به یې وروسته کوي؟

---

(۱) مسند احمد: (۲۵۳۲۲) سنن ابن ماجه: (۲۹۰۱)

صحیح مذهب ورېکې د جمهورو علماؤ مذهب دی چې سمدستي په یاد کال کې پرې حج واجبیږي، ځکه د عبدالله بن عباس رضي الله عنه په حدیث کې راځي چې د الله پېغمبر صلی الله علیه وسلم فرمايي: (تَعَجَّلُوا إِلَى الْحَجِّ - يَعْنِي: الْفَرِيضَةَ - فَإِنَّ أَحَدَكُمْ لَا يَدْرِي مَا يَعْرِضُ لَهُ) (۱)

ژباړه: په فرضي حج کولو کې بېړه وکړئ، ځکه تاسو کې هېڅ چا ته پته نشته چې ورته پېښيږي؟

او له عمر رضي الله عنه نه روایت دي فرمايي: د دې هوډ مې کړی دی چې لرو پرتو علاقو ته استازي واستوم د هغو خلکو پلټنه وکړي چې حج پرې فرض شوی دی او نه یې کوي نو چې جزیه ورباندې کیږدي، قسم په الله چې دوی مسلمانان نه دي، قسم په الله چې دوی مسلمانان نه دي. (۲)

مسئله: که څوک د حج لپاره مالي توان لري خو بدني کمزورتیا لري حج نه شي کولی ایا حج کول پرې لازم دي؟

علماء کرامو دا توان دوه تقسیمه کړی دی:

داسې عجز چې له منځه تللو امېد یې کېدلی شي، ترڅو چې دا عجز وي نو د حج فوري ادا ساقطوي .

---

(۱) مسند احمد: ( ۲۸٦۷)

(۲) الآربعون حدیثا، د امام اجري لیکنه، امام منذري وايي: سند یې حسن دی. البدر المنیر: ٦ / ۳۹)

که عجز داسې وی چې مستمر وي او د صحت يې هيڅ اميد نه وي لکه څوک مزمن ناجوړه وي، نو دا پرې واجبيږي چې د حج په ادا کې بل څوک نائب مقرر کړي،ځکه د عبدالله بن عباس رضي الله عنه حديث دی چې يوې خثعمی ښځې له نبي صلی الله عليه وسلم څخه وپوښتل: (إِنَّ فَرِيضَةَ اللهِ عَلَى عِبَادِهِ فِي الحَجِّ أَدْرَكَتْ أَبِي شَيْخًا كَبِيرًا، لاَ يَثْبُتُ عَلَى الرَّاحِلَةِ، أَفَأَحُجُّ عَنْهُ؟ قَالَ: «نَعَمْ»، وَذَلِكَ فِي حَجَّةِ الوَدَاعِ) (۱)

ژباړه: په بندګانو باندې د الله فرض عبادت (حج ) مې پلار په داسې حالت کې راګير کړ چې په سورلۍ نه شي ټينګيدلی ايا زه ورڅخه حج کولی شم؟ هغه ورته وويل: هو، او دا پيښه په حجة الوداع کې منځ ته راغلې وه.

تنبيه:

دنائب في الحج کې دا شرط ده چې خپله به يې مخکې حج کړی وي، د الله عبدالله بن عباس رضي الله عنه حديث دی چې نبي صلی الله عليه وسلم له يو سړي څخه واوريدل: (لَبَّيْكَ، عَنْ شُبْرُمَةَ، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ شُبْرُمَةُ» قَالَ: قَرِيبٌ لِي،

(۱) صحيح البخاري: ۱۵۱۳)، صحيح مسلم:(۱۳۳٤)

قَالَ: «هَلْ حَجَجْتَ قَطُّ؟» قَالَ: لَا، قَالَ: «فَاجْعَلْ هَذِهِ عَنْ نَفْسِكَ، ثُمَّ احْجُجْ عَنْ شُبْرُمَةَ» (١)

ژباړه: ای الله! د شبرمه په نیابت حج ته حاضر شوی یم، رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل: شبرمه څوک دی؟ هغه وویل: زما خپلوان دی، هغه ورته وویل: ایا تا کله حج کړی دی؟ سړي وویل: نا، هغه ورته ویل: دا حج له ځان څخه وکړه او بیا یې له شبرمه څخه وکړه.

واخر دعوانا أن الحمدلله رب العلمين.

(١) سنن ابن ماجه: (٢٩٠٣).

| | |
|---|---|
| ١ - : استقامت | ١ – ٢٤ |
| ٢ - : د ژبې لوونه او ګناهونه | ٢٥ – ٤٠ |
| ٣ - : د قربانۍ او ذي الحجې لسو ورځو متعلق له ( ٢١٠ ) څخه زياتې پوښتنې او ځوابونه | ٤١ – ٩٥ |
| ٣ - : د روژې متعلق اويا مهمې مسئلې | ٩٦ – ١١٤ |
| ٤ - : په غور سوچ سره د قران د لوستلو ثواب | ١١٥ – ١٤٢ |
| ٥ - : په واجباتو کې د مسلمان کوتاهي | ١٤٣ - ١٦٠ |
| ٦ - : له ياده وتلي پنځوس نبوي سنتونه | ١٦١ - ١٨٦ |
| ٧ - : خبرې امانت دي | ١٨٧ - ١٩٥ |
| ٨ - : له حيواناتو سره د ځان جوړولو اسلامي حکم | ١٩٦ – ٢٠٨ |
| ٩ - : د طهارت احکام | ٢٠٩ – ٢٢٠ |
| ١٠ - : مرضونه هم د الله نعمت د | ٢٢١ – ٢٤٤ |
| ١١ - : د حج لارښود | ٢٧٨ – ٢٨٧ |

WWW.LARKHUD.COM